


# درېيمه زاويـه (فيسبوکي ليکنې او خاطرې)


ليکوال: **شاه محمود مياخېل**

کمپوز: **ليکوال**

ډېزاين چارې: **رحمن الله بهير**

چاپشمېر: **۲۰۰۰**

چاپکال: **۱۳۹۵ل/2016**

چاپ وار: **لومړی**


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درېیمه زاویه

انسان د خپل عقل او شعور له امله اشرف المخلوقات دی. عقل او شعور دی چې انسان یې له فردي ژونده ټولنیز ژوند ته راویستی دی. انسانانو په ټولنیز ژوند کې له یو بل سره د افهام او تفهیم لپاره ژبه رامنځته کړه، د ټولنیز ژوند د تنظیم لپاره یې اصول وضعه کړل، ټولنې، دولتونه او نړۍ یې رامنځته کړه. د انسان د عقل تقاضا دا ده چې په ټولنیز ژوند کې خپل ځان او نورو ته خیر ورسوي او له زیان څخه ځان او ټولنه وساتي.

د نړۍ انسانان په خپل ټولنیز ژوند کې چې کله هم له یوې ستونزې او ننګونې سره مخ شوي دي، نو د حل په موخه یې خپل عقل په کار اچولی دی. د ننني نړۍ ګڼ اختراعات او پرمختګونه د دې ادعا غوره ثبوت او په نړۍ کې د ګڼو ټولنیزو اصولو او قوانینو شتون د انسان د معقولیت دلیل ګڼل کېدای شي. انسان د خپل عقل په مرسته او کارونې همداسې قدم په قدم وړاندې راغلی دی. فرضاً د څپلۍ یا بوټ تصور هغه مهال له لومړي انسان سره پیدا شوی، کله یې چې پښه کې اغزی تللی او چې ساړه یې شوي



دي، نو د بالاپوش پیدا کولو فکر یې کړی دی. همداسې یې د نړۍ بېلابېلو لویو وچو ته د سفر لپاره یې بېړۍ او الوتکې اختراع کړي دي.

ښايي په نړۍ کې هغه ملتونه ډېر معقول وګڼل شي چې انسانیت او انساني ټولنې ته یې ډېر خیر رسولی وي. که د معقولیت دا تول معقول وي، نو زه نه پوهېږم چې افغانان به په نړیواله سطحه چېرته راشي؟

داسې هم نه ده چې ګنې موږ په خپله ټولنه کې - پخوا او اوس - داسې معقول انسانان نه درلودل یا یې نه لرو چې د خپلې ټولنې لپاره یې فکر او عمل کړی وي؛ خو کله چې ټولنه په مجموع کې د عقل پر ځای د خپلو احساساتو پر پوکانېو ولاړه وي؛ نو هلته د معقولو انسانانو شتون په استثناءاتو کې راځي او د معقولو انسانانو معقولې تیورۍ او نظریې د ټولنې وګړیو ته نامعقولې ښکاري؛ ځکه چې ټولنه د جمعي عقل تابع ده، نه د فردي هغه.

زه په خپل فردي ژوند کې – له ماشومتوبه تر اوسه – د هېواد او نړۍ د لویو او نومیالیو خلکو له ژوند لیکونو سره علاقه لرم. د هغوی د بریالیتوبونو په کیسو کې د خپل بري لپاره لارې ګورم او د هغوی له ستونزمن ژوند نه د خپلې ستونزمنې زنده ګۍ لپاره حوصلې تر لاسه کوم. ما د ډېرو لیکوالو، مشهورو څېرو او شخصیتونو کتابونه لوستي دي او له هر یو نه مې د خپلې مترې په کچه ګټنه کړې ده. په دې وروستیو کې مې له ښاغلي شاه محمود میاخېل سره بلدتیا پیدا شوه او په کابل کې ورسره یوه شپه د ناستې پر مهال یې خپل ټول کتابونه راته په خپل لاس ډالۍ کړل. د دې تر څنګ یې د خپل یو ناچاپ کتاب سافټ کاپي هم راکړه چې زه یې ولولم او په ځینو برخو کې که وکولای شم، ژبنۍ او لیکنۍ تېروتنې په کې سمې کړم. زه زیاتره په کمپیوټر کې د ملګرو د کتابونو او لیکنو له ایډیټه ډېر کرېږم او ښايي تصادف داسې وي چې زه پرې ډېر اوړم هم. په لومړي سر کې د ښاغلي میاخېل صیب کتاب ته هم ځورېدم چې څنګه به مې ترې خدای خلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي؛ خو کله مې چې پر ایډېټ – لوستنې پیل وکړ؛ نو د کتاب د موضوعاتو دلچسپۍ داسې واخیستم چې زیاتره به یې د نورو کارونو او مطالعې وخت هم راڅخه نیوه. د کتاب ایډېټ زما لپاره تر ټولو غوره مطالعه وه. میاخېل صاحب دا لیکنې د خپل فیسبوک له دېوال څخه راټولې کړي دي او ما تر پایه ولوستلې. د کتاب له پای ته رسولو وروسته مې ښاغلی میاخېل هم تر یوې اندازې وپېژانده، له فکر او نظر نه یې هم خبر شوم.

په دې کتاب کې ښاغلی میاخېل د یو معقول افغان[1]په توګه په مجموع کې خپلې ټولنې ته او په ځانګړې توګه د ټولنې سیاست، حکومتوالۍ، ادارې، د قانون حاکمیت، فساد، له دنیا سره اړیکو، ټاکنو او ګڼو نورو موضوعاتو ته کتنه کړې ده. میاخېل صاحب د ټولنې د عیني واقعیتونو په رڼا کې موضوعات شنلي دي، وړاندیزونه یې کړي دي او ځای ځای یې خپلې تجربې او د سترګو لیدلي حالونه لیکلي دي. د دې کتاب لوستنه لوستونکیو ته د خپلې ټولنې د تنظیم، سوکالۍ او له بحران څخه د راوتو ډېرې ساده، اسانه او ارزانه لارې چارې په ګوته کوي. هره لیکنه په مستقیم او نامستقیم ډول فرد فرد خپلو مسوولیتونو ته په پام کې کوي او هڅه شوې ده چې د ټولنې فرد فرد د ژوند په ټولو چارو کې معقول اوسي او معقول پاتې شي. میاخېل صیب په نامستقیمه توګه (احساساتي کېدل) رد کړي دي او د افغاني ټولنې د ټولو ستونزو ریښه یې ورپورې تړلې ده. په کتاب کې میاخېل صاحب خپل لوستونکي په عملي ژوند کې استدلال او منطق ته هڅوي، پر ځان یې ویسا کوي او د انسان د پرمختګ لپاره ډېر ساده او عامفهمه فورمول ورته مخې ته ږدي چې هغه کار کول او ستونزو او ننګونو ته نه تسلیمېدل دي. دا کتاب

[1]: دلته له معقولیت نه موخه( نه احساساتي کېدل) دي. زموږ زیاتره لیکوال په احساساتي او جذباتي انداز لیکل کوي او د ټولنې عیني واقعیتونو ته نه ګوري، دوی پر خپل خیال او تصور ډېر باور لري، نسبت د ټولنې عیني واقعیتونو ته.



که له یوې خوا د میاخېل صاحب د فکر او نظر بیان دی؛ نو له بلې خوا زموږ د ټولنې پېژندنه هم ده، ځکه چې میاخېل صیب زموږ د ټولنې ګڼې ورځنۍ ستونزې په کې رااخیستې دي او هرې یوې ته یې د خپل فکر و نظر مطابق حل لارې بیان کړې دي.

له میاخېل صاحب سره زما د شناخت له مخې زه د هغه پر بوختیاوو اګاه یم، د هغه کاري او کورنۍ بوختیاوې او ولسي ناستې پاستې ته چې انسان ګوري نو باور یې نه راځي چې دا ډول یو شخص دې لیکلو او بیا په فیسبوک کې د خپلو خورو ورو لیکنو راټولولو ته وخت پیدا کړای شي؛ خو کله چې انسان د یو منظم ژوند درلودونکی وي، نو په مهالوېش کې دا کار هم ځایولی شي. ما د میاخېل صاحب یو بل کتاب Understanding of Afghanistan هم لوستی. دا کتاب په انګلیسي ژبه د ښاغلي میاخېل د خپرو شویو مقالو ټولګه ده چې په بېلابېلو مقالو کې یې نړیوالو او د انګلیسي ژبې لوستونکو ته د افغانستان د ټولنې، حکومتدارۍ، ادارې، د قانون حاکمیت او ... برخو کې معلوماتي او تحلیلي موضوعات وړاندې کړي دي. د یادو مقالو لپاره تر ټولو مهمه مسئله دا ده چې نړیوالو څېړنیزو ادارو، معتبرو ورځپاڼو او ژورنالونو دا مقالې خپرې کړي دي. زما په اند موږ په افغانستان کې – یا هم له افغانستانه بهر افغانانو کې – ډېر کم داسې افغانان لرو چې هم په ملي ژبو او هم په نړیوالو ژبو د افغانستان په اړه لیکنې وکړي او خپرې یې کړي. میاخېل صاحب همېشه په ډېرو معتبرو او نړیوالو ادارو کې پر دندو بوخت پاتې شوی دی او د افغانستان د ټولنې، دولتدارۍ او د قانون د حاکمیت په برخه کې د ګڼو تجربو درلودونکی دی. زه حیران یم چې زموږ حکومت د دغسې وړ او پوهو کسانو له تجربو څخه ولې ګټنه نه شي کولای؟

په هر حال، زه نه غواړم خپلې خبرې بېځایه اوږدې کړم، زه دا کتاب او د ښاغلي میاخېل صاحب نور کتابونه زموږ ټولنیز – سیاسي ژوند ته له یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېيمې زاويې څخه کتنه ګنم. دا کتنه نه د پاروونکو احساساتو له زاويې ده او نه هم د خاموشه کوونکو جذباتو له زاويې، بلکې دا کتنه د معقوليت له زاويې ده او د معقوليت دا درېيمه زاويه دې موږ او تاسې ټولو ته مبارک وي.

**درنښت**

**هجرت الله اختيار**

**د ۱۳۹٤ل کال د کب ۲۰مه**

**ننګرهار پوهنتون، درونټه**



**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د سرخبرې

دا کتاب د مخکتاب دويمه برخه ده. مخکتاب دوه برخې درلودې: لومړۍ برخه يې د ښه حکومتدارۍ په هکله زما يوه مقاله وه، چې د دې مقالي مينه والو دا مقاله په مختلفو مجلو او د انټرنيټ په سايتونو کې ځو ځلې خپره کړې وه؛ نو بيا ما دا مقاله د مخکتاب لومړۍ برخه غوره کړه ځکه چې زما د فيسبوک د ليکنو او بحثونو موضوع په ښه حکومتدارۍ څرخېدله. د دې کتاب محتوا هم د ښه حکومتدارۍ پورې تړاو لري.

د مخکتاب دويمه برخه ليکنې د فيسبوک له لارې خپرې شوي ليکنې وي چې په سلهاوو تبصرې، وړانديزونه او نيوکې پرې د فيسبوک دوستانو او ملګرو کړې وې؛ نو ما دا ټولې ليکنې د کتاب په شکل چاپ کړې ترڅو هغه لوستونکي چې انټرنيټ ته لاسرسی نه لري او يا له ما سره په فيسبوک کې انډيوالان نه دي هم ترې ګټه واخلي. زما په نظر دا کتاب د پښتو په ادبياتو کې لومړنې مجموعه وه، چې يو څوک دې د فيسبوک خپلې ليکنې د کتاب په شکل چاپ کړي.

دا پوښتنه به له دوستانو سره پيدا شي، چې څنګه ما په دې کتاب چې دا هم د فيسبوک د ليکنو دويم ټوک دی د درېيمې زاويې نوم کېښود. هر ليکنه اديت او بيا کتنې ته اړتيا لري؛ نو ما په لومړي سرکې د خپل ګران همکار اسدالله ساحل نه هيله وکړه، چې د تېر په شان د دې کتاب په اډيټ او بيا کتنې باندې کار وکړي او چاپ ته يې اماده کړي. ساحل صيب بې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



چون او چرا دا دنده ومنله خو دا راته پته وه، چې دی هم ډېر کاري او شخصي مصروفیتونه لري؛ نو د دې کتاب اډیټ، ډېزاین او صحافت به یو څه وخت واخلي.

استاد عبدالبصیر سباوون راته څه موده دمخه وویلې، چې استاد هجرت الله اختیار په اډیټ او د کتاب په کتنې کې تکړه دی او شاید هغه به درته دا کار ډېر ژر وکړي. استاد اختیار صیب سره مې چې اړیکه ونیوله، هغه په پوره مینه او اخلاص سره لبواتیا وښودله او د کتاب سافټ کاپي مې ورته ولېږله. کله چې اختیار صیب په کتاب کار وکړ؛ نو راته یې وویلې چې که د دی کتاب نوم بدل شي؛ نو دا به ښه وي ځکه د کتاب محتوا مهمه ده او زموږ د ولس د اوسني حالاتو په هکله ښې لیکنې لري؛ نو که یوازې مخکتاب دویم ټوک نوم پرې کېښودل شي شاید د کتاب د عنوان په خاطر خلک ورته لږ اهمیت ورکړي که څه هم فیسبوک د نن وخت د مهمو ټولنیزو وسیلو ښه وسیله ده. ما اختیار صیب ته وویلې چې ته ورته یو نوم غوره کړه او بیا به پرې مشوره وکړو.

د مارچ په ۱۱مه نېټه، اختیار صیب، سباوون صیب او ډاکتر صیب سید قاهر عاطف کونړ ته یو ځای په موټر کې روان وو؛ نو په لاره کې راته اختیار صیب وویلې، چې ده د کتاب لپاره د دریيمې زاویې نوم غوره کړی دی او علت یې دا دی چې په ټولنه کې یو تعداد کسان داسې دي، چې ولس په احساساتو راولي؛ خو د مسایلو لپاره د حل لارو چارو وړاندیز نه کوي. همدا شان یو تعداد کسان دومره منفي نظرونه لري چې همېشه غواړي چې د ولس احساسات ووژني. اما په دې کتاب کې د ورځني ژوند داسې مسایل مطرح شوي، چې همېشه ترې سړی ګټه اخیستلی شي او هم ځوانان سمې لار ته تشویق کېدلی شي؛ نو د ده په نظر دا دریيمه لار ده. د اختیار صیب



استدلال مې خوښ شو؛ ځکه زه هم د افراط او تفریط پلوی نه یم او منځنۍ لار یا خیرالامور اوسطها مو خوښه ده.

زه په لومړي سره د استاد هجرت الله اختیار نه مننه کوم چې هم یې د کتاب لپاره ښه نوم غوره کړ، هم یې اډیټ ورته وکړ او هم یې راته خپل ورور بهیر خان معرفي کړ، چې ښه ډیزاینر دی او د کتاب د چاپ ستونځې به هم په غاړه واخلي او دا کتاب به ډېر ژر چاپ کړي. زه د دواړو ورونو د کار او صمیمیت نه مننه کوم او الله تعالی دې هرچا ته همداسې ورور ورکړي چې هم استعداد ولري او هم د خپل ورور دوستان او ملګري خپل دوستان او ملګري وګڼي.

همدا شان زه د ټولو هغه دوستانو نه چې زما په لیکنو یې نیوکې کړي او په دې بحثونو کې شریک شوي دي د زړه له کومې مننه کوم. زه د ټولو دوستانو نظریاتو او ښه نیت ته په درنښت سره ګورم ولو که زموږ تحلیلونه، لرلید او وړاندیزونه سره متفاوت هم و. زما دا لیکنې همېشه ډېرې مختصرې وي او که تفصیل ته ځو؛ نو په هره لیکنه باندې یو کتاب لیکل کېدی شي. زما په دې لیکنو کې یو پیغام شته او دا زما د ژوند د تجربو، د خپلې ټولنې نه د برداشت او ټولنیز مشکلاتو په اړوند لیکنې دي، چې وړاندیزونه هم په کې شته دی.

دا دی اوس دا ټولګه تاسې درنو دوستانو او لوستونکو ته وړاندې کوم دا چې دا لیکنې ښې دي او که نه، زه هم پرې نه پوهېږم؛ خو دا زما د زړه خبرې دي او خدای دې وکړي، چې د لوستونکو خوښې شي او زموږ ځوان نسل ترې ګټه واخلي.

د دې نه برسیره د مخکتاب د لومړي ټوک په تصحیح کې محمد حسن حسام صیب چې شاعر، لیکوال او قومي مشر و ډېر زیات زحمت ګاللی و او خپل قیمتي وخت یې د هغه کتاب په تصحیح کې لګولی و. دا چې حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب نن زموږ په منځ کې نشته یو ځل بیا یې یادونه کوم. که حسام صیب ژوندی وی؛ نو زما سل په سلو کې دا یقین دی، چې د دې کتاب په برخه کې به یې هم پوره مرسته کړې وه. حسام صیب دی الله تعالی وبښي او جنت فردوس دوعا ورته کوم. روح دی ښاد وي.

**په مینه او درنښت**

**شاه محمود میاخېل**

**کابل- افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلــړ

سرلیک | مخ


د مارشال فهیم مړینه.......... ۸
ولس د موجوده حالت او د دغه حالت د بد تر دوام نه ستړی دی ....... ۹
په ټولټاکنو کې یوه ورځ برخه اخستنه به د دې ملک برخلیک .......... ۱۳
بېطرفی د انتخاباتو د کمیسیونونو .......... ۱٤
د انتخاباتو لپاره غټ تهدید خرابه هوا ده نه د طالبانو تهدید او ........ ۱۵
د جمهورې ریاست د پایلو په هکله تشویش.......... ۱۵
ارزښت باید د ژوند لپاره وي نه ژوند د ارزښتونو لپاره .......... ۱٦
ارزښتونه .......... ۱۷
د افغان رایو ته احترام په کار دی .......... ۲۰
زمونږ د ولس احساس لا ژوندی دی.......... ۲۲
د جمهوري ریاست د انتخاباتو دویم پړاو اعلان شو .......... ۲٦
کونړ ته باید په درنه سترګه وکتل شي.......... ۲۷
د نوښت له لارې د موثره بدلون په لور .......... ۲۸
معیبوبه او مریض ځوانان د معیبوبې.......... ۳۰
ټولنې زېږنده ده .......... ۳۰
د جوزا ۲٤مې نېټې دویم پړاو ټولټاکنو .......... ۳۱
ته چمتوالی .......... ۳۱
په دیموکراټیکه پروسه کې ګټونکی.......... ۳۳





او بایلونکی نشته دی .......... ۳۳
د کونړ بد نامه مشهورو ځېرو له چا نه ملاتړ کاوه؟ .......... ۳٤
همدا یې غر همدا یې کربوړې.......... ۳٦
د فیسبوک ملګرو ته کورنی کار .......... ۳۷
جمهور رئیس کرزی باید د وکیلانو د حقوقو قانون .......... ۳۸
توشېح نه کړي .......... ۳۸
د افغانستان جسد څنګه له خاورو نه .......... ۳۹
ژوندی راوکاږو؟.......... ۳۹
د هاني مون، ماه عسل، یا د شاتو میاشت .......... ٤۱
تلویزونې مناظرې جان کنیدي کامیاب کړ .......... ٤۹
د حشمت کرزي وژنه.......... ۵۳
اختر هم د معلوماتو د راجمع کولو ښه موقع وي .......... ۵۷
غوایي لا حلال شوی نه دی خانکي مو په سر نیولي.......... ۵۸
هر نقطه مکان و هر سخن جای دارد .......... ٦۰
د راپاڅو د شمېرنې لړۍ به څومره وخت ونیسي؟.......... ٦۲
وایي چې له ناپوهه دوست نه هوښیار دښمن هم ښه دی .......... ٦۵
ما د خداې لپاره یار لیدلی نه دی .......... ٦۷
کله به دا ځینې کسان قانع شي چې دوی شیخ فاني دي؟.......... ٦۹
د شهزاده چارلس اډوارد قصه.......... ۷۲
د فیسبوک مثبت استعمال او ورسره ستونځې .......... ۷٤
د انتخاباتو مستقل کمیسیون نن ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی..... ۷٦
ډاکتر صیب اشرف غني ته مشورې .......... ۷۷
اهداف و تشکیلات حکومتداري ی خوب .......... ۸۷
د خوشحالۍ اوښکې به تویوم .......... ۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library




د ډاکټر عبدالله عبدالله لومړنۍ وينا د وحدت ملي حکومت له ........ ۹۳
ارزښت، اهميت، معيار او تعداد د دولتي چوکيو ........................ ۹۳
د انتخاباتو د رايه ورکولو احسان به کله خلاصېږي؟ ........................۹٤
يو لاروي ته د ملا نصرالدين ځواب ........................................ ۹۵
د خبر نه شتون په خپله ښه خبر دی........................................۹۶
فساد او فاسدين ټولنه خوسا کوي ........................................ ۹۸
په افغانستان کې د هيڅ شي کمبود نشته خو هيڅ نه لرو! څه مطلب؟...۹۹
ښه حکومتداري بايد د څو کسانو ترمنځ د خپلو ګټو د ساتلو په ........۱۰۲
جنګ ښه دی که صلحه؟................................................۱۰۳
د عزيزتوت او ښايسته توب ترمنځ توپير ................................۱۰٤
د شخصيت وژنې او د پاليسۍ پر سر د اختلاف نظر توپير ............۱۰۷
د مافيايي نظامونو عمده خاصيت ........................................۱۱۵
Multitasking يا په يوه وخت کې څو کارونه کول..........................۱۱۶
انماالاعمال باالنيات ....................................................۱۱۷
مننه او په اخره کې يو وړانديز ........................................۱۲۰
د فيسبوک يو نوع اخلاقي فساد ........................................۱۲٤
په خبرو کې سوچ او فکر په کار دی او يو وړوکی غوندې وړانديز ...... ۱۲۵
يوه مهمه وينا او يوه وړه تبصره ........................................ ۱۲۶
آيا د فيسبوک اکاونټ درلودل عيب دی او کنه؟..........................۱۳۱
د ډيترويت په هوايي ډګر کې مې د يو کليوال سړي قصه راپه ياد...... ۱۳۲
امريکايان ولې افغانستان ته راغلي دي؟ کونړ د لرګو د خاطره......... ۱۳٤
ايا نيوکې يا انتقاد خيانت دی؟........................................ ۱٤۳
فيسبوکي تا ويلې ماويلې................................................۱٤٤
د ماشومانو د ورځې په ياد!............................................ ۱٤۶





د خبرونو موثق والی او د خبرونو منبع ته توجه کول .................. ۱٤۷
د سولې د خبرو اترو په هکله د نن ورځې بحثونه.......................۱۵۱
مونږ افغانان هم عجيبه مخلوق يوو.......................................۱۵٤
بعضې کسانو ته دوه سزاګانې په کار دي.................................۱۵۶
د سولې په هکله دوه متضادې خبرې او ارزوګانې .......................۱۶۳
د کرکټ خوشحالي او خوست غمېزه.......................................۱۶٤
نور مه ملامتوئ ځانونه بايد ملامت کړو...................................۱۶۵
د کوچني اختر مبارکي او يو وړانديز .....................................۱۶۵
ميانه روی ښه شی دی..................................................۱۶۶
زمونږ د معيارونو تله ډېره ټيټه ده ......................................۱۶۷
احساساتي ولس او احساساتي مشران ....................................۱۷۲
پپولست (populist) سياست ولس د تباهۍ سره مخامخ کوي ......... ۱۷۲
د زمري ۲۸مه د آزادۍ د ورځې په وياړ ..................................۱۷۳
څوک د مډالونو مستحق دی؟...........................................۱۷٤
د نا انډوله انتخاباتو داصلاحي کميسيون د پريکړو سره مخالفت.......۱۷۵
د انتخاباتو په هکله د کابينې د تېرې شپې د پريکړې هرکلی...........۱۹۰
کاوون کاکړ او شاه محمود مياخېل........................................۱۹۰
د انتخاباتو د سيستم په هکله بې تفاوتي ................................۱۹۲
اخلاق او ميانه روي ....................................................۱۹۲
څوک جاسوس دی او څوک نه دی؟ ....................................۱۹۳
د نظام او د حکومت د تغير تر منځ فرق ................................۱۹٤
د لوی اختر مبارکي......................................................۱۹۶
د حکمتيار صيب انرژي او دسپلين کې شک نشته خو د څه لپاره؟..... ۱۹۷
بې نقشې حکومتداري نه کېږي .........................................۲۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معلم د ورځې یاد ............................................................... ۲۰۸
طمعه بد شی دی ................................................................... ۲۰۹
یوه دلچسپه معلومات .......................................................... ۲۱۰
د جنګونو انواع........................................................................ ۲۱۱
د چاپلوسانو پر ضد مبارزه..................................................... ۲۱٤
د پولیسو د زونونو جوړول...................................................... ۲۱۷
د امریکایي قواو د شتون په هکله د تحلیلګرانو تحلیل .................۲۱۹
افسوس د افغانستان د خارجه دیپلوماسۍ او د حکومت په حال ...... ۲۲۰
د چین د جمهور رئیس د مرستیال د سفر په هکله خوشبیني او ...... ۲۲٤
د رژیمونو د چارواکو سمبولونه.............................................. ۲۲۹
ښار جوړولو وزارت د خلیل الله فیروزي د بند یوکلنه کلیزه په ........ ۲۳۰
ما تنها ملتی هستیم که ملا نصرالدنی تصمیم میگریم................ ۲۳۳
بدبختي او وحشت هم انتها ته رسېدلي ...................................... ۲۳٤
د شطرنج لوبه په کوم حالت کې ده؟......................................... ۲۳۵
د افلاطون نظر د شاعرانو په هکله.......................................... ۲۳۷
د مایوسۍ نښه ........................................................................ ۲۳۹
د افغانستان او پاکستان ترمنځ ډیپلوماسي.................................... ۲۳۹
د اسیا د زړه کنفرانس په اسلام اباد کې ................................ ۲٤۲
ایا استخباراتي جګړه مونږ ګټلی شو؟ ...................................... ۲٤۳
دومره بار یوسه چې څومره ځای ته رسول شي............................ ۲٤٤
څنګه ولس او حکومت یوه سندره زمزمه کړي؟ ........................... ۲٤۵
انفرادي تصامیم همېشه اجتماعي اغېز لري ................................ ۲٤۷
کاشکې چې په دې بعضې مسایلو نه پوهېدای؟؟؟؟؟ نو به نه ......... ۲٤۸
د شېخ چلي پروژه..................................................................... ۲٤۸



زما د ژوند د سیاست د لومړنیو زده کړو ځای............................. ۲۵۰
دې ملت سره به څوک مقابله وکړای شي؟ ..............................۲۵۲
د پارلمان له خوا د ټاکنو د تقنیني فرمان د ردولو په هکله اندېښنه ... ۲۵۳
د جدي شپږمه نېټه په افغانستان کې د روسانو د یرغل ورځ ......... ۲۵۵
خبرتیا .................................................................................. ۲۵٦
د امریکا د ویرجینیا ایالت کې دالس هوایي ډګر سره نږدې د ........ ۲۵۷
یوه خاطره د شهید سردار احمد په یاد ................................... ۲۵۸
د پکتیکا د ارګون د پېښې غندنه ..........................................۲۵۹
د تلیفونو د کمپنیو غلا په ښکاره ورځ ...................................... ۲٦۰
مدیریت او رهبري په انسان کې له وړوکوالي نه ښکاري ..............۲٦۲
یاره! دا جان کیري راته ډېر ډېر مه ځلوئ.................................۲٦۷
د والدینو مسوولیت د اولادونو پر وړاندې.................................. ۲۷۱
څنګه په امریکا کې د افغانستان د نوي حکومت په هکله مثبت ...... ۲۷۳
د پکتیکا د یحیی خیلو دردونکې پېښه ...................................... ۲۷۵
د نږدې ملګري محمد حسن حسام مړینه.................................۲۷٦
د خوست تراژیدونکې پېښه او برمنګهم کې د نیالګیو ایښودل......... ۲۷۸
عجیبه دنیا ده ........................................................................ ۲۸۰
وایې افغانان په سر مزل کوي ځکه سر زوري دي......................... ۲۸۱
لاندې انځو ته په ښه دقت سره وګورئ.................................... ۲۸۱
د اختر د ورځې د لمسو رالېږل شوې تحفه.................................. ۲۸۳
په وطن به دې ولې زړه درد نه کوي ........................................۲۸۹
په مادرید کې د لاندې د غوښو د رواج په هکله............................ ۲۹۰
د الحاج محمد حسن حسام صیب په یاد ...................................۲۹۳
د اوښتون ټولنې له خوا ستاینلیک ..........................................۲۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



له چانه به پوښتنه وکړو؟ ........................................ ۲۹۹
په شگو کې ژوند ........................................................ ۳۰۰



## د مارشال فهیم مړینه

د فرورۍ نهمه نېټه، کال ۲۰۱۴ م

نن سهار راته د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت مرستیال او زما نږدې دوست او ملگري پوهنمل غلام نبی فراهي تليفون وکړ چې د جمهوري رياست لـومړی مرستيال مارشال محمد قسيم فهيم په حق ورسېد. د ده مړينـه لا مطبوعـاتو نه وه تاييد کړې نو ما په فېسبوک کې د ده د غمرازۍ په خاطر وليکل:

مارشـال محمـد قسـيم فهـيم د افغانسـتان د جمهـوري رياسـت لـومړی مرستيال د وړپېښې ناروغۍ له امله نن وفات شو. انا لله و انـا اليـه راجعـون. الله دې جنت فردوس نصيب کړي، د ده کورنۍ او دوسـتانو تـه صـبر جميـل غواړم. يوه مهمه خوبي چې مارشال صيب درلوده هغه دا وه چې څـه يـې پـه زړه و هغه به يې په خوله هم ويلې. روح دې يې ښاد وي.

احمد الله فولاد ليکلي و چې خدای دې يې نه ښښي، نو مـا ورتـه پـه ځـواب کې وليکل:

الله تعالی ښه پوهېږي چې څوک ښښي او که نه خو مسلمانانو ته دا په کـار ده چې د ښښنې دوعا په مړي پسې وکړي. که چا ښه کړي وي که بد هغه به په دې دنيا کې تاريخ قضاوت کوي او په هغې دنيا کې الله تعالی هـر چـا تـه خپل ثواب د هغه د اعمالو په اندازه ورکوي. نو فکر کوم چـې ټولـو دوسـتانو ته په کار ده چې په خپلو ليکنو کې لږ فکر وکړي او هغه څه چې په يـو مـړي پسې يې ويل مناسب نه دي، بايد ونه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولس د موجوده حالت او د دغه حالت د بد تر دوام نه ستړی دی

۲۲ مارچ ۲۰۱۴ م کال د حمل دویمه نېټه، ۱۳۹۳ هجری شمسی کال

درنو دوستانو! تاسې ټولو ته د ۱۳۹۳ هجري شمسي نوي کال مبارکي وایم. خدای دې وکړي چې د دې کال د راتلونکې میاشتې په ټولټاکنو کې له درغلیو نه پرته یو ښه حکومت رامنځته شي تر څو د افغانستان د خلکو تشویش نه ډک ژوند ته د پای ټکی کیږدي. زیاتو ولایتونو ته چې ما په تېرو دوو میاشتو کې سفرونه کړي او همدا نن د ننګرهار او کونړ نه کابل ته راغلم ، په کلیو، بانډو او ښارونو کې چې ما د خپلو ولسونو پوهه او عامه پوهاوی ولید نو دا امید رابښي چې زموږ ولس اوس بیدا ره شوی او په ټولټاکنو کې به برخه اخلي او د افغاستان د سیاسي حالاتو په هکله بې تفاوته نه دی. همدا ولس به په ټولټاکنو کې د درغلیو مخه هم نیسي. ولس د موجوده حالت او د هغه د بدتر دوام نه ستړي او پکو دی او مثبت تغیر ته امید واره دی. ما د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۴ کلونو ترمنځ ډېر زیات مثبت تفاوتونه ولیدل.

### حیات پیاوړي صیب د پورته لیکنې په هکله لیکلي و:

میاخېل صاحب ستا دې هم نوی کال مبارک وي خو د دې کال د راتلونکې میاشتې په ټولټاکنو کې له درغلیو نه پرته یو ښه حکومت رامنځته کېدل یو خوب او خیال دی. که دغو څلور پوښتنو ته ځواب وویل شي نو پر ټاکنو به بیا باور وشي او خلک په کښې برخه باید واخلي . ۱) امنیت ۲) په ټاکنو کښې رونېتیا ۳) د ټاکنو په اړه د خلکو پوهاوی او ۴) د تېرو دورو ټاکنو ناکامه پایلې چې ولس ته یې هېڅ ګټه نه ده رسېدلې، بلکې یوازې د زور او



زر د خاوندانو ناروا واک ته یې مشروعیت ورکړی. د دغو ملاحظاتو په رڼا کې د راتلونکو ټاکنو پایلو ته چې هر څه وي څوک نه شي خوشبینه کېدای، نو حتی په هغه کښې ګډون یو بې ګټې کار دی.

### ما د حیات پیاوړي صیب په ځواب کې ولیکل:

پیاوری صیب سلام! که څه هم موږ د انتخاباتو په هلکه مخکې هم یو څو خبرې سره کړې وې خو ښه ده چې یو څو ټکې سره بیا تبادله کړو. اول خبره خو دا ده چې موږ باید لاس تر زنې کیننو ځکه که سیلاب مو هم وړي باید لاس او پښې ووهو. بې تفاوتي د افغانانو په خپله شکست دی. باور وکړه چې زه د ډېرې اطرافي ولسوالۍ، خاص کونړ اوسېدونکی یم او پرون چې مشرانو او ځوانانو کومې خبرې په غونډه کې کولې نو د هغوی عامه پوهاوی زموږ د ډېرو تعلیم یافته وو نه چې د ولس د حالاتو نه نا خبره دي او له ولس سره اړیکې نه لري ډېر اوچت و او ډېر ښه تحلیلونه یې کول نو دا ماته امیداواري راکوي چې زموږ ولس هغه پخوانی ولس نه دی او بیداره شوی دی.

امنیت تېر ځل هم د مخالفینو له خوا خراب نه و بلکې حکومتي چارواکي په خپله انتخاباتو لپاره ګواښ و او دا اوس مشکله ده ځکه دولتي چارواکي هم تقسیم شوي او هم حیران دي چې څه وکړي. د ولسونو برخه اخستنې په دې لویو لویو او وړو غونډو کې وښودله چې د هېواد په هر سیمه کې خلک له انتخاباتو سره دلچسپي لري او برخه په کې اخلي.

کمیسیون د انتخاباتو هم هغه پخوانی کمیسیون نه دی او تر کومه حده چې ماته معلومه ده بېطرفي به وساتي انشاالله او همدا زموږ امید د دوی نه دی چې بېطرفي وساتي. او که یې ونه ساتي نو هم ولس او هم میډیا ډېره فعاله ده او د دوی زیاتې درغلۍ به ډېر ژر رسوا شي. که دا وواېو چې تېر ځل انتخاباتو د خلکو مشکل نه دی حل کړی نو باید بې تفاوته اوسو نو دا هم معقوله لار نه ده ځکه همدې ټوپک سالارانو پخوا د ټوپک له لارې په خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت کاوه او اوس لـه ولـس نـه رايـه غـواړي نـو دا پـه خپلـه هـم د ولـس برياليتوب دی او همداسې اميد شته چې ولس به په خپله اخر کاميـاب شي چې د ځان لپاره ښه حکومت وټاکي.

زما اميد د تاسې غوندې پوه کسانو نه دا دی چې د ايډيال حالت په طمعه بايد ونه اوسو او په انتخاباتو کې برخه واخلو. کېدای شي چې زموږ او تاسې هلې ځلې نتيجه ورکړي. لوستلي مې نه دي خو اوريدلي مې دي چې د سيد جمال الدين افغان د يو فرانسوي فيلسوف سره بحث و. نـو دغـه فيلسوف ورته ويلي و چې زه ستاسې پر خدای عقيده نه لـرم ځکـه اخـرت، حسـاب او کتاب نشته دی. سيد جمال الدين افغـان ورتـه ويلي و چـې زمـوږ دلايـل پـر تاسې قـوي دي. ځکـه چـې د هغـه دنيـا نـه هېڅـوک بېرتـه نـه دي راغـلي. مسلمانان په دې عقيـده دي چـې اخـرت، د قـبر عـذاب او الله شـته دي او تاسې په دې عقيده ياستئ چې نه شته دي، موږ يعنې مسلمانان په الله تعالی عقيده لرو او که حساب او کتاب په اخرت کې و نو ډېر ښـه او کـه نـه و نـو هم فرق نه کوي. خو مشکل ستاسې دی که په اخرت کې، حسـاب او کتـاب وي نو بيا به تاسې څه کوئ يعنې مسلمانان دوه چانسه لري او غيـر مسـلمان يو چانس لري.

نو زه هم تاسې ته وايـم کـه برخـه وانخلـئ او کـار ونـه کـړئ نـو دا پخپلـه شکست دی او که هلې ځلې وشي او خلک په انتخاباتو کـې برخـه واخـلي نـو دوه چانسه لري او احتمال شته چې نتيجه ورکړي. په درنښت

## واحد هيله من صيب ليکلي و:

مياخېل صيب ستاسو په دې خـبره چـې «همـدې ټوپـک سـالارانو پخـوا د ټوپک له لارې پر خلکو حکومت کاوه او اوس له ولس نه رايه غواړي نـو دا پـه خپله هم د ولس برياليتوب دی» خپل نظر وړاندې کوم. رښتيا هم دا د ولس زور او برياليتوب ښيي چې ټوپکوال نور قانع شوي دي چې ماشـې يـې نـورې



ټس هم نه کوي نو اوس زارئ کوي خو ولس بايد هوښيار وي چې مجرمانو دا ځل مداريتوب ته مخه کړې ده، هسې نه چې بيا وغولېږي او هماغـه قـاتلان او بدماشان بيا په خپلو اوږو سپاره کړي. آيا پرته له پخوانيـو جنايتکـارانو بـل څوک نه پيدا کېږي؟ که په دېرش ميليونو افغانـانو کـې د ولسمشرۍ لپـاره پاک سړی نه پيدا کېږي نو بيا خو رښتيا دغه هېواد او خلک په سـيند لاهـوو دي!

## ما د هيله من صيب په ځواب کې وليکل:

هيلـه مـن صـيب ستاسـې خـبره سـمه ده. د ولـس ځيرکـي او هوښـيارتيا همدلته په کار ده چې بې تفاوته ونه اوسي او برخه په انتخاباتو کې واخلي او هغه چا ته رايه ورکړي چې د دوی په اند دا نيمه ډوبه جاله ساحل ته رسولی شي او که په خپل اختيار بيا هم خپله لکۍ د يو څو روپو لپاره د هغو کسـانو پسې تړي چې ښه پوهېږي چې هم ځان غرقوي او هم ولـس نـو دا خودکشيـ بايد ولس و نه کړي. دا د هر چا دنده ده چې د خپلې وسې په اندازه د خپلو ملگرو او دوستانو سره په اړيکه کې اوسي او د ولسي کمپاين ډيوه نـه يـوازې تر انتخاباتو پورې بلکې له انتخاباتو نه وروسته هم بله وسـاتي تـر څـو پينځـه کاله وروسته بيا ولس له داسـې سـتونځو سره مخـامخ نـه وي لکـه اوس چـې مخامخ دی. د ولسي بيدارتيا او په سياست کې برخـه اخيسـتنه سـتړی کـار دی لکه د شگو مزل دی خو حرکت د مزل بايد مثبت خواته اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ټولټاکنو کې یوه ورځ برخه اخستنه به د دې ملک برخلیک د تل لپاره بدل کړي

د مارچ ۲٦مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال، کابل

د هېواد په بېلابېلو ګوټونو کې د جمهوري ریاست لپاره درنـدو غونـډو دا وښودله چې د افغانستان ولس اوس هغه پخوانی ولس نـه دی، دوی رابیـداره شوي دي او د خپل برخلیک په اړه تصمیم نیولی شي. په دې تاریخي غونـډو کې چې د هېواد په تاریخ کې ساری نـه لـري، د افغانسـتان ولـس کورنیـو او بهرنیو حلقو ته دا وښودله چې د افغانستان ولـس هـر ډول تهدیـد او افراطـي حرکتونه چې په هر نامه وي ردوي او د ولسواکۍ نظام پلویان دي.

د زیاتو خلکو ګډون هغه اوازې او انګازې چـې د بعضـې نومانـدانو لـه خـوا خپرېږي چې جعل کاري به په ټاکنو کې وشي او یا د جعـل کـارۍ پـه طمعـه ناست دي په کلکه رودوي. نه نوماندان هغه پخواني نوماندان دي، نـه ولـس هغه پخوانی ولس دی، نه د انتخاباتو کمیسیون هغه پخـوانی کمیسـیون دی او نه مدني ټولنه او مطبوعات هغه پخواني دي چې څوک درغلي وکړای شي. امید دی چې ټول نوماندان د صـافو رایـو پـه طمعـه پـه انتخابـاتو کـې برخـه واخلي. درغلي او تذویر د هیڅ یو کاندید په ګټه نه دی او نه یې څوک پایلـه مني نو ښـه بـه دا وي چې ټـول نومانـدان خپلـو پلویـانو تـه د صفا او پـاکو انتخاباتو توصیه وکړي. امید دی چې د ثور په شپاړسمه د افغانسـتان ولـس (ځوانـان، نـر او ښـځې) پـه یـوه اواز لـه خپلـو کورونـو نـه راووځـي او د رایـو صندوقونو ته لاړ شي، بې له وېرې د خپلې خوښې نوماندانو ته رایه ورکړي. د ولس دا یوه ورځ زحمت به د افغانستان راتلونکی سرنوشـت د تـل لپـاره بـدل کړي چې د رایو په زور د حکومت واګې به د یو منتخب جمهور رئیس نه بـل



منتخب جمهور رئیس ته انتقال شي او امید دی چې همـدا دود بـه زمـوږ د کلتور جز وګرځي.د هوسا او ارام افغانستان په امید.

## بېطرفی د انتخاباتو د کمیسیونونو

د اپریل دویمه، ۲۰۱۴ م کال

نن د انتخاباتو د شکایتونو د کمیسـیون مشرـ عبدالسـتار سـادات د خپـل فیسبوک په پاڼه لیکلي و:

خلکو ته مراجعه وکړئ!

د حکومت په اوړو یا له بلې غیر قانوني لارې ارګ ته ننوتل؛ له ارګه د ملي ارادې د جنازې وتل دي.

کاندیدان دې پوه وي چې موږ د دې جنازې په لمانځه کې ګډون نه کوو .

ښاغلو کاندیدانو!

خلکو ته مراجعه وکړئ، د هغوی رایه واخلـئ، ځکـه؛ مـوږ بـه بـې خاونـدې رایې ته اعتبار ورنکړو.

مایي په ځواب کې ولیکل:

سعادت صیب په انتخاباتو کې د کاندیدانو او ولس رول ډېر مهم دی خـو د ټولو نه زیات ستاسې د کمیسیون او د انتخاباتو کمیسـیون رول ډېـر مهـم دی او که ثبات راځي او قانوني او مشروع حکومت راځي نو هغه بـه ستاسـې د کمیسیونو سل په سلو کې د بېطرفۍ په نتیجه کې وي. د ټولو افغانانو او د دنیا سترګې ستاسې کمیسیونو تـه دي. همـدا امیـد د تاسـې نـه لـرو چـې د هیچا سره کمک مه کوئ او خپله کامله بېطرفي وساتی. که هر چا وګټلـه نـو نوش جان یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې انتخاباتو دا وښودله چې زور او زر چندان ګټه ونه کړه. زه چې پـه خپـل ولایت کې رایو ته نظر اچوم نـو د کـونړ خلکـو، د اتیـاومې او نویـومې لسـیزو ټیکه دارانو او هم د موجوده حالاتو دوام په کلکه رد کړی او د یو نوي تحـول او نظام جوړونې ته یې رایه ورکړې ده. زه د ټاکنو او د شکایتونو د کمیسیونو په مشرتابه او رهبرۍ باندې باور لرم چې دوی به د هیڅا په ګټه او یـا تـاوان کار ونه کړي او په ازاده، بیطرفه او عادلانه توګه به د انتخاباتو د پایلو پلټنـه وکړي او لازم تصـامیم بـه ژر ونیسيـ تـر څـو بېځایـه او بې اساسـه اوازې او انګازې د رښتیاو ځای ونه نیسې. افغانانو خپله مېړانه وښودله نو اوس د دې کمیسیونو میړانې ته سترګې په لاره دي.

## ارزښت باید د ژوند لپاره وي نه ژوند د ارزښتونو لپاره

**د اپریل ۱۴مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال**

د احسان الله درمل صیب لیکنه راته ادریس غروال صیب څه موده مخکـې راکـړه چـې ډېـره مـې خوښـه شـوې ده. اول خـبره دا ده چـې وایـي د ټـولنې ارزښتونه د وخت او زمان او هم د ضرورت پـر اسـاس بـدلېږي. یـو شی چـې پخوا ارزښت یې درلوده اوس یې نه لري. دویمه خـبره پـه دې لیکنـه کـې دا ده چې ارزښتونه باید د ژوند لپاره وي نه ژوند د ارزښتونو لپاره. که دې دوه فارمولو ته وګورو نو واقعاً چې کوم ارزښت چې په ټولنه کې استعمال نه لـري هغه ته موږ اوس ارزښت نه شو ویلی. پخوا به چې د چا لیک او لوست یـاد و نو هغه ته به میرزا صیب ویل کېده او په دولتي چوکیو به هـم میـرزا صیب کار کاوه او داسې میرزایان و چې والیېان او وزیران هـم شـوي دي. خـو اوس لیک او لوست چندان خبره نه ده او یوازې په لیک او لوست موږ ځان ته کار



## د انتخاباتو لپاره غټ تهدید خرابه هوا ده نه د طالبانو تهدید او بد امني

د اپریل درېیمه نیټه، ۲۰۱۴ م کال

د شنبه په ورځ د افغانستان انتخاباتو ته غټ تهدید به پـه ټـول ملـک کـې اټکل شوی باران وي نه بد امنی او د حکومت د مخالفینو تهدید. خدای دې وکړي چې افغانان له باران نه ونه وېرېږي او لـه کورونـو نـه راووځـي او خپـل وټ د خپلې خوښې کاندیـد تـه بـې لـه وېـرې، قـومي او ژبنیـو اړیکـو او یـا نورملحوظاتو له امله ورکړي او معیار یوازې د وطن ثبات او ابادي په نظر کې ونیسی. ”هغه چا ته رایه ورکړئ چـې څـوک دا نیمچـه ډوبـه جالـه ساحل تـه رسولی شي. ښه انتخابات د ټولو وطن دوستو افغانانو لپاره بریـا ده. نـه بایـد پخپلـه تقلـب وکـړو او نـه نـور بایـد تقلـب تـه پرېـږدو. زمـوږ امیـد د ټولـو کاندیدانو نه هم دا دی چې خپلو کمپینرانو ته هدایت وکړي چې دوی لپاره تقلب ونه کړي. تل دې وي افغانستان

## د جمهورۍ ریاست د پایلو په هکله تشویش

د اپریل ۸مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م

دا د افغانانو حق دی چې د دوی د رایو احترام وشي، پاکې او ناپاکـه رایـې جدا شي، که هر چا درغلي په رایو کې کړې وي هغه باید په ګوته شي تر څـو د انتخاباتو پر پروسه باندې د ملت بـاور زیـات شي او پـه راتلـونکي کـې بیـا څوک درغلیو ته زړه ښه نه کړي او له ملت نه د صـفا رایـو پـه طمعـه اوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه شو پيدا کولی. که په افغانستان کې سړی په خپله ريزومي کې وليکي چې په پښتو او دري ژبو پوهېږم نو دا خبره ډېر ارزښت نه لري ځکه که په افغانستان کې څوک اوسېږي او په دولتي ادارو کې کار کوي نه خامخا بايد په دې ژبو پوه شي. يا که په امريکې کې سړی په خپله ريزومي کې وليکي چې په انگليسي ژبه پوهېږم نو دا چندان ارزښت هلته نه دی ځکه ټول په انگليسي ژبه پوهېږي خو افغانستان کې بيا دا ارزښت دی.

درمل صيب دا هم ليکلي دي چې لمر په ملتان کې ارزښت نه دی خو په هغو ځايونو کې چې يخني وي او لمر نه وي نو هلته ارزښت دی. دا يې هم ليکلي چې د انسان د خلقت نه وروسته خور او ورور سره نکاح کوله ځکه انسانان کم و خو اوس دا ارزښت نه دی بلکې که څوک دا کار اوس وکړي نو د وحشي انسان خطاب ورته کيدای شي. نو ښه دا ده چې موږ ارزښت د ارزښت لپاره ونه پالو بلکې ارزښت بايد د ژوند لپاره وي.

## ارزښتونه

۲۰۱۳م کال په اخرو کې، ښاغلي ادريس غروال راته د احسان الله درمل صيب دا لاندې مقاله په کونړ کې راکړه چې زما ډېره خوښه شوه، نو اړينه مې وگڼله چې دلته يې چاپ کړم:

د رياضي د معادلاتو متحولات دي، چې له صفر نه تر مثبت او منفي لاينتاهي پورې تغيرات قبلوي؛ بتان دي، چې انسان يې د خپلې اړتيا لپاره تراشي، که په ژوند کې يې رول مثبت و، تعظيم يې کوي او همدا چې په دې ډرامه کې رول پای ته ورسېد، تبر پسې راخلي؛ زموږ په لاس جوړې شوې سکې دي، په خپله يې چلوو او کوټه کوو. د بشرپه تاريخ کې د خدای (ج) د استازيو او اسماني اديانو تعدد دې ته اشاره کوي، چې ارزښتونه پر ځای ولاړ او لا يغير نه وي. د ارزښتونو مور و پلار د انسان احتياجات دي. هر څه، چې



د انسان اړتياوو ته مثبت ځواب ويلی شي ارزښت يې بولي او که دا قابليت يې له لاسه ورکړ، عورځوي يې. د ادم (ع) په وخت کې، چې د انساني نسل ډېريدو ته اړتيا وه، خور ښځه کېدای شوه، مگر که اوس څوک داسې وکړي، موږ ته به وحشي ترين کس ښکاري. د بشري تاريخ د حافظې کعبه د ارزښتونو د بتانو له ماتو ټوټو ډکه ده، له دې ماتو ټوټو کله، کله نور بتان تراشل شوي، بيا مات شوي او دا سلسله لاهم روانه ده. که انساني اړتياوې د ارزښتونو د زيږيدو او پيدا کېدو سبب وي، نو ارزښتونه بايد متحول وي، ځکه چې د انسان اړتياوې کله په يوه حال وي؟ دويمه خبره دا ده، چې د بېلا بېلو تفاوتونو له امله د انسانانو اړتياوې سره يو شان نه وي، ځکه نو ارزښتونه هم بايد متفاوت وي، په نړۍ کې د مشترکو ارزښتونو مثالونه کم لرو، د استاد پسرلي خبره:

> په هر سر کې بل خيال وي په هر زړه کې بل هوس
> هر څوک له مرزگې تښتي خو کرگس پسې ړنديږي

د لمر په اړه موږ د ملتان او سايبريا د خلکو عقايد نشو يو شان کولی. دا ارزښت د اولو اړتيا نه ده (ولې نه ده، خو تر يو حده) او د دويمو ده، ځکه نو لمر د دواړو لپاره مشترک ارزښت نشي کيدای. د زردشتي دين د زوکړې سيمه غرنۍ او يخه وه، نو اور پکې ارزښت دی او هلته چې گنگا سپېڅلې او اوبه مقدسې دي، د گرم اقليم له اغېزو سترگې نه پټيږي. د ارزښتونو په اړه دريمه او تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې ارزښتونه د ژوند د خدمت لپاره کېږي، ارزښتونه بايد د ژوند په پرمختگ، خوشحالۍ او سوکالۍ کې ونډه واخلي او که دا کار نشي کولی بايد د زړوبوټانو او يا زړو جامو په څېر له ژونده ووځي او ځای يې نوي ارزښتونه ونيسي. په بله ژبه ارزښتونه د ژوند لپاره دي، ژوند د ارزښتونو لپاره نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنیا کې تر ژوند لوی ارزښت نشته، انسان چې تر اوسه پورې هر څومره کارونه کړي، د خپل ژوند د هوساینې لپاره یې کړي او حتـی د خپلـې ارامـۍ لپاره یې د نورو له محوه کولو هم ډډه نه ده کړې. د ارزښتونو په اړه د تحول نظریه راسره مرسته کوي، چې موږ په خپلو ارزښتونو فکر وکړو. ګټور یـې لا وځلوو او بې ګټې یې معاوضه کړو. په وروسته پـاتې ټولنـو کـې، چـې فکرونـه زنداني وي او سرونه یوازې د هو په علامه خوځیدو ته جوړ شـوي وي، داسـې ارزښتونه هم د ژوند په بیه پالل کېږي، جـې لـه ژونـد سره پـه جنـګ وي. د داسې ټولنو یو لـوی ارزښـت د اسـلافو پـه نقـش قـدم تـګ دی او پـلار نیکـه تراشلي ارزښتونه لا یغیر دي. خلک هیڅ فکر نه کوي، چې پلار نیکـه تراشـلي ارزښتونه د هغوی د زمانې لپاره ول او موږ په بېل وخـت کـې ژونـد کـوو. لـه وخت سره د انسـان اړتیـاوې او غوښـتنې بـدلیږي، انسـان د خپلـو اړتیـاوو د تکمیل لپاره نوې هڅې کوي او نوې هڅې ممکن نوي ارزښتونه معرفي کـړي. بیدار قومونه د خپل تاریخ او ماضي هغه برخه سرمشق ګرځوي، چـې د دوی له ژوند سره مستقیمه اړیکه لري او هغه چې له تیر وخت سره تېـر شـویدي، په احترام یې له مخې ایسته کي او معاوضه کوي. موږ پر دې فکـر نـه کـوو، چې د ارزښت د رامنځته کېدو زمینه څه وه، اوس هغـه زمینـه او اړتیـا شـته کنه، بس خو تندي دي، چې د پخوانیو بتانو په پښو کې یې سولوو.

موږ ارزښت د ارزښت لپاره پالو د ژوند لپاره نه، یا په بلـه ژبـه چـارمغز او پسته له پوښونو سره د دې لپاره خورو چې چارمغز او پسته دي، د مغز لپـاره یې نه خورو. زموږ چلند حتی له قران سره هم د همداسې وچو ارزښـتونو پـه څېر دی. دا یوازې هغه کتاب دی، چې باید ښـکل شي، مسـافر تـرې لانـدې تېر شي، په څو پوښونو کې تاوشي، د بل ځکمه او جایـداد پـرې وګټـل شي او رنګارنګ چاپ شي. مګر له ژوند سره د قرآن په اړیکه نه پوهېږو او یا تر اوسه نه یو خبر، چې د قرآن پیـام څنګـه د ژونـد لـه هوسـاینې سره مرسـته کـوي؟



مولانا روم چې د انساني ارزښتونو لوی مبلغ دی، له قرآن سره د هغه مهال د خلکو د چلند پر وړاندې څه پر ځای عکس العمل ښودلی و:

مـــا زقـــرآن مغـــز را برداشـــتیم
پوســـت رابـــه دیګـــران ګذاشـــتیم

مـوږ چـې ریښـتوني مفکـران او د خیـر خلـک کـم لـرو، لا هـم پـه داسـې ارزښتونو او افتخاراتو سره وژنو، چې زموږ د ژوند له تحرک او هوساینې سره هیڅ مرسته نه کوي، د بیدل خبره: محوی فخریم که عار را ماند.

د نړۍ د متحرکـو او پرمختللیـو ټولنـو د پرمختـګ راز یـوازې او یـوازې دا دی، چې له خپلو اړتیاوو سره سم ارزښتونه تـراشي او کـه اړتیـاوې یـې بـدلې شي، ارزښتونه هم ورسره بدلوي، موږ دا کار نه شو کولی او چې نـه یـې شـو کولی نو ولې دې د ولاړو اوبو په څېر بوی واخلو؟ بیا هم استاد پسرلی:

ړانده تول عمر پټې سترګې پـه امسـا پسـې ځـي
بینـا هغـه دی، چـې هـم لارې هـم رهـبر بـدلوي

نــه زوږ منطــق چلېــږي یــاره نــه زاړه فکرونــه
څیرک زلمي په تاوده جنګ کې هم سنګر بدلوي

## د افغان رایو ته احترام په کار دی

د اپریل ۲۳مه نیته، کال ۲۰۱۴ م

د حمل یا وري په شپاړسـمه د افغانسـتان ملـت دنیـا او هـم ګاونـډیانو تـه وښودله چې د افغانانو سیاسي شعور حتی په کلو او بانډو کې هم ډېر او چټ دي او بې له وېرې یې په ټاکنو کې برخه واخستله. د وري د میاشتې ټاکنو او د خلکو ګډون په پراخه کچه په امنیتي ارګـانو او د ټـاکنو پـه خپلواکـه اداره باندې باور اضافه کړ. دا ټاکنې په تخنیکي لحاظ او هم د شفافیت په لحـاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۹ م کال د جمهوري رياست د ټاکنو نه سمې او شفافه وې. دا چې په تخنيکي لحاظ درغلي په بعضې ځايونو کې شوې او يا په بعضې ځايونو کې د کميسيون غړو او ناظرينو سمه دنده نه ده اجرا کړې جدا خبره ده خو تر اوسه د ټاکنو او شکايتونو کميسيونو خپلې دندې په ښه توګه سرته رسولې دي. کيدای شي چې د ټاکنو پايلې بعضې نوماندانو او يا د هغوی پلويانو ته دلچسپه نه وي خو چې که جمع او تفريق سم وشي نو همدې ته ورته پايلو نه زياته توقع هم بېځايه راته ښکاري.

اوس داسې ښکاري چې هيڅ يو کانديد شايد ۵۰ جمع يو ونه ګټي او ټاکنې دويم روند ته تلونکي دي نو ښه دا ده چې مخکښه نوماندان او هم د دوی پلويان دا پايلې ومني او دويم روند ته ځانونه چمتو کړي. په تلويزيونو او يا رسنيو کې د جوړجاړي خبرې هم کېږي چې که چا ۵۰ جمع يو پوره نه کړ نو جوړجاړی دې وشي او ټاکنې دې دويم روند ته نه ځي. د جوړ جاړي پلويان بعضې مصنوعي دلايل د خپلو شخصي ګټو لپاره په ګوته کوي خو زما په ا ند د جوړ جاړي پايلې به د دويم رونډ د ټاکنو نه په مراتبو خطرناکې او د تشويش وړ وي:

اول: که دويم رونډ ټاکنې ونه شي نو دا په خپله د ميلونونو افغانانو رايو ته په سپکه سترګه کتل دي. که جوړ جاړي باندې حکومت جوړيده نو ټاکنو ته بيا څه ضرورت و؟

دويم: که دويم رونډ ټاکنې ونه شي راتلونکی حکومت به مشروعيت ونه لري او حکومت داري به ورته مشکله وي او دنياوال هم شايد د غير مشروع حکومت سره په راتلونکي کې مرسته ونه کړي.

دريم: که جوړ جاړی وشي نو بيا به هيڅوک د ټاکنو په راتلونکې پروسه باندې باور ونه کړي او افغانستان به بيا د کشمکشونو لوبغالی وي او هر



څوک به د زور او زر له لارې قدرت نيسې او د افغانستان راتلونکی به بې ثباته وي.

څلورم: که څوک په خپل ځان او خپل ملت باندې باور لري نو بايد جوړجاړی ونه کړي او د ملت رايو ته د افغانستان د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون په رڼا کې مراجعه وکړي. که چا زياتې رايي وګټلې نو هغه بل دې ورته مبارکي ووايي او بايلونکی دې د قوي اپوزيسون په توګه د ملت خدمت ته دوام ورکړي.

په ټاکنو کې ګټونکی او بايلونکی دواړه ګټونکي دي ځکه په ديموکراتيکه ټولنه کې د اپوزيسون رول د هغه ګروپ نه ډېر مهم دی څوک چې قدرت لري. زما په اند هر څوک چې راتلونکې ټاکنې ګټې بايد يوه سمه اداره رامنځته کړي چې د افغانستان د ټولو قومونو نمايندګي په کې وي او په هر قوم کې ښه کسان شته چې د هغوي استازيتوب په راتلونکي حکومت کې وکړي. د افغانانو د بريا په هيله

## زمونږ د ولس احساس لا ژوندی دی

د اپرېل ۲۶مه نېټه کال ۲۰۱۴م

په فيسبوک کې لولم چې زمونږ دا بعضې د فيسبوک انډيوالان ليکي چې زمونږ ولس شعور نه لري او يا بېسواده دی نو په دې خبره ډېر سخت ځورېږم. کېدای شي چې بعضې کسان همداسې وي خو په عمومي توګه دا خبره سمه نه ده. که انتخاباتو ته وګورئ نو د کابل په ښار کې ډېرو باسواده او پوه کسانو رايه نه ده ورکړې خو په اطرافونو کې ډېرو بېسواده کسانو د خپل سر په قيمت رايه ورکړې ده. پرون د کابل په احمدشاه بابا مېنه کې په يوه واده کې وم چې ما سره په خونه کې تقريباً شل کسه ډېر فهميده، پوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



با سواده کسان، چې اکثرو په ډالرو تنخواوې هم اخستلې، موجود و خو په سلو کې اتیاو د جمهوري ریاست په ټاکنو کې رایه نه وه ورکړې ځکه د هغوی د ګوتو له رنګ نه معلومېدل نو ما ترې پوښتنه وکړه چې ولې مو رایه نه ده ورکړې؟ دوی هغه دغه کول. دلته د پوهې او شعور مسئله نه ده، خبره د احساس ده او تر اوسه اکثریت افغانان او په خاصه توګه ډېری پښتانه او د دوی تعلیم یافته طبقه په ټولنیزو ښېګنو او ټولنیزو کارونو عقیده نه لري. په پنځوس سلنه ښځو خو لا له سره نه غږېږو چې په سلو کې لس سلنه یې وټ نه ورکوي.

ځو ورځې دمخه ما د فیسبوک په یوه لیکنه کې یادونه کړې وه که ضرب، جمع، تفریق او تقسیم سم وکړو نو د انتخاباتو پایلې له دې نه نورې سمې نه شي کېدای او د انتخاباتو د کمیسیون مېړانه د ستاینې وړ ده ځکه دوی نه له چا سره مرسته کړې او نه یې د چا حق خوړلی دی. دا چې اوس داسې ښکاري چې انتخابات دویم پړاو ته تلوونکي دي نو دا زموږ د ټولو وطنوالو کار دی چې څنګه اول خپل ځانونه او بیا خپل ولس دې ته وهڅوو چې په دویم پړاو کې د اول پړاو په پرتله لاهم زیات سهم واخلي او دنیاوالو ته وښیو چې افغان ملت اوس د خپل سرنوشت په هکله بې تفاوته نه دی. که دا مرحله مو سمه تېره کړه نو زه په دې کلک ډاډمن او باوري یم چې په راتلونکي کې به د کودتایي نظامونو او یا د ټوپک په زور له قدرت نیولو نه د تل لپاره انشاالله خلاص شو او افغانستان به د یو دایمي ثبات په لوري مثبت ګام خامخا اخلي. په دایمي ثبات کې هم زموږ  او هم زموږ د راروانو نسلونو خیر دی. زه په دې ډاډه یم چې زموږ د ولس احساس بیداره دی په دویم پړاو کې به لا زیات په ټاکنو کې برخه اخلي. ولس باید د نهیلیو پنډتانو په خبرو پسې ونه ګرځي.



**قاسم منګل چې د خپل زوی  په نوم مستعار حساب لري، د پورته لیکنې په اړوند لیکلي و:**

زما په سیاسي مسایلو او بحث کي زغرده نظر خوښېږي دا که د چا خوښېږي او که نه هغه بېله خبره ده، راځئ وروڼو! له صاحب صاحب نه تېر شو او په آزاده توګه خپل نظر ورکوم. دا غلط خبره به وي که وواېو چې خلك شعور نه لري ټول انسانان شعور لري. خو دا یو حقیقت دی چې ځینې یې زیات لري او ځینې یې کم. په افغانستان کې لومری د باسېواد او روشنفکر ترمنځ باید فرق وکړو. تول باسېواده روشنفکران نه دي او تول روشنفکران باسېواده نه دي. په دې معنی چې آیا هغه چا چې پوهنتون لوستی او په اوسنیو انتخاباتو کې د ژبې، مذهب، قوم، قبیلې پر بیناد خپل یوه ظالم، جنګسالار، قاتل نه حمایت کوي آیا داسې تحصیل کرده اشخاصو ته موږ روشنفکر ویلی شو. پوهېږم چي (خواب روشن) دي. وروره! که معیار په افغاني انتخاباتو کې پاکي، صداقت، وطندوستي وای زما په نظر په دا یوولسو کاندیدانو کې بهترین شخص نادر نعیم و چې باید غوځ اکثریت یې تر لاسه کړی وای هاغه وخت کې چې زه په کابل کې وم ما دا خبره نادر نعیم ته وکړه چې ګرانه ملت تر اوسه دې مرحلې ته نه دی رسېدلی چې د ښه او ښه تر او بد او بدتر تر منځ فرق وکړي.

وروره! زما په فکر او اند زیات شمېر اشخاصو چې رایه ورنکړه هغې علت درلود. د دویم متفکر په خوا کې څوك ولاړ دي او د أفغانستان د ازادۍ د سېمبول عبدالله په څنګ کي څوك ولاړ دي؟ همدارنګه د زلمي رسول خوا کې؟ په داسې نامتجانسه انتخاباتو کې ملت په ډېر بد حالت کې قرار درلود او لري. .

او بله موضوع زما یو دوست چې زلمي رسول ته یې په ننګرهار کې کمپاین کاوه رأته وویل چې ماته دوه ځلې د انتخاباتو د کمیسیون مسوول خلك کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته راغلل او را ته یې وویل چې دومره ډالر راکړئ چې مونږ هم تاسې ته صندقونه ډك کړو. زما په نظر په دې انتخاباتو کې زیاتره منفي رول همدا د کمیسیون باسپوادانو جوړ کړو که زه هم په دې شرایطو کې کابل کې وای ما هم په رای اچونه کې برخه نه اخیسته.

واصل جمال صیب لیکلي و:

باعزمه او متین مشران تل د مسلکي لارې خپل پیغام د بامفهومه لیکنو له لارې خپلو ملګرو ته په خورا خوږه بڼه رسوي. دا هغه څه دي چې د ګران وطن افغانستان په غېږ کې پراته په وطن مین یې د کومې ستومانۍ پرته په ډېر ښه انداز ترسره کوي. یوه څرګنده بېلګه یې زموږ مشر میاخېل صاحب دی. خدای جل جلاله دې یې ژوندی او کامران لري.

د پورته دوستانو د نظریانو په هکله ما ولیکل:

د ټولو دوستانو له نظر نه مننه! زه د قاسم جان منګل صیب له نظر سره موافق نه یم ځکه که خفه رانه شي نو هغه اډیالېزم غواړي. د افغانانو مشکل همدا دی چې که د دوی په سلیقه کار سم نه وي نو بیا بایکاټ کوي او ټول ملت ورته بیا ملامته ښکاري. بایکاټ هغه وخت کې موثره وي چې مسیر ته تغیر ورکولی شی او که نه نو بایکاټ هېڅ معنی نه لري او بایکاټ په خپله شکست دی. که څه هم ډاکټر نه یم خو په طب کې یوه اصطلاح ده چې ترياژ Triage ورته وايي. که زیات مریضان په یوه وخت کې روغتون ته راشي نو ډاکټر باید ژر تشخیص وکړي چې کوم مریض د پاتې کېدو دی او کوم نه دی او د هغو مریضانو تداوي باید وکړي کوم چې د روغېدو دي. د ډاکټر نیت خو به دا وي چې د ټولو مریضانو تداوي وکړي خو هغه ورته په عین وخت کې نه شي رسېدلی او هر مریض ورته مهم دی خو د امکاناتو او شرایطو پر اساس ډاکټر مریضان ډېر ژر کټګوري کوي ترڅو یو څه مریضان له مرګوني حالت نه بچ کړي. وروښو! زموږ وطن هم ډېرې ستونځې لري. که



د ستونځو کټګوري ونه شي او بیا هرې ستونځې ته معقوله او منطقي لار پیدا نه شي نو دا ستونځې نورې هم زیاتېږي. زمونږ وطن او ملت مریض دی او مریض ملت باید اول په ICU یا عاجله خونه کې وساتل شي او چې حالت یې ښه شو نو بیا مریض د Critical یا وخیم حالت نه Stable یا ثبات حالت ته ځي. تر قیامته دا ښه نه ده چې دا ملت په عاجله خونه کې وساتل شي چې نه مري او نه جوړېږي. که د انتخاباتو نه بله معقوله او عملي لار چاته معلومه وي چې زمونږ مشکل حل کړي نو زه هم غواړم چې په هماغه لار لاړ شم او حمایت یې وکړم. د کمیسیون پسې به هر ناکام شخص هر څّه وایي خو چې د نړدې نه ما حالت کتلي دوی په ایمانداری کار کړی دی او د هیچا فشار ته تسلیم شوي نه دي. کېدای شي چې د کمیسیون بعضو کارکوونکو او کاندیدانو نمایندګانو تقلب کړی وي خو دا عامه خبره نه ده. دویم ځل پړاو ته باید ټول تیاری ونیسي ترڅو مونږ یو مشروع حکومت ولرو او بیا هغه حکومت د خلکو مشکلاتو ته جوابده وي. که دا کار ونه شي نو بله لار ګډوډي ده او په ګډوډۍ کې د افغانانو خیر نه شته دی. سردار نعیم زه هم له نږدې نه پیژنم ښه سړی دی خو هغه تجربه چې دا ملت رهبري کړي نه لري.

## د جمهوري ریاست د انتخاباتو دویم پړاو اعلان شو

د می د میاشتې ۱۵مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م

دا چې د جمهوري ریاست ټاکنې دویم پړاو ته رسماً وغزېدې نو انشاالله د افغانستان ولس به د تېر ځل نه هم زیات په ټاکنو کې د زیاتو ستونځو سره سره په شوق او ذوق سره برخه اخلي تر څو د ولس د وټ په زور راتلونکی ولسمشر وټاکل شي نه د ټوپک په زور او یا د پردې تر شا د معاملو پر اساس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په خپلو افغانانو ورونو او خویندو باوري یم چې دوی به یو ځل بیا د یوې ورځې یو څه وخت او یو دوه ساعته د افغانستان د راتلونکي او د خپل سرنوشت یا برخلیک په هکله د جوزا په ۲۴ مه نېټه د انتخاباتاتو په مرکزونو کې په صفونو کې تیروي او خپله رایه به اچوي. ملت باید په خپل ځان او خپله رایه په خپله باور پیداکړي نه د چا شاباسی، مکافاتو او تشویق په طمعه لاس تر زنې لاندې کیني. کامیاب دې افغانان او تل دې وي افغانستان.

## کونړ ته باید په درنه سترګه وکتل شي

د جون د میاشتې لومړۍ نېټه، کال ۲۰۱۴ م

یو شاعر وایي:

هلک نه یې چې په تعلیم دې څوک پوه کا
هم عاقل یې، هم بالغ یې، هم دانا

که څه هم ما ته افغانستان ټوله یوه سیمه ښکاري خو دا چې زه په کونړ کې زېږېدلی یم او هلته مې خړ پوڅې کړي دي نو د کونړ خلکو په هکله بدې خبرې راباندې ښې نه لګېږي. ځینې متخصیصین او ځانونو ته چې سیاسیون وایي داسې فکر کوي چې د کونړ سیمه غرنۍ سیمه ده او خلک یې بې تعلیمه او په سیاسي مسایلو نه پوهېږي. دا چې د ټاکنو د دویم دور د کمپیاین وخت دی نو ځینې کسان هلته غونډې کوي او غواړي چې د کونړ خلک پوه کړي چې چاته رایه ورکړي. خو د دوی اټکل سم نه دی او دوی کونړیان سم نه پېژني. کونړ د تمدن او علم زانګو ده او د سید جمال الدین افغاني غونډې شخصیتونه هلته زېږېدلي او روزل شوي دي نو دوی پوهېږي چې چاته رایه ورکړي او څنګه د خپل راتلونکي په هکله تصمیم ونیسي. البته کونړیان به د یو چا مېلمه پالنه کوي خو دوی د خپلو پاکو او سوچه رایو په استعمال د بل هر چا نه ښه پوهېږي چې تېر ځل یې هم دا په ثبوت ورسوله



او امید دی چې د ټاکنو په دویم پړاو کې به هم خپل مسوولیت په ښه توګه ادا کړي. دوی د چا وعظ او نصیحت ته ضرورت نه لري. بله دا چې داسې کسان چې په خپلو سیمو کې هېڅ رول نه لري نو لنډه منډه د کونړ په لوري اخلي او هلته د نمایش لپاره غونډې کوي خو دا د دوی لپاره د چا نه د پیسو د شکولو او شوړو د وهلو ښه وسیله ده.

## د نوښت له لارې د موثره بدلون په لور

د جون د میاشتې دربیمه نیټه، کال ۲۰۱۴م

نن د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت له خو د ډېوې په نامه پروګرام د لومړنۍ دورې د سیالیو ګټونکو ته جایزې او سندونه د د دغه وزارت د وزیر امیرزي سنګین او تکړه معین ایمل مرجان له خوا ورکړل شول. په دغه غونډه کې چې زه هم بلل شوی وم ډېر ښه او په ځای ابتکاري پروګرام و ځکه هغو کسانو چې په مهمو ساحو او یا د ژوند په بېلابېلو اړخونو کې یې د ټکنالوژۍ پر اساس ستونځې حل کولای شوې او نوې مفکورې یې درلودلې نو د دې مثبت رقابت له لارې نقدي جایزې او هم څه بودجه چې خپل نظر او پلانونه سره عملي کړي ورکړل شوه. په هره ټولنه کې چې د ابتکار زمینه مساعده وي او مثبت رقابت موجود وي، هغه ټولنه په مخ ځې او مبتکرین ستایل کېږي خو په هغه ټولنه کې چې مبتکرین وژل کېږي، رټل کېږي او شړل کېږي او یا اشخاص او حکومتونه د ابتکار مخنیوی کوي هغه ټولنه همېشه بدبخته او وروسته پاتې ټولنه وي. زه د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ دا نوی ابتکار ستایم. د دې نه برسېره د Blue Sonic کمپنۍ چې د لومړي ځل لپاره د کمپیوټرونو، ټلیفونو او نورو تکنالوژیکي څېزو د اسمبلې یا ترلو فابریکه جوړه کړې دا هم په افغانستان کې نوی ابتکار دی چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان ځوانه سرمایه ګذاران او په تکنالوژۍ پوه کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل هیواد کې دا ډول پر مختللي ځیزونه تړي او هغه په مناسب قیمت خپلو هیوادوالو ته عرضه کوي. که څه هم په تیرو دولسو کلونو کې د معلوماتي تکنالوژي په اره ډېر کار شوی خو د مخابراتو وزیر وویل چې د ایستونیا هیواد چې یو نیم میلیون نفوس لري، هغوی د تکنالوژی په ذریعه دری زره بیلابیل خدمات خپلو خلکو ته عرضه کوي خو په افغانستان کې یوازې په اتو ساحو کې حکومت د معلوماتي تکنالوژۍ له لارې خدمات عرضه کوي. نو گرانو دوستانو تاسې ووایئ چې اوس زمونږ هیوادوال باید څومره کار وکړي چې د ایستونیا د وړوکي ملک په څیر په مخ لاړ شو او دا ښایي چې مونږ څومره د نورې نړۍ نه وروسته پاتې یو. په پورته عکسونو کې د نن ورځې د غونډې یو څو عکسونه هم د تاسې او نور دوستانو سره شریکوم.



## معیبوبه او مریض ځوانان د معیبوبې ټولنې زېږنده ده

د جون د میاشتې اومه نېټه ۲۰۱۴ م کال

تیر ماښام د کابل هوايي ډگر اتیا متره سړک بانډې د یو دوست د زوی واده ته د اریانا د ښارگوټي له خوا د خلیج د ودونو هال په لوري په پښو روان وم چې د فرعي او عمومي سړک ترمنځ مې په دې عکس کې دا پورته ځوانان ولیدل چې سره راکنجاړه شوي و او پودر څکول او هم یو ځوان د سړک د غاړې په ویاله کې دننه پروت دی چې ځیگروي یې کول او د ځانه خبرنه و چې په څه حال پروت دی. خدای شاهد دی چې سخت خفه شوم. کله چې ما دا عکس اخسته نو د پولیسو یو موټر هم راغی او زما په شان یې دې کسانو ته خړې خړې وکتل او لاړ. زه دا پولیس هم نه گرموم ځکه له دې بیچاره گانو سره هم د حل لاره نشته ځکه که دا ځوانان بندیانوي نو هلته په بندي خانه کې دوی مري ځکه مونږ د روږدو کسانو لپاره صحیح پروگرامونه او سم روغتونونه نه لرو او که نه یې نیسي۔ نو د دوی تعداد ورځ په ورځ زیاتېږي او زمونږ ټولنه نوره هم مریضوي. مریضه ټولنه همېشه وروسته پاتې وي. مونږ به څنگه د مریضو او روږدو ځوانانو نه دا امید ولرو چې زمونږ د ټولنې او یا زمونږ د راتلونکې نسل لپاره به کار وکړي او دوی به ارامه او اسودگۍ کې شپې او ورځې تیرې کړي.

زمونږ ټولنه د پورته روږدو کسانو په شان ډېرې نورې ناروغتیاوې هم لري او دا ټولې ناروغۍ د تیرو رژیمونو او نا سالمو مشرتابه زیږنده ده. تر څو چې سالمه اداره د یو سالم مشرتابه په درلودلو جوړه نه شي نو زمونږ ټولنه به معیبوبه او ناسالمه ټولنه وي او د دې معیبوبینو او د دا ډول ناروغانو شمیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ورځ په ورځ زیاتیږي او په اخره کې به د هیڅ سره د حل لاره نه وي. راځئ چې راتلونکي دویم ځل ټولټاکنو کې سمې برنامې ته رایه ورکړو ترڅو زمونږ راتلونکی نسل په ارامۍ کې ژوند وکړي. اوبه لا د ورخه تیرې نه دي.

## د جوزا ۲۴مې نېټې دویم پړاو ټولټاکنو ته چمتوالی

د جوزا ۲۱مه نېټه، ۱۳۹۳ کال

د جمهوري ریاست ټولټاکنو د لومړي او دویم پړاو په اړوند، د افغانستان ملت، دولت، سیاسي ډلو، مدني ټولنو، سیاسي رضاکارانو او فعالینو او نوماندانو له یوه کاله راپه دې خوا ډېرې هلې ځلې وکړې او هر نوع مادي او معنوي قربانۍ یې ورکړې تر څو د خپلې خوښې یو داسې نوماند او ټیم ته رایه ورکړي چې د افغانستان راتلونکی سیاسي ثبات او د ولس ارامۍ لپاره کار وکړي. د افغانستان په تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې د سیاسي، مشروع او آزادو ټولټاکنو له لارې د سیاسي قدرت واګې به له یو منتخب جمهور رئیس نه بل منتخب جمهور رئیس ته انشاالله انتقالېږي. د ټولټاکنو په هکله امیدونه او ناهیلتوبونه زیات و او هر چا د خپل لرلید په رڼا کې ځرګندونې کولې خو د افغانستان ملت د اپریل په پنځمه نېټه دا وښودله چې د افغانستان ملت بیداره او اګاه دی او د خپل راتلونکي په هکله بې تفاوته نه دی. د ټولو نیمګړتیاوو او تهدیدنو سره سره یې په ټولټاکنو کې په پراخه کچه برخه واخیستله او د اوه میلونو نه زیاتو کسانو د خپلې خوښې نوماندانو ته رایه ورکړه. په دې لوبه کې ګټونکي او بایلونکي نه و بلکه دا بریالیتوب د ټول ملت بریالیتوب و.



د لومړي پړاو د نهایي پایلو د اعلان نه مخکې او هم وروسته داسې هلې ځلې وشولې چې ګوندې دویم پړاو ته ضرورت نشته دی او د مخکښو نوماندانو او سیاسي لوبغاړو تر منځ باید جوړ جاړی وشي او د یو قسم سهامي شرکت حکومت جوړ کړي خو د تحول او تداوم ټیم د ډاکټر صیب اشرف غني احمدزي په مشرۍ په دې اړه ډېر کلک دریځ ونیوه او هر نوع جوړجاړی یې د اساسي قانون او د ټولټاکنو له قوانینو سره په ټکر کې وګاڼه او داسې مشارکتي نظام یې د ملت په ګټه لوی تاوان وباله. مخکښ نوماند ډاکټر صیب عبدالله عبدالله هم باالاخره دې ته حاضر شو چې د ټاکنو په دویم پړاو کې برخه واخلي.

دا چې د تیر یو کال او حتی د ځینو کسانو لپاره د تیرو ډېرو کلونو راپدې خوا دا نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وي نو اوس د دې ټاکنو بله مرحله دوه ورځې وروسته رارسېدونکې ده چې د افغانستان ملت به انشاالله یو ځل بیا خپل شهامت وښیي چې په ټاکنو کې په پراخه کچه برخه واخلي او د خپلې خوښې نوماند ته رایه ورکړي. اوس ملت ته اسانه ده چې د دوه نوماندانو ځینې یو خوښ کړي کوم چې کولای شي د راتلونکي نظام سم مدیریت وکړي. زه چې په کابل او ولایتونو کې د خلکو شور او ولولو ته ګورم نو داسې ښکاري چې د افغانستان با شهامته ملت به یو ځل بیا دنیاوالو ته دا وښیي چې دوی د خپل راتلونکي په کله بې تفاوته نه دی او د خپل راتلونکي سرنوشت په خپله تعینولی شي.

ټولو افغانانو او خاصتاً تعلیم یافته او روڼ ا ندو کسانو ته په کار ده چې هم په خپله رایه ورکړي، هم خپله کورنۍ، خپلوان، دوستان او د خپلې سیمې خلک دې ته وهڅوي او هم کمک ورسره وکړي چې په پراخه کچه په ټولټاکنو کې برخه واخلي. کلونه کلونه مو د خپل ځانونو لپاره کار وکړ راځئ چې په یوه اواز راتلونکي درې ورځې د تبلیغیانو په شان سه روزه ولګو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې تاریخي او د افغانستان د سرنوشت سازو ټولټاکنو لپاره کار وکړو. د تقلب مخه ونیسو او هر ډول ګواښونو پر وړاندې د سپر په څېر ودرېږو او خپل مقاومت وښایو. په دې سیاسي پروسه کې بایلونکی نشته دی او ټول ګټونکي دي ځکه بایلونکی نوماند هم په دې پوهېږي چې ولس د ثبات طرفدار دی نه د بد امنۍ او پایلې به خامخا مني. د دې نهایي پړاو د بریا افتخار او کریډېت به د افغانستان د ملت وي ځکه ملت به دا پروسه کامیابوي او اشخاص د بریالیتوب وسیله دي. وټ اچول ملي او دیني مسوولیت دی او بې تفاوتي بیا پښیماني نه لري.

د باثباته، هوسا او ارام افغانستان په امید

## په دیموکراټیکه پروسه کې ګټونکی او بایلونکی نشته دی

د جوزا ۲۶ مه نېټه، ۱۳۹۳ هجری شمسي کال

ګرانو وطنوالو خوېندو او ورونو! په سیاسي دیموکراتیکه پروسه کې ګټونکی او بایلونکی نشته دی. که یو ټیم وي نو بیا خو هغه دیکتاتوري نظام وي چې پخوا به یې یو کاندید درلود او په سلو کې سل رایې به یې اخیستلې. په دې دیموکراتیکه پروسه کې اوله کامیابي د افغانستان د ملت ده او بیا د دواړو ټیمونو ده که هغه ګټونکی دی او که بایلونکی. زما په اند د بایلونکي ټیم دنده اسانه ده که په دې قناعت وکړي چې په اپوزیسیون کې پاتې شي. ځکه اپوزیسیون یوازې انتقادونه کوي او خپل ځان بل پړاو ته تیاروي خو د ګټونکي کار سخت دی ځکه هغه وعدې یې چې له خلکو سره کړې دي هغه باید پلي کړي. نو زما په اند ګټونکی باید خفه او بایلونکی باید خوشحاله وي. که مقصد د دواړو ټیمونو وطن او خلکو ته خدمت کول وي.



## د کونړ بد نامه مشهورو څېرو له چا نه ملاتړ کاوه؟

د جون ۲۴مه نېټه، کال ۲۰۱۴م

پرون د کونړ یو وکیل په احساساتو کې غرق و او ویل یې چې د کونړ دوه لکه نفوس په غرونو کې جنګ کوي او دوه لکه نفوس په سمه کې اوسېږي نو دا د کونړ دوه لکه رایه له کوم ځای نه شوه؟

دې جناب وکیل صیب دا هم وویل چې د کونړ مشهوره څېرې له یو خاص نوماند نه ملاتړ کوي نو څنګه دې بل نوماند زیاتې رایه اخیستلي دي؟

اول خو د کونړ خلک یوازې په جنګ کې نه په علم او ادب کې شهرت لري او د سید جمال الدین افغاني غونډې د شرق ستر مفکر په دغه خاوره کې زېږېدلی دی. د استقلال د څلورمې جبهې اتل غازي میر زمان خان هم د دغه ټاټوبي دی. مشهور روحاني شخصیتونه لکه د سید شمس الدین مجروح پلار د تیګرو پاچا صیب، سرکانو میاصیب د اسلام پور پاچا صیب، زموږ نیکه د منګوال میاصیب، د شونکړۍ انځری ملا صیب، سید بهاوالدین مجروح، پروفیسر رسول امین، او داسې نورپه لس ګونو علمي شخصیتونه، استادان، لیکوالان او شاعران په هره ولسوالۍ کې شته دي چې دوی او د دوی کورنۍ د کونړ ولایت مشهوره شخصیتوته دي. په کونړ کې د سید محمود پاچا پادشاهي تېره شوې او داسې نور د کونړ د خلکو ارزښتونه شته دي. دا اوسني بدنامه شخصیتونه د جهاد اتلان هم نه دي ځکه د هرې ولسوالۍ د جهاد اتلان معلوم دي. زموږ د خاص کونړ په ولسوالۍ کې یوازې ۲۷ مکتوبونه چې نهه یې لېسې دي په دغه ولسوالۍ کې شته او ۲۲ زره رایه په دغه ولسوالۍ کې اچول شوې ده. د کونړ ولایت علم پروري په دې معلومېږي چې تر اوسه هېڅ یو ښوونځی د هلکانو او هم د نجونو نه دی تړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی. دا په خپله د دې شاهدي ورکوي چې د کونړ ولايت خلک علم پروره ولس دی او دا د اوباشانو هديره نه ده.

زما سوال له دغه وکيل صيب محترم نه دا دی چې اول ته ماته د مشهوره شخصيتونو تعريف وکړه چې مشهور شخصيت بايد څه اوصاف ولري او بيا دې خپل ګريوان کې سر ټيټ کړه چې ستا په خوله مشهور شخصيتونه؟! دغه اوصاف لري او که نه؟ دغه وکيل صيب دې ماته د کونړ د تاريخ په هکله لږ معلومات راکړي نو ښه به وي؟ که مطلب د دغه وکيل صيب دا وي چې مشهور شخصيت علم ونه لري، بې سواده وي او د ولس په منځ کې ځای ونه لري نو د ده دا خبره رښتيا ده چې داسې مشهوره شخصيتونه چې په خپل ولس کې بدنام و نو د دغه ښاغلي نوماند ترڅنګ و درېدل نو ځکه يې دغه نوماند په کونړ کې له ناکامۍ سره مخامخ کړ.

د تېر دور د پارلماني ټاکنو درغلي خو د افغانستان په تاريخ کې ساری نه لري او ډېر کسان پارلمان ته په درغليو راغلل چې د کونړ دا درې تنه وکيلان هم د تېر دور د درغليو ښه بېلګه ده او دوی د کونړ د علم پروره ولس استازيتوب نه شي کولی. دا مشهوره څېرې د درغليو په طمعه وې خو د کونړ ولس اوس رابيداره شوی او دوی يې درغليو ته پرېنښودل او د دوی مخه يې ونيوله نو ځکه دوی د ولس زور سره مخامخ شول نو اوس د کونړ نه بهر داسې خبرې کوي او د کونړو په اصطلاح باټې يا شړې ولي. ما تېره اونۍ د کونړ په ولايت کې تېره کړه او هرې ولسوالۍ، کلي او کور ته به چې تلم نو خلکو به راته د دغه مشهوره بد ناموڅېرو قصې کولې چې څنګه د دوی د درغليو مخه يې ونيوله. زما په اند که دا ډول بدنامو مشهورو څېرو د دغه ښاغلي نوماند نه ملاتړ نه وای کړی نو شايد چې دغه ښاغلي نوماند به هم يو څه زياتې رايې په کونړ کې اخيستلې وې. د کونړ خلکو په سوچ او فکر رايه ورکړې او د خپلو رايو نه دفاع هم کولی شي. د کونړ حيثت او وقار د داسې



بدنامو مشهورو څېرو په اوتو او بوتو نه کمېږي او نه دوی د کونړ استازيتوب کولی شي.

## همدا يې غر همدا يې کربوړي

د ۲۰۱۴م کال د جولای ۱۳مه نېټه، کابل

موږ اصطلاحات په مطلقه توګه استعمالوو او په خپلو خبرو کې زياتره وخت مبالغه کوو. موږ د ملت او خلکو اصطلاګانې په دې نږدې ورځو کې د چاپي، غږيزو او تصويري رسنيو له لارې ډېرې واورېدې چې مدعي او مدعي عليه، مبصرينو او کار پوهانو، دولتي او غير دولتي چارواکو او هم د مطبوعاتو د مستنطيقينو يعنې ژورناليستانو له خوا استعمالېدې. که موږ د کانديدانو ټولو رايو ته وګورو او د افغانستان له نفوس سره يې مقايسه کړو نو دوی د ملت د يوې برخې رايه اخيستلې ده نه د ټول ملت نو دوی بايد دا وضاحت ورکولی چې هغو کسانو چې دوی ته رايه ورکړې نو دوی بايد د هغوی د رايو پوښتنه او ګروېږنه وکړي او د انتخاباتو د قانون او د لوبې د اصولو پر اساس چا چې زياتې رايې واخيستلې نو بيا هغه د ټول ملت ولو که دوی ته يې رايه هم نه ده ورکړې، استازيتوب کولی شي. نو مابه چې هره ورځ د ټولو له خوله نه دا اورېدله چې ملت دا غواړي او دا غواړي نو سخت قهر به راغی چې مستنطيق صيب ورته ولې نه وايي چې تاسې خو لا تر اوسه د ټول ملت استازيتوب نشئ کولی بلکې د ملت يوې وړې برخې تاسې ته رايه درکړې ده نو مستنطيق صيب به هم له دوی سره غاړه راښکېدله چې ملت اين و ان را ميخواهد مگر په دې به يې فکر نه کاوه چې په کوم بنياد د ملت او خلکو کلمه په مطلقه توګه استعمالوي. همدا مستنطيقين، همدا يې مبصرين او همدا د دې ډلګيو استازي. همدا يې غر او همدا يې کربوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فیسبوک ملګرو ته کورنی کار

د جولای د میاشتې ۱۴مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

که ګران دوستان لاندې اصطلاحاتو ته تعریفونه ولیکي او بیا ووایي چې څه ډول حکومت د دوی خوښ دی نو ښه به وي:

ائتلافي حکومت
د ملي وحدت حکومت
دملي مشارکت حکومت
د اتحادونو د مجموعې حکومت
د ملي یوالي حکومت
د سهامي شرکت حکومت
د خپلې خوښې حکومت
د پردیو د خوښې حکومت
د ګټونکو حکومت
د بایلونکو حکومت او داسې نور

له تعریف نه وروسته شاید چې د یو شمېر کسانو اندیښنې له منځه لاړې شي او د یو شمېر محدودو دوستانو اندیښنې زیاتې شي.

په هر حال زما د ملي یووالی منتخب حکومت خوښ دی چې د هر قوم ښه کسان د هغوی د تجربې او استعداد په پام کې کتلو سره په کې برخه ولري. پینځه یا لس کاله بعد داسې دولت او حکومت ولرو چې هلته سمت او قوم مطرح نه وي او هر څوک یوازې د یو ښه افغان په توګه د خپل



استعداد، پوهې او تجربې پر بنیاد د افغانستان لپاره کار وکړي او د افغان په حیث د کارکولو چانس ولري نه دا چې پوه کسان د خپل قوم د زوراکو او نا پوهو کسانو پسې چې د کونړو په اصطلاح د دوه خرو وربشې نشي بیلولای، نښتي وي چې دوی ته کار پیدا کړي او یا د دوی له حقوقو نه دفاع وکړي. افغانان باید ټول د خپلو حقوقو مدافعین پخپله وي او خپل حقوق پخپله وغوښتلی شي. زما په خیال د ایډیال په مجازي دنیا کې خبرې کوم خو دې وروستیو ټولټاکنو دا راته وښودله چې دا حالت یوازې ایډیال نه دی بلکې عملي بڼه انشاالله پیداکولی شي.

## جمهور رئیس کرزی باید د وکیلانو د حقوقو قانون توشېح نه کړي

د جولای د میاشتې ۱۳مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

ملي شورا ته شرم دی چې د قانون پرونۍ مسوده یې د خپلو امتیازاتو په هکله تایید کړه البته د هغو وکیل صیبانو نه مننه چې پر ضد یې رایه ورکړې ده. په دې قانون کې دې وکیلانو ته امتیازات له خپل ماموریت نه وروسته د تل لپاره پکې لکه د جمهور رئیس په شان ټاکل شوي دي چې دوی ته باډي ګاردان، معاشونه او هم د دوی کورنیو ته به سیاسي پاسپورتونه ورکوي. ملي شورا د انتخاباتو د قانون په تغیر کې یوه بله ماده هم د ځانونو لپاره تصویب کړې ده چې که چا یوه دوره وکالت کړی وي نو د هغه د تحصیل معیار باید په نظر کې ونه نیول شي او بیا ځانونه کاندیدولی شي. دا ماده هم له اساسي قانون سره په ټکر کې ده چې تبعیض پکې راغلی دی ځکه قانون باید عام وي نه د یو چا لپاره یو قسم او د بل چا لپاره بل قسم شرایط ولري. امید دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس کرزی دا دواړه قوانین توشیح نه کړي او بېرته یې بایـد د دوی پر مخونو وروولي.

## د افغانستان جسد څنګه له خاورو نه ژوندی راوکاږو؟

د جولای د میاشتې ۱۴مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

پرون ما د خپل فیسبوک په پاڼه درې وړې لیکنې تـر دې عنوانونـو لانـدې لیکلې وې:

- همدا یې غر همدا یې کربوړي
- د فیسبوک ملګرو ته کورنی کار
- جمهور رئیس کرزی باید د وکیلانو د حقوقو قانون توشیح نه کړي

ډېرو دوستانو پرې خپلې تبصرې او نظرونه لیکلي وو خو د ټولو دوسـتانو او ملګرو نظریاتو ته ځواب ورکول سخت او ډېر وخت ته یـې اړتیـا درلودلـه نـو په خلص ډول باید ووایم چې تر هر څه دمخه د ټولـو دوسـتانو لـه تبصرـو نـه زیاته مننه ا و زه مو مرهون یم چې زما لیکنې مو لوستې دي او خپـل نظرونـه مو راسره شریک کړل.

زمونږ او ستاسې ټولو دردونه او هیلې سره یو شان دي. د تېرو څو لسیزو د ناخوالو نه په تنګ راغلي یوو او په دې فکر او هیله یو چـې دې نـاخوالو تـه د پای ټکي کیښودل شي. زمونږ ټولنه یوه مریضـه ټولنـه ده او هـر څـوک ورتـه نوې نسخې او د بېلابېلو ملکونو دواګانې توصیه کوي خو زمونږ مرض ورځ په ورځ زیاتېږي ځکه چې مونږ لا پخپله دې ته چمتو نه یوو چـې د خپـل مـرض علاج پخپله وکړو ولو که نسـخه او دوا زمـونږ خپلـه هـم وي. زمـونږ د مـرض تشخیص اسانه دی، د زوراکو ټیکه دارانو له منګلونو نـه سـیاسي، اقتصـادي



او فوځي انحصار بایـد خـتم شي او د قـانون حاکمیـت چـې د اکثریـت ولـس غوښتنه ده باید حاکم شي ځکه په قانونمنده ټولنـه کـې خلـک پـه سـکون او ارامۍ سره ژوند کولی شي او د ښې حکومتدارۍ په پایله کې انکشاف پخپله رامنځته کېږي.

اسـانه تشـخیص دی خـو د دې مـرض تـداوي سـخت کـار دی ځکـه دا د قدرت ټیکه داران هم په اسانۍ واک نه پرېږدي او نـه خپلـې ګټـې لـه لاسـه ورکوي او تر اخري سلګۍ پورې چې ترڅو د دوی له وسې پوره وي هلې ځلـې کوي چې خپل قدرت وساتي که هغه په هر ډول بې حیـایۍ او یـا د اکثریـت ولس په تاوان هم وي. ځکه دوی ته خپلې ګټې مهمې دي، ولـس، قـوم، ژبـه، مذهب او یا نور شعارونه د دوی د شـومو او شخصيـ اهـدافو د رسـولو لپـاره وسیله ده. دا د قدرت ټیکه داران قدرت د قوانینو په چوکات کې یـا د لـوبې د اصولو په اساس نه پرېږدي. نو څه په کار دي؟

د افغانستان ګوته نه بلکې ټول وجود د یوې درنـې ګټـې (تېـږي یـا ډبـرې) لاندې شوی دی، خپلو او پردو د افغانستان په جسد باندې نورې غټـې ګټې کېښودلې دي نو اوس کمال او هنر دا دی چې څنګه دا ګټې په احتیاط سره لرې کړو او د افغانستان دا جسد ژوندی او یـا نـیم ژوبلـه د دې ډبـرو د لاندې نه راوکاږو. په دې لار کې د مضر احتیاط نه هم باید یو څـه ډډه وشي ځکه بعضې وخت مضر احتیاط هم د ناخوالو سبب ګرځي. هم بایـد د تـدبیر نه کار واخستل شي او هم باید جدي مبارزه او مقاومت وشي ترڅو ولـس بیـا له مایوسۍ سره مخامخ نه شي. که څـه هـم انسـان بایـد پـه هـر حالـت کـې خوش بینه اوسي خو که دا ځل ولس بیا له مایوسۍ سره مخامخ شو نـو د بیـا خوش بینۍ د موقع راتګ به ډېر وخت واخلي. ولس خپله مېړانه وښـودله نـو دا اوس په سیاسي لوبغاړو پورې اړه لري چې څنګه د دوی د قربانیو نه دفاع وکړي او د یو ښه راتلونکي لپاره لاره آواره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هاني مون، ماه عسل، یا د شاتو میاشت

د جولای د میاشتې ۱۵مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

که څه هم د Honey Moon یا ماه عسل کلمه له واده نه وروسته یو څه مودې ته استعمالېږي چې ناوې او شاه چېرته سفر کوي او یا یو څه وخت بېغمه تېروي خو د دې وخت د تېرېدو نه وروسته دواړه چې بېرته راستانه شي نو بیا د ژوند په چارو اخته کېږي او دا طبیعي خبره ده چې په ژوند کې ستونځې او مشکلات شته دي. په خاصه توګه هغه جوړه چې واده یې په مشکلاتو او قرضونو باندې کړی وي او هر قرضداری ورته دروازه ټکوي او خپل پور ترې غواړي نو ډېره سخته وي او د واده هغه ټوله خوشحالي ترې بیا هېرېږي. هغه اصطلاح ده چې وایي واده د یوې ورځې خوشحالي او د ټول عمر غم ته وایي.

د هاني مون یا ماه عسل کلمه په سیاسي لوبو کې هم استعمالېږي چې کله څوک قدرت ونیسي نو خلک وایي چې د هاني مون د مودې نه وروسته به ګورو چې څه کوي او یا داسې ویل کېږي چې تر هاني مون پورې یې پرېږدئ چې څه کوي.

دې اونۍ کې د اجتماعي رسنیو او هم په محافلو کې د دوستانو نه نهیلې کوونکې تبصرې او خبرې د جمهوري ریاست د انتخاباتو د پایلو او یا د دواړو نوماندانو د جوړ جاړي په هکله اورم چې که څه یې واقعیتونه وي خو یو شمېر زیات یې تبلیغاتي بڼه هم لري. زما غوښتنه له دوستانو نه دا ده چې سمدستي په منډه یا په عجله توګه قضاوت او پریکړې باید ونه کړو ځکه د داسې پریکړو پایله ګټه نه لري. د افغانستان خلکو د ټولټاکنو په دواړو روندونو کې خپله میړانه او شهامت وښوده چې دوی نظام جوړونه غواړي، د قانون حاکمیت غواړي او د دې تر څنګ اجتماعي عدالت غواړي چې ولس



په ارامه خپل ژوند وکړي. ولس زورواکو ته کلکه څپېړه په مخ ورکړه او که په هره موقع کې بیا هم هر څوک د زور خبرې کوي نو ولس د دې توان او شهامت لري چې د دوی په مخ کې ودرېږي اود خپلو حقوقو نه دفاع وکړي.

زما مطلب دا دی چې مونږ یعنې د افغانستان ولس دواړو کاندیدانو ته رایه ورکړې او دواړو نه توقعات هم شته دي نو ښه به دا وي چې اول خو ګټونکی او بایلونکی معلوم شي او چې کله یې د قدرت واګې په لاس کې واخیستلې نو بیا به یو څه وخت د هاني مون او یا ماه عسل ورته ورکړو چې خپل ټیم منسجم کړي، کاري پلان ولس ته وړاندې کړي او خپلو ژمنو ته عملي بڼه ورکړي. که دا کار یې ونه شو کړای نو ولس خو دواړو نوماندانو ته یوازې د هغوی د قوارې، لباس، ژبې، قوم او سمت په خاطر رایه نه ده ورکړې بلکې د دوی کاري پلانونو او ژمنو په خاطر یې دوی ته رایه ورکړې ده. نو بیا به هغه وخت قضاوت کوو چې دوی څومره د ولس ګټو ته او څومره د خپل قدرت ته رسېدو په خاطر یې هلې ځلې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژه ماتې نه وروسته دا سوچ راته پیدا شو، چې د ملي وحدت حکومت جوړول یعنې څه معنی؟

د جولای شلمه نېټه، ۲۰۱۴ م کال، کابل

د جولای په ۱۲ نېټه د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزیر، جان کیري په منځګړیتوت د ډاکتر اشرف غني احمدزي او ډاکتر عبدالله عبدالله ترمنځ د ټولټاکنو د دویم روند د پایلو د رامنځته شوې لانجې په هکله کومې پرېکړې وشوې نو په دغو پرېکړو کې د ټولو رایو بیا شمېرنه د بـین المللي او داخلي ناظرینو او هم د کاندیدانو د استازیو پر وړاندې شامله ده چې دواړه خواوې به د ټولو رایو له شمېرنې نه وروسته پایلې مني او بیا به دواړه خـواوې (ګټونکې او بایلونکې) د ملي وحدت حکومت جوړوي.

دا څـو ورځـې چـې پـه تلویزیونـو او نـورو رسـنیو کـې د دواړو ټیمونـو د ویانـدویانو او سـیاسي تحلیلګرانـو تبصـرې او نیـوکې ګـورم نـو د اتیـایمې او نویمې لسیزې د پراخ بنسټه حکومت جوړولو خبرې راپه یاد شـوې. پـه هغـه وخت کې د پراخ بنسټه حکومت جوړول د جګړې ښلابېلو خواوو ته ځـانګړې معنی درلوده. د مجاهدینو ډلو به ویل که د دوی څـو حزبونـه سره یـو ځـای شي او په خپلو منځو کې حکومت جوړ کړي نو دا پراخ بنسټه حکومـت دی. د پخواني پادشاه، ظاهرشاه طرفدارانو به ویل چې که د هر حکومـت پـه راس کې پخوانی پادشاه وي نو هغه پراخ بنسټه حکومت دی. همدا شان د کابـل حکومت به ویل چې په پراخ بنسټه حکومت کې بایـد دوی هـم شـامل وي او که دوی یې په راس کې وي نو هغه پراخ بنسټه حکومت دی. تر اخره پـورې پراخ بنسټه حکومت جوړ نه شو ترڅو چې د ډاکتر نجیب الله حکومت سقوط وکړ او نورې وروستۍ پېښې زمونږ د تاریخ یوه برخه وګرځېدې.



اوس راته د ملي وحدت د حکومـت جوړولـو پـه هکلـه هـم شـک او تردیـد رامنځته شوی دی چې د داسې حکومت تفسیر به څه وي؟

په اصولو کې دا خبره سمه ده چې د ملي وحدت په حکومـت کـې بایـد د هر قوم، سمت او ډلو نه ښه کسان د هغوی د استعداد، پوهې، تجربـې، تقـوا او تحصیل په بنیاد د حکومت په چـارو کـې وګـمارل شي تـر څـو د حکومـت چارې په ښه ډول پر مخ بوځي. خو زما په انـد اصـلي خـبره دا نـه ده. مـا تـه داسې ښکاري چې د ملي وحدت د حکومت تر شعار لاندې دوی غواړي چـې قدرت ونیسي او یا د قدرت انحصار د دوی په لاس کې وي.

لاندې درې پوښتنو تـه بایـد ځـواب وویـل شي او هـم دا پوښـتنې بایـد پـه رسنیو کې د تحلیګرانو له خوا مطرح شي ترڅـو زمـونږ او د ولـس دواړو پـرې سر خلاص شي:

اول: د افغانستان ولس ته به څوک مسوول وي؟ د منتخب حکومت مشرـ، که دواړه ټیمونه او یا هېڅوک؟

دویـم: د اپوزیسـیون رول بـه څـه وي؟ ایـا بـایلونکی ټـیم بـه د پوزیسـیون استازیتوب کوي او که د اپوزیسیون؟ او یا بله ډله د اپوزیسیون بـه رامنځتـه کېږي؟

دریم: د ملي وحدت په حکومت کې به مسلحې ډلې هم شامله وي او که نه؟ او که قدرت به یوازې د همدې دوه ټیمونو ترمنځ په انحصار کې وي؟

زما په اند د اولې پو ښتنې ځواب راتـه لـږ مشـکله غونـدې ښـکاري. ځکـه دواړو نوماندانو د ټاکنو په بهیر کې له خلکو سره ډېرې وعـدې کـړي دي او ولس هم د دوی برنامو ته رایه ورکړې ده. کـه ګټـونکی نومانـد هغـه وعـدې چې د انتخاباتو په بهیر کـې یـې کـړې دي، عمـلي نـه کـړي نـو دغـه د مـلي وحدت حکومت به ناکام حکومت وي او ملامتیا به د دولت د مشر پـر غـاړه وي نه د ملي وحدت د حکومت د غړو، ځکه د جمهور رئیس کرزي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې ښه بېلګه ده. د تېرو دیارلس کلونو د ټولو ناکامیو پړه په جمهور رئیس کرزي اچول کېږي نه د دغه حکومت پر غړو. ولس وایي چې دا غړي جمهور رئیس کرزي تعین کړي و نو دی د خپلې دورې د ټولو ناکامیو او بریالیتوبونو مسوول دی. هغه کسان چې په تېرو دیارلس کلونو کې د ده د حکومت غړي وو هیڅ پړه نه مني. په راتلونکي کې به هم هغه کسان چې د دې دواړو ټیمونو په مشوره او مصلحت تعین شوي وي ولس ته مسوول نه وي او په قانوني او شرعي لحاظ مسوولیت یوازې د دولت د منتخب جمهور رئیس دی. ما ته دا خبره عجیبه غوندې ښکاري چې راتلونکی منتخب جمهور رئیس به ولس ته مسوول وي خو د حکومت غړي به د بل ټیم په مصلحت ټاکي. په دې خبره زما سر نه دی خلاص.

د دویمې پوښتنې ځواب لږ اسانه راته ښکاري ځکه که بایلونکې ډله د حکومت د غړو په تعین کې رول ولري نو دوی به د اپوزیسیون رول نه لري او باید بله ډله د اپوزیسیون رامنځته شي. شاید دا مسلحې ډلې وي او یا نورې سیاسي ډلې. که بایلونکې ډله د حکومت د غړو په تعین کې نه غواړي چې رول ولوبوي نو بیا د سیاسي اپوزیسیون استازیتوب د خپلې یوې ډلې کولی شي.

د دریمې پوښتنې ځواب هم ساده او هم مشکله دی. که دا دوه ټیمونه غواړي چې واقعاً د ملي وحدت حکومت جوړ کړي او افغانستان له جنګ نه وژغوري نو ټولو ډلو ته باید په حکومت کې سهم ورکړي چې د ملي وحدت استازیتوب وکړای شي او که داسې نه وي نو بیا خو د دې دوه ټیمونو ترمنځ یو ائتلافي ډوله حکومت به وي چې قدرت به د همدې دوه ګروپونو ترمنځ وېشل شوی وي، نه به پوزیسیون معلوم وي او نه به اپوزیسیون او یو شمېر ډلې به له حکومت نه بېرون پاتې وي. په ائتلافي حکومت کې خامخا یو شمېر ډلې له حکومت نه بهر پاتې کېږي اما د ملي وحدت په حکومت کې



څوک باید له حکومت نه بهر نه وي او ټولې ډلې باید په حکومت کې استازیتوب ولري او ټولو ډلو ته باید په حکومت کې ځای ورکړل شي. مشکله برخه د سوال دا ده چې آیا دواړه ډلې دې ته چمتو دي چې مسلحو ډلو ته هم په حکومت کې ځای ورکړي او که نه؟

زما هیله د افغانستان د مسایلو د شنونکیو نه دا ده چې دا پورته درې سوالونه په راتلونکو څو اونیو کې باید د کاندیدانو له استازو سره مطرح کړي تر څو په واقعي توګه د ملي وحدت یو سم حکومت رامنځته کړي نه دا چې قدرت یوازې همدا دوه ټیمونه په خپلو منځو کې سره وویشي. او بیا د افغانستان مشکل په خپل ځای پاتې او همداسې زمونږ په ملک کې جنګ او جګړې دوام ولري.

## د پورته لیکنې په هکله میرویس شنواري په انګلیسي ژبه لیکلي و:

محترمه! تاسې یو د ملک د راتلونکي په هکله یو سم تحلیل کړی دی تر کومه حده چې زه پوهېږم د افغانستان راتلونکی راته تت ښکاري. که چېرې زه د غني (ډاکټر اشرف غني) پر ځای وای نو د اپوزیسیون رول به مې خوښ کړی وای نه دا چې په قدرت کې وای.

## یو تن د اعتبار خان په نامه لیکلي و:

والله میاخیل صیب تکړه شوی یې ریښتیا ویل دې شروع کړل خو ګوره دا سړی ډېر احساساتي دی دا به یې هم درپسې لیکلي وي او فکر به کوي چې تا هم شیطانت شروع کړ او هغه کړې وعدې نه به تېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### بهادرشاه بري صیب لیکلي و:

میاخیل صیب ستاسې دغه لیکنه د افغاني واقعیتونو څرګندونکې ده، په منني سره زه شخصاً په دې نظر یم که چېرې ملي وحدت حکومت جوړېږي یو پراخ بنسټ شکل ولري چې په هغې کې ټولې ذیدخلې خواوې په شمول د حزب اسلامي او طالبان په کې ونډه ولري ښه به وي.

### فیروزخان لیکلي و:

میاخیل صیب، ستاسو حضور ته به عرض وکړم چې وحدت ملي حکومت یعنې د ټولو مېشتو افغاني قومونو ته د هغو د نفوسو مطابق په حکومت کې ونډه ورکول دي. اوس که نور يې اخوا دیخوا د خپل په نفع یا د بل په تاوان يې تعبیر او تفسیر کوي دا نو د هغوی فلسفه ده.

### د پورته لیکنو او په خاص ډول د اعتبار خان په ځواب کې ما ولیکل:

اعتبار خان صیب! نه ما له چا سره وعده کړې او نه له ما سره چا وعده کړې ده چې کومه چوکۍ به راکړي. د ډاکټر صیب دا خبره سمه ده چې تر اوسه يې د چوکیو وعدې له چا سره نه دي کړي خو امید مو دا دی چې د خلکو ستونځو ته معقول او عملي ځوابونه ووايي. ډاکټر صیب عبدالله هم مجبور دی چې د خلکو پوښتنو ته ځوابونه ووايي ځکه دواړو ته خلکو رایه د تحول لپاره ورکړې ده نه د موجوده حالت د دوام لپاره البته یو څه توپیر د دواړو اجنډاوو سره درلودلې. که دواړه په حکومت کې سره شریک وي نو بیا یو هم د اپوزیسون ادعا نه شي کولی او زما په اند په دیموکراسۍ کې د اپوزیسیون رول له منځه وړل د نظام او سیستم په ګټه نه دي. په هر حال زه



د چوکۍ اخستلو کومه اجنډا نه لرم ولې که موثره اوسم انکار هم نه کوم ځکه دا به دروغ وي خو چوکۍ اخیستل به یوازې د چوکۍ په خاطر نه وي. که سړی کار نه شي کولی نو بیا چوکۍ نه درلودل ښه کار دی. نهه کاله وشول چې حکومتي چوکۍ نه لرم خو فکر کوم چې هم به مې موثریت تر یوه حده د دې څو درجنونو وزیرانو، والیانو او معینانو نه شاید ښه وي او هم خپل وجدان ته ملامته نه یم. په هر حال د هر چا نظر د قدر وړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تلویزوني مناظرې جان کنیدي کامیاب کړ

د جولای ۲۴مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

په ۱۹٦۰م کال د سپټمبر په ۲۱مه نېټه، د امریکې د جمهوري ریاست نوماندانو John F. Kennedy او Richard Nixon ترمنځ لومړنۍ تلویزیوني مناظره وشوه چې د اویا میلیونو نه زیاتو کسانو په هغه وخت کې دغه مناظره ولیده او مبصرین په دې عقیده دي که دا مناظره، تلویزیوني نه وای نو شاید کنیډي انتخابات نه وای ګټلي ځکه نیکسن د تاثیر لاندې راغلی و. په هغه وخت کې رنګه تلویزیون نه و. د امریکې په تاریخ کې دا یو مهمه مناظره وه چې جان کنیډي د تبعیض پر ضد او د تور پوستکو د حقوقو نه د دفاع په خاطر، د امریکې د حیثت د اعاده کولو او له پخواني شوروي اتحاد سره د مقابلې په منظور واضحه تګ لاره درلوده. کینډي په خپلو پرانیسته خبرو کې وویل چې په ۱۸٦۰ کال کې ابراهیم لینکن وویل چې ایا مونږ به په هغه لوري روان یوو چې نیمايي ولس زمونږ غلام وي او نیمايي آزاد، اما زه اوس وایم چې په ۱۹٦۰م کال کې چې آیا مونږ به په هغه لوري روان اوسو چې د دنیا نیمايي ولس غلام وي او نیمايي آزاد. دا د دې پورې اړه لري چې امریکا کومې خواته روانه ده.... دا مناظره په لاندې لینک کې کتلی شئ:

https://www.youtube.com/watch?v=gbrcRKqLSRw

زما په اند د افغانستان په تاریخ کې هم د ۲۰۱۴م کال کې د جمهوري ریاست د نوماندانو ترمنځ، د تلویزیون مناظرو خاص رول درلود ځکه تلویزوني مناظرو ولس رابیداره کړ او ولس یې د خپلو رایو په قوت باوري کړ او امید دی چې په راتلونکي کې هم ولس په خپلو رایو باندې باور ولري. که



څه هم د اوسنیو رایو شمېرنې یو څه مشکلات راپیدا کړي خو دا انشاالله حل کیدونکي دي او ولس باید په خپلو رایو باندې بې باوره نه اوسي.

## ما یې څواب ونه موندلو!

د جولای د میاشتې ۲۴مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

عنایت الله ضیا صیب پر خپل وال باندې د پورته عنوان لاندې لیکلي و چې:

با احساسه دولتي لوړ/ټیټ رتبه کارکونکو روزل ستونزمن کار دی که ځان وژونکي روزل؟

په تېرو ۱۳ کلنو کې مې ۱۳ لوړ رتبه چارواکي (وزیر, معین او ریئس) نه لیدلي او نه اوریدلي چې د خپل مسولیت تر سره کولو کې پاتې راتللو له امله له دندې ګوښه شوي او یا یې د اسلامي، انساني او افغاني ژوندي احساس له امله له خپلې دندې استعفا ورکړي وي. خو بل لور ته بیا په یوه ورځ کې تر ۲۰ ډېر ځانمرګي برید کوونکي ځان وژنې ته چمتو کېدای شي .

پوښتنه مې دا ده او حیران په دې یم چې ځان وژونکی روزل اسان دي او که با احساسه وظیفه شناس مامورین؟ زما په اند د ژمن قیادت لاندې هېڅ یو کار ناممکن نه دی. تاسې څه وایئ؟ راځئ چې له فساد سره مبارزه او بېوزلو سره مرسته د اختر د فعالیتونو لویه برخه وګرځو.

د پورته لیکنې په هکله ما ورته ولیکل:

ضیا صیب څه فکر کوې چې د دې ځان وژونکو ایمان قوي دی او که څنګه؟ دا د ایمان په قوت پورې اړه نه لري ځکه جاپانیانو چې ځانونه په دویمه نړیواله جګړه کې وژل هغوی خو د دیني مفکورو خاوندان نه وو. همدا شان تامیلیانو په سریلانکا کې چې ځانونه وژل هغوی خو هم مسلمانان نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معمولاً هغه ځوانان چې د ۲۵-۱۵ کلونو د عمر په منځ کې وي هغوی ته د ديني عقيدې او يا د نشنلستي مؤخو انګېزه ورکول کېږي چې ځانونه ووژني ځکه په دغه عمر کې دوی د احساساتو تر غلبې لاندې وي او ځان وژنو ته تیارېږي. که دا ډېره سمه تګ لاره وي نو بيا ولې د دوی استادان او حاميان ځانونه له دوی نه دمخه نه وژني.

په اوسنیو حالاتو کې خودکشي په ځوانانو کې د روحیاتو د علم له پلوه یوه مشکله پدیده ده چې ځومره ژوند پرمخ ځي نو هغومره د ځان وژنې اندازه هم په مخ ځي. په امریکا کې د یوې احصائیه له مخې په هرو یولک ځوانانو کې ۱۰.۴ کسه ځان وژنه کوي.

http://www.kidsdata.org/topic/213/youthsuicide-rate/table#fmt=1113&loc=2,127,347,1763,331,348,336,171,321,345,357,332,324,369,358,362,360,337,327,364,356,217,353,328,354,323,352,320,339,334,365,343,330,367,344,355,366,368,265,349,361,4,273,59,370,326,333,322,341,338,350,342,329,325,359,351,363,340,335,1&tf=70&sortColumnId=1&sortType=asc

که پورتنی سایت ته لاړ شی نو دا احصائیه مطالعه کولې شئ. خو هلته بیا داسې اداري شته چې له ځوانانو سره مرسته کوي چې ځان وژنه ونه کړي که نه نو د ځوانانو د ځان وژنې کچه به د دې نه هم زیاته وي. په دې لاندې سایت کې http://www.pieta.ie/index.php کتلی شئ چې څنګه دوی له ځوانانو سره مرسته کوي چې د ځان وژنې نه یې وژغوري. داسې ډېرې نورې اداري هم شته دي چې له ځوانانو سره مرسته کوي او د ولس د اګاهۍ په هکله کار کوي که مشخص علایم دوی د ځوانانو په کړو او وړو کې وګوري نو دوی باید پولیسو او یا د دوی ادارو ته خبر ورکړي. متاسفانه مونږ په خپله ټولنه کې دولتي او غیر دولتي داسې اداري نه لرو چې د ځوانانو



ستونځو ته ځواب ووايي نو يوازنيۍ شبکې همدا د خودکشو د روزولو دي چې خپل سیاسي اهداف لاس ته راوړي نه ديني او ملي اهداف. تاسې به څه وخت مخکې لیدلي وي چې په ننګرهار کې په تعلیمي کورسونو کې بعضې اشخاص مؤظف شوي وو چې زمونږ ځوانان بې لارې کړي او پاکستان او سرحدي سیمو ته یې یوسي چې د ځان وژنې لپاره یې وروزي چې وروسته د ځو پېښو نه دا شبکه رسوا شوله. هر وخت چې په ځوانانو روحي، کاري، اقتصادي او یا محیطي فشار زیات شي نو دوی د ځان وژنې په فکر کې کېږي اوځانونه وژني.

نو ستاسې د دې پوښتنې په هکله د ځان وژونکو روزنه اسانه ده که وظیفه شناس مامورین؟ ځواب دا دی چې د ځان وژونکو روزل په موجوده لالهانده او بې سر نوشته حالت کې اسانه دي نظر وظیفه شناسه مامورینو ته. همېشه تخریت اسانه دی نظر دې ته چې تعمیر جوړ کړل شي. په دې کې درسره همغږی یم چې ژمن قیادت په هره کچه د زیاتو ستونځو د حل لپاره اساسي شرط دی او بې له ژمن قیادت نه زمونږ مشکلات ا و ستونځې به لا هم زیاتېږي او کمېږي به نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حشمت کرزي وژنه

د جولای د میاشتې ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م

پرون د اختر مبارکي لپاره د اسدالله وفا صیب کور ته ورغلی وم او خبرې مې کولی چې د سهار د لس نیمو بجو په شاوخوا کې و چې د وفا صیب زوی راغی چې په کندهار کې په خدای بښلي حشمت کرزي باندې ځان وژونکې حمله وشوه او هغه پکې شهید کړي شوي دی. خدای شاهد دی چې سخت خفه شوم او سمدستي مو هغه په سترګو کې راغی او هم د هغه ورور زما نږدې ملګری حکمت کرزی تر سترګو شو. واقعاً داسې پېښې ډېرې دردونکې او خواشینوونکې پېښې دي. الله تعالی دې حشمت کرزي ته جنت فردوس په نصیب کړي او روح دې یې ښاد وي او د ده کورنۍ ټولو غړو ته او خاصتاً حکمت کرزي ته د الله د درباره صبر جمیل غواړم. د حشمت کرزي عکس، د ډاکتر صیب اشرف غني او د هغه د زمري سره زما په سترګو کې ښکته پورته کېږي.

**د پورته نوشتې په هکله یو تن د روکي میاخیل په نامه لیکلي و:**

میا صیب! مونږه او تاسې میاخېلانو ډېر د عاجزي ژوند کړي او د وطن فروشانو کره تلل او ارتباط ساتل تاسره نه جوړېږي او خطرناکه عواقب هم لري الله دې یې وکړي چې خفه نه شي.

**ما ورته په ځواب کې ولیکل:**

روکی جانه! ستا په خبره پوه نه شوم. زه په انتقاد نه خپه کېږم د هر چا خپل لرلید دی او خپل یې نظر دی، کېدای شي موافق اوسم او یا نه اوسم. د



اختر مبارکي یو مسلمان ته ویل د اسلام له اصولو سره برابره او سمه خبره ده. بل دا چې ټاپې لګول سم کار نه دی. او په درېیمه خبره دې پوه نه شوم چې خطرناک عواقب لري یعنې څه؟ د غلجي صیب نظر هم خپل دی (هغه د وفا صیب په هکله ناسمې خبرې لیکلې وې چې دلته رانقلول یې مناسب نه ګڼم). زه هم د موجوده پالیسیو د حکومت سره موافق نه یم خو دا د دې معنی نه لري چې څوک د چا د پالیسیو سره موافق نه وي او نو دښمني دې وکړي. که داسې وي نو زمونږ امامانو سره اختلاف په نظریاتو کې درلوده خو په یو بل به یې د کفر ټاپې نه لګولې.

**سپین بیدار لیکلي و:**

مونږ افغانان هم عجیبه خلک یوو. هر وخت مو سیاسي اختلافو ته د شخصي دشمنۍ په سترګه کتلي دي. همدا یې وجهه ده چې د مدني مبارزې اخلاق مو کمزوري دي او د سر سړي سر پورته کولو ته نه پرېږدو.

**روکي جان بیا هم کرار نه کېناسته او بیا یې ولیکل:**

میاصیب! وفا سره له کرزیانو زما په شخصي نظر کفر ته وفادار خلك دي چې شاید دا تا ته په ثبوت رسېدلې خبره وي. زمونږ په هیواد کې خلك ډوډۍ نه لري چې ویې خوري دوی په خپلو کورو کې شېرانو ته د ملت وینه ورکوي حالانکه چې د الله د احکامو څخه ته خبر یې دا ټول د c i a جاسوسان دي دا ټاپه نه ده وروره! دا طالب امریکایي یا نور چې زمونږه ګران هېواد کې یې شر جوړ کړی دا به د الله جل جلاله یو امتحان وي په همدې خاطر وایم چې د یوه پاك مسلمان او خصوصاً میاصاحبان چې دایماً د الله د احکامو ښه اطاعت کوي زیب نه ورسره کوي چې د دې داړه مارانو لکۍ پسې ورشي. د خطر خبره دا ده چې الله دې نکړي که د دوی په صف کې سړی مړ شي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به په دې دنیا کې نام بدی وي او هم په اخرت کې. محترم میا صیب! زه دا نیت نه لرم چې الله دې نه کړي تا خفه کړم.

**ما بیا ورته په ځواب کې ولیکل:**

روکی جانه! بیا هم دا ستا خپل نظر دی. زمونږ لرلید او د اسلامي احکامو نه پوره معلومات ډېر کم دي. که ته یو چا ته په هر نظر ګورې دا ستا کار دی. که د ابراهیم ع پلار کافر هم و خو هغه د خپل پلار احترام کاوه. پاتې شوه هیڅ انسان د ګناه نه خالي نه دی او نه باید زمونږ د نظر لید دومره نا قصه وي چې څوک د فلان او یا فلان قوم نه وي نو هغه به یا ښه سړی وي او یا بد سړی.

**یو بل کس د جیحون اتل په نوم لیکلي و:**

روکی جانه! که افغان وې نو دا چتیات به نه وایې او که افغان نه وې نو بیا دې حق دی ځکه د افغان دښمن د اسلام دښمن دی او د اسلام دښمن د انسانیت دښمن دی..پرېږده چې غپېږي.

**روکی جان بیا ولیکل:**

محترم اتل صیب! په عرض د معذرت زه ستا په منظور پوه نشوم ما محترم میاخیل صاحب ته کومه بده خبر نده کړې که ستاسو فکر وي څوک چې په داسې مرګ مړ کېږي لکه جناب کرزی صیب هغه هیڅوقت بیګناه نه وي. مګر دوی افغانانو ته معلوم نه دي دا اوس نیم کابل او نیم قندهار د کرزیانو دی له کومه یې کړي دا د الله وهل دي ته خپله فکر وکړه د یوه شیر ساتل په کور کې څومره مصرف لري او دا زمونږ د وطن غریبان (ګوره) دا د فرعون عادت دی. الله ته معلومه ده چې زه د انسان په مرګ ډېر خپه کېږم



مګر د ظالم په مرګ نه، نو ځکه میاخیل صیب ته دا زما یوه مشوره وه او بله مشوره مې ورته دا ده چې که چیرته دې د ظالمانو لمنه نیسي- نو مهرباني دې وکړي خپل تخلص دې تبدیل کړي د میاخیلانو په ګران قوم کې څوک وطن ته خاین نشته دی.

زه خو دا وایم چه واقعاً ګناهګاره ټول یاستو مګر محترم میا صیب ګناه هم فرق لري چې څه رنګه ګناه، حضرت ابراهیم علیه سلام خپل پلار ته احترام کاوه مګر نمرود ته نه او که افغان قومونه تاسو ته فلان فلان ښکاري بیا ولې میاخیل تخلص کوي. حضرت محمد (ص) خپله ویلي چې د عرب بد ته زما په خاطر ښه ته یې د خپل په خاطر وګورئ آیا دا قوم پرستي نه ده. ولا زه تعجب کوم چې د وزیرانو او وکیلانو سره تلل را تلل دې زده دي او اسلام په احکامو خبر نه یې، د الله لمنه ونیسه انشألله چې الله به دین او دنیا درکړي زمااحترامات ومنه.

**د روکی جان خبرې د احساساتو نه ډکې وې او لس ګونو کسانو تبصرې او لایکونه کړي وو نو بیا ما ورته په اخره کې ولیکل:**

روکی جانه! دا ستا حق نه دی چې چاته ووایې چې خپل تخلص دې بدل کړه د تانه او د ډېر نورو عزیزانو نه شاید میاخیل تخلص ما مخکې ایښودلی وی. لکه چې ځنګه زه تا سم نه پېژنم نو ته ما هم سم نه پېژنې نو ځکه ستا قضاوت سطحي دی. په هر حال یوازې په قوم څوک نه ښه کېږي او نه بد کېږي. یوازینی معیار د انسان لپاره د تقوا دی. قوم او خیل د شناخت لپاره دی نه د تفوق لپاره. لکه ځنګه چې مې مخکې وویلې د هر چا خپل نظر دی او ستا به همدومره لنډ فکر وي. بیا هم مننه ستا د نیوکو نه. په درنښت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختر هم د معلوماتو د راجمع کولو ښه موقع وي

د جولای د میاشتې ۳۱مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م

د اختر په تېرو درېوو ورځو کې مې ګڼ شمېر دوستان او خپلوان ولیدل او په لیدو د هر یوه ډېر خوشاله شوم خو د دې تر څنګ د هر دوست سره ښه ښه معلومات هم و چې دوستانو سره به یې شریکول. د کورنیو چارو وزارت دوه لوړ پوړي چارواکي زما کورته راغلل د خبرو په ترڅ کې یې راته وویل چې مونږ اوس د درېوو جمهور رئیسانو امنیت ساتلی دی نو ایا تاسې په نړۍ کې داسې ملک لیدلی چې د درې رئیس جمهورانو امنیت وساتي. دا درې جمهور رئیسان، کرزی صیب او دوه متوقع رئیس جمهوران، ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی او ډاکټر صیب عبدالله دي.

د خوست ولایت یو لوړ پوړی چارواکی زما کور ته راغی او د انتخاباتو په هکله مې ترې معلومات غوښتل چې څنګه خوستوالو ځلور لکه رایه استعمال کړې دي. هغه وویل چې د طلوع تلویزون د ده سره مرکه وکړه خو هغه یې نشر نه کړه نو ده ورته ویلي و چې په خوست کې ۳۳۰۰۰۰ زره د ښوونځیو زده کوونکي د اول ټولګي نه تر دولسم ټولګې پورې ثبت دي او هر یو زده کوونکی د اساس نمبر لري چې دروغ نه دي. نو که هر زده کوونکی یو پلار او مور هم ولري نو ۶۶۰۰۰۰ کسانو باید رایه اچولي وي نو اوس هم دوی کمې رایې استعمال کړې دي. ډېر ښه استدلال و.

دا هم راپه یاد شول چې د انتخاباتو کمیسیون د دواړو نوماندانو په توافق دولس میلیونه د رایو کارتونه توزیع کړي وو که دا دولس میلیونه رایې ټولې استعمال شوې وې نو بیا به څه حال وای؟ ځکه چې دا کارتونه خو د استعمال په خاطر لېږل شوي وو نه د ساتلو په خاطر.



## غوايي لا حلال شوی نه دی خانکي مو په سر نيولي

د اګست د میاشتې لسمه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

ګرانو دوستانو! افغانستان په دې مرحله کې د لاندې ستونځو سره مخامخ دی:

- دولتي نهادونه او بالاخاصه امنیتي ارګانونه د دا خلي او بهرنیو تهدیداتو سره مخامخ دي او هره ورځ په لس ګونو تلفات ورکوي. دا چې نسبي امن لرو دا هم د امنیتي ارګانونو د قربانیو نتیجه ده که نه مدیریت د امنیتي ارګانونو ضعیفه دی، امکانات محدود دي او یا په خپل ځای کې په سمه توګه نه استعمالېږي، هم اهنګي د امنیتي ارګانونو په خپلو منځو کې او هم د دولت د نورو ادارو سره په ملي او محلي کچه نشته ده او د دې تر څنګ هغه څوک چې خپله دنده سمه اجرا کوي لازم سیاسي حمایت نه لري.
- اقتصادي حالت له رکود سره مخامخ دي او که وضیعت همداسې دوام وکړي نو شاید راتلونکو دوه درې میاشتو کې دولتي مامورینو ته تنخواه ګانې (معاشونه) هم سم ونه رسېږي.
- اکثریت دولتي ادارو نه د خدمت انګېزه له منځه تللې ده.
- سیاسي حالت مو د بحران په حال کې دی.
- قومي او سیاسي جوړښتونه پراګنده او یا د خپلو ګټو د ساتلو لپاره کار کوي.

نړیواله ټولنه هم سترې او یا له ناکامۍ سره مخ ده.

- ګاونډیانو سایکالوژیکي جنګ د افغانانو پرضد پیل کړی دی. کله ورته ګواښونه کوي او کله هم په مستقیمه توګه یې په ګولیو ولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته ستونځو په عواملو نه غږېږم: چا وزېږول، څنګه وزېږول شول، په طبیعي توګه وزېږول شول او که مصنوعي وزېږول شول، چا د دې ستونځو د زېږولو نه ګټه واخیستله او څوک پکې زیانمن شول، ځکه دا جلا بحث دی. خو د افغانستان دولت او ولس دا مهال د پورته ستونځو سره مخامخ دی او د حل لارې چارې باید ورته پیدا شي. زه په دې عقیده یم چې د پورته ستونځو د حل لپاره یوازینۍ د حل لار د یو قوي مدیریت رامنځته کېدل دي چې قانون حاکم او اجتماعي عدالت تامین کړي، بله لار نشته. سم مدیر هغه دی چې د ستونځو د حل لپاره د تدبیر نه کار واخلي، ستونځې حل کړي نه دا چې ستونځې ترې زیاتې شي.

د افغانستان راتلونکی جمهور رئیس ته دا پورته ستونځې اوس په میراث پاتې دي. افغانان باید سمدستي دا فکر ونه کړي چې راتلونکی جمهور رئیس دې د قدرت د لاسته راوړلو نه دمخه دا ستونځې حل کړي او یا هم د قدرت له رسیدو نه وروسته دې کومه معجزه ښکاره کړي. زه هم د موجوده سیاسي حالاتو په روند نیوکې لرم او سمې راته نه ښکاري خو نهیلی لا نه یم او امید شته چې دا ستونځې به په کراره کراره کمې شي. اوس راته مخ ترمخه قضاوت ګران دی چې ایا راتلونکی جمهور رئیس به په سمه لار روان وي که نه؟ افغانان باید خپل وحدت وساتي، بیداره اوسي او د حالاتو څارنه وکړي.

څه موده د مخه ما یوه لیکنه په فیسبوک کې کړې وه چې باید راتلونکی جمهور رئیس ته د ماه عسل یا هانې مون یو څه وخت ورکړو که په سمه نه و روان، د پورته ستونځو لپاره یې یو په یو د حل لارې چارې نه شوې پیدا کولی نو بیا افغانان کولی شي چې خپل حق وغواړي او په راتلونکي جمهور رئیس اعتراض وکړي. د حق غوښتلو اواز باید اوس او هم په راتلونکي کې لوړ وساتل شي او د حق غوښتنه په هر وخت کې د افغانانو مشروع حق دی خو



دا متل باید په پام کې ونیول شي چې غوایی لا حلال شوی نه دی او خانکي مو په سر نیولي دي، سم کار نه دی.

## هر نقطه مکان و هر سخن جای دارد

د اګست میاشتې ۱۱مه نیټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

که لنډ حساب وکړو نو دا ۳٦ کاله کېږي چې د افغانانو ټولنه پاشل شوې ده او د افغانانو دا درېیم او څلورم نسل دی چې په پاشل شوې توګه په بېلابېلو ټولنو کې د بېلابېلو ملکونو د کلتورونو، اجتماعي او فامیلي ژوند د منفي اغېزو لاندې ژوند کوي. نو په دې اساس د افغانانو ټولنه اوس یوه پاشل شوې ټولنه ده چې د دوی اهداف، حوسونه، حرکتونه، خوځښتونه او ټولنې هم سره پاشل شوي دي او یا په پاشل شوې توګه فعالیت کوي. که لږه موده یو څو کسه سره یو ځای هم فعالیت وکړي خو ډېر ژر د ناشکن د شیشې لوښي په شان د یوه ګذار سره هر څه دانه دانه کېږي. کاشکې افغانان د نورو هیوادونو د مثبت اغېزو تر تاثیر لاندې راغلي وای چې څنګه تعلیم وکړي، څنګه سره یو ځای ژوند وکړي او څنګه شخصي ـ او ملي ګټې دواړه خوندي وساتي. مونږ د ملي ګټو خوندي کولو غوښتنه ځکه کوو چې په ملي ګټو کې باید زمونږ شخصي ګټې، ژوند او ارزښتونه خوندي وي که نه نو بیا ملي ګټې یعنې څه او یا د څه لپاره؟

پخوا به افغانانو اجتماعي ښېګڼې او ژوند، ادب او ادا، روزانه دیني زده کړې او د ملي ګټو ارزښتونه زیاتره په حجرو، دیرو، جوماتونو، کلیو او کورونو کې زده کول او ډېر شیان به د دوی د ژوند برخه ګرځېدله خو کله چې د افغانانو حجرې او دیرې، کورونه او کلي، جوماتونه او مکتبونه سره تخریب او وپاشل شول نو د افغانانو ارزښتونه او ګټې هم سره هم وپاشل شوې. همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



علت دی چې د یو ملي حرکت په نامه د افغانانو خوځښتونه ډېر ژر له ستونځو سره مخامخ کېږي ځکه چې دوی د لنډ مهاله تاکتیکي اهدافو لپاره سره راټولېږي نه د اوږد مهاله ستراتیژیکي اهدافو لپاره او چې څنګه یې لنډ مهاله تاکتیکي اهداف حاصل شول او یا دا ورته پته ولګیده چې ګوندې لنډ مهاله اهداف یې په لاس نه ورځي نو سمدستي دوی د هماغه خوځښت پر ضد ودرېږي چې د کوم لپاره یې هلې ځلې او سرمایه ګذاري کړې ده او بیا د خپل نږدې ملګرو سره په یوه لار تللی نه شي. دا کسان بیا کوشش کوي چې د ځانونو لپاره نوې لارې او نوي ملګري پیدا کړي. نو په دې توګه هره نوې لار او نوي ملګري پیدا کول افغانانو ته خورا قیمته تمامیږي.

هدف مې د دې لیکنې نه د ابراهیم شینواري د فیسبوک په مخ هغه لیکنه وه چې د نادر خان کټوازي صیب له خوله نه یې لیکلي و چې روغ سړی د کور خبره د جومات تر مخ نه پاشي. دا سمه خبره ده چې وایي هر نقطه مکاني و هر سخن جای دارد. هر څوک هره خبره په هر ځای کې باید ونه کړي ځکه د ګټې نه یې تاوان زیاتېږي. د کور، حجره، جومات او ځانته خبرو کې باید توپیر وي. دا نه د زوړوتوب نښه ده، او د نورو نه د زیاتې دل سوزۍ او پوهې. نه دا د دردونو دوا کېدای شي او نه دا د سپینو خبرو د ویلو معنی لري. هر څوک خبرې کولی شي او هېڅوک ماشوم نه دی چې په ښو او خرابو خبرو پوه نه شي خو خبره هغه ده چې په ځای وی او د کوم درد دوا شي. داسې بېځایه خبرو ته شفافیت هم نه وایي ځکه په سیاسي جملو کې داسې کسانو ته د پپولست (Populist) سیاست پیروان وایي چې په دې توګه د خلکو د احساساتو نه د ځانونو په خاطر ګټه اخلي او یا په دې توګه ځانونه مشهوره کوي او یو څه طرفداران هم پیدا کوي خو دا ډول احساساتي او پپولست حرکتونه همیشه ناکام وي.



# د رایپاڼو د شمېرنې لړۍ به څومره وخت ونیسي؟

د اګست د میاشتې ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

د ۲۰۱۴م کال د جمهوري ریاست د دویم پړاو له انتخاباتو نه وروسته د پایلو د اعلامولو او د وټونو د شمېرنې کومه ډرامه چې پیل شوې، اکثره دوستان او ملګري چې مې په محافلو کې ګوري او یا کله ناکله چېرته د تلویزون له لارې په کوم کنج کې ناست وګوري نو د تلیفونو لړۍ سر شي او همدا پوښتنې کوي چې د انتخاباتو پایلې به څه وخت اعلانېږي او څه به کېږي. زیاتره دوستان داسې فکر کوي چې زه خو له هر څه نه خبر یم او د قضایاوو په تصمیم ګیرۍ کې شامل یم.

دې کې شک نشته چې زه اکثریت سیاسي لوبغاړي، مشران، د دوی استازي او د بین المللي ټولنې مهم اشخاص د وظیفوي مسوولیت پر اساس له نږدې نه وخت نا وخت ګورم او په محافلو او غونډو کې ورسره برخه اخلم خو د هغوی نه هم زمونږ او ستاسې غوندې لاره ورکه ده او همدا پوښتنې له هر چا نه کوي چې څه به کېږي؟

څه وخت به د ټاکنو شمېرنه ختمېږي؟

ایا د دې میاشتې د پای نه به مخکې وي که وروسته؟

ایا دواړه ټیمونه به د ټاکنو پایلې ومني که نه؟

ایا دواړه ټیمونه به په سیاسي خبرو کې پرمختګ وکړي که نه؟

ایا سیاسي خبرې د انتخاباتو په بیا شمېرنه به څه اغېز ولري او که نه؟

ایا بیا شمېرنه به په سیاسي خبرو تاثیر ولري او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايا دواړه ټيمونه سره د امتيازانو د خوندي کولو په خاطر به تر اخره پورې چنې ووهي که نه؟

ايا په لندن کې د ناټو د سر مشريزې په غونډه کې چې د سپټمبر د مياشتې په لومړۍ اونۍ کې دايرېږي، د افغانستان استازيتوب به نوی جمهور رئيس وکړي که نه؟

ايا که په سياسي مذاکراتو او هم د بيا شمېرنې په پروسه کې که ژر پرمختګ ونه شي نو څه به کېږي؟

ايا بين المللي ټولنه به بسترې باروي او که خپلو مرستو ته به دوام ورکوي؟

ايا د افغانستان حکومت کولی شي چې د راتلونکو دوه مياشتو نه وروسته خپلو مامورينو، پولسيو او عسکرو ته معاش ورکړي اوکه نه؟

ايا امنيتي او اقتصادي وضيعت به نور هم خراب شي او که نه؟

ايا د طالبانو او ګاونډيانو ستراتيژي به په دې حالاتو که څه وي؟

ايا د جمهور رئيس کرزي صيب به څه خيال وي؟

ايا د خيرات په غونډۍ به همداسې ناست وي؟

ايا دی غواړي چې اوس او په راتلونکي کې به څه رول ولوبوي که نه؟

ايا د جمهور رئيس کرزي به په ټولو حالاتو کې خير وي او که نه؟

ايا هر څه د جمهور رئيس کرزي او د هغه د ملګرو په قابو کې دي او که نه؟

او کله نا کله دا خبرې هم کېږي چې شايد درېيم ګړی ګروپ به قدرت په لاس کې واخلي، مؤقت حکومت به اعلان شي او د انتخاباتو پايلې به باطلې اعلان کړي.



خبره دا ده چې ملي او بين المللي ټول لوبغاړي يو قسم سوالونه سره مطرح کوي او د ټولو سره همدا زمونږ او ستاسې غوندې تشويشونه او انګيرنې شته دي نو سوال دا دی چې د دې سوالونو د حل کيلي ګانې له چا سره دي؟

د ملا نصرالدين يوه قصه مې بيا راپه ياد شوه، يو لاروي له ملانصرالدين نه پوښتنه کړې وه چې ملا صيب! په فلاني کلي پورې به څومره وخت ونيسي چې زه ورسېږم؟ ملا صيب ورته ويلي و چې لار وهه او ځه او ځواب به درنه کړم. لاروي حرکت وکړ او څو قدمه چې لاړو نو ملا صيب ورته له شا نه غږ وکړ چې په دوه ساعتونو کې رسېږې. لاروی بېرته راستون شو او ورته يې وويل چې ولې دې اول دا ځواب رانه کړ. ملاصيب ورته وويل چې وروره! په قهرېږه مه، ماته ستا د مزل سرعت نه و معلوم اوس چې تا څو قدمه واخيستل نو ستا د مزل د سرعت پته راته معلومه شوه نو که په دې مزل روان اوسې په دوه ساعتونو کې هغه کلي ته رسېدلی شې.

که د نور څه پته راته نه وي نو دا يوه پته راته شته چې تر اوسه پورې چې افغانان، د دوی سياسي مشران، چارواکي او نړيواله ټولنه په کوم مزل په تېرو ديارلس کلونو کې او يا په تېرو شپږ دېرش کلونو کې روان دي او په همدې مزل روان وي نو داسې ښکاري چې دا وړی شړی نه شي ځکه چې دوی په يوه نامعلومه لوري روان دي.

ترسم نه رسي به کعبه ای اعرابی
این راه که تو میروی به ترکستان است

دا جوته ده چې ټول به تاوان کوي خو د عامو افغانانو نقصان راته زيات ښکاري. په لس ګونو افغانان هره ورځ په يوه او بل نامه وژل کېږي، وطن مو ورانېږي او ځينې لاتراوسه د سادسانو د مريضانو غوندې د خلکو د ځورولو، وژلو او د وطن د ورانولو نه خوند اخلي. دا لنډۍ دې په کې هم وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوکړکو او سبو جنګ و
په منځ کې دل شول د مرچکو غونډې لعلونه

که د هر چا جنګ په افغانستان کې دی او د هرې موخې لپاره وي خو افغانان په کې دل شول او لا هم د ژرندې وار ته ناست دي چې نور هم دل شي.

## وایي چې له ناپوهه دوست نه هوښیار دښمن هم ښه دی

د اګست د میاشتې ۲۷مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال، کابل

ډېر پخوا زمونږ اقتصادي وضعه نظر نورو خپلوانو ته یو څه ښه وه خو دومره ښه هم نه وه چې څومره هغوی طمعه درلوده او یا یې فکر کاوه فقط قرضداري نه وو او ژوند مو روان و. په پېښور کې یوه ورځ په کور ناست وم چې زما د یوې ترورزی زوی چې د پېښور د ناصر باغ کمپ د دولسم ټولګي زده کوونکی و او اول نمره هم و، راغی او راته یې وویل چې ماما زه نور مکتب نه شم ویلی او غواړم چې لېسه پرېږدم. دی چې پلار یې لا ډېر پخوا شهید کړای شوی و د کورنۍ اقتصادي وضعیت یې ښه نه و. خدای شاهد دی چې ډېر سخت خفه شوم او ورته مې وویلې چې ته خو په دولسم ټولګي کې یې، اول نمره یې، نو ولې لېسه خوشې کوې. هغه راته وویل چې لیسه اوس د ناصر باغ کیمپ نه د بورډ سیمې ته انتقال شوې ده نو زه د موټر کرایه چې د ورځې څلور کلداري کېږي نه لرم نو ځکه لیسه پرېږدم یا خوشې کوم. ما ورته وویل چې د یوه تعلیمي کال د کرایې مصرف څومره کېږي نو ده راته وویل چې د ۱۵۰۰ کلدارو په اندازه به وي. نو ما جیب ته لاس کړ او ۲۵۰۰ کلدارې چې تقریبا په هغه وخت کې ۵۰ امریکایي ډالره کېدلې او همدا



پیسې راسره وې ورته ورکړې او ورته ومې ویل چې دولسم صنف خلاص کړه او امید دی چې راتلونکی به دې روښانه وي. اوس د هماغه ځوان ژوند ډېر ښه دی.

دی چې لاړو نو مېرمنې مې راته وویل چې که ستا وسه وشي نو دا د ګاونډیانو ټول زامن به هم په ښوونځیو کې واچوې او خپل ځان ته به هېڅ پرې نه ږدې ځکه له ما سره نورې پیسې هم نه وې او تر بلې تنخواه یا معاشه پورې مې باید انتظار ایستلی وای. په کور کې چې پیسې نه وي نو ښځو سره خامخا د نارینه و په تناسب تشویش زیات وي. ما مې میرمنې ته وویل چې دا ستا خبره سمه ده که زما وس وشي نو دا د ګاونډیانو زامن به هم په ښوونځیو کې واچوم چې څه زده کړي ځکه که دوی پوه وي نو بیا به زمونږ مشکلات کم وي او هره ورځ به له دوی سره لاس او ګریوان نه اوسو. په همدې شپو کې زما زامنو او زمونږ د یو ګاونډوي د زامنو سره څه جنجال هم پېښ شوی و ځکه د هغوی زامن مکتب ته نه تلل او زمونږ ماشومان به چې په یونیفورم کې مکتب ته تلل نو دوی ته به یو بل قسم ښکاره کېدل او کله نا کله به یې د دوی په یونیفورم پورې ملنډې وهلې او بیا به د دوی تر منځ جنجال هم پېښېده.

قصه رانه اوږده شوله او هغه متل مې راپه یاد شو چې وایي له ناپوهه دوست نه هوښیار دښمن ښه دی. که دوست او ملګری دې ناپوهه وي ولو که نیت یې هم ښه وي نو علطه مشوره به درکوي او تا به کندې ته اچوي او که دوست دې پوه وي نو ښه مشوره به درکوي. هوښیار دښمن هم ښه دی ځکه که غواړي چې درسره دښمني وکړي نو لا اقل خپل خیر او شر به خو هم په نظر کې نیسي او داسې بیځایه حرکت به نه کوي چې هم ځان ژوبل کړي او هم خپل دښمن او هم کلي او کور ټول وران کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د انتخاباتو د بسوګۍ واده چې روان دی داسې ښکاري چې په دواړو ټیمونو کې د دوی مشاورین او په نامه منځګړي دواړو نوماندانو ته داسې مشورې ورکوي چې شاید دواړه د ګرنګه ګذار کړي. که دوی د سلیم عقل نه کار وانخلي نو دوی به هم ځانونه تباه کړي، هم به دا ولس تباه کړي او هم به دوی په راتلونکي کې تاریخ ته محکوم وي. تر څو چې د ټاکنو پایلې نه وي اعلان شوې او سیاسي قدرت په سوله ییزه توګه بل منتخب جمهور رئیس ته نه وي انتقال شوی، د موجوده مشرتابه مسوولیت هم په خپل ځای دی او د تاریخ له قضاوت نه ځان بري الذمه کولای نه شي.

## ما د خداې لپاره یار لیدلی نه دی

د اګست ۲۸مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال، کابل

اغراق او غلو همېشه په خبرو، لیکنو او شعرونو کې تر یوه حده وي خو بعضې وخت افغانان دومره مبالغه کوي چې واقعیتونه هم تر شعاع لاندې راولي. اکثره کسان چې غواړي ځان ډېر خدای پرسته او وطن دوسته وښیي نو وایي چې زه د ځان لپاره کار نه کوم او یوازې د وطن په خاطر هلې ځلې کوم او یا وایي چې د خداې د رضا لپاره کار کوم او نور هیڅ مطلب نه لرم. خو چې بیا ګورې همدا وطن دوسته او خدای پرسته افغانانو ته چې فرصت په لاس ورشي هرڅه چې یې په وسه پوره وي هغه کوي بیا نه یې خدای په یاد وي او نه وطن دوستي. دا قسم مبالغه د هغو اشخاصو په خبرو کې زیاته لیدل کېږي څوک چې زیات په فساد کې ملوث وي او یا د فساد د نیت کولو موقع ته په طمعه ناست وي. یو وخت یو وزیر ته به همېشه د ده ملګري ورتلل او ورته ویل به یې چې د وطن د خدمت په خاطر مې په فلاني ګمرګ کې مقرر کړه. که هدف خدمت وي نو په دولتي ادارو کې یو مامور د خپلې رتبې او منصب امتیازات که په هره څوکۍ او هر ځای کې وي (په



استثنا د علمي مراکزو او رتبو درلودلو) عین امتیازات لري نو بیا مشخصو ځایونو کې کار کول څه معنی لري. البته اکثره مامورین چې واسطې او حتی رشوتونه ورکوي او مشخص ځایونه غواړي نو هدف واضحه دی چې یو څه په هغه ځای کې غریبي مریبي وکړي.

که سړی د وطن په خاطر او یا د خدای په خاطر کارکوي نو خامخا شخصي ګټې مطرح وي. د خدای لپاره ځکه کار کوو چې د ځان لپاره ثواب ګټو نو شخصي ګټه مطرح ده او که د وطن لپاره کار کوو ځکه چې ارام ژوند باید په وطن کې وکړو. که د ثواب ګټل او د ارام ژوند مطلب نه وي نو بیا ولې سړی د خدای او وطن لپاره کار وکړي. ولې یو ښه مشر او ښه حکومت غواړو ځکه چې د مونږ لپاره باید کار وکړي که نه نو مونږ د چا په قواره او سلیقه خو عاشق نه یوو. شخصي ګټې په هر کار کې خامخا مطرح وي خو داسې باید نه وي چې د شخصي ګټو په خاطر پینځه واړه ګوتې په خپله خوله کې سړي ننباسي او د بل چا خیال ونه ساتي.

زه شخصاً د انصاف طرفدار یم ځکه په انصاف کې هم زما او زما د کورنۍ شخصي ګټې خوندي دي او هم زما د چم ګاونډ او وطن دارانو ګټې به خوندي وي. د اوسني حالت نه چې ولس ټنټارې وهي او په پکو دی علت یې بې انصافي ده. هر څوک له خپل حق نه زیاتې غوښتنې لري او هر څه له وخت نه مخکې غواړي. نو ځکه خواجه عبدالله انصاری صیب وایي: هر که از حق بیش میخواهد و از وخت پیش میخواهد به مصیبت گرفتار میشود.

**داکتر ابراهیم شنواري صیب د پورته لیکنې په اړه لیکلي و:**

ځان غوښتنه، ځان سره مینه (حب ذات) او ځان ته درنښت غوښتل (self-esteem) انساني غریزه ده چې په خپل ذات کې مثبته ده. د همدې غریزې له امله انسان د خپلې ترقۍ او تعالۍ فکر او په دغه لار کې کار کوي. بد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل یې هغه دی چې د نورو د حقوقو او عزت د پایمالولو په بیه وي. د خدای په رضا کې ځانه ته جنت لټول او د وطن په ابادۍ او ارامۍ کې ځان او اولاد ته د خوندیتوب او نېکمرغۍ لټون روا کار دی، خو د نورو د خوندي توب او نېکمرغۍ د پایمالولو په بیه ناروا دی. دا واقعیت دی چې که قوانین نه وي حاکم او عقیده هم ډېره ژوره نه وي، نو د زیاترو انسانانو ځان غوښتنه او ځاني عزت افراط لوري ته ځي چې د ټولنیزې ګډوډۍ زمینې جوړوي. که غواړو چې د انسانانو ځان غوښتنه افراط ته لاړه نه شي، باید د قانون د حاکمیت او رښتینې خدای پالنې لور ته لاړ شو.

## کله به دا ځینې کسان قانع شي چې دوی شیخ فاني دي؟

د اګست د میاشتې ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

پخوا د شیخ فاني کلمه د افغانستان په اداري سیستم کې هغو کسانو ته راجع کېدله چې عمر به یې له ۶۰ کلونو نه زیاتېدو نو بیا به د عسکرۍ دورې نه معاف کېدل او مطلب دا و چې نور فزیکي توان یا ورتیا نه لري چې سخت کار وکړي. لکه څنګه چې انسان هر څومره پیسې ولري او قناعت ونه کړي نو په زیاتو پیسو او سرمایه څوک نه مړېږي. همداسې عمر چې هر څومره زیات وي انسان پرې نه مړېږي او فکر کوي چې ګونډې بیرته به ځوانېږي او هر کار کولی شي.

خو واقعیتونه د ژوند بیا داسې نه دي چې عمر زیاتېږي هماغومره فزیکي قوت یا شیمه د انسان کمېږي، زیات ساعتونه کار نه شي کولی او باالخاصه هغه کارونه او دندې چې منډو ترړو ته ضرورت لري د انسان له وسې پوره



نه وي. که څه هم دا د انسان طبیعي تقاضا ده چې ارمانونه د انسان نه پوره کېږي خو انسان باید د خپل ځان په هکله یو څه واقع بینه اوسي.

زمونږ څو درجنه مشران چې د شیخ الفانیتوت له مرحلې نه لا ډېر پخوا تېر شوي دي، فزیکي او فکري ثبات یې له منځه تللی، د افغانستان او نړۍ د نویو تحولاتو او ستونځو لپاره سم فکر نشي کولی، ډېری یې لا خپل باډي ګاردان، نږدې همکاران او اشخاص هم سم نه پېژني ځکه حافظې یې کمزوري شوي دي، خو اوس لاهم مطرح دي او غواړي چې د افغانستان په قضایاوو کې د تصمیم ګیرۍ برخه ولري.

زه دې مشرانو ته د درنښت په سترګه ګورم، باید قدر یې وشي خو دوی باید د تصمیم ګیرۍ مرجع نه اوسي ځکه دوی د اوسني افغانستان او د نړۍ د نویو تحولاتو په رڼا کې ستونځو ته د حل لپاره سمې لارې چارې نشي‌ سنجولی او ډېری یې لا د پخوا په شان د فیل په غوږ کې ویده دي او فکر کوي چې افغانان د ظاهرشاه د پادشاهۍ د دوران په شان لا اوس هم ویده دي او که دوی ورته هر څه ووایي نو ملت به د دوی پسې لاړ شي.

داسې نه ده، جنګونه او مهاجرتونه چې له یوې خوا زیاتې بدبختیاوې زېږوي خو په هماغه اندازه د ولس عامه پوهاوی او سیاسي شعور پورته بیایي او ولس هسې په تشو شعارونو نه غولېږي. همدا علت دی چې د افغانستان مشران نه شي کولی چې ولس یوازې په تشو شعارونو قانع کړي. سیاسي حرکتونه هم یوازې په شعارونو نه جوړېږي او نه یوازې په ارماني او اخلاقي خبرو باندې ولس د چا ملاتړ کوي. ولس د هر چا عمل ته ګوري او دا د افغانستان ولس په کراتو ثابته کړې چې هر کله یې کومه عملي طرحه لیدلې وي د هغو مشرانو د طرحو نه یې ملاتړ کړی دی. دا چې بیا مشرانو خپلې وعدې نه دي تر سره کړې، دا د هغو مشرانو ګناه ده نه د ولس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما وړاندیز د۷۰مې، ۸۰مې او ۹۰مې لسیزو شیخ فاني مشرانو ته دا دی چې صدۍ بدله شوې، خپل پاټکونه لري کړئ او پرېږدئ چې دا ولس په ارامه ژوند وکړي، نوي مشران نوي پلانونه عملي کړي.

## په انګریزي ژبه کې یوه اصطلاح ده چې وایي:

## Easy come, easy go

## په اسانه چې یو شی لاس ته راوړې نو په اسانه درنه ځي

د اګست د میاشتې ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

که مفتې پیسې د چا لاس ته ورشي نو هغه بیا بې له سوچه او فکره بېځایه بېځایه مصرفوي ځکه لاس یې پرې تنګاکې شوی نه وي او نه یې پرې نور څه زحمت ګاللی وي. که څوک د لاس په تنګاکو او مشقت سره پیسې لاس ته راوړي نو د خپلو پیسو په مصرف کې هم پوره سوچ کوي او بېځایه یې نه مصرفوي. دا پورته د Easy come, easy go اصطلاح په اوسني وخت کې ډېر زیات صدق کوي. مونږ او تاسې ګورو هغه کسانو چې د قرادادونو په اخیستلو ، د مخداره موادو قاچاق له لارې، یا له کومو بهرنیو منابعو نه او یا د رشوت په خوړولو ډېر ژر پیسه داره شوي دي نو خپلې پیسې ډېر بیځایه بیځایه مصرفوي او چې اوس دا د اسانه پیسو د لاسته راوړولو مدرکونه کم شوي دي نو دوی د ټولو نه زیاتې ستونځې لري ځکه دوی د مفتو پیسو په لګولو عادت شوي دي دا چې دا مفتې پیسې مخ په ختمېدو دي نو په راتلونکي کې به د دوی څه حال وي؟ دوی به صرافانو غوندې خپلې پېنې او



سرونه ګروي او په راتلونکي کې به د عقلي او عصبي ډاکټرانو بازار به ګرم وي.

زیاتره دوستان دا هم وایي چې فلاني او فلاني په انتخاباتو کې ډېرې پیسې بیځایه مصرف کړې خو خبره داسې نه ده ځکه د دوی هم د دې پیسو په پیداکولو څه لاس تنګاکې شوی نه دی. دوی ته هم له بهر او دننه نه مفتې پیسې راغلې وې او دوی هم بې له سوچه مصرفولې ځکه دوی خو نه کوم تجارت درلود او نه دوی میلونران وو چې خپلې پیسې یې لګولي وي او زړه یې پرې درد کړی وای نو د دوی د پیسو په لګولو مه خفه کېږئ. د بایلونکو کسانو او یا هغو کسانو چې پیسې یې د پیسو د پیداکولو په منظور خرڅې کړي دي او څه په لاس ورنشي نو دوی به هم په رواني مرضونو اخته کېږي ځکه هم ترې مفتې پیسې لاړې او هم به د مفتو پیسو د راتلو موقع په لاس ورنشي. خدای مو د دوی له حاله ساته.

## د شهزاده چارلس اډوارد قصه

د سپټمبر ۷مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

څه موده دمخه ما د امان الله د عکس د پوست کولو د تبصرو په اړوند لیکلي و چې د انګلستان د اوسني شهزاده چارلس اډوارد قصه به لیکم او هدف مې دا وو چې کورني، محیطي، اجتماعي، اقتصادي او سیاسي شرایط همېشه په انسان باندې مثبت او منفي اغېز لري خو تکړه انسان هغه دی چې د سختو شرایطو با وجود مثبت خوا ته حرکت وکړي او داسې کارونه وکړي چې د ولس په ګټه وي. که ولس د یو ملک او یا ټولنه اباده او خوشحاله وي نو د انسان شخصي او کورنی ژوند به خامخا اباد او خوشحاله وي. که یو څوک هر څومره ښه ژوند ولري او له کوره بهرون چې ووځي او هره ورځ ناخوالې او بد حالت ګوري نو د ده ژوند هم ورسره نا ارامه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امريکا د حکومتي مامورينو ان تر جمهور رئيسه پورې ملاقاتونه او يا کتنې همېشه ساده وي او تشريفاتي جملې، القاب او کلمات ډېر کم استعمالېږي حتی جمهور رئيس ته د ښاغلي خطاب کېږي. د ښاغلي کلمه جمهور رئيس ته له هغه وخت نه کارېږي چې کله جارج واشنگتن د امريکا لومړنی جمهور رئيس شو. ټول نه پوهېدل چې ده ته څه خطاب وکړي ځکه دی خو پادشاده نه دی نو باالاخره د امريکه کانګريس او سنا دا فيصله وکړه چې ده ته د ښاغلي جمهور رئيس (*Mr. President*) خطاب کوئ چې تر اوسه همدا سلسله روانه ده چې د امريکې جمهور رئيس ته په ملک کې دننه او بهر ټول د ښاغلي جمهور رئيس خطاب کېږي.

چې اصل مطلب را نه پاتې نه شي نو قصه دا وه چې د امريکا پخواني جمهور ريس، رونالد ريګن په خپل کتاب *American life* کې ليکلي و چې يو وخت د انګلستان شهزاده، چارلس اډوارد د ده مېلمه شو نو څنګه چې دی د ملک مشر نه و نو ده ته يې په خپل شخصي ـ کور کې چې د سپينې ماڼۍ يوه برخه ده بلنه ورکړه. کله چې د ريګن مستخدم يا *Butler* راغی نو د شهزاده چارلس نه يې پوښتنه وکړه چې صيب چای غواړئ که کافي؟ نو ده ورته وويل چې چای غواړم. مستخدم په يوه پيالـه کې جوش کړې اوبه، د بورې دوه پاکټه او د چايو يوه پوڼۍ راوړه او د ده په مخکې يې کېښودله. شهزاده چارلس دوه درې ځلې د چايو پياله په لاس کې ونيوله او بېرته يې کېښودله خو چای يې ونه څښه. ريګن فکر وکړ چې شايد د شاهي پروتوکول خلاف کومه خبره شوې وي نو ځکه يې چای ونه څښه. په سبا ماښام په رسمي ميلمستيا کې ريګن له شهزاده چارلس نه پوښتنه وکړه چې پرون تا چای وغوښته خو هغه دې ونه څښه، څه خبره خو به په چايو کې نه وه. هغه ورته وويل چې ښاغلی جمهور رئيسه! له پيالې سره يوه پوڼۍ وه او زه نه پوهېدم چې په پوڼۍ څه وکړم؟ نو ځکه مې چای ونه څښه. ريګن ليکلي و



چې دې بېچاره تر دې دمه دا نه و ليدلي چې د چايو پوڼۍ څنګه په پيالـه کې واچوي او په خپله اندازه چې څنګه يې تريخ يا نری چای خوښ وي جوړ کړي.

که د شهزاده چارلس دا قصه له امان الله خان سره پرتله کړو نو امان الله خان هم په دربار کې لوی شوی و، د دربار خدمتګارو به ورته هر څه برابرول خو د دې ترڅنګ يې د ولس د آزادۍ خيال ورسره و او د خپل وخت سخت تصميم يې ونيوه چې د افغانستان د استقلال جنګ يې اعلان کړ او بريالی هم شو. دا چې وروسته يې ونه شو کړای چې سياسي قدرت ته له لسو کالو نه زيات دوام ورکړي څه به د ده اشتباګانې وې او څه به هم بهرني فشارونه و.

## د فيسبوک مثبت استعمال او ورسره ستونځې

د سپتمبر ۱۷مه نېټه کال ۲۰۱۴ م، کابل

فيسبوک او يا نور د زړه خوالې رسنيو ډولونه زيات شوي او د ټولو استعمال او يا يوازې د فيسبوک زيات استعمال د خلکو زيات وخت ضايع کوي نو ښه به دا وي چې د تکنالوژۍ نه موثره، مفيده او د ضرورت مطابق ګټه واخيستل شي. که په فيسبوک د ورځې نيم ساعت وخت ضايع شي فرق نه کوي ځکه د دوستانو د احوال اخيستو، يو څه د ساعت تيرۍ او روحي تفريح، د بعضې ښو معلوماتو د راټولو او علمي مسايلو باندې د بحث او هم د موثقو او غير موثقو خبرونو او يا په اصطلاح د سرچوک د افواهاتو ښه منبع ده او سړی کولی شي چې د ولس د غوښتنو نبض او د سياسي حالاتو د مسير لر لوری پرې معلوم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عکسونو یوازې پوست کول او یا په فیسبوک کې د لیکنو او شعرونو پوست کول د هر چا خپله خوښه او حق دی چې څه یې په زړه وي او غواړي چې له دوستانو سره یې شریک کړي فرق نه کوي. د دوستانو انتخاب او یا د مسایلو شریکول هم د هر چا خپل انتخاب او خوښه ده او د څه هدف لپاره ثوک څنګه او په څه ډول فیسبوک استعمالوي دا هم د هر چا حق دی. کېدای شي چې زیات دوستان د فیسبوک د منفي شیانو نه عبرت او د مثبتو شیانو نه ګټه واخلي او یو څه مثبت بدلون په یو شمېر زیاتو کسانو کې د پوهې او لرلید په اړوند راولي. ما پخپله د دوستانو د نظریاتو او لیکنو نه زیاته ګټه اخیستې ده او د ټولو دوستانو نه مننه کوم.

ما سره ستونځه دا ده چې په زرګونو دوستان ماسره په فیسبوک کې انډیوالان دي او هره لحظه چې فیسبوک ته داخلېږم نو په لس ګونو او حتی په سل ګونو دوستان انلاین وي او لس ګونه یې سمدستي مسیجونه رالېږي چې څنګه یې؟ زه ورته لیکم چې ښه یم تاسې څنګه یاست؟ نو دی بیا لیکي چې نور څنګه یې او څه خبرې دي؟ ودې نه پېژندم، ولې ځواب نه راکوې فکر کوم چې مصروفه یې او داسې نور...

چې ورته ولیکم چې څه خدمت وي نو ویلی شې وایي چې نه هسې ګپ شپ درسره لګوم، نو ښه خبره ده چې ګپ شپ سره ولګو خو زه وخت نه لرم بیا به بل وخت سره وغږېږو، نو بیا وایي ډېر مصروفه یې او فکر کوي چې زما اصلي وظیفه یوازې همدا د فیسبوک ده چې په هغه خپل وخت ضایع کوم او نور هېڅ کار نه لرم. په هر حال دوستان دې خفه کېږي نه که ما پیغامونو ته ځواب نه شو ورکولی نو دا د بې احترامۍ معنی نه لري او دا د مصروفیت وجه ده ځکه هر وخت انسان ګپ شپ هم نه شي لګولی او د ګپ شپ هم وخت وي. ګپ شپ هم باید په خپله اندازه وي چې روحاً سړی ارامه شي نه دا چې دومره وخت په ګپ شپ سړی تېر کړي چې شپه



پرې سبا شي او بیا ټوله ورځ ستړی او ستومانه وي او له خوبه اسویلي کوي او خپل ټول کارونه ترې پاتې وي.

## د انتخاباتو مستقل کمیسیون نن ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی د افغانستان جمهور رئیس اعلان کړ

د سپتمبر ۲۱مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

باالاخره د یوه اوږده ځنډ نه وروسته د جمهوري ریاست دواړو نوماندانو نن د ملي حکومت په جوړېدو هوکړه وکړه او وروسته د انتخاباتو کمیسیون ډاکټر صیب اشرف غنی احمدزی د جمهور رئیس په توګه اعلان کړ. زه د افغانستان خلکو او دواړو نوماندانو ته مبارکي وایم چې سیاسي قدرت به نوي منتخب جمهور رئیس ته د صلحې له لارې د راروانې دوشنبې په ورځ انشاالله انتقالېږي.

د دې هوکړې او د انتخاباتو د کمیسیون د اعلان په هکله ډېر زیات سوالونه اول له ماسره او همداسې ښکاري چې د افغانستان ولس سره او هغو کسانو سره چې دواړو نوماندانو لپاره یې بېحده هلې ځلې کړي دي شته دي. لومړنی تشویش دا دی چې ایا دواړه نوماندان او د دوی ټیمونه به له یو بل سره په صادقانه توګه کار وکړي او که نه؟ او یا به بیا د دوی تر منځ د حکومتدارۍ په چارو کې سره هره ورځ اخ و ډب وي، د حکومت چارې به فلجې او باالاخره نور بد عواقب به د افغانستان خلکو ته په ارمغان راوړي. دوی وایي چې د دې هوکړې اصلي عامل دا دی چې د انتخاباتو په سر لانجو افغانستان له یو لوی بحران سره مخامخ کړی و نو د ټولو نیمګړتیاوو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراضونو سره سره، د دې هوکړې په کولو سره دوی د يو لوی بحران مخه ونيوله.

زما په اند دواړو نوماندانو د خلکو رايو ته احترام ونه کړ، کميسيونونو خپلې دندې سمې اجرا نه کړې، د افغانستان حکومت څنګه چې لازمه وه خپل مسووليتونه د صحيح انتخاباتو د تر رسولو او د سياسي قدرت د انتقال لپاره سر ته ونه رسول او بين المللي ټولنې هم د انتخاباتو پروسه او د خلکو اراده تر سوال لاندې راوستله خو د دې ټولو ستونځو سره مونږ بېرته شاته تللی نه شو چې دا نيمګړتياوې اصلاح کړو نو ښه به دا وي چې د دواړو نوماندانو طرفداران او د افغانستان ولس بايد يو څه خپل احساسات کنټرول کړي او پرېږدي چې ډاکتر صيب اشرف غني او ډاکتر صيب عبدالله دا هوکړه څنګه عملي کوي. دواړه همدا وايي چې دوی د افغانستان د ثبات او ښې حکومتدارۍ لپاره دا هوکړه کړې که نه د دوی طرفدارانو دوی تر سخت فشار لاندې نيولو وو چې بايد له خپلو موقفونو نه انعطاف ونه کړي. نو ښه دا ده چې عاجل قضاوتونه ونه کړو. راځئ چې د يو څه وخت لپاره د دوی ملاتړ وکړو او قضاوت به وروسته وخت ته پرېږدو چې کله د هوکړې پايلې سمې نه وې.

## ډاکتر صيب اشرف غني ته مشورې

د سپتمبر ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

## داکټر صيب اشرف غني ته لومړۍ مشوره!

دا چاپلوسان او ابن الوقته کسان خو به دې اوس ډېر ښه پېژندلي وي نو سمدستي يې له خپل دفتر او دربار نه وشړه چې نظامونه همېشه د چاپلوسانو له خوا له ناکامۍ سره مخامخ کېږي.



## ډاکټر صيب اشرف غني ته دويمه مشوره!

خپل متعهده ټيم جوړ کړه او د نورو په ټيمونو باورو مه لره ځکه هر يو يې د خپل ټيم شخصي او تنظيمي ګټو لپاره کار کوي. د کرزي صيب د ناکامۍ يوه مهمه تشه همدا وه چې خپل ټيم يې نه درلود نو کله به يې په يوه ډله او ګروپ اعتماد کاوه او کله به يې په بله ډله او ګروپ اعتماد کاوه نو په اخره کې دی يوازې د څو محدودو چاپلوسانو سره پاتې و.

## ډاکټر صيب اشرف غني ته درېيمه مشوره!

د سپتمبر ۲۲مه نېټه، کابل

په مشورو ليکلو او ورکولو باندې زما څه خرچه نه راځي نو ځکه بايد دوام ورکړم کېدای شي چې څه مثبت اغېز وکړي. چې کله زه د ډاکټر صيب اشرف غني سره مخامخ شوی يم او د خبرو وخت راغلی نو دوستانو ته معلومه ده چې ما خپله خبره کړې ده او همداسې به خپلو خبرو ته مخامخ او هم په ليکلي شکل دوام ورکوم. دا وېره راسره نه شته ده چې زما په ليکلو او يا ويلو باندې به ډاکټر صيب خفه شي او يا به کوم امتياز له لاسه ورکړم.

په دويمه مشوره کې ما د ټيم جوړولو خبره کړې ده نو ټيم يوازې دې ته نه وايي چې څوک يوازې کاري تجربه او يا شهادتنامې ولري او دندې ورته وسپارل شي. ټيم هغه دی چې د ډاکټر صيب د اجنډا عملي کولو ته متعهد وي، د کاري تجربې او ډګريو ترڅنګ سياسي او اداري تقوا ولري، جرئت د کار کولو او هم د اشخاصو په شناخت کې کافي تجربه ولري. د ډاکټر صيب ټيم يوازې په ارګ کې د محدودو کسانو سره په ليدو مصروفه نه وي او بايد ډاکټر صيب په ورو شيانو مصروف ونه ساتي بلکې هغه پرېږدي چې په ستراتيژيکي مسايلو باندې فکر وکړي. ډاکټر صيب د وزير، رئيس، والي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیر او کاتب کارونه باید په خپله ونه کړي او څوک چې په دې دندو گوماري نو هماغه کس ته د مسوولیت تر څنګ صلاحیت هم ورکړي او ده ته باید هماغه د اداري مشر مسوول وي. ډاکټر صیب باید د وزارت مشوره د خپل وزیر سره وکړي نه دا چې سکرترانو نه د وزارت د کارونو مشورې وغواړي. ډاکټر صیب د خپل ټیم په سر کې زرگونو کسانو ته اړتیا نه لري که ډاکټر صیب شل کسه د پورته شرایطو په درلودلو سره په خپل محور راټول کړل نو دی بریالی دی نور ټیمونه بیا همدا شل کسان د ضرورت په بنیاد جوړولی شي او ولس د ډاکټر صیب له برنامو او کارونو نه خبرولی شي.

## ډاکټر صیب اشرف غني احمدزي ته څلورمه مشوره!

د سپتمبر ۲۵مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

نن چې ما د ډاکټر صیب عبدالله وینا واورېدله نو زما امید زیات پیدا شو چې انشاالله افغانستان مخ په جوړېدو دی. زما مشوره او غوښتنه د دواړو ټیمونو له مشرانو او د دوی له پلویانو نه دا ده چې د خپلو ټیمونو د افراطي کړیو او اشخاصو مخه ونیسي او پرې نه ږدي چې د گاونډیانو د تبلیغ او پروپاگندې لاندې راشي چې بې ثباتۍ ته لمن ووهي او یا زمنیه گډوډۍ ته مساعده کړي. جنګ چې د هر منظور په خاطر وي عواقب یې خراب دي. د جنګ په حالت کې یوازې څو محدود کسان، د جنګ نه خوند اخلي او یا په جنګ کې خپلې گټې گوري اما په صلح او تفاهم کې د ملت د اکثریت ولس گټې خوندي پاتې کېږي. د افغانستان د سوکالۍ په هیله.



## د افغانستان منتخب جمهور رئیس ډاکټر صیب اشرف غني احمدزي ته پینځمه مشوره!

د سپتمبر ۲۹مه نیټه، کال ۲۰۱۴م، امریکا

د افغانستان نوی منتخب جهمور رئیس احمدزي صیب ته زما پینځمه مشوره دا ده چې په چوکیو ورکولو څوک نه شې خوشحالولی او که هر څومره وزارتونه زیات شي بیا هم ډېر کسان به خفه وي نو ښه دا ده چې غیر موثر وزارتونه او اداري (ارگان های محلي، مخدره موادو، شهرسازي، اقتصاد .... او داسې نور وزارتونه) او اضافي دولتي تشکیلات کم کړي او موثریت د اداري اضافه کړي تر څو خلکو ته سم کار وکړای شي. که د زیاتو کرسیو د تورم مخه ونه نیول شي نو باور وکړئ چې ستونځې به همداسې په خپل ځای پاتې وي.

## جمهور رئیس ډاکټر صیب اشرف غني ته شپږمه مشوره!

د اکتوبر ۲۱مه نېټه، کال ۲۰۱۴م

**د مشاور داني گانو مخه باید ونیول شي**

زما د مشورو معنی دا نه ده چې گوندې جمهور رئیس صیب په دې نه پوهېږي خو صرف غواړم چې دا خبرې ورته په یاد کړم.

نومونه یې نه اخلم خو بعضې وزیران د مشاورینو په استخدام کې خاص مهارت لري چې باالاخره د مشاورینو دومره غټه ډله جوړه کړي چې د ټول وزارت د رهبرۍ له سطحې نه یې تعداد هم زیات شي. بیا مشاورینو ته نور مشاورین وټاکي چې د مشاورینو سرپرستي وکړي او باالاخره وزیر صیب او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده د مشاورينو ډله په خپلو منځو کې گوري او د وزارت له پرسونل سره بې رابطې شي او يو امر يې هم نه عملي کېږي. که دا مشاورين دومره با استعداده وي نو ولې يې په اجرايوي پستونو باندې نه مقروري چې د وزارت له مامورينو سره به هم رابطه لري او کارونه به په ښه توگه په مخ ځي. زه دا نه وايم چې مشاورين دې نه استخدامېږي خو هغه کارونه چې د وزارت مامورين کولی شي دې ته حاجت نشته چې نور مشاورين دې ورته استخدام شي. بعضې خاصو مسلکي مواردو کې مونږ مسلکي مشاورينو ته اړتيا لرو خو نه د وزير صيب سکرتر دی هم مشاور وي.

په ۲۰۰۴م کال کې مونږ د کورنيو چارو په وزارت کې چې ارگان های محلي هم د هغه جز و، يوازې دوه درې مشاروين درلودل خو په ۲۰۱۰م کال کې چې ارگان های محلی هم ترې جدا شوی و، د دې وزارت د مشاورينو تعداد د ٦۴۰ کسو نه هم زيات و. ښه به دا وي چې د دولت په ټولو ادارو کې د مشاور داني گانو مخه ونيول شي.

## جناب جمهور رئيس محمد اشرف غني ته اوومه مشوره

د نومبر نهمه نېټه، کال ۲۰۱۴م

**د مدني ټولنې جنگسالارانو ته بايد متوجه وي**

خو کاله دمخه ما په خپله يوه مقاله کې چې په انگليسي ژبه په کاناډا کې خپره شوې وه يادونه کړې وه چې مدني ټولنې هم جنگسالاران لري ځکه هغه کارونه چې ټوپک والا زورواکي کوي او قانون ماتوي نو بعضې کسان د مدني ټولنو نه هم په هماغه شکل کارونه کوي چې څنگه يې جنگسالاران کوي خو د دوی کارونه ماهرانه وي چې خلک ورته نه متوجه کېږي او د ټوپک والا د



زورواکو نه زيات په هر نوع فساد کې غرق دي. دوی هم د ټوپک والا د زور واکو په شان گروپونه او شبکې لري، ښه لابي يو بل ته کوله شي او تر يوه حده غواړي چې د جمهور رئيس غني شاوخوا محاصره کړي نو زما اميد د جمهور رئيس نه دا دی چې دی گروپونو او ډلو ته بايد متوجه وي.

## جمهور رئيس محمد اشرف غني ته اتمه مشوره!

د مديريت د هرم سر بايد وړوکی او قاعده يې بايد پراخه وي

د ۱۳۹۴ لمريز کال لومړۍ نېټه، کابل

د نوي کال مبارکې جلالتمآب جمهور رئيس او د افغانستان ټول ملت ته وړاندې کوم او خدای دې وکړي چې راتلونکی کال د افغانستان لپاره د صلحې او سوکالۍ کال وي، وينه تويول بند شي او د افغانستان ولس په اطمينان سره خپل ژوند پر مخ بوځي.

ما نه غوښتل چې د خپلو مشورو سلسله جاري وساتم ځکه زه په دې اند وم چې مشورو ته ضرورت نه وي او دا حکومت له لومړۍ ورځې نه حکومت کولو ته چمتو دی خو چې بيا مې اطرافو ته سفرونه وکړل او هم په تېرو دوه مياشتو کې چې د هر چا سره غږېږم د اميدونو په ځای د نا اميدويو خبرې کوي او د ولس له خولو نه ساړه اوسيلي راوځي نو دا چې د تصميم گيرۍ مرجع ته لاس رسی مې پيدا نه شوکړای او يا رانه ورکه ده نو ضروري مې وگڼله چې د دولت ټول مشرتابه او په خاصه توگه جمهور رئيس ته د فيسبوک له لارې خپل پيغام ورسوم شايد کوم زړه سواندی د ارگ له دېوالونو نه دننه پيدا شي چې د ولس پيغام دوی ته ورسوي.

ولس د مسايلو په عمق سم اگاه نه دی، د دولت او حکومت د کمونيکيشن او عامه پوهاوي ستراتيژي ډېره ضعيفه ده خو په مقابل کې د حکومت پر ضد د حکومت د داخل نه او هم د بهر نه منفي تبليغات په اوج

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره روان دي. نور په شعارونو کار نه کېږي عملي ګامونه اخیستل په کار دي او که همدا وضع همداسې دوام وکړي نو بیا د عملي کارونو د ملاتړ لپاره د ولس حمایت به هم ډېر ضعیفه وي. ولس او په خاصه توګه کلیوالې ښځې او بېسواده کسان په دې نه پوهېږي چې دې حکومت ته څومره ستونځې په میراث پاتې دي خو هغوی خپل ژوند ته ګوري چې د تېر کال په پرتله د دوی ژوند سږکال ښه دی او که نه؟ دوی موجوده حکومت ته په دې خاطر رایه ورکړې چې ګوندې حکومت به د دوی ستونځو ته د حل لاره پیدا کوي، دولتي او خاصتاً قضایي اوامنیتي ارګانونه او څارنوالان به د ولس جېبونه نور نه شکوي. ولس راسره داسې قصې شریکې کړې چې سړی ورته هک پک حیران شي. خلاصه د فساد کچه له مخکې نه نوره هم د انکشاف په حال کې ده.

ډېری داسې کارونه دي چې بهرنیو کمکونو او څه خاص تخصص ته اړتیا نه لري او یوازې د دولت په تصمیم نیولو پورې اړه لري. د بېلګې په توګه د کابینې جوړول او د موثرو اشخاصو مقررول په محلي ادارو کې او یا د امنیتي ارګانونو ترمنځ عملي هم اهنګي او مسوولیت پذیري راپیدا کول پیسو ته اړتیا نه لري. یوې واحدې امنیتي ستراتېژۍ ته اړتیا ده نه دا چې هر امنیتي ارګان او یا دولتي اداره ځانته جلاجلا پلانونه ولري. د دولت د پروګرامونو د عملي کېدو مسوولیت او مشرتوب باید د والیانو او ولسوالانو پر غاړه وي ترڅو د تصمیم ګیرۍ او د مسوولیت مرجع معلومه شي. په تېرو څو کلونو کې او په خاصه توګه اوس د والیانو او ولسوالانو مسوولیت شته خو صلاحیت هېڅ نه لري.

دویمه مهمه خبره حکومت ته په کار ده چې د مالي مشکلاتو د حل لپاره موثره عملي ستراتېژي رامنځته کړي د بېلګې په توګه د اضافي او موازي تشکیلاتو له منځه وړل، د حکومت عواید په سمه توګه راټولول او د ضایعاتو



مخه نیول مهم ګامونه دي. که د کابل د ښار د چارواکو اضافي وسایط او امکانات محلي ادارو ته انتقال شي نو تاسې بارو وکړئ چې د نیمایي افغانستان د محلي ادارو مشکلات پرې حل کېدای شي.

درېيمه مهمه خبره دا ده چې د دې حکومت د مدیریت د هرم سر ډېر غټ دی او قاعده یې ډېره وړه ده نو دا سرچپه کول غواړي چې قاعده یې پراخه او د مدیریت د هرم سر باید ډېر وړوکی وي. دا داسې مثال لري که د یوکس سر او باډې دېره غټه وي او پښې یې د کېکې غوندې نرۍ وي نو مزل نشي کولی او پښې یې ماتېږي نو ښه دا ده چې د دې نظام پښې چې محلي ادارې دي تقویه شي او د سر کچه باید وړه شي.

## جمهور رئیس محمد اشرف غني ته نهمه مشوره!

**دا زما نهمه مشوره به جمهور رئیس غني ومني که نه؟**

د اپرېل ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، کابل

که څه هم د مشورو ورکول چندان ګټه نه لري خو د ننګرهار او بدخشان وروستیو پېښو مجبوره کړم چې خپلو مشورو لیکنو ته دوام ورکړم. کېدای شي چې څه ګټه ولري او که په یخ لیکل هم وي فرق نه کوي ځکه خپله د مایوسۍ تنده به مو ماته کړې وي.

په بین المللي ادارو کې چې څوک مقررېږي نو نوي کار کوونکي ته درې میاشتې ازمایشي قرارداد ورکوي که سم کار یې ونه کړ نو بیا یې قرارداد نه تمدیدوي. که څوک یې مني او که نه یې مني خو په تېرو اوه میاشتو کې د حکومت او خلکو ترمنځ فاصله زیاته شوې ده. د ولس او خلکو تر منځ د ناامیدۍ یو مهم عامل دو سری او شاید اته سری حکومت وي خو یو مهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامل د جمهور رئیس غنی په شاو خوا راټول شوی ټیم دی چې هره ورځ ورسره په تماس کې دی او اجرایوي صلاحیت لري. دا چې د دې ټیم ازمایشي دوره د ولس په اند ناکامه ده نو دا به ښه وي چې جمهور رئیس غني باید په ارګ کې دننه په خپل اجرایوي ټیم فکر وکړي او د دوی قراردادونه تمدید نه کړي او یا یې له وظیفې نه لرې کړي. دا چې دا کسان څوک دي تاسې ټول یې پېژنئ.

د پورته مشورې په رابطه دوستانو ناامیدي ښودلې وه او یو تن د لطیف خان په نامه لیکلي و چې دا ورۍ نه شرۍکېږي. ما ورته په ځواب کې ولیکل:

لطیف خان صیب! دا ورۍ باید شرۍ شي ځکه که داسې نه وي نو بیا به نه شرۍ وي او نه ورۍ ځکه مونږ سیستم نه لرو او یوازې حکومت لرو. د حکومت له سقوط سره هر څه له منځه ځي. سیستمونه پاتې کېږي خو حکومتونه ځي او راځي. په امید به اوسو او کار هم باید ورته وکړو تر څو بالاخره مونږ هم یوسیستم پیدا کړو او د حکومتونو په تلو او راتلو چندان چرت و نه وهو.

## جمهور رئیس ته لسمه مشوره!

### په پراګنده نظامي عملیاتو امنیت نشي ښه کېدای

د اپرېل د میاشتې ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، کابل

که څه هم ما په مخکنیو مشورو کې ښې حکومتدارۍ ته اشاره کړې وه خو د ښې حکومتدارۍ اول اصل دا دی چې د دولت مشرتابه باید خپل عملي کاري پلان وزیرانو او والیانو ته او همداشان دوی باید د حکومت پلان د دولت ښکته قدمو ته سم تشریح کړای شي او د حکومت ښکته قدمې بیا په خپل وار د حکومت پلانونه ولس ته تشریح کړي او د ولس حمایت باید د



پلانونو په عملي کولو کې ترلاسه کړي. زه خو اوس نه پوهېږم چې د تیوریکي خبرو نه په غیر حکومت څه کوي او د دوی کاري پلان څه دی. دا دی اوس خو کابینه هم تقریباً تکمیله شوه خو زما مشوره د امنیتي ارګانو مشرانو ته دا ده چې په پراګنده ډول عملیاتو امنیت نشي راوستل کېدای. حکومت باید په هېواد کې مرکزي نقطي وټاکي او د هغه ځای نه تصفیوي او تهاجمي عملیات پیل کړي البته په دې عملیاتو کې د دولت د ټولو قواو او ولس همکارۍ ضروری ده نه دا چې هر وزارت خپل ځانته عملیاتي پلانونه ولري. د تصفیوي عملیاتو نه وروسته حکومت باید د هغې منطقې د ساتلو توانایي ولري که نه تصفیوي عملیات په درد نه خوري. حکومت باید د دفاعي حالت نه راووځي او تهاجمي یا فعاله (Pro-active) پالیسي غوره کړي.

حکومت باید یوه او یا دوه ورقې کاری پلان (Action Points) ولري چې والیانو او ولسوالانو ته هدایت ورکړي چې څه باید وکړي. زما په ا ند د دې کاري پلانونو عملي کول باید د والیانو او ولسوالانو تر مشرۍ لاندې وشي ځکه دوی کولای شي چې د ولس، د دولت د امنیتي ارګانو او نورو ملي او بین المللي ادارو تر منځ هم اهنګي رامنځته کړي. اوس خو هره اداره په خپل کنز کې سبق وایي او د بل په کتاب نه پوهېږي. دا پورته کارونه نه اضافي امکانات غواړي او نه څه خاص مهارت صرف د موجوده امکاناتو صحیح مدیریت ته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهداف و تشکیلات حکومتداري ی خوب

۴ نومبر ۲۰۱۴ م

به سلسله مشوره ها بـه حکومـت جدیـد، نکـات ذیـل را بـه افـراد مسـوول حکومت شریک ساختم تا مسوولیت خویش را رفع کرده باشم.

خلاصه:

اول : حکومت داری خوب پروسه است نه پـروژه. حکومـت خـوب عبـارت است از پروسـه خـوب تصـمیم گیـری ، سـهم گیـری یـا اشـتراک مـردم و احتساب میباشد. حکومـت داری خـوب تنهـا بـه حکومـت خلاصـه نمیشـود بالکه همه اداره های دولتـی و غیـر دولتـی و مـردم در حکومتـداری خـوب باید سهیم باشـد. حکومـت تنهـا چوکـات حکومتـداری خـوب را جـور کـرده میتواند و از تطبیق ان نظارت میکند.

دوم: حکومتداری خوب هم نیاز به بلو پرنت یا نقشه دارد.

در حکومتداری خوب ما باید به هر پروگرام و پالیسی که دیـزاین میکنـیم باید جواب های مثبت به نکات ذیل داشته باشیم:

الف: نقشه های حکومتداری یا دیزاین حکومت داری خـوب بایـد مطـابق ضرورت، امکانات و قابل تطبیق باشد. اگر ما تجربه های کشـور هـای دیگـر راهم میـاوریم بایـد ان را مطـابق شرایـط عینـی و ذهنـی جامعـه خـود عیـار بسازیم. نه اینکه تنها تجربه کشور های دیگر را کت و پیست کنیم. اگر مـا شرایط کشـور خـود را مـدنظر نـه گیـریم، شـاید مـا نتیجـه خـوب را بدسـت نیاوریم. که مشکل سیزده سال گذشته اوردن مودل های بود که تنها کـت و پیست شده بود که نتیجه خوب نه داده است. رول همه ادارات و مردم در تطبیق پالیسی و پروگرام ها معلوم باشد تا تداخل وظیفوی به میان نه اید.

ب: در افغانستان همیشه حکومت ها مشروعیت خـود را وقتـی از دسـت داده که اعتبار حکومت به عوامـل گونـاگون صـدمه دیـده اسـت و بـاالاخره



حکومت ها ورژیم ها سقوط یافتـه اسـت. نظـام هـا و حکومـت هـا وقتـی در افغانستان مشروعیت و اعتبار خود را از دست داده کـه تعـادل مـابین سـه پایه حکومتداری (مردم و اقوام، علما و روحانیون و دولت داری خوب) بـرهم خورده اسـت. افغانسـتان امـروزی هـم ضرورت دارد کـه حکومـت داری مـا تعادل را مابین این سه قواو نگاه دارد.

ت: نقشه حکومت داری خوب باید در همه افغانستان قابل تطبیق باشد با کمی تفاوت ها

ث: در پروگرام ها و پالیسی های حکومت داری خوب باید رابطه مستقیم مابین امنیت، انکشاف و حکومت داری خوب باشـد. یعنـی نقشـه حکومـت داری خوب تنها به یک منطقه و یـا یـک وزارت و اداره نباشـد. همـه ادارات مثل حلقه های زنجنیر باهم گیره داشته باشد و مثل پـرزه هـای ماشـین هـم زمان کار کند تا ماشین حکومـت داری خـوب بـه حرکـت درایـد و بـه منـزل مقصود که تضمین امنیت بشری و فزیکی مردم افغانستان است، باشد، تا ما یک جامعه که استوار به حاکمیـت قـانون و تعـادل اجتماعـی باشـد، داشـته باشیم و ریشه های دولت مستحکم ترشود.

د: نقشه حکومت داری خوب عام فهم باشد که به اسانی بـه مـردم و هـم به رده های پاین دولت تشریح شده بتواند. نه اینکه پالیسی ها صدها صفحه باشد و تشریح اش از نوشتن ان مشکل تر باشد.

سوم: ضرورت وخواسته های مردم:

الف: مردم ما از حکومت یا دولت خـود بـه شـکل اجمالـی خواسـته هـای زیادی نه دارد و ضرورت به پول بیشتر هم نیست.

ب: مردم میخواهد که حکومـت امنیـت نسـبی را مسـاعد بسـازد کـه در خانه های خود بیدون ترس وحراس از ارگان های دولتی و هـم گـروپ هـای

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنایت کار محفوظ باشد. فعلا مردم از ارگان های امنیتی ، څارنوالی و قضا، ولسوال و غیره درولسوالی های حراس دارند.

ت: اعضا همه ادارات باید رول بیطرفی را در دهات و ولسوالی ها نگاه کند و سلوک سلیقوی باید از بین برود.

ث: مردم میخواهد که بیدون حراس و ترس زندگی روزمره خود را به سر برساند و مردم ببیند که هر ماه و هر سال دولت افغانستان یک پروژه و یا کار خوب را به خاطر بلند بردن سطح زندگی مردم تطبیق مینماید. یعنی زندگی مردم سال به سال خوب شده برود. افغانستان در کوتاه مدت مثل سویس یا حتی مثل ممالک همسایه ها جور شده نمیتواند

طریقه عملی و عاجل برای ایجاد ثبات افغانستان

اول: شناخت از ولسوالی ها، ساختار تشکیلات دولتی، قومی و منطقوی (تشریح ضرورت دارد)

دوم: لغو شورا های متعدد درولسوالی ها و ساختن یک شورا به اساس تشکیلات قومی و منطقوی ولسوالی که دو سه نفر علما برجسته ولسوالی ها به شمول ولسوال و قوماندان امنیه عضو ان باشد. شورا جدید باید لایحه وظایف داشته باشد. اگر انتخابات ولسوالی ها صورت گرفت در ان صورت نیاز به این شورا ها نیست اما رول شورا مشورتی را بازی کرده میتواند. تا بحال لایحه برای شورا های منتخب ولسوالی های هم موجود نیست. رول ارباب، وکیل گذر و ملک به شکل جدید در حکومتداری خوب باید تقویه شود. زیرا این ها رابط اصلی مابین مردم و حکومت است.

سوم: ولسوال و والی باید بحیث امر درجه یک صلاحیت و مسوولیت داشته باشد (تشریح ضرورت دارد)

چارم: تجدید نظر به تشکیلات پولیس که مطابق ضرورت ولسوالی باشد. (تشریح ضرورت دارد)



پنجم: ارگان کشفی و پولیس و هم اردو ملی درولسوالی نظر بایدنظر به تقاضا ولسوال از پروگرام های ایشان حمایت کند. یعنی همه فعالیت های اردو ملی باید با ولسوال ها و ارگان های کشفی و پولیس هم اهنگ باشد.

ششم: شورا ها باید با حکومت همکاری نموده و در مورد ضرورت از دولت به شکل دسته جمعی حمایت کند. اشخاص مخرب را به دولت شناسایی نموده و دولت باید اجراات لازم نماید. در این صورت حکومت به شکل غیر مستقیم پاسخگو به مردم میباشد. به نظر بنده، اگر سلسله انتخابات در ولسوالی ها به شکل خوب پیش رفت، دراینده میتوانیم که ولسوال ها را هم شورا ها منتخب تعین کند. زیرا حکومتی که به مردم نزدیک باشد موثر تر و پاسخگو میباشد نظر به اینکه همه کار ها از مرکز عملی شود.

هفتم: بعد از ایجاد شورا ولسوالی، و همکاری مردم باید یک پول مشخص به کار های انکشافی ولسوالی مشخص شود و نظر به تاید شورا کار ان تطبیق گردد (تشریح ضرورت دارد)

هشتم: ایجاد مرکز های ثقل و انکشاف تسلط حکومت از ان نقطه (تشریح ضرورت دارد)

نهم: شفافیت در همه تصامیم های ولسوالی مهم است زیرا شفافت در تصمیم گیری باعث همکاری مردم میشود و جلوفساد را میگیرد و فساد نهایت کم میشود.

دهم: تعین اشخاص با کفایت و سابقه خوب که در تطبیق این پروگرام متعهد باشد. مقام ولایت از تطبیق این پروسه نظارت کند.

یازدهم: این پروگرام باید یک برنامه ملی باشد.

پروگرام های طویل المدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول: مرور به همه تشکیلات دولتی به سطح ملی، ولایت و ولسوالی ضرورت است تا ما یک اداره موثر داشته باشیم. تورم تشکیلاتی باید از بین برود. همه ریفوم ها تا بحال باعث بی ثباتی وظیفوی شده است. (تشریح ضرورت دارد)

دوم: ایجاد سول سرونت به معنی اصلی اش برای حکومت داری بهتر از پایان به بالا ضرورت است. (تشریح ضرورت دارد)

سوم: تعادل مابین مسوولیت ها و صلاحیت ها باشد (فعلا مسوولیت است اما صلاحیت وجود نه دارد)

چارم: پلان و تطبیق پروژه های کلان باالخاصه در ساحه زراعت در مناطق مختلف افغانستان

پنجم: بهتر شدن خدمات و سیستم مالیه دهی

ششم: توجه خاص به سیستم تعلیم و تربیه که پاسخگوی شرایط امروزی باشد ضرورت است. توجه خاص به ایجاد موسسات مسلکی است. (تشریح ضرورت دارد)

## د خوشحالۍ اوښکې به تویوم

د سپټمبر ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

دوستانو سلام!

اته میاشتې مو د انتخاباتو لپاره په افغانستان کې تېرې کړې، له هیواده ونه وتلم، خپل ټول سفرونو مې کنسل کړي و. دا د عسکرۍ دوره وه، ولایتونو ته مې سفرونه وکړل، له ډېرو خلکو سره مې وکتل، د وطن د سوکالۍ او آبادۍ په اړوند مې د ولس قرباني او هلې ځلې، احساسات، مینه او ولولې په کلیو او بانډو کې او هم په ښارونو کې له نږدې نه ولیدل، کله خوشحالي او کله خفګان و، کله امید او کله نا امیدي وه خو ښه ده چې د جمهوري



ریاست د ټاکنو پایلې معلومې شوې او د ډېرو تبه وشکېدله. اوس راته ډېر کسان معلوم دي چې د چوکیو د نیولو لپاره د هر راز نیرنګو او هیلو نه کار اخلي او کوششونه روان دي خو څوک به هدف ته رسېږي او څوک به نه.

نو دا مې بهتره وګڼله چې د یوې میاشتې نه زیاتې مودې لپاره له افغانستان نه ووځم او چکر ووهم، دوه درې کنفرانسونو کې برخه واخلم، د افغانستان قصې ورسره شریکې کړم، خپل خپلوان او دوستان په امریکا کې وګورم او چې راځم هم به د چوکیو وېش خلاص شوی وي او هم به د دولت مسیر معلوم وي. د حلف مراسم به د تلویزیون له لارې انشاالله ګورم. ما ته همدا خوشحالي بس ده چې یو منتخب جمهور رئیس بل منتخب جمهور رئیس ته سیاسي قدرت انتقالوي او دا د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره لویه کامیابي ده. کله به چې ما د تلویزیون له لارې په نورو هېوادونو کې له یوه مشر نه بل مشر ـ ته د سیاسي قدرت د انتقال مراسم لیدل نو باور وکړئ چې زما د سترګو نه به اوښکې بهېدلې چې آیا داسې ورځ به په افغانستان کې هم کله راشي او که نه چې زه یې وګورم؟ خو نن دا ورځ راتلونکې ده، د خفګان د اوښکو په ځای به د خوشحالۍ اوښکې تویوم. راتلونکې ستونځې به سره ګالو او کوشش به کوو چې د ولس د خیر لپاره کار وکړو که هغه د دولت په داخل کې وي او که د دولت د دندو نه بهر وي.

هر افغان په خپل چوکاټ کې ډېر څه کولی شي او د چا شاباس ته باید په طمعه ونه اوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ډاکټر عبدالله عبدالله لومړنۍ وينا د وحدت ملي حکومت له هوکړې نه وروسته

د سپټمبر ۲۵مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

نن ډاکتر عبدالله عبدالله د لويې جرګې په خيمه کې خپلو پلويانو ته خپله لومړنۍ وينا د ملي وحدت حکومت له هوکړې نه وروسته وکړه. د ډاکټر صيب عبدالله بيانيه اميدواروونکې وه چې انشاالله د ملي وحدت حکومت که په همدې روحيه خپلو کارونو ته دوام ورکړي چې حکومتي موسسات تقويه کړي، قانون حاکم کړي، د فساد مخه ونيسي او کار او مسوولیتونه اهل کار ته بې له قومي ژبني او سمتي ملحوظاتو وسپاري نو اميد دی چې د افغانستان راتلونکی به انشاالله روښانه وي. مسلحانه جنګونه نور د مسايلو حل نه دی او مثبت سياسي رقابتونه بايد دوام ولري او لا نورې هلې ځلې په دې لار کې وشي. مشکلات او ستونځې به په راتلونکې کې خامخا وي خو جنګونه چې نه وي نو پرمختګ، اجتماعي عدالت او سوکالۍ لپاره زمينه مساعدېږي. مونږ بايد ټوله انرژي د افغانستان د جوړولو لپاره مصرف کړو نه دښمنيو ته لمن وهل او يا د افغانستان د ورانولو لپاره.

## ارزښت، اهميت، معيار او تعداد د دولتي چوکيو

د سپټمبر ۲۹مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال امريکا

دولتي چوکۍ د طبيعي منابعو په شان دي. د دنيا نفوس په زياتېدو دی خو طبيعي منابع هماغه دي چې څه مونږ په دنيا کې لرو نو خبره دا ده چې څنګه د طبيعي منابعو نه مناسبه ګټه واخلو، د اصراف مخه ونيسو او د موجوده منابعو د توليد کچه زياته کړو. د افغانستان دولتي چوکۍ هم په شمار دي خو کانديدان ورته ډېر زيات دي او هېڅوک د وزارت، معينت او



ولايت نه ښکته چوکۍ هم نه غواړي نو د ډاکټر صيب اشرف غني حکومت ته به دا ګرانه وي چې يوازې په څوکيو ورکولو زيات کسان خوشحاله کړای شي. يو وخت زما خدای بښلي پلار مدير او زما د تره زوی ولسوال (حاکم) و. څه موده ډېر پخوا زه د کورنيو چارو د وزارت معين وم که د ځان توصيف ونشي نو تر يو حده موثر وم او هغه کسانو چې له ما سره يې کار کړی دی نو کېدای شي زما د خبرې تاييد وکړي. خو بيا هم چې کله دوستان او ملګري زما د پلار او د تره زوی نوم يادوي نو د هغوی د نوم يادولو سره چې مدير صيب يا حاکم صيب خطاب کوي نو تاسې باور وکړئ چې له اوسنيو وزيرانو او معينانو نه د هغوی نوم په درنښت يادېږي او زيات وزن لري. يوازې د څوکيو په نيولو او دولتي مقام په نومونو د سړي شخصيت پورته نه ځي که سم کار ونه کړای شي نو بيا د څوکيو د نومونو د توهين سبب ګرځي.

## د انتخاباتو د رايه ورکولو احسان به کله خلاصېږي؟

د سپټمبر ۳۰ مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، امريکا

دی کې هېڅ شک نشته چې د افغانستان خلکو خپل منتخب ولسمشر ته رايه ورکړې ده او د ولس مېړانه د ستاينې وړ ده. خو د دې تر څنګ د افغانانو توقعات هم ډېر زيات دي او د ولسمشر نه دا غواړي چې هر څه يو دم جوړ کړي او ټولو نيمګړتياوو ته بايد د حل لاره پيدا کړي. مونږ بايد دا په نظر کې ولرو چې ولسمشر ته څومره ستونځې د تېرو ديارلس کلونو د ناخوالو او يا په بل عبارت د تېرو درې څلور لسيزو د خود سريو، مداخلو او ګډوډيو نه په ميراث پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زراعتي سکټور ته خاصه پاملرنه په کار ده

د اکتوبر ۱۱مه نېټه، ۲۰۱۴ م کال، د امریکې د ویرمانت ایالت

د امریکې د Vermont ایالت د مڼو باغونو ساتنه او حاصلات خاص مهارت غواړي او هم حاصلاتو ته مارکېټ شته چې جوسونه ترې جوړوي او Apple Cider ورته وايي. د دې سیمې د مڼو جوسونه خاصه مزه اوخوند لري. د کدوانو عزت هم ډېر زیات دی او کدو بازار ته ورغلو چې څومره په قدر یې ساتي او د هالوین په موسوم کې یې مارکیټ خورا ګرم وي. د کابل او شاوخوا مڼو او نورو میوه جاتو او سزیجاتو سره مې مقایسه کوله چې هر کال زمونږ مڼې او نور میوه جات د سړکونو په غاړو بې قدره پراته وي چې نه مارکېټ لري، نه یې دهقان ذخیره کولی شي او نه ترې نوره کومه ګټه اخیستل کېږي. که مونږ د خپلو تولیدانو نه سمه ګټه واخلو نو د دې ضرورت به نه وي چې چرګان د برازیل نه، مڼې او ناک له چین نه، شوروموږ او جوس له ایران نه او حتی ساده اوبه له پاکستان نه وارد کړو. د زراعت سکټور ته خاصه پاملرنه په کار ده چې خوراکي مواد زیات او ارزانه ولس ته عرضه شي او هم باید د ساتلو او صادرولو سهولته ورته برابر شي.

## یو لاروي ته د ملا نصرالدین ځواب

د اکتوبر د میاشتې ۲۰مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، ویرجینیا، امریکا

وايي چې یو لاروی پر لاره روان و چې ملا نصرالدین په مخه ورغی ، لاروي له ملا نصرالدین نه پوښتنه کړې وه چې تر فلاني کلي پورې به څو ساعته وخت ونیسي؟ ملا نصرالدین ورته ویلې و چې لار وهه، لاروی چې روان شوی و نو ملا نصرالدین ورته له شا نه غږ کړی و چې دوه ساعته به ونیسي چې تر فلاني کلي پورې ورسېږې. لاروی بېرته راستون شوی و او ملا نصرالدین ته یې



ویلي و چې ولې دې دا خبره مخکې نه کوله؟ ملا نصرالدین ورته ویلي و چې ما درته ځکه مخکې ځواب درنه کړ چې ستا د مزل سرعت ماته معلوم نه و نو کله چې تا حرکت وکړ او ستا د مزل سرعت مې ولید که په دې مزل حرکت ته دوام ورکړې په دوه ساعتونو کې هغه کلي ته رسیدلی شې.

که جمهور رئیس ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی په همدې سرعت روان وي نو انشاالله په پینځو کلونو کې به د وخت په مقایسه څو چنده زیات کار وکړي ځکه د افغانستان جوړول زیات او موثر کار ته اړتیا لري. په تېرو درېوو اونیو کې چې کومې پرېکړې جمهور رئیس احمدزي کړي دي په ځای او سنجنیده پریکړې دي. د دولت په چوکاټ کې د اشخاصو تغیر او برطرفي همېشه اسانه کار دی خو ستونځه دا ده چې ایا نوي مقرر شوي کسان به د بر طرف شوو کسانو په پرتله سم کسان وي او که نه؟ د کرزي صیب په دوره کې هم تغیر او تبدیل زیات و خو هر وروستی شخص به د مخکني چارواکي په پرتله ضعیفه کس و. کوم تغیرات چې جمهور رئیس احمدزي تراوسه پورې راوستي دي د تېرو کسانو په پرتله سم او ښه دي. امید دی چې دا لړۍ دوام وکړي او کابینه هم د اوسنۍ کابینې نه څو چنده ښه وي تر څو د ولس اعتماد نور هم په نظام باندې پیدا شي.

## د خبر نه شتون په خپله ښه خبر دی

د نومبر ۸مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

دا څو ورځې په سفر وم او د فیسبوک نه لرې وم خو نن مې چې د فیسبوک خپله پاڼه بېرته کړه نو سیاسي راکړه ورکړه او په سیاسي مسایلو خبرې ډېرې کمې وې. زما په اند چې سیاسي مسایل تول تر کنترول لاندې راغلي دي. په انګلیسي ژبه کې یو متل دی چې وايي: No News is Good

(c) ketabton.com: The Digital Library



News یعنې د خبر نه شتون په خپله ښه خبر دی ځکه هغه څه چې د میډیا لپاره خبري ارزښت لري همېشه بد خبر وي.

## دا خلک څنګه لینونه جوړوي او څنګه مقررېږي

د ډسمبر لومړۍ نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

تېر ماښام مې یو څو کسه مېلمانه درلودل چې په سیاسي حالاتو ډېر اګاه او پوه کسان وو نو په حکومت کې یې په تقرر او تبدیلیو باندې خبرې کولې نو یو کس وویلې چې زه حیران دې ته یم چې دا بعضې کسان څنګه لینونه برابروي او بیا برق تولیدوي چې ځانونه مقرروي. هغه بل کس ورته وویلې چې وروره دا د برق د تولید منبع هم په څو ډوله دي. بعضې جنراتوري منبع د برق د تولید لري، د بعضو د برق د تولید منبع آبي وي او بعضې د سولر نه انرژي اخلي نو ځکه دوی څو قسمونه لینونه جوړوي او د برق د تولید د منبعو په تناسب د دوی لینونونه خپل ځای ته غځول کېږي. مطلب دا چې د بعضې لینونو جوړول پرمصرفه، د بعضې لینونو جوړول مصرف متوسط وي او د بعضې لینونو جوړول ډېر پرمصرفه وي نو څوک چې د کومې منبع نه برق تولیدوي نو د منبع د مصرف په تناسب چوکۍ هم نیسي. د چا چې منبع ضعیفه وي نو که هر څومره لینونه وغځوي او ښه ظرفیت د برق د انتقال هم ولري په درد نه خوري. نور تاسې پوه شئ او تبصرې مو.

## دوه قصې تحلیل یې ستاسې

د ډسمبر ۲۱مه نېټه، کابل ۲۰۱۴ م، کابل

اوله قصه: د ثور د کودتاه نه وروسته زما یو د ترور میره، خدای دې وبښي چې استاد هم و، یوه ورځ په خلقیانو ډېر په قهر و نو دېرې ته راغی او د



کټ سر ته په غصه کېناست او څادر یې له ځمکې وویښت او ویې ویل چې ته دې خلکو ته ګوره چې هېڅ منطق نه لري او وایي چې زمونږ انقلاب په شا نه ځي، هر شی چې مخکې ځي وروسته هم ځي خلقیانو دا انقلاب مو ودروه زه په کې نور نه ځم.

دویمه قصه: یو سړي قرآن شریف غلط وایه، یو لاروی چې په لاره تېرېده نو دې سړي ته یې وویلې چې دا قرآن د چا دی؟ لوستونکې ورته وویل چې دا زما د پلار دی. لاروی ترې روان شوی دی او هېڅ یې ورته ونه ویل. لوستونکي ترې پوښتنه وکړه چې دا پوښتنه دې څنګه وکړه؟ لاروي ورته وویل که تا ویلي وای چې دا قرآن د الله پاک دی نو ما به درته سم درښودلی وای چې سم یې وایه او غلط یې مه وایه خو تا چې وویل چې دا ستا د پلار کتاب دی نو دا ستا خوښه ده چې د خپل پلار په کتاب کې غزلې وایې او که چاربیتې. که دا نظام د ملت وي نو د دې حکومت چارواکي په غلطه روان دي او که دا نظام د یو څو کسو تر منځ منحصر وي او خپل ملکیت یې ګڼي نو نوره دا د دوی خوښه چې څنګه یې چلوي.

## فساد او فاسدین ټولنه خوسا کوي

د ډسمبر د میاشتې ۲۶مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کولن، المان

په دې خبره خو مونږ ټول پوهېږو چې رشوت ورکول، رشوت اخیستل او په منځ کې دلالي کول هم د اسلام له نظره او هم د اخلاقي معیارونو له نظره بد کار دی او د درې واړو کسانو ترمنځ په ګناه او هم په عمل کې هېڅ فرق نشته دی. هغه څوک چې په دې کارونو اخته یا مبتلا دي نو دوی مریضان دي ځکه زه ورته جوړ کسان نه شم ویلی بلکې دوی د ګنده یا خوسا مېوو په شان دي چې سالم کسان هم له ځانونو سره خوسا کوي او په دې مرض یې اخته کوي چې ټولنه لا نوره هم فاسده شي. که ګنده مڼه د مڼو د کریت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري نشي نوري ډېرې ښې منې هم له ځان سره خوسا کوي او چې څومره ژر له کريټ نه لرې شي هماغومره ژر ترې نورې منې سالمې پاتې کېدای شي.

په هر حال، زما غصه هغو کسانو ته راځي چې ځانونو ته د پاکو کوترو خطاب کوي، ځانونه د مدني ټولنې فعال غړي بولي او بیا همدوی ته د پیسو په مقابل کې ډونرانو ته د فیصدۍ پیشکش کوي، پروژې اخلي او د جوال خوله ورسره نیسي. تاسې او خدای چې داسې کسان د هغو کسانو نه چې په فساد کې اخته یا غرق دي سل ځله زیات فاسد نه دي. په انگلیسي ژبه کې دوی ته White Color Thieves یا د سپینو جامو او زمونږ په اصطلاح نکتايي داره غله ورته وايي. همدا کسان کله کله زمونږ د بیچاره ولس د پاکو احساساتو نه هم سؤ استفاده کوي.

## په افغانستان کې د هیڅ شي کمبود نشته خو هیڅ نه لرو! څه مطلب؟

د جنورۍ دویمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینا، امریکا

دا ځکه چې د افغانستان هر سړی د هر څه متخصص دی خو بیا که دوه درې پوښتنې ترې وکړې نو په گډووډو سر شي او د فتواگانو مفتیان خو ډېر زیات دي چې سمدستي درته د جنت او دوزخ زېری هم درکوي. د سیاسي چارو کارپوهان خو هم له چا نه کم نه دي، هر سړی ډاکتر دی او د علاج نسخې وړاندې کوي، دا کارپوهان خو هره ورځ دا وطن په تشو خبرو جوړوي او ورانوي یې که همدې کارپوهانو ته کله واک رسېدلی نو بیا یې نه پاکي وه او نه د اداري د کولو استعداد او مدیریت درلوده. نظامي کارپوهان همدا وايي چې طیارې نشته او ټانکونه نشته خو چې درلودل مو څه توره مو پرې وکړه. دا خو لا پرېږده چې دا کاریوهان بیا نورې دنیا ته نصیحتونه کوي چې



دا باید وکړي او دا وکړي. یاره ستاسې خبرې څوک نه اوري او نه تاسې دومره غټ قوت یاستئ چې د دنیا د سیاست مسیر ته تغیر ورکړئ. غم خود را بخورید که لاغر نشوید. د تېرو څلوېښت کلونو تجربه نه هم عبرت نه اخلو چې څه مو وکړل، چا راباندې وکړل او څه مو لاسته راوړل. که په خپلو ستونځو فکر وکړو او خپل وطني حللارې خپلو ستونځو ته ولټوو نو ښه به وي په دې غټو غټو خبرو څه نه کېږي.

د پورته لیکنې په هکله ډېرو دوستانو مثبت نظرونه ورکړي و چې دوه درې یې دلته را انتقالوم:

**وهاب صدیقي صیب لیکلي و:**

ښاغلی میاخېل صاحب! زه ستاسې له نظر سره باالکل موافق یم نظر ورکول ، فتوا ورکول، نصیحت کول مشورې ورکول او نورې خبرې خو مفتې دي خو عمل کول ورباندې یو سخت کار دی که ډاکټر صاحب اشرف غني یا ډاکټر صاحب عبدالله عبدالله دغسې خلکو ته وواېي چې راځه زما په ځای کښېنه او دا وطن جوړ کړه ځکه چې ته زمانه ورباندې ښه پوهېږې، نو بیا وگوره چې دغه خلک کومو سوړو ته ننوځي بیا یې والله که په تلویزیون کې وگورې یاکومه جلسه کې چې مفتې نظریې یا مفتې مشورې ورکړي .

**یو کس په نوم د اصیل گل چې شاید مستعار نوم یې وي لیکلي و:**

تاسې خو یوه توره وکړه هغه دا چې بشپړ غیرقانوني سیاسي جوړ جاړی موپه ولس ور وتاپه حال دا چې د قانون واکمنۍ نه ملاتړ نه کول د ټولو په زیان وه او ده. د غني او عبدالله سیاسي جوړ جاړې ۱۰۰٪ غیر قانوني دی، د ټولو قوانینو نقض دی. د قانون په رڼا کې نه غني او نه عبدالله د دې حق لرلو چې داسې غیر قانوني سیاسي جوړ جاړی وکړي او د قانون واکمنۍ څخه سرغړونې وکړي. ولس رایې د قانون واکمنۍ او د ټاکنو د قانون عملي کولو له پاره کارولې وي نه له قانون څخه د سرغړونو لپاره. که رښتیا افغانانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان ګټو ته ژمن یاست نو مهرباني وکړئ هر هغه شخص او ډله چې د قانون واکمنۍ ملاتړ نه کوي، نور دې د خدای ج لپاره د دې ډول شخص او ډلې له ملاتړ څخه لاس په سر شئ، څو رښتېنې ولس ژغورنه او سیال کېدل شونې کړي او سوله او امنیت ټېنګ شي. قانون واکمنۍ نه ملاتړ نه کول د ټولو په زیان وه او ده.

**ما د پورته لیکنو په ځواب کې بیا ولیکل:**

اصیل ګل صیب! په اډیالیست لحاظ ستاسې خبره سمه ده خو انسان همېشه د الهي او هم موضوعي قوانینو نه سرغړونه کوي او بیا په داسې هېواد کې لکه افغانستان چې مجبوریتونه او ستونځې زیاتې دي، هم الهي قوانین او هم نور وضعي قوانین د ولس، چارواکو او هم علماوو او د دین د ټیکه دارانو له خوا تر پښو لاندې کېږي او دا سلسله به تر قیامته روانه وي. نو پر دې اساس دا به مشکله وي چې د ایډیال حالت په طمعه اوسو. خو دا ضروري ده چې په هېواد کې داسې حالت رامنځته شي چې هم د ولس زیاته برخه له فساد نه ځان وساتي او هم زیات دولتي چارواکي په فساد کې دخیل نه وي. د سیاسي علومو پر اساس دولت هم د مشکلاتو حل کېدای شي او هم دولت د مشکلاتو د زیاتوالي لامل کېدای شي نو په تېرو څو لسیزو کې ټولو رژیمونو د افغانستان مشکلات زیات کړي او امید دی چې د دې رژیم په اخره کې مشکلات لږ کم شي او که نه بیا به تاریخ او ولس په دې نظام هم قضاوت وکړي. ستاسې خبره سمه ده چې ولس د حالاتو د سمېدو په خاطر رایه ورکړې نه د حالاتو د ورانېدو په خاطر او کوشش به کوو چې د دولت حمایت وکړو. که حمایت ونه کړو نو ملک به له خرابۍ سره پخپله مخامخ وي.



## ښه حکومتداري باید د څو کسانو ترمنځ د خپلو ګټو د ساتلو په بیه قرباني نه شي

د جنورۍ ۱۵مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

د افغانستان موجوده حکومت ته ډېرې ستونځې په میراث پاتې دي خو ډېرې ستونځې مونږ افغانان په خپله حل کولای شو که سیاسي اراده مو قوي پاتې شي. ښه حکومتدارۍ کې نیت او عمل دواړه مهم دي. د بېلګې په توګه رشوت نه اخیستل، د خدمت نیت درلودل، مشوره له یو بل سره کول، په خپل ماحول کې بد کسان نه پرېښودل، د دولت په مال زړه سوی او امانت ساتل، د قانون منل او تطبیق، له یو بل سره مرسته او همدردي او داسې نور کارونه نه تخصص ته ضرورت لري او نه بهرنیو مرستو ته. د موجوده حکومت لپاره زما په اند لویه ستونځه دا ده چې څنګه هم په خپلو منځو کې وحدت وساتي او په عین حال کې حکومتداري هم ښه کړي. ښه حکومتداري باید یوازې د څو کسانو ترمنځ د وحدت ساتلو قرباني نه شي ځکه که حکومتداري ښه نه شي نو یوازې څو کسه به سره په ګټو کې شریک وي خو د ولس ملاتړ به نه وي او چې د ولس ملاتړ نه وي نو بیا مشکله ده چې حکومتداري ښه شي، امنیت رامنځته شي او هم به مشکله وي چې نړیوال کمکونه دوام پیدا کړي. چې حکومتداري ښه نه شي نو انکشاف په خپله نه رامنځته کېږي او په همدې شکل به زمونږ ستونځې په خپل ځای پاتې وي او ستونځې به لا نورې هم زیاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جنګ ښه دی که صلحه؟

د فروري دويمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نظامي ګنجوي وايي:

نـه دانـش باشـد آن کـس را نـه فرهنـګ
کـه وقـت آشـتی پـیش آورد جنـګ

کله چې د صلحې خبرې شي نو بيا بعضې کسان هماغه زړې سبستې يا تـا ويلې ماويلې وايي او فکر کوي چې يا به شوروي اتحاد بيا راژونـدی کېـږي او يا به فکر کوي چې ګوندې هر څه به په خيالي او ارمـاني شکل حـل کېـږي. داسې کسان نظامي ګنجوي په دغه پورته لنډ ولې پرمعنی او پر محتوا بيـت کې په ډېره ښه توګه معرفي کړي دي چې دوی نه پوهـه لـري او نـه فرهنـګ چې کله د صلح خبرې کېږي نو دوی بيا جنګ ته لمن وهي.

په ۲۰۰۲م کال کې د ببړنۍ لويې جرګې په وخت کې يو مشر تـه چـې اوس نه شته او خدای ببښلی دی ورغلو چې د هغه د مقابل لـوري پـه هکلـه ورسره خبرې وکړو او د دوی تر منځ صلحه راولو. دغه مشر چې له وېـرې پـه جـلال آباد کې د سپين غر هوټل له لويې ودانۍ نه بهر په وړو خونو کـې اوسـېده او د اوړي ګرمي هم وه نو لاپې شاپې يې شروع کړې، ما ورته وويل چې ګوره! له وېرې په دې سره اوړي کې دننه په خونـو کـې ناسـت يـې، هـم دې ځـان لـه ګرمۍ نه وسېځه او هم دې مونږ له ګرمۍ نه وسوځولو کـه نـه د سـپين غـر هوټـل بېـرون ساحه څـومره ښايسـته سـيوری لـري او تـه تـرې ګټـه نـه شـې اخيستی نو همدا د وېرې نښه ده که نه ولې بېـرون نـه کېنـې او هسـې لاپـې شاپې وهې. د دښمنۍ همدا ګټه ده چې هم ځان تباه کوي او هم نور.

له پورته مطلب نه زمـا هـدف دا دی چـې اوس هـم پـه اګاهانـه او يـا غيـر شعوري توګه بعضې کسان د جنګ طرفداري کوي هغه که لـه هـرې خـوا نـه



وي فکر کوي چې په جنګ کې خير دی او خپلې ګټې لاس ته راوستلی شي نو زما په اند جنګ کې خير نشته او هغه څه چې پـه صـلحه کـې لاس تـه راوړل کېږي هغه د جنګ د لارې نه نشي. لاس تـه راوړل کېـدای او کـه د جنګونـو لـه لارې اهداف لاسته راوړل کېدای شوای نو مونږ خو په عملي توګه دا ۳٦ کاله جنګونه وکړل اوڅه مو په لاس راونه وړل. مونږ بايـد لـه ځـانونو سره قضـاوت وکړو چې څه مو لاسته راوړي او که نه؟

# د عزيزتوت او ښايسته توب ترمنځ توپير

د فرورۍ ۴مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

څو کاله دمخه استاد غلام دستګير خاورين زما کـور تـه راغـی او راتـه يـې وويل چې له پل چرخي سره په لوحه يې ليکلي دي چـې بـه کابـل زيبـا خـوش آمديد. نو ماته يې وويل چې که دا د زيبا تورى يعنې کليمه ترې لـرې شي او په عوض يې وليکي چې به کابل عزيز خوش آمديد نـو ښـه بـه وي ځکـه پـه کابل کې د نورو سيمو او هېوادونو په پرتله د زيباتوب څه نه ښکاري خـو دا چې زمونږ د هېواد پايتخت دی او مونږ ته عزيز دی نو جـدا خـبره ده. ځکـه يو شی به ښايسته نه وي خو دا چې مونږ ته ګـران او عزيـز وي نـو د بـل هـر ځای په پرتله مونږ ته ګران دی.

د استاد دا خبره ډېره پر ځای وه. که افغانستان هره څـومره وران شي، هـر څومره ستونځې په کې وي خو زمونږ نه هېرېږي که هر چېرته اوسو او په هـر حالـت کـې اوسـو او د دې علـت دا دی چـې چېرتـه چـا پـه وړوکتـوب کـې خړپوسې کړې وي هماغه ځای سړي ته ډېـر ګـران وي. کـه د مکـې ښـار تـه تللي ياستئ، نو ليدلي به مو وي چې له سپېرو غرونو نه بل څه پـه کـې نشـته دي او اوس هم څنګه چې لازمه ده هغسې کار هلته نه دی شوی، نـه د ښـار نظافت سم دی او نه ارکيتکچر يا انجينري ساختمان له پلوه د ښار ښايسـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



والی په نظر کې نيول شوی دی. که دا حالت له پينځلس سوه کالـه د مخـه سره پرتله کړو نو هغه وخت خو د مکې مکرمې د ماحول نه بهر اوبـه هـم نـه وې خو چې کله زمونږ پيغمبر حضرت محمد صل الله عليه وسلم هجرت کاوه نو مکې مکرمې ته يې مخ راواړوه او ويې ويلې چې زما خو درنه زړه نـه کېږي خو دا چې اهل د دې ښار سم نه دي نو ځکه درنه مهاجر کېږم او وايـي چـې په مخ مبارک يې اوښکې هم راتوی شوې.

دلته مې پخوانۍ خاطره راپه ياد شوله:

د پوهنتون په وخت کې به چې لږ فرصت پيدا شو نـو اکـثره محصـلين بـه خپلو سيمو ته تلل نو زه هم به خپل کلي ته مياشت کې يو کرته يـا دوه ځلـې تللم. په هغه وخت کې دا ښايسته او ښې موټرې نه وې نو له جلال اباد نه به چې خاص کونړ ته تللو نو يوازې درې ډوله روسي موټرې وې چې په ورځ کـې به يې يوه پيره کوله. دې موټرو ته يې گاز (لاری)، واز (شاته يې د بينچونو په شکل دوه خوا سيټونه درلودل) اوجيپ ويلې. د جلال آباد نه خـاص کـونړ تـه کرايه د گاز شل افغانۍ، د واز او جيپ ديرش افغانۍ وه. که په ټاکـل شـوي وخت کې به ونه رسېدلې نو بيا به دې شپه په جلال اباد کـې وه. مـا شخصـاً کوښښ کاوه چې په واز موټر کې لاړ نه شم ځکه په سيټونو بانـدې بـه ترپـال خپورو او د موټر د تيلـو د بـوی لـه وجهـې بـه راتـه کـانگې راتللې. د ډريـور ترڅنگ په مخکې سيټونو کـې بـه همېشـه خـالي سيت نـه و ځکـه هغـه بـه مشرانو يا هغه کسانو ته ريزرف يا ورکول کېدل چې له چـا سره بـه ښـځې يـا زنانه وې. د جلال آباد نه خاص کـونړ تـه پـه هغـه وخـت کـې درې ساعته د دوړو نه ډکه خامه لار وه او چې کله به خپل کلي ته ورسيدو نو بيا خـو چـا د دوړو له وجهې نه پيژندلو. يو ځای چې د ترې (کوتل) په نامه و نو چـې هلتـه به ورسېدو، ډريور به ټولو سپرليو ته وويل چې د موټر نـه ښـکته شي او مـونږ به پياده د موټر تر شا تللو او الحمدالله به مو ويله چې موټر په شا رانشي او د



گړنگ نه ښکته ونه غورځېږي. د کلينر سره به ډنډه پنج (د لرگـي کنـده وه چې لاستی به يې درلوده) و او د موټر تر شا به ورو ورو روان و که موټر شـاته راشي نه د ټاير شاته به يې ډنډه پنچ کيښوده. يو کس به د مـوتر نـه مخکـې منډې وهلې که د هغه بلې خوا کوم موټر راروان وي نو ورته اشاره وکړي چې په يو ځای کې ودرېږي چې دا موټر تېر شي ځکه په ټول سـړک بـه دوه مـوټر سره يو ځای نه شول تېرېدلی.

دا چې په هغه وخت کې محدود ډريوران ول او ټولو پېژندلو نو زما بـه يـې لږ خيال ساتلو. څه د کورنۍ په خاطر او څه هم زما د شخصي رابطه په وجهه چې لږ ټيپ به مو ورکاوه. مونږ محصلين و نو زمونږ ټيپ هم څه زيـات نـه و پينځه يا نهايت لس افغانۍ وې. څنگه به چـې د کـونړ اډې تـه ورسـېدم نـو ډريور به راته وويلې چې ستا ځای مـې درتـه سـاتلی دی او بـل چاتـه يـې نـه ورکوم. زما معتبر ځای د گاز په موټر کې د ډريور تر څنگ په پايدان بانـدې ودرېدل و چې معمولاً دوه کسه هلته په ولاړه ځايېدل او په ټوله لار کې به مو د ډريور د دروازې چوکاټ ټينگ نيولی و او په پايدان به ولاړ وو. يـو لاس بـه مو چې ستړی شو نو په بل لاس به مو د موټر دروازه کلکه نيولې وه او که لږه بې پروايي به مو وکړه نو د گاز د موټر نـه د غورځېـدو احـتمالات ډېـر زيـات وو. د جيپ موټر مهم ځای ما لپاره د جيپ په ميرگـاټ (هغـه ځـای چـې د موټرپه ټاير باندې و او د جيپ چـراغ هـم هلتـه و) بانـدې ناسـته وه. دا هـم اسانه کار نه و چې درې ساعته به ما بايد د ميرگاټ وسپنه کلکـه نيـولې وه. په دواړو حالاتو کې ښه والی دا و چې د دوړو گرد به لږ کم و او چې کلـه بـه موټر په لاره د انجن د يخوالي په خاطر اوبو ته ودرېـد مـونږ بـه لـه مـوټر نـه دانگ واهه او د موټر مخکې به مو منډه کړه چې لـه دوړو نـه لـږ ځانونـه بـچ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې سفر او بيا کلي ته رسېدل، د خپل خپلوانو او د مورجانې ليدل يو خوند او کيف درلود چې باور وکړئ په لس ګونو ملکونه ما ليدلي دي خو هغه خوند په کې نشته دی. دا مبالغه نه ده. اوس هم زه د اروپا، عربو، امريکا او نورو هيوادونو په پرتله په افغانستان کې خوشحاله يم او په افغانستان کې خپل کلی او ولسوالۍ کې ځان مصٌوون او خوشحاله احساسوم. که نه زمونږ کلی ډاګ دی، کورونه مو هم چندان ښه نه و خو خاص کيف يې درلود چې په دې ليکنه کې يې سړی نه شي تمثيلولی.

هغه چا چې په افغانستان کې خرپوسې کړي دي، هغه که هر چېرته وي افغانستان يې له ياده نه وځي او افغانستان پرې ګران دی ځکه مونږ ته افغانستان عزيز دی البته بعضې سيمې يې ښايسته هم دي. هېڅوک دې يو بل ته نه وايي چې افغانستان له تا نه پر ما ډېر ګران دی خو که څوک له خپل وطن سره خيانت کوي هغه کسان جلا دي. د افغانستان د اساسي قانون په اساس، افغاني تابعيت له هيڅ افغان نه سلبېدلی نه شي نو دا چې افغانيت له چا نه اخستل کيدلی نه شي نو افغاني مينه هم د خپل وطن د چا نه اخستل کېږي نه. په شعوري او غير شعوري توګه خپل افغان ورور ته بايد په کمه سترګه و نه ګورو.

## د شخصيت وژنې او د پاليسۍ پر سر د اختلاف نظر توپير

د فرورۍ د مياشتې اتمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

په دې ورځو کې پاکستان ته د پوځي زده کړو لپاره د شپږو ځوانو صيب منصبانو د لېږلو په هکله په مطبوعاتو کې بېلابېلې تبصرې او مرکې کېږي چې د پاليسۍ د اختلاف پر ځای د دې ځوانانو د شخصيت وژنې سبب هم



ګرځي او سم کار نه دی بلکې د دې ځوانانو په هکله جفا ده. په سياست کې دايمي دښمن او دايمي دوست نشته دی. يو هېواد به دې نن دښمن وي خو سبا ته به له هغه هېواد سره دوستي کوې. په سياست کې راکړه ورکړه ده او څنګه کولی شې چې د نورو هيوادونو سره د اړيکو په درلودلو سره خپلې منافع وساتې.

که د افغانستان تيرو څلور لسيزو ته نظر واچوو او حتی مخکې له هغې نه هم که وګورو نو د افغانستان اکثريت ولس نورو هېوادونو ته لکه اروپا، شمالي امريکا، استراليا، ايران، پاکستان، پخوانی شوروي اتحاد، هند، عربي هيوادونو او يا د اسيا نورو هيوادونو ته مهاجر شوي او يا هلته يې زده کړې کړې دي او حتی په جنوبي امريکا او افريقايي هيوادونو کې هم افغانان پيدا کولی شئ. زمونږ د جمهور رئيس نه نيولې د دولت د ښکته ليکو پورې اکثريت چارواکي او د افغانستان منتخب مشران دغو هيوادونو ته مهاجر شوي او اکثريت په بهرينو هيوادونو کې زده کړې کړې دي. که قضاوت دا وي هر افغان که په کوم بهرني هيواد کې اوسيدلی او يا هلته يې زده کړې کړې وي نو هغه ټول به د هغه هيواد ګټو ته د افغانستان پر ګټو ترجيح ورکوي او يا به هغو هيوادونو ته جاسوسي کوي نو بيا خو زمونږ ټول ولس په دې کټګورۍ کې راځي ځکه اکثريت مطلق زمونږ ولس نورو هيوادونو ته تللی او يا هلته يې زده کړې کړي دي. که قضاوت دا وي چې نه جاسوسي بد کار دی او دا په دې پورې اړه نه لري چې څوک چېرته اوسېدلی او يا چيرته يې زده کړې کړي دي نو بيا مونږ دا نه شو ويلی که په فلان او فلان هيواد کې څوک اوسيدلی او يا هلته يې زده کړې کړي وي نو هغه به جاسوسان وي.

که د حکومت په پاليسۍ انتقاد وي چې ايا د پاليسۍ په لحاظ پاکستان ته د ځوانانو ليږل د پوځي يا نورو زده کړو لپاره په اوسني وخت کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان د افغانستان پر ضد مسلح ګروپونه روزي او تقویه کوي یې سم کار دی او که نه، دا جلا خبره ده. د پالیسۍ په سر اختلاف نظر سم کار دی او دا د افغانانو حق دی چې د حکومت په پالیسیو انتقاد وکړي. اما د افغانانو په هکله مخکې له مخکې قضاوت کول جفا او ګناه ده. زما په اند د افغانستان موجوده حکومت تر اوسه پورې د پاکستان پر وړاندې د پوره نرمښت نه کار اخیستی او خپلې ژمنې یې پوره عملي کړې دي خو لا تر اوسه پورې د پاکستان حکومت له خوا څنګه چې لازمه ده پوره ګامونه نه دي اخیستل شوي چې دا وښايي چې واقعاً د افغانستان په هکله د پاکستان په پالیسۍ کې عمیق بدلون راغلی دی او که نه؟ ځکه د پاکستان حکومت د افغان مهاجرینو په ایستولو پیل کړی او هره ورځ په سل ګونو کډې افغانستان ته رااړوي او یا افغانان په پاکستان کې ځورول کیږي او هم د ډیورند د کرښې په دواړو خوا کې تخریش کوونکي فعالیتونو ته دوام ورکوي.

په مطبوعاتو کې دا بحثونه ډېر ګرم دي چې ایا د افغانستان حکومت، پاکستان ته د شپږو تنو پوځي صیب منصبانو لېږل ښه کار کړی دی او که نه؟ او ځینې دا هم وایي چې دا صیب منصبان به جاسوسان تربیه شي او پاکستان لپاره به په راتلونکي کې جاسوسي کوي. ما چې د دې شپږو ځوانو صیب منصبانو عکسونه ولیدل نو دا ځوانان د افغانستان په یو قوم پورې اړه نه لري او داسې بې مسؤولیته خبرې د دې صیب منصبانو د شخصیت د جریحه دار کولو لپاره یوه لویه ضربه ده چې دا سم کار نه دی او زما په اند دا د دې ځوانانو په هکله شخصیت کشي او هم د دوی په هکله یوه لویه جفا ده ځکه دوی په خپل سر هلته نه دي تللي بلکې د افغانستان حکومت هلته لېږلي دي. د جمهور رئیس کرزي په دور کې هم په سل ګونو افغانان پاکستان ته زده کړو لپاره تللي دي او حتی د پاکستان حکومت بېلابېلو مشرانو لپاره سهیمه هم درلوده خو دا چې دا شپږ کسه ځوانان اوس هلته د



فوځي زده کړو لپاره دولت لېږلي او مونږ لا د مخه د دوی په هکله قضاوت کوو زما په اند دا د دې صیب منصبانو په هکله او یا د دوی په هکله تصور کول چې ګوندې دوی به جاسوسان شي لویه جفا ده.

## د انګېزې شینوارۍ په یاد

د فرورۍ د میاشتې ۱۷ نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

پرون د فرورۍ د میاشتې په اولسمه نېټه د ننګرهار ولایت د ولایتي شورا غړې انګېزه شینوارۍ چې د چسپکي ماین په ذریعه چې د هغې په موټر کې ځای پر ځای شوی و ځو ورځې دمخه زخمي شوې وه، په کابل کې د شهید محمد داؤد خان په څلور سوره بستریزه رغتون کې له دې فاني دنیا سره خدای په اماني وکړه او شهیده شوه. اناالله و انا الله راجعون. د دې شهیدې په یاد مې په فیسبوک کې ولیکل:

هره قطره د وینې چې په هر منظور اوس په افغانستان کې تویېږي که هغه د وکیل صاحبې انګېزې شینوارۍ وه او که د نورو افغانانو د غندلو وړ ده. ډېرې وینې تویې شوې، ډیر بېګناه افغانان د خپلو او پردو په لاسونو ووژل شول نو تر کله به مونږ پوهېږو چې خپل ورونه او خویندې د پردو او یا د خپلو په لمسون ونه وژنو، خپل وطن وران نه کړو او د مینې او محبت ژوند وکړو او د یو بل سره ورورې وکړو. که هر څه ولرو خو مینه د خپلو خلکو او وطن سره نه وي نو مونږ هېڅ نه لرو او همداسې به د بدبختیو په سیلابونو کې لاهو اوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مدیریت او قوماندانی

د فبروری د میاشتې ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

په ملکي ساحه کې ښه اداره چي ته مدیر او په نظامي ساحه کې ورته قوماندان وايي. د مدیریت او قوماندانی یوه برخه علمي ده چې د مدیریت یا قوماندانی په ساحه کې زده کړې او مطالعه مهمه ده او تاثیر لري خو زما په اند د مدیریت او قوماندانی لویه برخه د انسان په فطرت کې اغږل شوی جوهر دی چې د انسان نه ښه مدیر یا قوماندان په عملي ساحه کې جوړوي. مدیریت په ورځني ژوند کې د کور له مدیریت نه نیولې، د کلي، ولسوالی، ولایت، مملکت او د دنیا په کچه ضروري خبره ده. ما ډېر کسان لیدلي دي چې د مدیریت په تیوری ښه پوهېږي خو ښه مدیر نه وي او همداشان ما ښه اقتصاد پوهان لیدلي چې په تیوری ښه پوهېږي خو ښه بزنس مین کیدی نه شي او همدا شان ښه سیاست پوه ښه سیاست مدار کیدی نه شي. ښه مدیر، بزنس مین، قوماندان او سیاست مدار باید د تصمیم نیولو په وخت کې ریسک یا خطر قبول کړي، فکر یې باید تېز وي چې د راټولو شوو او یا موجودو معلوماتو په رڼا کې اوضاع او وضعیت تحلیل او عاجل تصمیم ونیسي. که تصامیم ډېرو مشورو او د کتابونو لوستلو ته په تعویق واچول شي نو بیا به وخت د وخته تیر وي. زما په اند که یو مدیر ووایي چې زه ډېر مصروفه یم او وخت نه لرم نو دا د دې معنی لري چې دی ښه مدیر نه دی ځکه د وخت په مدیریت نه پوهېږي او چې د وخت په مدیریت کې څوک ستونځه ولري نو ته پوه شه چې د داسې کس نه ښه مدیر نه شي جوړیدی. زما د شخصي تجربې پر اساس ښه مدیر په دوه حالاتو کې ډېر مؤفقه وي اول دا چې ښه، متعهده، پوه او پاک ټیم د ځان په ماحول کې راټول کړي البته دا کار د مدیر د انسان پیژندنې او شناخت پورې اړه لري او دویمه برخه یې د کارونو دلیگشن (Delegation) یا کارونه خپلو مناسبو اشخاصو



ته سپارل دي. داسې نه چې د برقي کار ترکان ته حواله شي او د ترکان کار موچي ته. په مدیریت کې د نه تصمیم نیولو نه خراب تصمیم هم ښه دی ځکه د خراب تصمیم نیولو په موجودیت کې خو دا چانس شته دی چې یو څه کار وشي خو د نه تصمیم نیولو په صورت کې د کار کولو امکان صفر وي او حتی منفي خواته د تګ امکانات هم ډېر وي.

## د وطن معماران

د فبروری د میاشتې ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

زمونږ قضاوتونه بعضې وخت د حافظ د سوټي غوندې دي چې په هر چا څنګه ولګېد هغسې لګېږي او زیاتره وخت زمونږ قضاوتونه په واقعیتونو ولاړ نه دي. ډېری کسان قضاوت په سلیقوي توګه کوي او زیاتره وخت یو څوک مونږ سم نه پېژنو خو قضاوتونه مو داسې وي چې ګوندې مونږ هغه کس له کلونو کلونو راپدېخوا پیژنو او د هغه د ژوند هر څه راته معلوم دي نو ځکه قضاوت کوو. کله چې په نظامونو کې فساد اوج ته ورسېږي نو بیا د ولس پر وړاندې هر چا چې په حکومت کې کار کړی وي، هغه ورته فاسد ښکاري یا هغه متل دی چې وایي د وچو له کبله لانده هم سوځي. که حکومت کې د کارکولو مؤخه خدمت کول وي نو بیا خو په حکومت کې کار کول ثواب لري او که په حکومت کې د کارکولو مؤخه د ځان مړول، خپل مقابل لوری له منځه وړل او ضعیفه کول، ګوندې او پره وي نو بیا حکومت کې کار کول ګناه ده.

په اوس وخت کې زمونږ ولس ته په حکومت کې کار کول ګناه ښکاري او یا ډېری کسان دا فکر کوي چې په دې حکومت کې هیڅ پاک او با احساسه کسان نشته دي. نه داسې نه ده مونږ ډېر ښه کسان په حکومت کې لرو او په پخوا وختونو کې هم ډېرو ښو کسانو په حکومتونو کې کارکړی دی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی خدمتونه د ستایلو وړ دي او اوس هم په ښو نومونو یادیږي. نو په دې اساس په حکومت کې کار کول په نیت او عمل پورې اړه لري چې نیت مو څه دی او عمل مو څنګه دی؟ په دې نږدې وخت کې به انشاالله یو کتاب د وطن د معمارانو په نامه په پښتو او دري ژبو ډېر ژر چاپ شي او د یو شمیر هغو کسانو په کارونو به رڼا واچول شي چا چې په پخوانیو حکومتونو کې ښه کارونه کړي دي.

## زما د ژوند یوه ترخه خاطره او د پرون قتلونه په ارزګان، بدخشان او هم د افغانستان په نورو سیمو کې

د اپرېل دیارلسمه نېټه، ۲۰۱۵ م کال، کابل افغانستان

د ۱۹۹۰ م کال ورځې وې چې ډاکتر سعادت شګیوال د پېښور په شاهین ټاون کې د نامعلومو کسانو له خوا په شهادت ورسېد. زه هغه وخت د امریکا غږ راډیو محلي خبریال وم. ما په پېښور کې خپلو زامنو لپاره ګاډی (ټانګه) نیولې وه چې زما زامن به یې سهار ښوونځي ته بیول او ماسپښین به یې بېرته کورته راوستل. د خدای بښلي شګیوال د شهادت نه څو ورځې دمخه زما زامنو راته وویل چې زمونږ په ګاونډ کې دوه کسه د دوی همصنفیان دي چې هغه هم مهاجر دي که زما اجازه وي نو هغوی به هم له ځان سره اخلو او زمونږ سره به یو ځای ښوونځي ته ځي او راځي. ما ورته وویل چې سمه خبره ده او هغوی هم له ځان سره اخلي. زما کور په اکاډمی ټاون کې و او زما د زامنو ښوونځی په شاهین ټاون کې و. څو ورځې وروسته چې مازدیګر کور ته راغلم او زامنو مې راته د کور دروازه (ګېټ) خلاص کړ او موټر مې ودروه نو



زامنو مې راته سمدستي وویلې چې زمونږ د همصنفیانو پلار خو چا مړ کړ. ما ته پته نه وه چې دا دوه کسه ماشومان د سعادت شګیوال زامن دي. خدای شاهد دی چې دا خاطره چې همېشه رایادوم نو زما د سترګو نه اوښکې ځي ځکه ما ته دا تصور سمدستي په سترګو کې ودرېده لکه چې زه وژل شوی یم او زما ماشومان یتیمان پاتې شوي دي. دا مې له ځان سره تصور کړه چې زما د ماشومانو به څه حال وي کله زه ووژل شم ځکه په هغه وخت کې هغو کسانو ته چې یو څه ملي فکر یې درلود تهدیدونه په پېښور کې ډېر زیات و او ګڼ شمېر زمونږ برجسته وطنوال شهیدان او یا لا درکه شول.

پرون چې پینځه کسه د خیریه موسسې کارکوونکي چې په ارزګان کې شهیدان کړای شول چې د ډاکټر صیب رحمانزي لمسی منصور رحمانزی چې تازه یې له هندوستان نه ماستري اخستې وه او هلته یې کار کاوه هم شامل و. همداشان زمونږ د اردو قهرمانان چې په بدخشان کې په ډېره وحشیانه توګه حلال او شهیدان شول، دوی به هم پلرونه، میندې، خویندې، بچي او مېرمنې لري او د دې شهیدانو په کورنیو کې به څه ډول د ماتم ویر ګډ وي.

زما سترګو کې د شګیوال د شهادت انځور یو ځل بیا ښکته پورته شو او هغه ورځ مې راپه یاد شوله. ایا د دې شهیدانو په کورنو کې به دا د پرون ورځې دروند او نه جبران کېدونکی غمونه څنګه تېرېږي؟ هغه چا چې دوی شیهدان کړي، داسې راته برېښي چې دوی نه خویندې او میندې او نه کورنۍ لري او نه اسلامي او انساني عاطفه. الله تعالی دې په افغانانو په خپله ورحمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مافيايي نظامونو عمده خاصيت

د اپرېل ١٦مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د مافيايي نظامونو عمده خصوصيت دا دی چې له پورته نه ښکته چارواکي د تقرر او د هغوی د مصئونيت حمايت کېږي او د ښکته نه پورتـه چـارواکي چې څه غريبي، خيانت او يا د ولس مال لوټوي نـو د پورتـه چـارواکو سره يې شريکوي او په دې توګه د فساد خبيثه دايره ورځ په ورځ تقويه کېږي. نـن د بدخشان امنيه قوماندان جنرال بابه جان د ۱۳۹۳ هجري شمسي کال د حمل په ۲٦مه نېټه د طلوع تلويزيون سره په مرکه کې د بدخشـان د نـا امنيـو څـو مشخو بيلګيو ته اشاره وکړه چې د بدخشان د ولايتـي شـورا مشر ـ د جـرم پـه ولسوالۍ کې د طالبانو يو کس قوماندان د شمس الله په نامـه چـې پـه جنـګ کې زخمي شوی و بدخشان ته او بيا وروسته يې په کابل کې تـداوي کـړی او بېرته يې د طالبانو ليکو ته لېږلی او همدا شان په ملي شـورا کـې د بدخشـان وکيل، مسلم ورور په بدخشان کې قتل وکړ او دوسيه يې حتـی څـارنوالۍ نـه اخيستله. جنرال بابه جان هم وويل چې د پارلمان د وکيلانـو (مـريم کـوفي او فوزيه کوفي) ورور قاري عنايت الله د مخدره موادو سره ونيول شو او ۱۷ کاله قيد شو. د بدخشان د ټولو نا امنيو تر شا د محلي او سياسي چارواکو لاسـونه دي چې په مواد مخدر او د معادن په استخراج او قاچـاق کـې لاسـونه لـري. دې ته وايي مافيايي نظام نو څوک شـته چـې د دې مشـهودو پېښـو پوښـتنه وکړي؟



## Multitasking يا په يوه وخت کې څو کارونه کول

د اپرېل ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل

د اداري او منجمنت په علم کې يوه کلمـه اسـتعمالېږي چـې ښـه منيجـر هغه دی چې په يوه وخت کې څو کارونه همزمان وکـړي. اوس سـوال دا دی چې ايا يو مدير، مشر، يا منيجر په يوه زمان کـې څـو کارونـه همزمـان کـولی شي او که نه؟ منطقي ځواب دا دی چې يو کس په عين زمان کې دوه کارونه نه شي کولی. خو ښه مشر يا مدير که هغه په هره سـطحه وي هغـه دی چـې څو کارونه همزمان بايد وکړي شي. نو سوال بيـا دا دی چـې دا څنګـه امکـان لري؟

دا ډېر اسانه کار دی ځکه چې ښه مشر او مدير هغه دی چې کارونه نـورو کسانو ته حواله کړي او په خپله هرڅه ونه کړي. مشر ـ يـا مـدير بايـد يـوازې نظارت وکړي. نوروکسانو ته د کارونو حوالـه کـول پـه اداره او مـديريت کـې Delegation وايي نو د کارونو حواله کولو لپـاره ښـه ټـيم تـه ضرورت دی. د ښه مدير يا مشر يوازينۍ دنده دا ده چې څنګه ښه ټيم تعين کړي او په دې پوه شي چې څوک په کوم ځای کې ښه کار کولی شي ځکه هر کس د هر کار لپاره تجربه، استعداد او دلچسپي نـه لـري. ټـيم دې تـه نـه وايـي چـې هغـه کسان چې د مشر يا مدير سره ښه بنډار کولی شي او هغه لکه د کوميدن په شان خوشحاله ساتلی شي نو د ځان په شاوخوا يې راټاو کـړي. د تېـر جمهـور رئيس ورور يوه ورځ قصه کوله چې خپل وررورته يې ويلې و چې فلانی کس سم سړی نه دی او خلک ترې ډېر خفه دي نو ښـه بـه دا وي چـې د ارګ نـه يـې وشړي يو څه بل کار ورته ور کړي. نو جمهور رئيس ورته ويـلي و چـې د دغـه شخص سره ما اوس اموخت اخيستلی دی.

دا چې په افغانستان کې ډېرو کارونو ته همزمان اړتيا ده نـو زمـونږ مشـران او د ادارو مديران زيات Multitasking او نورو ته د کـارونو حوالـه کـول يـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



Delegation ته ضرورت لري. نو جمهور رئیس او د دولت نو مشران او مدیران باید د ځانونو په شاوخوا ښه ټیم راټول کړي نه دا چې داسې کسان راټول کړي چې یوازې دوی ورسره اموخت اخیستلی او ښه بنډار کولی شي. تر یو څه حده چې ماته پته شته، د جمهور رئیس نه نیولی د ښکته نورو چارواکو پورې دوی د خپلو ادارو په شاوخوا کې داسې کسان راټول کړي دي چې دوی ورسره اموخت اخیستلی او کارونه په ټپه ولاړ دي. زمونږ ملت په تورتم کې قرار لري او نه پوهېږي چې زمونږ دولتي چارواکي په کوم خوا روان دي. په ساده تعیناتو کې هم ضد او نقیض خبرونه خپرېږي. داسې اوازې د ملي وحدت حکومت ته شرم او ولس ته د توهین معنی لري.

یو کتاب همدا اوس لولم. وایي چې پالیسۍ، پالیسي میکران نه عملي کوي بلکې پالیسي ښکته قدمي عملي کوي. که ښکته قدمي په پالیسیو عقیده ونه لري او یا یې انګېزه ورسره نه وي نو ټولې پالیسي به په هوا کې پاتې وي او لکه هسې چې زمونږ په اصطلاح په یخ لیکنه ده. Michael Lipsky چې د سوشل پالیسۍ په برخه لري کې استاد دی ښکته قدمو مامورینو ته Street-Level Bureaucrats لقب ورکوي ځکه د خلکو کار د پالیسۍ جوړونکو سره نه دی بلکې د محلي چارواکو سره وي.

## انماالاعمال باالنیات

۲۷ اپرېل ۲۰۱۵م کال، کابل (د ثور اومه نېټه)

د هغه چا چې نیت ښه و او د خدای لپاره یې د وطن په ابادۍ او جهاد کې برخه اخیستې ده، که ژوندي وي الله تعالی دې ورته په دې دنیا او هم هغه دنیا کې اجرونه ورکړي او څوک چې په همدې ښه نیت شهیدان شوي دي الله تعالی دې ورته برین جنتونه نصیب کړي. چا چې د غویي د اومې او اتمې نه سو استفاده کړې او یې لا هم کوي د غندلو دي.



## ګرانو دوستانو او عزیزانو!

د می د میاشتې ۱۲مه نېټه، ویرجینیا، امریکا

دا څو ورځې کېږي چې زه له هېواد نه بېرون په سفر یم. د فیسبوک په مجازي دنیا کې دا افواه خپره ده چې ګونډې زه د ننګرهار د والي په توګه تعین شوی یم. دا دوه ورځې زه حیران وم چې څه ولیکم که نه؟ ځکه که څه ولیکم نو شاید داسې فکر وشي چې زه د دوستانو حسن نظرونو ته درناوی نه لرم او یا د کار کولو توان او یا ولس ته د خدمت کولو اراده نه لرم. او یا به داسې معلومه شي چې دا آوازه زما په اشاره خپره شوې ده. ما چې کوم اول پوست ولیده هغه د څو کسو پخوانیو والیانو اوازه وه چې زما نوم یې هم په هغه کتار کې اچولی و.

دا چې دا آوازه څنګه خپره شوله ما ته هم معما ده چې ایا په ښه نیت وه او که په بد خو د دوستانو مثبت نظرونه او حسن نیت ما ته د ولایت نه ډېر مهم دی او زه د ټولو نه منندوی یم ولو که والي هم نه اوسم.

لږ وضاحت غواړم چې وکړم:

ما ته چا رسمي خبر نه دی راکړی او نه راته جمهور رئیس څه ویلي دي. زه اوس هم د ولایت نه ډېره ښه او ارامه دنده لرم او تر خپله وسه د خدمت کولو زمینه راته مساعده ده. ولایت امتیاز نه بلکې لوی مسوولیت دی. که جمهور رئیس اعتماد وکړ نو شاید چې تر ډېره حده به موفقه اوسم ځکه زه له چا سره په هیڅ نوع غیر مشروعو اقتصادي ګټو کې شریک نه یم او په حکومتدارۍ کې په سلو کې پنځوس سلنه پاکي مهمه ده.

په تېرو شپږ دېرشو کلونو کې چې ما کومې دندې اجرا کړي که کار مې کم کړی او که لږ خو نه مې رشوت اخیستی، نه مې د حکومت مال چور کړی او نه مې د خپل ولس او خلکو پر ضد خیانت کړی دی. زه نه یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت په چوکات کې د خپلو دندو بلکې د تېرو شپږ دېرش کلونو د ټولو دندو حساب ورکولو ته چمتو يم او په خپل ژوند او کارو بار قناعت لرم.

سر مو نه خورم خو اخري خبره دا ده چې په فيسبوک کې چې ما د دوستانو مثبت حسن نظرونه وليدل هغه ما ته د ولايت د دندې نه ډېر اهميت لري. ډېري دوستان زه د نږدې نه هم نه پېژنم خو د ټولو نه زياته زياته مننه. ټوقه دې وي که ستاسې پېش بيني رښتيا شوله او ما دا دنده قبوله کړه نو دا درته ويلی شم چې تاسې به په خپلو خبرو پښېماني ښکاره نه کړئ. ستاسې خادم او ورور شاه محمود مياخيل

په پورته ليکنه په سلهاو دوستانو ډېر مثبت نظرونه ليکلي او چې زه فکر کوم د افغانستان په سطحه دا به اول ځل وي چې دومره کسانو په سوشل ميډيا کې مثبت نظرونه او تبصرې ليکلې وي ځکه همېشه که يو څه مثبت نظريات وي نو يو څه منفي هم وي. د يو څو دوستانو تبصرې دلته رانقلوم:

**عصمت قانع صيب زما عکس پوست کړی و او ليکلي يې و:**

دا ځوان په رسميت پېژنم. ميلمه پال اولسپال متواضع غوځ او قاطع منيجر دی، په اداره او منجمنت کې پر اصولو تکيه کوي او پخپله هم له قانون او نظم څخه رعايت کوي، که د افغانستان په اوسنۍ اداره کې مسوليت ور وسپارل شي هم به د اوسنۍ ادارې ابرو وساتي او هم به خلک ادارې ته رانژدې کړي.

**رضوان الله شپون صيب ليکلي و:**

د ننګرهار د نوي والي په توګه د ښاغلي شاه محمود مياخيل د ټاکنې احتمال دی او تمه کېږي چې د سيمه ايزو ارګانونو ادارې د نوي رئيس غلام جيلاني پوپل د کار له پيلولو وروسته د ښاغلي مياخيل د تقرر اعلان وشي. ښاغلی مياخيل يو مهال د کورنيو چارو وزارت اداري معين په توګه پاتې



شوی، د ننګرهار په جغرافيه او قومي جوړښت ښه پوهېږي، د ننګرهار د والي په توګه د ښاغلي مياخيل ټاکنه غوره اپشن دی، خدای دې وکړي چې د والي په توګه تر ټاکنې او کار پيلونې وروسته د ننګرهار د امنيتي وضعيت د ښه والي لپاره ټول شته امکانات وکاروي.

**امين الله ظاهر صيب ليکلي و:**

ولسمشره! ننګرهار ته د نوي والي شامحمود مياخيل په ټاکنه دې يو ځل بيا د ولسونو په زړونو کې ځای پيدا کړ. مونږ دې وګټلو او يو ځل بيا راباندې ګران شوې ته دې زنده باد يې وروستۍ ټاکنې دې په زړه پورې دي. مياخيل نه زور لري او نه زر د کتاب او قلم سړی دی مونږ يې هرکلی کوو.خدای دې وکړي چې پريکړې ته د عمل جامه واغونډې. **او همداسې نورې تبصرې.**

نو مجبوره شوم چې د ټولو نه يو ځل بيا مننه وکړم او دا لاندې وړوکې تبصره مې بيا وليکله:

## مننه او په اخره کې يو وړانديز

د می د مياشتې ۱۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، ويرجينيا، امريکا

ګرانو دوستانو او عزيزانو! ستاسې هره تبصره ماته د ميليونو ميلونو مادي امتيازاتو نه ډېر اهميت لري او نه پوهېږم چې څنګه د ټولو نه مننه وکړم. خو د تاسې ټولو نه يو ځل بيا نهايت زياته مننه. زه بيا هم نه پوهېږم چې دا آوازه ولې خپره شوه او يو دوست زمونږ ليکلي و چې واقعاً دا په ميډيا کې به لومړی ځل وي چې د يو چا په هکله دومره مثبتې تبصرې وشي نو ستاسې حسن نظر ماته له هر څه نه زيات اهميت لري. حال دا چې ما هېڅ نه دي کړي. د ځان په خاطر نه وايم خو د دې نه معلومېږي چې افغانان د ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومتدارۍ، صداقت او ایمانداري تړي دي. دا درې عنصره نه خارجي کمک ته ضرورت لري، نه تخنیکي مرستو ته او یا نه کومه قانوني ستونځه شته او نه په بیه اخیستل کېږي چې تاوان سرې وکړي. که ولس ارامه وي مونږ ټول پخپله ارامه کېږو او د ولس په ارامۍ کې زمونږ فردي او د کورنۍ ارامي پخپله خوندي ده.

د ځان په ګټه سؤ استفادې ته فساد وایي خدای دې وکړي چې زما دا تبصره او یا مخکینۍ تبصره په فساد کې رانشي. قدرت او پیسې سړی فاسدوي خو که سړی له ځان سره ووایي چې د دې چوکۍ نه به یوه ورځ خامخا ځم نو بیا سړی نه فاسدېږي او ما سره همدا فکر همېشه و او دی چې که هره دنده سړی ولري نو باالاخره ترې یوه ورځ په طبیعي شکل او یا غیر طبیعي شکل ځي او قدرت او پیسې له انسان سره تر اخره نه پاتې کېږي. دا تغیر او تبدیل په وظایفو کې د همدې په خاطر دی چې د دوه درې کالو نه وروسته د انسان ابتکار او انرژي په یوه دنده کې ختمېږي نو باید چې تغیر او تبدیل رامنځته شي اوبه چې هم په یوه ځای کې ډنډ شي نو باالاخره ګنده کېږي. دا خبره ما تکرار تکرا کړې ده چې کله چې زه معین د وزارت داخله شوم نو زما خدای بښلي پلار راته راغی او راته یې وویل چې معین شولې خو یوه ورځ د دې چوکۍ نه تګ هم په نظر کې ونیسه خو ځان بدنامه نه کړې. ښه کار په دې معنی نه دی چې چا ته غیر قانوني کار سړی وکړي. که یو مامور له ټولو سره یو رنګه قانوني برخورد وکړي نو بیا هیڅوک نه خفه کېږي یعنې د مور او میرې سلوک باید په دولتي چوکاټ کې له ولس سره ونه شي. یو کتاب چې ما او قیوم مشواڼي صیب په ګډه لیکلی دی د وطن د معمارانو په نامه چې په همدې دوه اونیو کې به انشاالله چاپ شي نو په سریزه کې ما همدا خبره لیکلې ده.



که څه هم دا ښه نه ده چې د ځان توصیف پخپله وکړم خو د معلوماتو د شریکولو او شاید چې په یو چا څه مثبت تاثیر وکړي دا لاندې څو ټکي لیکم.

د کورنیو چارو په وزارت کې چې ما کار کړی نو زما نږدې دوستان هم نه پوهېږي چې زه څو ورونه او څومره خپلوان لرم او ما دا خپلې کورنۍ ته ویلي و چې خپل کارونه به کوئ او زما په کار کې به کار نه لرئ. صرف ستاسې د معلوماتو په خاطر وایم چې مونږ شپاړس ورونه و چې دیارلس اوس هم ژوندي دي او همداسې په سل ګونو خپلوان لرم خو ټول پوهېږي چې زه د دوی غیر قانوني او غیر منطقي غوښتنې نه منم نو ماته یې ویلی هم نشي۔ او اکثره رانه کله کله خفه هم وي. د پیسو په هکله زما فرموله هم ډېره اسانه ده. له خپلې شړۍ سره پښې غزوم او اساسي ضرورت رفع دی او هوس نه لرم چې باغونه، کورونه او بیلډونګه ولرم او هغه درد سر هم دی. د ننګرهار او مشرقي هر کور او هر باغ زما کور او باغ دی او همدا علت دی چې زه تر اوسه په ننګرهار کې کور نه لرم یوازې په کابل او کونړ کې ځای لرم او هم ما خپل ټول ژوند د خپل معاش نه جوړ کړی دی. د خدای نه ډېر مشکوره یم چې همېشه زما معاش زما د ضرورت نه زیات و او کم نه و او ښه ژوند راته د حلال معاش له لارې برابر شوی دی او په خپل ژوند قناعت لرم. د الله تعالی په دربار کې حلال او حرام دواړه شته نو په عوض د دې چې د حرامو پسې سړی تپ و تلاش وکړي ولې د حلال رزق سوال نه کوي. زما د ټول شناخت او لوړو چوکیو په درلودلو سره چې د افغانستان ټولې شاروالۍ زما د معینیت په چوکاټ کې وې، یوه نمره ځمکه ما نه د ځان په نامه او نه د فامیل د کوم بل غړي په نامه، د افغانستان په هېڅ یوه سیمه کې نه ده اخیستې. په تېرو دېرش کلونو کې د ننګرها ټولو پخوانیو او موجوده مشرانو او چارواکو سره زما ډېرې نږدې اړیکې وې او ملګرتوب مو هم درلود خو یوه ته ما هم دا سوال نه دی کړی چې په کوم ښهرک او یا د حکومت په چوکاټ کې ماته کومه نمره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه راکړي. سلام علیک ډېر ښه لرو خو د هیچا سره هیڅ نوع پېتې او یا ښکاره اقتصادي پروژې نه لرم.

په هر حال خدای دې هغه وکړي چې زمونږ او ستاسې د ټولو خیر پکې وي. هره دنده چې وي، خدمت په یوه سر نه کېږي، ښه، کار فهمه، پاک، صادق او متهد ټیم په موجودیت کې سرې خدمت کولی شي. د اشخاصو قحط الرجال نشته دی او په افغانستان کې له ما نه ډېر زیات ښه، پوهه، با تجربه او متعهد کسان شته دي. که حکومت هر چېرته څوک مقروري نو باید ښه فکر پکې وکړي او ښه کسان باید په دندو وګوماري.

**وړاندیز:** راځئ چې د یو مثبت بدلون په لور غورږونه سره نږدې کړو که په حکومت کې یوو او که نه خو د دې بدلون لپاره کار باید وکړو. که مونږ یو سم او متعهد حرکت او ټیم جوړ کړو دولتي چارواکي زمونږ او ستاسې ورونه او بچیان دي خامخا به سمېږي. راځئ چې همدا حرکت ژوندی وساتو، قانوني بنه ورکړو او د نظام سازۍ لپاره کار وکړو. له اسمانه ملایکې الله تعالی مونږ ته نه رالېږي چې دا وطن راته جوړ کړي. الله تعالی فرمایي: "اِنَّ اللّٰهَ لا یُغَیِّرُ ما بِقَومٍ حَتّیَ یُغَیِّروا ما بِاَنفُسِهِم" که په ځان کې پخپله مثبت تغیر رانه ولو نو الله تعالی هم زمونږ په ژوند کې مثبت تغیر نه راولي. خارجیان او یا د خارجیانو پیسې او قوت خو په هیڅ شکل زمونږ په ژوند کې تغیر نشي راوستلی او حتی د خارجي هیوادونو (عربو او عجمو) زیاتې پیسې او قوتونه زمونږ ملک ته راغلل خو زمونږ ستونځې نورې هم زیاتې شولې او مفت خواره یې اموخته کړو. راځئ چې د دې مفت خوریو او نورو ته د طمع لرلو پر ځای د خپلو ناځیزو امکاناتو او قوت نه د وطن په ګټه مثبته استفاده وکړو. راځئ چې د شعارونو نه تېر شو او عملي اقدام وکړو. زما یوه ساده او اسانه مشوره اول د ننګرهار، ورپسې د مشرقي او باالاخره د افغانستان خلکو ته دا ده چې په ننګرهار کې ډېرې ټولنې، حرکتونه او ښه با ا حساسه کسان



شته دي او هلې ځلې کوي خو د دوی هلې ځلې پراګنده او یا انفرادي شکل لري. راځئ چې دا ټولې ټولنې سره یو ځای کړو، لږ ساده اصول ځانونو ته وټاکو، په هغو اصولو عمل وکړو او انشاالله زه امید لرم چې د دې حرکت نه به یو ښه او غټ حرکت جوړ شي. کله چې مونږ خپل معنوي قوت سره یو ځای کړ دا نور کارونه پخپله کېږي. ما ته پته ده چې زمونږ تېرو حکومتي چارواکو په ننګرهار کې او هم نورو سیمو کې د ولس او ټولنو تر منځ په یوه نامه او بل نامه درز اچولی و نو ښه دا ده چې فایروالونه (دیوالونه) چې زمونږ د ټوټه کیدو په خاطر جوړ شوي دي له منځه لرې کړو او دا قوتونه سره منسجم کړو. دا پیسو ته ضرورت نه لري صرف اخلاص، صداقت او خود ګذارۍ ته ضرورت دی. ملي کارونه په یوه سر او یوه وړه ټولنه باندې نه کېږي. زما عرض د ننګرهار ټولو با فهمه کسانو ته دا دی چې راځئ دا ټولنې او حرکتونه سره یو ځای کړو. که خوښه مو وي نو هره ټولنه او ډله دې په خپلو کې سره تصمیم ونیسي او د یو بل سره د یو ځای کیدو پلان دې جوړ کړي. هره ټولنه چې د یو بل سره یو ځای کېدای شي اول اقدام دې وکړي او له نورو سره به بیا وروسته کار وکړو. ما ته که په دې اړه هر خدمت وي زه حاضر یم. د افغانستان د ارامۍ او سوکالۍ په هیله.

## د فیسبوک یو نوع اخلاقي فساد

د می د میاشتې ۱۳مه نېټه، ویرجینیا امریکا

د فیسبوک یو تن ګډونکونکي راته لیکلي و چې ما له ځان سره د فیسبوک په صفحه کې اډ کړه. ما ورته ولیکل چې زما د فیسبوک د ملګرو شمېره د پینځه زرو نه زیاته شوې او زه نور کسان نشم له ځان سره اضافه کولی نو ښه دا ده چې زما د فیسبوک صفحه لایک کړه او په دې توګه به سره په اړیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوسو. دې ورور راته ولیکل چې یو کس ډلیټ یعنې د خپلو ملګرو نه لرې کړه او ما د ځان سره ونیسه.

ما ورته ولیکل چې وروره دا هم یو نوع فیسبوکي فساد دی او زما اخلاق دا اجازه نه راکوي چې زه یو ملګری لرې کړم او تا اډ کړم. ما ته ټول ملګري محترم دي او هر یو جلا جلا ځای زما په زړه کې لري. دا داسې معنی لري چې په یوه کرسۍ کار کوې نو یو ملګری درته راشي او ووايي چې دا فلانی له وظیفې نه لرې کړه او ما مقرر کړه. که دا کار وشي نو دا هم د فساد یوه نمونه ده. مونږ او تاسې تول ملګري لرو او که کوم ملګری زمونږ نیمګړتیاوې درلودلې نو هغه به ډیلیټ کوو نه بلکې د هغه خلاوې به اصلاح کوو. زه په دې خوشحالېږم چې زما خلاوې څوک راپه ګوته او هغه اصلاح کړم.

## په خبرو کې سوچ او فکر په کار دی او یو وړوکی غوندې وړاندیز

د می د میاشتې ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینا

د بیان آزادي دا نه ده چې هر څوک په هر چا پسې هرڅه بې له معلوماتو، شواهدو او دلایلو ووايي. توهین امیزه خبرې چې د انسان شخصیت او ټولنې ته زیان رسوي هغه د قانون، انسانیت، افغانیت او اسلامیت له مخې سمې نه دي. مونږ ټول یو څه عیبونه شاید ولرو ځکه انسانان یوو او انسانان همېشه سهوه کوي خو باید د انسانانو په شخصي مسایلو او عیبونو پرده واچوو خو متاسفانه زمونږ په ټولنه کې دې ته ډیموکراسي وايي باالخصوص زما اشاره اوسنیو تبلیغاتو ته ده چې د افغانستان دښمنان غواړي چې د مختلفو لارو او اشخاصو په وسیله زمونږ دا مات ګوډ نظام خراب کړي او مونږ هم ارادي او غیر ارادي د نورو خبرې زمزمه کوو.



انارشي او ډیموکراسي سره فرق لري. د قانون حاکمیت د ډیموکراسۍ اصل دی. نو که څوک په چا پسې هر څه لیکي او یا وايي باید لږ په کې فکر وکړي ځکه بیا شاید په بې فکره او بې سوچه خبرو باندې پښېمانه اوسو. دا د دې معنې نه لري چې په ملي مسایلو کې څوک خیانت کوي او مونږ غلي کېنو او څه ونه وایو خو که ملي مسایل هم مطرح کوو او غواړو چې حقایق ووایو او شواهد په ډاګه شي نو باید په خپلو خبرو او لیکنو کې د خبرو او قلم عفت په نظر کې ونیسو.

## د توماس ادیسن وینا

د می د میاشتې ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینا، امریکا

هغه شیان چې حسابېږي، پر هغې حساب نه کېږي او هغه شیان چې پرې حساب کېږي هغه نه حسابېږي.

## یوه مهمه وینا او یوه وړه تبصره

د می د میاشتې ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینا، امریکا

ډېر کلونه پخوا چې مونږ ځوانان و پروفیسر رسول امین راته په پېښور کې وویل چې خوریه! یوه خبره درته کوم چې استخباراتي شبکو ته ورتلل د یو چا په خوښه دي خو وتل ترې بیا په خپله خوښه نه دي. همدا خبره زه هم ځوانانو ته کوم چې استخباراتي شبکو ته ورتګ ستاسې په خوښه دی خو وتل ترې بیا ستاسې په خوښه نه دی نو ښه به دا وي چې د استخباراتي لوبو نه ځانونه وساتو او ملي فکر پیدا کړو. زمونږ عزت په ملي ګټو کې دی نه د استخباراتي شبکو سره کار کول. زمونږ په کونړ کې خو دا اصطلاح ډېره عامه ده چا به چې په استخباراتو کې پخوا کار کاوه او وبه پېژندل شو نو هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



به يې رپوټ چي وايه او دا به يو نوع بده اصطلاح وه چې د کنځلو معنی يې درلودله.

تبصره! زمونږ استخبارات زمونږ د ګاونډيو هېوادونو په پرتله په هر لحاظ د مقايسې وړنه دي ځکه هغوی ډېر منظم دي، زيات امکانات لري او زمونږ په هکله دومره معلومات لري چې مونږ د خپل ځان په هکله دومره معلومات نه لرو. نو په دې اساس مونږ استخباراتي جنګ نه شو ګټلی. ښه بـه دا وي چـې زمونږ حکومت په خپل ملت باندې تکيـه وکـړي او د ملـت اعـتماد راجـذب کړي. ملت کولی شي چـې د ګاونـډيانو شـومو پلانونـو مخـه ونيسي. زمـونږ مسايل په جګړو او عملياتونو نه حل کېـږي چـې بېـل بېـل نومونـه پـه فـوځي عملياتو کېږدو او يا استخباراتي معلوماتو شريکول مونږ ته څه ګټـه ورسـوي. مونږ يو واحد عملياتي پلان ته چې په هغه کې د ولس او حکومت رول معلـوم وي ضرورت لرو چې زمـونږ سـتونځو تـه د پـای ټکـی کېـږدي. پـلان پـه پټـو معاملو نه جوړېږي بلکې مشـکلات بايـد لـه ملـت سره شريـک شي او ټګـلاره معلومه وي چې ټول پوه وي چې مونږ کومه خوا ته راوان يو.

## Two points are important for enduring peace in Afghanistan

23 May 2015, Virginia, USA

Two points are important for having enduring peace in Afghanistan. One, peace is a process not a deal. If you have homogenous group of insurgency in a country, it take time to reach a final deal but it will take even more time to implement the agreement. Secondly, insecurities in Afghanistan are



product of several factors or multi-facets such as combination of criminals, terrorists groups, Taliban, disgruntled elements, proxy fighters, bad and inefficient governance, drug and economic mafia and local rivalries. Therefore, it is not possible to have a real peace process. Every contact and negotiation will be part of tactical advantage for both sides and won't produce result.

We need to focus on two tracks: one to focus more on improving governance and rule of law in order to improve security. Secondly focus on good diplomatic relation with Pakistan to reduce violence in the country by not supporting proxies or provide safe haven to those elements who want to destabilize Afghanistan.

## Supporting nomination of Mr. Masoom Stanekzai as Minister of Defense

23 May 2015, Virginia, USA

I know Mr. Masoom Stanekzai for many years and know him very well. He is the right choice for the Ministry of Defense of Afghanistan and if I don't exaggerate, he might be the second or third good choice of National Unity Government

(c) ketabton.com: The Digital Library



so far. Beside of his background and education, he is very sincere person to build the country and not part of corrupt mafia. It is not easy to work in the system and in the same time keep your integrity. He survived several attacks and targeted by enemies of Afghanistan within the country and also outside of the country but never give up to work for Afghanistan. I hope parliament members understand this and vote for his confirmation. Two things are important: He will never give up and tirelessly work for enduring peace in Afghanistan and in the same time will keep his integrity. We all should support him and he is the best choice for this position at this critical time. I am on loaner computer and do not have Pashto fonts and will write in Pashto later on as well..

## Losing battle of perception by the government

26 May 2015, Virginia, USA

When the government officials are not able to provide proper answers for policies issues, it will create further questions, doubts and confusion. This lack of clear communication leads to belief that there is no clear policy to address people concerns. This provide tools to opponents of



government (armed and political) to mislead the people. In public debate when you lose initiative and be defensive, then you lose argument and battle of perception to win people support. This is the case in Afghanistan right now.

## Admiring sacrifices of Afghan National Security Forces

26 May 2015, Virginia, USA

I really admire the sacrifices of Afghan National Security Forces (ANSF) despite so much political grudging to provide them direction. Afghanistan problem is not lacking of dedicated and patriotic forces but it is lacking of political uncertainty. You cannot show me any country in the world that their police or military forces were able to fight against armed opposition for so many years without proper recognition and appreciation of their sacrifices by their leaders.

I am puzzled by some Afghan commentators to blame Afghan National Security forces for failures of security but ignorant that the relative security you have and able to talk on different TV shows are due to the services and sacrifices of ANSF. I am not saying that there is no shortcomings in ANSF but under our political circumstances, they do perform well.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Please do respect their sacrifices that they protect you and your family while you are sleeping nicely. If you are real patriotic, please recruit yourself in ANSF for 200 plus dollars per month and defend the country.

## آیا د فیسبوک اکاونټ درلودل عیب دی او کنه؟

د می د میاشتې ۲۷مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

دوستانو سلام! دا څو ورځې کېږي چې ما پـه خپـل کمپـوټر کـې د بېځایـه لاس وهلو له امله خپل ټول فایلونـه لـه منځـه وړي و او هـم مـې د فیسـبوک صفحه کې د ملگرو د اسانۍ په خاطر زمـا د فیسـبوک اکاونـټ ټـول ډیلیـټ شوی و یا له منځه تللی و او دوه ورځې مې د فیسبوک نه غوړونـه پـه قـرار و خو نن دا دواړه مشکلات حل شول او اوس بېرتـه خپـل کمپیـوټر تـه او هـم د فیسبوک اکاونټ ته لاسرسی لرم.

دا دوه ورځې چې فیسبوک مې نه شو کتلای داسې راته ښکاره کېدله چې گوندې ډېر څه مې ورک کړي دي او د ډېرو ښو دوستانو نه جـدا شـوی یـم. دا چې د وطن نه څوک بهر وي نو بیا خو تشویش نور هم د وطن د حالاتو پـه هکله لا زیات وي.

خو پرون شپه مـې د طلـوع تلویزیـون د تـودو بحثونـو چلـوونکي شاه پـور بختیار صیب نه واورېدل چې دی د فیسبوک کومه رسمي صفحه نه لـري او هر څوک چې د دې په نامه څه خپروي هغه د ده نظـر نـه دی او دی دومـره وخت هم نه لـري چـې د فیسـبوک پاڼـه ولـري. زه خـو چـې دا دوه ورځـې د فیسبوک د ملگرو نه جلا وم نو د فیسبوک پسې ډېر خفه وم نو یو ژورنالست څنگه د فیسبوک د اهمیت نه انکار کوي او دا ورته بده او عیب ښکاري چې



د فیسبوک اکاونټ ولري. زما په اند دا بد کار نه دی چې څوک د فیسـبوک اکاونټ ولري خو استعمال یې هم په سړي پـورې اړه لـري. ډېـرو دوسـتانو د پورته لیکنې په هکله مثبت نظرونه لیکلي و چې د فیسبوک اکاونټ نـه بایـد مثبته گټه واخستل شي.

## د دیترویت په هوایي ډگر کې مې د یو کلیوال سړي قصه راپه یاد شوله

د می د میاشتې ۲۸مه نېټه، دیترویت هوایي ډگر، میشیگان ایالت، امریکا

یو کلیوال سړی ښار ته تللی و نو چا ترې پوښتنه کړې وه چې د کـوم ځـای یې نو ده ورته ویلي چې د فلاني ملک د کلي یم. تپوس کوونکي ورتـه ویـلي و چې فلانی ملک څوک دی او د کوم ځای دی؟ کلیـوال ورتـه ویـلي و چـې تـه هغه ملک نه پیژنې نوته څوک پیژنې. د دیترویت هوایي ډگر چې مـې ولیـده نو د هماغه کلیوال سړي قصه مې راپه یاد شوله.

همدا شېبه د امریکې د مشیگان ایالت د دیترویت هوایي ډگـر کـې یـم او مسچوسیت ایالت ته په ترانزیت لونج (انتظار ځای) کې ناست یـم نـو د دې هوایي ډگر اوږدوالی مې چې ولیده چې د وړوکي اورگاډي په وسیله سـورلۍ د هوایي ډگر له یوې برخې نه بلې برخـې تـه انتقـالوي او پـه یوولسـو ژبـو د معلوماتو په تخته باندې مسافرو ته هرکلی لیکل شوی دی نو د خپل وطـن د هغه کلیوال خبره مې راپه یاد شوله چې مونږ لا ښار او دنیا نـه پېژنـو او اوس هم په کلیوالي محدوده کې ژوند کوو او د خپل ملک دوه ژبو (پښتو او دري) د ویلو تحمل نه لرو او که په یوه ژبه خبرې کوو نو د بـل ژبـې ویـوونکي راتـه اجنبي او غیر افغان ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ فکر کوو چې افغانستان د دنیا د ثقل مرکز دی او ټوله دنیا د همدې ځایه اداره کېږي. په واقعیت کې داسې نه ده، مونږ ډېر وړوکی هېواد یوو او حتی د خپلې سیمې په کچه هم زمونږ هیواد په اقتصادي، فوځي او سیاسي لحاظ وروسته پاتې هیواد دی.

همدا ګړی یوکتاب د بین المللی روابطو او د نړیوال سیاست په هکله هم لولم. د دې کتاب په یو ځای کې راځي چې ګروپونه، ژبې او قومونه د ابد نه په همدې شکل نه دي پیدا شوي بلکې د مهاجرتونو او سیاسي جوړښتونو او تحولاتو په نتیجه کې مونږ په اوسنۍ فزیکي او یا بشري جغرافیه کې ژوند کوو. د اسلام له نقطه نظره هم قومونه او ډلې د یو بل د شناخت لپاره پیداشوي دي، په یو بل تفوق یا برتري نه لري. که مونږ د کلیوالي محدودې نه راووځو نه ښه به وي ځکه افغانستان لا هم د دنیا په پرتله کلی دی ښار نه دی. مونږ په خپل کلي کې هغه وخت د عزت او ابرو ژوند کولی شو او د خپل هېواد د اوسېدو نه خوند اخیستلی شو چې مونږ ملي فکر ولرو.

راځئ چې د ملي ګټو لپاره وړې خبرې شاته واچوو او د یو ملي اجنډا حمایت وکړو. هره ژبه باید د هماغه قوم خپل ویوونکي تقویه کړې او د خپلې ژبې یا سیمې د وروسته والي ملامتیا په یو بل وانهچوو. که چا یو ښه کار کوو هغه باید وستایو او که چا بد کول بد یې باید د ملي ګټو په خاطر وغندو نه دا چې د شخصي ګټو په خاطر. مونږ داسې ایډیاله فرموله نه شو پیداکولی چې هر نظام او هر شخص باید هیڅ خلا او نیمګړتیاوې ونه لري. هر شخص او هر نظام په هره مقطع د تاریخ کې زیاتې نیمګړتیاوې به خامخا لري او همېشه به د اشتباګانو سره مخامخ وي خو باید نظام او اشخاص خپلو نیمګړتیاو ته متوجه کړو ځکه دا زمونږ حقوقي او قانوني حق دی.



# امریکایان ولې افغانستان ته راغلي دي؟ کونړ د لرګو د خاطره

د می د میاشتې ۲۹مه نېټه، د دیترویت هوایي ډګر، امریکا

د افغانانو په منځ کې د هېواد نه بهر او هم افغانستان کې دننه د امریکایانو د راتګ د موخو په هکله په محلي او سیاسي حلقو کې مختلفې تبصرې کېږي چې دوی ولې هلته تللي دي او هر چاسره د هغه د معلوماتو او طرزفکر په اندازه جلا جلا نظرونه دي. څو کاله دمخه زما زوی، ضیا راته ویلي و چې په خاص کونړ کې د میلمنو سره په دېره کې ناست و نو یو تن ورته ویلي و چې کونړ ته امریکایان په دې خاطر ورغلي دي چې د کونړ لرګي (د نښترو چارتراش) یوسي. ده ورته ویلي و چې امریکا کې لرګي دومره ډېر زیات دي چې خلک کمپنیو ته په یوه ونه زر دوه زره ډالره د پاسه ورکوي چې هغه ووهي او یوسي یې.

پرون چې د امریکا د مسچوسیت ایالت ویلمزټاون پوهنتون ته چې د امریکا د ټولو نه مشهوره پوهنتون دی، د پروفیسر ډیوید اډوارد په بلنه تللی وم چې هلته د دغه پوهنتون د استادانو او شاګردانو سره د افغانستان د تازه مسایلو په هکله وغږېږم. څو کاله پخوا ډیوید او ما د ویلمز-افغان میډیا په نامه یوه پروژه درلوده چې زه ورسره سلاکاروم. کله چې د ډیوید نوي کورته لاړم چې دا کورد چارتراشو یعنې نښتر د ښو لرګو نه په یوه خاص ډیزان جوړ شوی دی نو د ضیا خبره مې راپه یاد شوله.

په دې وخت کې د فراه د ولایت پخواني والي صیب روح الامین هم زما لیدو ته راغی نو هغه ته مې د ضیا خبره وکړه او د د ډیوید د کور څو عکسونه مې واخستل چې درنو دوستانوسره یې شریک کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کور چې د نښترو د ښایسته لرګو نه په ډېره عجیبه نقشه او ډیزاین په پنځه جریبه ساحه کې چې اکثره یې ځنګل دی، ۴۳ کال پخوا جوړشوی او تقریبا یو میلون ډالره ارزښت لري. د کور شاوخوا ته د دغه پوهنتون تقریبا ځلور ځلوېښت زره جریبه ځنګل دی او په دې لوی ځنګل کې دا یوازینی کور دی. دا ځنګل د ویلمزټاون پوهنتون د شاګردانو او د دغه سیمې د زراعت د څانګې د تحقیقاتو لپاره ساتل شوی دی. د ویلمزپوهنتون په هغه وخت کې و نه غوښتل چې د دوی د اولني پلان له مخې نور کورونه هلته جوړ کړي. په دغه ځنګل کې د نښترو او میپل (میپل سیروپ د دغه ونو نه جوړېږي) نه نیولې د ګلانو او نورو زینتي ونو پورې شته دیې. د امنیت، آزادې هوا او سکون په هکله به نور څه نه وایم چې دا پروفیسر ـ د خپلو دوه ماشومانو او یوې ښځې سره هلته په ځانګړې توګه اوسېږي.

پورته لیکنې باندې دوستانو ډېرې مهمې تبصرې لیکلې وې چې یو څو یې دلته را انتقالوم:

**استاد غلام دستګیر خاورین صیب لیکلي و:**

ډېر په زړه پورې مطلب و. دا خو جوته ده چې امریکا ډېر بډای هېواد دی زموږ شتمنیو ته اړتیا نه لري خو د مطلب د بشپړولو له پاره په کار دي چې د یو کارپوه په توګه ووایاست چې د څه له پاره راغلي دي. د دوی راتګ آن د کرزي صاحب په زړه هم نه هوارېده.

**ډاکټر یونس بارګامي صیب لیکلي و:**

میاخیل صیب دا کیسه د خلکو ورکه ده کنړیان وایي لرګو پسې راغلي لغمانیان وایي بادرنګو پسې راغلي وردګ وایي مڼو پسې راغلي خو خدای ته به معلومه وي خو زما په فکر د پښتنو په جګو شملو پسې راغلي دي.



**عبدالموجود خلیلزي صیب لیکلي و:**

ګرانو مشرانو اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! د میاخیل صیب خبرې ټولې پر ځای دي او د واحیدی صیب خبرې په تاید چې میاخیل صیب کوښښ کوي چې د خپلو سفرونو په وسیله زمونږ افغان ولس راویښ کړي. زه د واحیدی صیب خبرو سر هم موافق یم چې زمونږ د ټولنې ډېره فیصدي نالوستي خلکو څخه جوړه ده او د دوی د مظلومیت او بیچارګۍ نه استفاده کېږي او هغوی په یو نوم اوبل نوم غولول کېږي. خو زه بیا داسې وایم زمونږ نالوستي وګړي د هغه پروفیسرانو او لوستوونکو څخه ډېر ښه دي کوم چې زمونږ دګران هېواد په ورانولو کې مهم رول لرل خو زمونږ نالوستي بیا په کې ډېر ځورېدلي او کړیدلي او د دې عامل ټول زمونږ هغه د علم او د پوهې خاوندان دي کوم چې جهاد په نامه یې زمونږ هېواد په کنډرو بدل کړه. زه جنوب، غرب او شمال د افغانستان باندې نه غواړم چې وغږېږم دا نه چې مالومات راسره نشته، مالومات هم لرم خو زه غواړم چې د ختیځ زون چې د دغه زون ډېر شتمني هغه خلکو لوټ کړه کوم چې ځانونو ته علماء، د جهاد رهبران او علمي څېرې وایي او ځانونه یې پر خلکو باندې د ټوپک په زور منلي دي دکونړ، نورستان، او ننګرهار هغه ځنګلونه یې له منځ یووړل کوم چې د افغانستان عامه شتمني وه او هغه ځنګلونه یی وسوځول چې خلکو نه غوښتل دا ظالمان یې قطع کړي. زما په نظر د افغانستان د عامه شتمنۍ په لوټ کولو کې، د خلکو په وژنه کې، د هېواد په خرڅولو او بربادولو کې ډېر رول د علم او پوهې د خاوندانو وو. داکوم انځورونو چې میاخیل صیب شریک کړي دي خلکو خپل هېواد او خلکو سره مینه لرله نو ځکه یې خپل هېواد اباد کړی دی. الله تعالی مو راته ژوندي لره او الله تعالی دې وکړي چې زمونږ په ګران هېواد کې هغه په خوب ویده او با احساسه افغانان مشران راویښ شي او خپل سرنوشت په خپله وټاکي. امریکا زمونږ د هېواد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو منابعو د خرابېدو لپاره راغلې ده او غواړي چې مونږ ټول عمر سوالګر پاتې شو او دوی چې څه غواړي هغه پر مونږ وکړي.

**محترم فريد واحدي صيب ليکلي و:**

مياخيل صاحب کور مو ودان تاسې همېشه د خپلو سفرونو ګټور اړخونه له ولس سره د هېواد د بهبود په خاطر شريك كړي دي. دا هم واضحه ده چې زمونږ د ولس لويه برخه بې سواده ده او زر غولول کېږي. خو مونږ او تاسو بايد دا ومنو جي امريكا افغانستان ته د خپلو سيمه ييزو او طويل المدتو ګټو د خونديتوب لباره راغلې ده او افغانان د تېرو تجربو نه په استفادې بايد د دې حالت نه مثبته ګټه پورته کړي.

**محترم عارف لودين صيب ليکلي و:**

محترم مياخيل صيب! ډېره مهمه موضوع دې راواخيسته، ستاسو نظر او تبصرې ته په تمه وو، خو تا ترې د ډيويډ اډوارډ د كور توصيف ته مخه کړه!!؟؟

**انجينر صيب سيد فريدالله فريد ليکلي و:**

مياخيل صيب دا جوته ده چې امريكا افغانستان ته د لرګو د وړلو لپاره نه بلکې د نورو ستراتيژيکو موخو لپاره راغلې ده خو له يو واقعيت نه سترګې هم پټولی نشو چې د طالبانو له نسکورېدو وروسته د زورواکو واک نور هم زيات شو او د لرګو مافيا په کونړ کې په خلاص مټ د لرګو پريکول او لېږد زيات کړ.



**د دوی په ځواب کې ما په مختصره توګه وليکل:**

د ټولو دوستانو د تبصرو نه زياته مننه. زما موخه همدا وه چې يو علمي بحث سرې پرانېزي. او اکثره تبصره كوونكي چې زه پېژنم له مانه زيات معلومات په ټولو مسايلو کې لري.

خاورين صيب! کرزی صيب د امريکايانو سره ډېر زيات خوشحاله و چې په مفته يې ورته قدرت وسپاره، امنيت يې ورته نيولی و او بيدريغه پيسې يې ورته ورکولې چې بالا خپلې مزې او چړچې يې پرې ۱۳ کاله وکړې. په اخره کې سره ځکه خفه شول چې دی او د ده کورنۍ غوښتل چې د ګاندي د کورنۍ په شان تل تر تله په قدرت کې پاتې وي خو امريكايانو دا نه منله او اختلاف د دوی تر منځ پيدا شو. محمود کرزي په يوه مرکه کې همدا وويلې چې دوی د ګانديي د کورنۍ په شان رول بايد په افغانستان کې ولوبوي. کرزي صيب هم په اخره کې وويلې چې دی پس له ۱۳ کلونو په دې اوس پوه شو چې امريكان د خپلو اهدافو لپاره افغانستان ته راغلي دي خو په دې ديارلس کلونو کې چې د ده يې حمايت کوو ده څه نه ويلې ولو که ستونځې ډېرې زياتې وې.

که څوک خپل اهداف ونه لري نو څنګه دومره فوځونه يو بل ملک ته لېږي او دومره پيسې هلته مصرفوي؟ په سياسي او اقتصادي مسايلو کې د يو بل سره بايد مشترکې ګټې وي چې يو د بل سره کاروبار وکړای شي يعنې د يو ملک ګټې بايد د بل ملک د ګټو سره اړخ ولګوي خو داسې نه وي چې يو خوا خپلې ګټې خوندي وي او د بل پکې هيڅ نه وي. مونږ ته بايد د اول نه د امريكانو د راتګ موخې معلومې وي او هم مو خپلې موخې تعريف كړې وي چې په څنګه د يو بل د موجوديت نه ګټه واخلو او څنګه همغږي سره کېدای شي او که نه؟ که نه شي نو بيا څه په کار دي او کومې نوې لارې چارې ولټول شي. مونږ نه د امريكايانو د موجوديت نه سمه ګټه واخيستله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مو نورې لارې چارې ولټولې چې که دوی نه وي نو څه باید وکړو. مونږ نه د دوی سره سم کار وکړ او نه مو د دوی موخې معلومې کړې او نه مونږ خپلې موخې تر اوسه پورې تعریف کړای شوې. نو همدا لامل دی چې مونږ ټول د اوسنیو سیاسي حالاتو په هکله په یو نوع سردرګومۍ کې غرق یوو. دا ډېر لوی بحث دی خو په اخره کې دومره وایم چې افغانستان د امریکا لپاره وسیله ده نه هدف خو د افغانستان لپاره ثبات او ارامي هدف دی او دې هدف لاسته راوړو لپاره باید په شریکه کار وکړو.

## د نېشنلېزم مثبت او منفي اړخونه

د مې د میاشتې دېرشمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینا، امریکا

که تېرو دوه سدیو ته وګورو نو نیشنلېزم په نړۍ کې د ملت جوړونې او هېواد جوړونې لپاره مثبت او هم ډېر منفي رول ادا کړی دی. که نیشنلېزم د خود ارادیت په معنی د ملي وحدت او هېواد جوړونې لپاره استعمال شي چې قومونه او ولسونه سره متحد شي، ملي ګټې تعریف او د ملي ګټو لپاره کار وشي نو نیشنلېزم د یو هېواد په جوړونه کې مهم رول لوبولی شي. ښه مثال یې په دې وروستیو وختونو کې جنوبي افریقا ده چې تور پوستو د نیشنلېزم په وسیله د سپین پوستو د اپارتاید یا نژادي تبعیض نه ځانونه خلاص کړل او د قدرت د نیولو نه وروسته، نیلسن منډېلا د انتقام نه کار وانه خیست او ملي وحدت یې وساته. په امریکا کې هم د نیشنلیزم له امله په میلونونو انسانان ووژل شول خو بیا د دې ملک د Elites یا نخبه ګانو د کفایت او درایت له امله امریکا د پرمختګ په لوري روانه شوله او اوس د نړۍ د بل هر ملک په پرتله امریکایان خپل هیواد او ملي ګټو ته ډېر ژمن او وفاداره دي.



که نیشنلېزم په یو هیواد یا سیمه کې د تفرقه اچولو، تضادونو، قومي برترۍ، د قدرت انحصارول او داسې نورو منفي موخو باعث شي نو یو هیواد څه کوي چې د سیمې ټول هیوادونه او حتی د نړۍ ثبات له خطر سره مواجه کولی شي. که شلمې پېړۍ ته نظر واچوو نو د نیشنلېزم د منفي موخو له امله لومړۍ او دویم نړیوال جنګونه رامنځته شول چې میلونونه انسانان پکې ووژل شول. په ورستیو کلونو کې پخواني یوګوسلاویا، نایجیریا، رواندا او کانګو یې نور خراب مثالونه دي.

په افغانستان کې هم د نیشنلېزم نه ګټوره استفاده نه ده شوې او په خاصه توګه په تیرو څو لسیزو کې د نیشنلېزم قوت د یو بل پر ضد د محدودو شخصي، قومي او سیمه ییزو ګټو په خاطر استعمال شوی دی. که مونږ د مجاهدینو، طالبانو، کمونیستانو او یا هم اوسني حالت ته ګورو نو قومي او سیاسي مشرانو، نیشنلېزم نه د خپل قدرت د ساتلو په خاطر ګټه اخیستې. کله چې د دې سیاسي او یا قومي ټیکه دارانو ګټې په خطر کې شي نو د خپلو قومونو قوت ته مخه کوي او د هغوی د حقوقو د غوښتلو په پلمه د خپل قوم او یا سیمې ولس باندې غږ کوي چې د دوی حمایت وکړي خو بیا چې خطر له منځه لاړ شي نو نه د دوی خپل قوم په یاد وي او نه ملي ګټې ورته څه اهمیت لري. د افغانستان وروستۍ ټاکنې یې ښه نمونه ده چې نوماندانو د نورو مسایلو نه برسېره د خپلو بیالوژیکي اړیکو په اساس په خپلو قومونو باندې په کراتو کراتو غږ کاوه چې د دوی حمایت وکړي خو اوس هغه وعدې هسې په هوا کې پاتې دي.

زما غوښتنه ده دا ده راځئ چې د نیشنلېزم له قوت نه د ملي ګټو لپاره کار واخلو نه دا چې مونږ د نیشنلېزم قوت د یو بل پر ضد استعمال کړو ځکه په دې وروستي حالت کې نه مونږ ګټه کولای شو، نه زمونږ قومونه او سیمې او نه په عمومي توګه د افغانستان د راتلونکي لپاره څه ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته بحث باندې هم ډېر سوالونه او نظرونه لیکل شوي و چې یو څو نظرونه او تبصرې یې دلته رانقلوم:

**انجینر صیب سید فریدالله فرید لیکلي و:**

میاخیل صیب ډېرې ښې موضوع ته مو اشاره کړې او ښه رڼا مو پرې اچولې ده چې په اوسني ترینګلي حالت کې پرې پوهېدل ډېر ضروري دي. که یو وار مو هېوادوال د نشنلېزم په منفي لومې کې ګیر شول نو بیا خو تاریخ څه چې جغرافیه هم په خطر کې ده. د دې سیاسي دوه بختـه واژې د منفي اړخ نـه د بچ کېدو لپاره یو سیاسي رهبریت، درایت او ارادت ته ضرورت دی.

**سلام مجاور صیب لیکلي و:**

میاخیل صیب ستاسو نظر ته درناوی!

د خپلې پوهې په خاطر دوه جملې شریکوم او ستاسو نظر پرې غواړم له داودخان وروسته په افغانستان کې د نشنلیزم کومه بېلګه لرو او کنه؟او که وایو چې لرو یې د قوم پرستۍ او ملت پالنې مانا به سره په ټکر کې نشي؟

که په دې هکله راته دوه درې جملې ولیکئ چې زما ذهن پرې خلاص شي.

**رفیع الله جمیل ستانکزي لیکلي و:**

بلکل د کاڼي کرښه ده میاخیل صاحب محترم، موږ له نشنلیزم نه ناسمه ګټه اخیستې، کنه ترې مثبته ګټه ډېره کېدای شي او د سمې خوا تـه تلای شو، خو دلته هر څه په لوی لاس ناسم کارول شوي دي او موږ ورتـه پـه بـده سترګه ګورو کنه نشنلیزم ډېر ښه دی، چې سم وکارول شي.



**د دوی د نورو دوستانو د لیکنو او تبصرو په هکله ما ولیکل:**

دوستانو ستاسې د نظرونو او تبصرو نه مننه! ما د لیکنې په سر کې لیکلي که نیشنلېزم د خود ارادیت او ملي موخو په هکله استعمال شي نو ښه کار دی خو په تېرو څو لسیزو کې دا کلمه د قوم پرستۍ پـه معنی استعمال شوې ده. که موږ نیشنلېزم داسې تعریف کړو چې ملي ګټې پـه نظر کې ونیسو نو موږ باید تحمل ولرو او هر څوک چې د افغانستان په محدوده کې اوسېږي باید هغوی ته په درنه سترګه وګورو، یو بل تحمل کړای شو او د همکارۍ روحیه پیدا کړو. کـه تحمل او د همکارۍ روحیه نـه وي نـو بیا تضادونه پیدا کېږي او منفي تضادونه ټولنه د تباهۍ سره مخامخ کوي. واقعیت اوس دا دی چې تاجک، هزاره، پښتون او نورو قومونو ته یو بل ښه نه ښکاري او د همکارۍ روحیه سره نه شته ده او هر یو قوم داسې فکر کوي چې په دوی ظلم شوی دی. علت یې همدا دی چې موږ د ملت جوړونې لپاره ملي پالیسي نه لرو او دا زمینه د کرزي صیب پـه دوره کې ډېره زیاتـه مساعده وه خو متاسفانه هغه خپله ټوله انرژي په همدې مصرفوله چې څنګه یو د بل په مقابل کې استعمال کړي. که موږ د سویس هیواد ته وګورو ډېر وړوکی هیواد او څلور ډېر متضاد قومونـه هلتـه اوسېږي خو هغوی وکړای شول چې د همکارۍ روحیه پیدا کړي او د مرکزي او د محلي حکومتونو تر منځ تعادل رامنځته کړي.

د افغانستان مشکل د نورو ډېرو هېوادونو پـه پرتلـه ډېر مشکل نـه دی. زموږ غټ مشکل سیاسي او د قومي ټیکه داریو او هم په وروستیو کلونو کې په ولس باندې یو نوعه د مدني ټولنې جنګ سالاري هم حاکمه ده. د مدني ټولنې جنګ سالارانو ته ما په خپله یوه مقاله چې په انګلیسي ژبه پـه ۲۰۱۰ م کې خپره شوې وه اشاره کړې وه او بعضې د دوی مې د Civil Society Warlord په نامه یاد کړي وو. ځکه چې جنګ سالاران او بعضې قومي ټیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داران څه کوي نو دوی هم د هغوی په مراتبو زيات دي. دا په دې معنی ده چې زمونږ په ټولنه کې اوس هم يو قسم بله جنګ سالاري حاکمه ده چې دا د تېرې جنګ سالارۍ نه خطرناک تره ده. که د دې مدني ټولنو د جنګ سالارۍ په حلقه کې نه اوسې نو بيا ته هم د حکومت په تصميم ګيرۍ کې رول نه لرې. دا نوع جنګ سالاران هم ډېرې پيسې لري او د نورو مافيايي حلقو سره نږدې تړاو هم لري.

## ايا نيوکې يا انتقاد خيانت دی؟

د می د مياشتې ۳۱مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

د فيسبوک يو دوست د يو بل دوست په وال باندې ليکلي و چې دوی په حکومت باندې هره بېځايه نيوکه دوی په خيانت حسابوي.

ما ورته وليکل: وروره خفه کېږه مه، نيوکه او خيانت سره ډېر فرق لري. که په نيوکه څوک خاين کېږي نو بيا خو د خاينينو تعداد به ډېر زيات شي. د حکومتونو دا وظيفه ده چې نيوکو ته منطقي ځوابونه ووايي او په نيوکو خفه نه شي. سلمان فارس يو فقير صحابي و او حضرت عمر (رض) ته يې وويلې چې عمره د منبر نه ښکته شه ستا خطبه نه اورو ځکه تا بې عدالتي کړې ده او د غير عادل سړي خطبه اورېدل جايز نه دي. حضرت عمر (رض) غوندې د اسلام مقتدره خليفه خطبه بس کړه او د منبر نه راښکته شو او د سلمان فارس اعتراض ته يې غوږ ونيوه.

نيوکې د ډيموکراټيکو نظامونو يو مهم اصل دی نو د دې اصل نه بايد مونږ څوک محروم نه کړو. که په نيوکو څومره محدوديت وضع کېږي نو هماغومره نيوکې زياتېږي. د افغانستان غوندې ملک کې چې ديکتاتوري نظام نه دی، نيمچه ډيموکراسي او زياته انارشي ده نوپه نيوکو بنديز لګول



ګټه نه لري. نور به مخکې نه ځم خو دا ډول ويناوې د نظام جوړولو لپاره ګټه نه لري.

هغه متل دی چې وايي ته د چا په خولو برغولی نه شې ايښودلای. حکومت ته په کار ده چې په خپلو ستراتيژيو او پروګرامونو باندې کار وکړي او هسې په تا ويلو ما ويلو باندې وخت ضايع نه کړي. کله چې خلکو وليدل چې وينا او عمل سره سم دي نو بيا پخپله د ولس ذهنيت بدلېږي. الله تعالی وايي چې قُلِ اعْمَلُواْ فَسَيَرَى اللّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ.

## فيسبوکي تا ويلي ماويلي

د جون د مياشتې لومړۍ نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

زه فيسبوک معمولاً د ورځې د ډېر کم وخت او د خاصو موخو لپاره استعمالوم او يوازې سهار او ماسختن يې ګورم او که کله کله کومه مهمه خبره واورم نو بيا د ورځې هم د لږ وخت لپاره فيسبوک ګورم يعنې فيسبوکي روږدی نه يم که څه هم زيات پوستونه ليکم.

د درېوو مشخصو هدفونو لپاره زه فيسبوک استعمالوم. اول دا چې د خپل وطن له احوال نه خبر شم. که د فيسبوک خبرونه او ويناوې واقعيتونو ته نږدې هم نه وي خو بيا هم سړی اټکل کولی شي چې په کومه خوا روان يوو او حالات څنګه دي. دا فيسبوک هم د پخوانيو وختونو د سرچوک د اوازو په شان دی چې پخوا به پادشاهانو د سماوارونو نه خپل معلومات راټولول او بيا به يې تصميم نيوه او اوس فيسبوک د سر چوک د اوازو لپاره ښه منبع ده. دويمه موخه د فيسبوک مې دا ده چې د يو شمېر دوستانو او انډيوالانو او وطندارانو سره په افغانستان کې دننه او هم بهر په اړيکه کې يم او د دوی د احوال نه خبريږم نو فيسبوک ماته د دوستانو د احوال د نيولو يوه ښه وسيله ده. درېيمه موخه د فيسبوک ماته دا ده چې خپل احوال، نظرونه او کم و

(c) ketabton.com: The Digital Library



توم تجربه چې لرم د دوستانو سره شريکه کړم شايد يو څوک ترې ګټه واخلي او هغه به زما په صدقه جاريه کې حساب شي.

نن سهار چې له خوبه راپاڅېدم، د خپل دفتري او شخصي ايميلونو د کتو نه وروسته مې چې د فيسبوک پاڼه بېرته کړه نو ډېر خفه شوم ځکه زمونږ يو شمېر وطنوال او دوستان که هغه د حکومت نه بهر دي او که په حکومت کې کار کوي او يا د حکومت نه شاکي دي او يا د حکومت طرفداران ځانونه بولي په اوتو بوتو سر دي او خپله انرژي په دې ضايع کوي چې تا ښه ويلي او يا تا بد ويلي دي. يوه ورځ مې راته زوی، طارق چې هغه هم ماسټري لري وويل چې خلک ډېرې زياتې خبرې کوي خو زما فرموله دا ده چې ټولې خبرې په يوه غوږ اورم، د کار خبره او ښه خبره په مغزو کې ساتم او بيکاره خبرې او د اوريدلو نه خبرې د دې بل غوږ نه وکاږم او وخت پرې نه ضايع کوم. نو زما غوښتنه هم د دوستانو نه دا ده چې د کار خبره اخلئ، خو خپل وخت په دې مه ضايع کوئ چې تا څه وويل او ما څه وويل. دا چې څوک په فيسبوک د ورځې د يوه ساعت يا لا اقل د دوه ساعتونو نه زيات وخت ضايع کوي نو دا دوستان روږدي دي او تداوۍ ته ضرورت لري.

دا چې ما په ميډيا کې يو څو ورځې کار کړی، که کومه خبره بده وي او هغه ستاسې په طبعيت برابره نه وي نو نوره يې مه چېړئ که څومره يې چېړې نو هغومره د هماغه بدو خبرو ترويج ته تاسې پخپله لمن وهئ نو په داسې مواردو کې غوږ نه ګرول يا ignore کول ښه پاليسي ده. يو څوک د هوښيارو دښمنانو له لاسه نه خرابېږي خو د کم عقله دوستانو له لاسه سړی ډېر خرابېږي ځکه هغه ورته هره ورځ کار ګوري. هيله ده چې زما دا څو خبرې په دوستانو بدې ونه لګېږي.



## د ماشومانو د ورځې په ياد!

د جون د مياشتې لومړۍ نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

د ماشومانو د ورځې د قدردانۍ په خاطر زيات ماشومان بايد زمونږ او ستاسې مشران وي تر څو د ماشومانو ښه قدرداني وشي. الله دې زمونږ د وحدت ملي ماشومان زمونږ له سره نه کموي ځکه چې دوی لا معصوم دي او انشاالله مونږ او تاسې ته به ښه خدمت وکړي. ربه توفيق دوی ته

نوټ: د وحدت ملي حکومت ډېر بې تجربه ځوانانو ته مهم پوستونه سپارلي او هم د پخواني جهادي مشرانو او قوماندانانو زامنو ته يې ډېرې مهمې دندې وسپارلې چې اوس به دا نوی نسل په افغانانو باندې بيا تر ډېر وخته حاکم وي.

## توقعات

د جون د ماشتې دويمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

که غواړې چې له چا نه خفه نشې نو خپل توقعات راټيټ کړه.

## ازموده را ازمودن خطا است

د جون د مياشتې درېيمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

د دری ژبې ښکلی متل دی چې وايي: ازموده را ازمودن خطا است. که يو څوک ازمايل شوی وي او مونږ غواړو چې بيا يې وازمايو نو دا سمه نه ده. زما موخه د دې متل نه دا ده هغو کسانو چې په تېرو څو رژيمونو کې لکه د کمونيستانو، مجاهدينو، طالبانو او يا په تېرو ديارلسو کلونو کې د قدرت په چوکۍ ناست و مګر څه يې نه دي کړي يا د بې کفايتې په وجه، يا د شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



گټو په خاطر او یا یې نه موقف او نه نظر درلود او یوازې غوښتل یې چې خپله چوکۍ وساتي نو د دوی نه بیا طمعه په کار نه ده.

البته زما موخه د لوړو چوکیو کسان دي چې پخوا وزیران، معینان، والیان او یا مستقل رئیسان وو. ځکه دا د حکومت په کچه ډېر لوړ مقامونه دي او کله چې یو څوک دغه موقوفونو ته رسېږي نه بیا باید خپل مستقل نظر ولري او د چوکیو د ساتلو پروا ونه کړي. که مونږ کله د موجوده وضعیت او حالاتو نه راضي نه یوو نو دا باید ښه ونه ګڼو چې بېرته پخوانیو ازمایل شوو کسانو ته مراجعه وکړو او د هغوی نه د نجات پرښتې جوړې کړو. که دوی بیا راشي نو هماغه خرک او هماغه درک به وي. زما مشوره موجوده حکومت ته دا ده چې په تېرو بې کفایته کسانو باندې چې د تېرو حکومتونو د بې کفایتۍ اصلي عاملین دي ډېره اتکأ ونه کړي که نه دوی به دا حکومت هم د ګړنګونو نه خطا کړي.

## د خبرونو موثق والی او د خبرونو منبع ته توجه کول

د جون دریمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

نن مې چې د خپل فیسبوک پاڼه خلاصه کړه نو دوه ګرم بحثونه د ناموثقه خبرونو پر سر روان وو. زه هم د فیسبوک د بعضې دوستانو په تاویلو او ماویلو حیران شوم. یو خبر دا و چې د ترکیې جمهور رئیس رجب طیب اردوان د برما د مسلمانانو د نجات لپاره کشتۍ ګانې لېږلي دي او دی د اسلامي نړۍ یوازینی مشرـ دی. همدا شان د برما د مسلمانانو د وژنو عکسونه ډېر زیات خپاره شوي وو. دا چې ترکیه برما ته کشتۍ ګانې لېږلې او مسلمانانو ته نجات ورکوي ماته موثقه خبر ښکار نه شو ځکه په بل هیڅ نوع خبرونو کې ما دا خبر ونه لیده. همداشان کوم عکسونه چې د برما د مسلمانانو د وژنو خپاره شوي، دا هم ډېر پخواني او هم د نورو ملکونو د



پېښو عکسونه پکې هم شامل دي چې ډېر پخوا دا پېښې ترسره شوي دي. دا ټول فوټوشاپ شوي عکسونه دي چې د خلکو ذهنیتونه مغشوش کړي.

ما ته دا سوال پیدا شو چې دا خبرونه او عکسونه څنګه او چا خپاره کړل او هدف ترې څه دی؟ زما په اند د دې خبرونو په خپرولو کې دوه مقصده دي چې یو مسلمانان لا نور هم وټکوي، په خپلو منځو کې یې واچوي او مذهبي جنګونو ته لمن ووهي او دویم ګروپ شاید وغواړي چې د افغانانو توجه د وطن د اصلي مسایلو نه واړوي او په نورو اوتو بوتو یې مصروفه کړي.

نو ګرانو دوستانو ته زما مشوره دا ده چې د خبرونو په اوریدو او عکسونو په لیدو باید مونږ ډېر فکر وکړو چې منبع د خبرونو موثقه ده او که نه؟ یو قصه مې راپه یاد شوله چې ډېر کلونه پخوا ما یو رپورټ د امریکا غږ رادیو له لارې خپور کړ چې د مجاهدینو موقت حکومت لغوه شو ځکه حکمتیار د هغه حکومت نه وتلی و او له هغه سره مې مرکه کړې وه. په همدې ورځ د کندوز د شهید عارف خان ورور، حاجي عمر خیرات کړی و او نو زه یې هم غوښتلی وم. په هغه خونه کې چې زه ناست وم، سید نورالله اغا د جمعیت اسلامي معاون هم و. یو کس زما په رپوټ تبصره کوله خو زه یې نه پیژندم. نو ما ورته وویل چې وروره دا ستا خبره سمه نه ده نو ده راته په ځواب کې وویل چې ده دا خبره د امریکا غږ رادیو نه پخپله اوریدلې ده او زما خبره سمه ده. ما ورته وویل چې راپور خو ما لیکلی او زه درته نغد ناست یم زما خبره نه منې او د امریکا د څپو نه چې زما راپور خپور شوی هغه منې. عجیبه منطق. تاسې باور وکړئ چې دې سړي تر اخره پورې همدا ویلې چې زما خبره سمه نه ده او د ده خبره سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه فکر کوم که زمونږ د فیسبوک دا بعضې دوستان د اردوان او برما په خبرونو تاویلې ماویلې بس کړي نو ښه به وي. نه دا خبرونه موثق دي او نه یې منبع موثقه ده. نوره ستاسې خوښه.

## په دردونو ځورېږم

د جون د میاشتې څلورمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

زه د هر انسان په غم او درد خفه کېږم او ځورېږم ځکه الله تعالی رب العالمین دی نه رب المسلمین، د مسلمان په درد خو ډېر خفه کېږم ځکه مسلمان د مسلمان ورور دی او د افغانانو په درد د هر چا لا ډېر خفه کېږم او ځورېږم ځکه چې افغانان مې وینه ده، هم مې مسلمان ورور او هم راسره په هر درد ، غم او خوشحالۍ کې شریک دی. د انسانانو د دردونو نه خوند نه اخلم ځکه درد مې په ځان نه لورېږي، نه مې په خپله کورنۍ لورېږي او نه هم په دوستانو، وطنوالو او انسانانو او حتی د حیواناتو په درد هم ځورېږم ځکه الله د ټولو مخلوقاتو رب دی او هر څه یې د یو حکمت لپاره پیداکړي دي نو مونږ باید د الله تعالی په مخلوقاتو ریشخند ونه وهو.



## د کابل جان په لور پس له یوې میاشتې سفر نه وروسته د چپلي کباب د خوندونو په لور

د جون د میاشتې پینځمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

په فیسبوک کې چې څه ګورم نو خدای مو د فیسبوک له شره وساتي.

د خدای په امان.

.

.

د کابل جان په لور پس له یوې میاشتې سفر نه وروسته

د چپلي کباب د خوندونو په ارمان

د جلال اباد ښار د شاغاسي دوکانونو سره پخوا ډېر ښه چپلي کباب د میده شوو نوشپیازو سره پیدا کېده نو کله به چې د کبابي دوکان ته نږدې شولې نو هغه ظالمانو به د کړايي د غوړو لږ څاڅکي اور ته وشیندل نو بیا مشکله وه چې د کباب بوي ته څوک ټینګ شوای وای او له چا سره به چې یو څه پیسې وې نو خامخا به یې د کباب یو څه ځکه کوله خو چې پیسې به ورسره نه وې نو لږبه هلته دم کیده چې د چپلي کباب په بوي موړ شي.

یو کلیوال د ما غوندې پخوا جلال اباد ته تللی و نو پیسې ورسره نه وې، کله چې د دې کبابچیانو دوکانونو ته رسیدلی و نو هلته یو څه دم ولاړ و چې د چپلي کباب د بوي نه خوند واخلي نو کبابي ورته ویلي و چې کاکا کباب خو نه خورې؟ کلیوال ورته ویلي و چې ولې نه. کلیوال چې دوکان ته ختلی و نو د کباب چي شاګرد یو خوراک کباب ورته راوړی و او هغه یې چې نوش جان کړی و نو بیا ترې د کباب چي شاګرد پوښتنه کړې وه چې کاکا بل کوم خوراک خورې که نه؟ کلیوال ورته ویلي و چې هو نو دویم خوراک یې هم خوړلی و. ورپسې یې ترې پوښتنه کړې وه چې کاکا چای خورې که نه؟ کلیوال ورته ویلي و هو. د مزه دار چپلي کباب او چای نه وروسته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کليوال روان شوی و نو کباب چې ورته ويلي چې پيسې راکړه نو هغه ورته ويلي چې له ماسره خو پيسې نشته او تا راته ست وکړ چې کباب نه خورې نو ما ځکه ستا بلنه قبوله کړه. په دې جنجال کې کباب چي پوه شوی و چې پيسې نه لري کباب يې رانه هسې هم وواهه نو د کباب په کفگير يې يو دوه گذاره دا کليوال په ځټ کې وهلي وو او ورته يې وويلي چې ځه مخ دې ورک شه او بيا په دې لور رانشې.

کله چې کليوال بېرته خپل کلي ته ستون شوی و نو د کلي کسانو ترې د جلال اباد د ښار پوښتنه کوله چې څه دې وليدل او څنگه خلک و. کليوال ورته ويلي و چې جلال اباد ښار ډېر ښايسته ځای دی او خلک يې ډېر ښه ميلمه دوسته دي خو چې ډوډۍ درباندې وخوري نو بيا درنه پيسې غواړي او که پيسې درسره نه وي نو بيا دې يو دوه کفگيره په ځټ کې وهي.

د فيسبوک خبرو اترو ته چې گورم نو هر څه په افغانستان کې وران دي خو د دې ټولو ستونځو، ناهيليو او د کفگيرونو د وهلو سره سره بيا هم افغانستان ته تگ او هلته اوسېدل خورا خوند لري ځکه چې وطن عزيز دی او دوستانو سره بانډارونه خو لا جلا خوندونه لري چې مونږ ته سکون راکوي.

## د سولې د خبرو اترو په هکله د نن ورځې بحثونه

د جون د مياشتې ۱٦مه نېټه، ۲۰۱۵ م کال، کابل

دې ورځو کې د سولې خبرو په هکله غونډې او بحثونه د هېواد نه بهر او هم دننه ډېر گرم دي. د پرنسيپ په لحاظ سوله ييز ژوند د اسلامي قوانينو، د افغانستان د اساسي قانون او بين المللي قوانينو په رڼا کې د ټولو نورو شيانو په پرتله زمونږ د ژوند د هر اړخ لپاره اساسي او مهم عنصر دی او په



دې هکله مونږ ټولو ته د يو مسلمان، افغان او انسان پاله بشر په توگه دا ضروري او لازمي ده چې د سولې لپاره کار وکړو. فکر کوم چې د پرنسيپ په لحاظ به هيڅوک شايد د سولې د خبرو اترو سره مخالفت ونه کړي.

دا چې سوله څنگه راتلای شي د افغانانو او حتی د نړۍ په کچه د حکومتونو، سياستوالو او عامه اشخاصو د نظرياتو ترمنځ تفاوت شته او دا تفاوت به دوام لري. خبرې اترې، غونډې او کنفرانسونه، جرگې او مرکې د سولې راوستلو لپاره حتمي او ضروري دي. که څه هم مونږ په خپلو منځو کې سولې او همکارۍ ته ضرورت لرو خو په عمومي توگه سوله همېشه د هغو اشخاصو او ډلو تر منځ چې له يو بل سره متفاوت نظرونه ولري او يا د يو بل سره په جگړه بوخت وي. نو مطلب مې دا دی که مونږ چاته دښمن وايو نو د هغوی سره مونږ د سولې خبرو اترو ته ضرروت لرو يعنې د دوست سره خو څوک سوله نه کوي بلکې د دوستانو سره مونږ همکارۍ او همغږۍ ته ضرورت لرو.

د سولې خبرې او مرکې د کور يا کلي نه نيولې د مهمو مسايلو په هکله تقريباً په يوشان سره حل کېږي خو طبيعي ده چې مهم مسايل ډېر وخت ته ضرورت لري تر څو يې پايله معلومه شي او مسايل حل شي. د سولې خبرې هم څو مرحلو ته اړتيا لري او په خلاصه توگه دا لاندې مرحلې يادولی شم:

- ✓ د سولې د خبرو په هکله د ضرورت احساس
- ✓ د تماسونو مرحله
- ✓ د اعتماد جوړونکې مرحله
- ✓ د سولې په پروسه توافق کول
- ✓ د منځگړي تعينول يا د منځگړيتوب مرحله
- ✓ د خبرو اترو لپاره استازي ټاکل او هم ځای په نښه کول
- ✓ د خبرو د پروسې پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د غوښتنو او ستونځو مطرحه کول
- ✓ د اوږدو او ځو مرحله یي بحثونو نه وروسته په یوه ځانګړي پریکړه توافق
- ✓ د پریکړو تطبیق او نظارت
- ✓ د پریکړو د تطبیق په سر د اختلافونو د بیا راپیدا کېدو لپاره د تصمیم ګیرۍ مرجع یا میتود
- ✓ باالاخره د اعتماد سازۍ د پروسې نهایي مرحله چې ټولې خواوې د فیصلو په تطبیق سره راضي وي او د بیا شخړو مخه ونیول شي

د پورته مرحلو د یادولو نه زما مؤخه دا ده چې مونږ لا د سولې د خبرو د پروسې د پیل نه ډېر لرې یو او تراوسه مونږ په سیاسي لحاظ کله په Track Two او هم کله Track one and a half تر منځ اوړو راوړو. دا دوه مرحلې غیر رسمي او یا نیمه رسمي مرحلې دي چې رسمي خبرو اترو لپاره زمینه مساعدوي. د سولې خبرو اترو لپاره د وخت او زمان تعین مشکله خبره ده. د سولې خبرې همېشه وخت، حوصله او سړې سینې ته ضرورت لري تر څو متخاصمې یا په جګړه کې اخته خواوې داسې یوې مرحلې او زمان ته ورسېږي چې نور د جنګ دوام د دوی په ګټه نه دی او یو بل ته د یو څه امتیاز ورکولو په صورت کې باید موافقې ته ورسېږي.



## مونږ افغانان هم عجیبه مخلوق یوو

د جون د میاشتې ۲۱مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

مونږ افغانان هم عجیبه مخلوق یو ټولې دنیا ته مو لاس اچولی او خپله هره ناکامي د نورو له خوا ګڼو. خپله مسوولیت پذیري نه لرو. که مونږ بیا دومره ضعیفه یوو چې د هیچا هیڅ پلان نه شو شنډولی نو د نر غونډې خو اقرار باید وکړو او هر څه باید نورو ته پرېږدو څه چې یې خوښه وي هغه دې وکړي. دې کې هېڅ شک نشته چې زمونږ ستونځې منطقوي او نړیوال ابعاد لري خو که مونږ مونږ اوسو نو د دې ستونځو د حل لپاره لار پیدا کولی شو او پردي نه شي کولی چې زمونږ په منځ کې څه وکړای شي. که خفه نشو نو مونږ په خپله سم نه یوو او څه ازار مونږ ته شوی دی چې د یوې ورځې نه بلې ته په لا تیارو کې روان یوو. تعلیم یافته او مشران مو د بېسواده نه هم په تیارو کې روان دي او د دوی لیکنې مې ځوروي. ښه دوست هغه دی چې دوست ته ښه دوست پیدا کړي نه دا چې خپل دوست ته که واقعاً پرې خفه کېږي دښمنان پیدا کړي. ځینې کسان چې د حکومت دوستان ځانونه بولي په حقیقت کې دوی هره ورځ حکومت ته دښمنان پیداکوي. د ښکنځلو ځواب باید په ښکنځلو نه وي بلکې په منطق او استدلال ولاړ وي. مخالفت او توافق د حکومت د کړنلارو سره هم په منطق او استدلال وي نه دا چې هر څه په پټو سترګو رد یا تائید کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وطن معماران

د جون د میاشتې ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د ډېرو منفي خبرونو ترڅنګه لکه چې څنګه مې مخکې وعده کړې وه د وطن د معمارانو ټولګه نن د چاپ نه راووتله او د دري ژباړه به يې هم په دې اوونۍ کې چاپ شي. انشاالله د روژې د میاشتې نه وروسته به يې مخکتنه هم وشي. دا ټولګه د ځینو هغو پخوانیو چارواکو یادونه ده چې د هیواد جوړولو هڅې يې کړي او دوی د خپل وطن سره خاصه مینه درلوده البته دا مشت نمونه خروار ده او امید دی چې په راتلونکي کې د نورو کسانو هم همداسې یادونه وشي. دا ټولګه زمونږ ځوان نسل ته یو پیغام هم ورکوي چې په دې هیواد کې ډېر ښه او وطنپاله کسان تیر شوي چې نه ستړې کیدونکي خدمتونه يې کړي دي او ټولو د وطن سره خیانت نه دی کړی. همدا شان چې کار کوي اشتباه به هم کوي نو شاید دوی یو څه اشتباګانې هم کړي وي خو مونږ یوازې د دوی د وطن جوړولو برخې رااخیستلي او په منفي بافۍ مو کار نه دی لرلی. دا ټولګه به اوسنیو چارواکو ته هم یو نمونه شي کـه دوی ښه او سم کار وکړ نو د دوی نومونه به هم د وطن د خدمتګارانو په ډله کې په تاریخ کې ثبت شي او که خراب کار يې وکړ نو د بدانو په لیست کې به د دوی نوم ثبت وي. ولس هر څه ګوري، د ښو او بدو ډېر ښه تمیز کولی شي خو دا چې د مافیایي کړیو له خوا زمونږ ولس یرغمل نیول شوی دا جلا خبره ده. د سوکاله او ارامه افغانستان په هیله



# د دوستوب نه نارینتوب اسانه دی

د جون د میاشتې ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

خدای بښلي پلار به مې ویلې چې د دوستوب نه نارینتوب اسانه دی. کـه څوک په کوم ځای کې بې غیرتي او یا خیانت وکړي نو هر وخت کـه د بېغیرتۍ یا خیانت خبرې کېږي نو دې سړي بـه سر ټیټ نیولی وي او همېشه به خجالته وي خو که چا نارینتوب یا توره وکړه او لږ وخت يې ځان ټینګ کړ، وېره ورسره نه وه او ناولو پیسو تـه يې نـه وویله نو ټول عمر به هسکې سترګې ګرځي او هر څوک به يې میړانه ستایي. پرون عیسی خان[1] همدا وښودله چې د لږ وخت لپاره يې همت وکړ، د ډېرو ژوند يې وژغوره او خپل ځان، کورنۍ او وطن لپاره يې نېک نوم پرېښود. ژوندي دې وي د وطن اصلي اتلان.

# بعضې کسانو ته دوه سزاګانې په کار دي

د جون د میاشتې ۲۱مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

فکر کوم پیتاوي خبره ده ځکه ما چېرته لوستلې نـه ده وایي چې سلیمان (ع) ته ورړه (کیک) عارض شوې وه چې ستا امت ما ته دوه سزاګانې راکوي اول مو نیسي او مروړې مې او بیا مې په نوک اچوي او وژنې مې. دوی دې ما ته یوه سزا راکړي. یا مې د سپږې (شپش) په شان په ګوته واچوي او مړه مې دې کړي او یا مې دې ومورووړي او هسې مې دې وارتوي. سلیمان (ع) ورته ویلي و چې ته هم یو کار کوه یا د سپږې په شان چیچل کوه خوځېږه مه او یا

[1] عیسی خان د لغمان اوسیدونکې دی چې د پارلمان د محافظت عسکرو او کله چې خودکشه اوه کسانو په پارلمان حمله وکړه ده ورته په سنګر کې زانو لږولې و او شپږ واړه ځانمرګي يې ووژل او د پارلمان غړو ژوند يې وژغوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځېږه خو چیچل مه کوه. دا يوه سزا دې د چیچلو ده او دا بلـه سـزا دې د خوځېدلو.

دا بعضې کسان هم گناه کوي او هم خوځېږي، هم خيانـت کـوي او هـم د پـاکـۍ چيغـې وهـي، هـم بـې کفايتـه دي او هـم د مـديريت دعـوه کـوي او همداسې نور. يوه ورځ راتـه جمهـور رئـيس د يـو کـس تعريـف وکـړ چـې پـه افغانستان کې د ده په شان په مديريت باندې هيڅـوک نـه پـوهېږي او ټـول افغانستان ورته د ورغوي په شان معلوم دی. همدې کس پخوانی ولسمشر له ناکامۍ سره هم مخامخ کړی و او اوس يې دا ولسمشر هـم لـه سـتونځو سره مخامخ کړی دی. دا هم ويلی شم چې همدا کس جمهور رئيس ته وفاداره نه دی په دې معنی چې د جمهور رئيس د اعتبار نه هم نه شرمېږي او اوس هم خپلې نـاولې لـوبې پـه خپلـه اداره کـې کـوي او د پخـواني او اوسـني جمهـور رئيسانو په منځ کې خبرې وړي او راوړي. مـا جمهـور رئـيس تـه يـو ايميـل د انتخاباتو په دويم دور کې ليږلی و او ورته ويـلي مـې و کـه همـدا کسـان پـه همدغه توگه ستاکمپين په مخ بيايي نو فکر کوم چې راتلونکی حکومت بـه د سختو ستونځو سره مخامخ وي. هغه ايميل ما يو څو کسـانو تـه هـم سي سي کړی و. که وخت راغی نو دا کس به زه په گوتـه کـړم او ده تـه هـم د ورړې غونډې د دوه حکومتونو د ورانولو سزاگانې په کار دي.

## مړي په يو بل تاوانول او فساد سره مبارزه

د جولای د مياشتې پينځمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د ټولو نيمگړتيـاو سره سره پـه پخوانيـو حکومتونـو کـې يـو څـه پوښـتنه او محاسبه وه. کله به چې د کومې حوزې جرايم زياتېدل نو امر د حوزې نـه بـه پوښتنه کېدله چې علـت يـې څـه دی؟ څـه پـلان لـري او څـه اجـراات يـې د جنايې پيښو د مخنيوي په هکله کړی دي؟



کله چې د کورنيو چارو په وزارت کې وم نو يوه ورځ راته د يوې حوزې امـر قصه کوله چې د ډاکتر نجيب الله د حکومت په وخـت کـې د کابـل ښـار پـه څلورمه حوزه کې يو قتل وشو نو امر د حوزې دا مړی د لسمې حـوزې سـاحه ته د شپې انتقال کړی و. کله چې د لسمې حوزه امر مړی په خپله ساحه کې ليدلی و نو دا يې د څلورمې حوزې ساحه کې بېرته اچولی و ځکـه سـبا خـو د کورنيو چارو وزارت تـرې پوښـتنه کـوي چـې دا قتـل ولـې شـوی دی؟ امـر د څلورمې حوزې چې دا مړی په خپله حوزه کې بيـا وليـد نـو بيـا يـې د لسـمې حوزې ساحې ته انتقال کړی و. په دې توگـه تـر سـهاره دا مـړی څـو ځلـې د لسمې او څلورمې حوزو د ساحو ترمنځ د شپې انتقال شوی و.

اوس که چا د دولتي ارگانونو کې کـار پيـدا شي نـو اسـناد بـه يـې د پورتـه قصې د مړي په شان د يوه دفتر نـه پـه بـل تـاوانېږي او کـه د اسـنادو کـاپي درسره نه وه نو بيا خو دې اسناد بيخي له منځه ځي او بيا يې پته هم نه شي لگولی. د درېوو مياشتو نه زيات وخت وشو چې زما د يو څه نفوذ او شناخت ترڅنگ، خپل تحصيلي اسناد مې د تحصيلات عالي وزارت د ارزيابۍ څـانگې ته يوړل او بيا وويل چې دوی دا اسناد د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي تـه د ارزيابۍ لپاره لېږي چې کله تعداد زيات شو او يوازې د يو کس اسـناد نـه لېږي. باالاخره د دوه مياشـتو پـه دوران کـې مکتـوب د حقوقـو پـوهنځي تـه ورسېده خو زما د اسنادو کاپي پکې نه وه. دا يوه مياشت د يو مهم پوهنتـون رئيس چې زما خپل دی ورپسې گرځي خو لا په دې نه دی توانيدلی چې زمـا اسناد د نورو کسانو د اسنادو سره يو ځای ارزيابي کړي. ويل کېږي چې کـه دلته ارزيابي هم شول نو دا بـه بېرتـه تحصـيلات عـالي وزارت تـه لېـږي او د هغوی عالي کميسيون به دا بيا ارزيابي کوي که قناعت يې و نو ښه او که نه بيا به مياشتې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بله شپه مې یو نږدې دوست مېلمه و نو دا قصه مې ورته وکړه نو ده راته وویل چې که په دې لاره ته روان یې نو دا به څو میاشتې نه بلکې د کال نه هم زیات وخت نیسي که دوه سوه ډالره ورکړې نو بیا هیڅ خبره نشته ځکه د خپل زوی اسناد همداسې بې له هیڅه ارزیابي کړي دي. که زه دا کار نه کوم نو زما له خوا به دا پیسې ورکړې او زما کار به خلاص کړي. ما ورته وویل چې که زما استاد جعلي وي نو بیا خو سمه ده او دا چې زما اسناد جعلي نه دي نو دا راته ډېره گرانه ده چې یا زه پیسې ورکړم او یا تا ته وواېم چې زما له خوا پیسې ورکړه.

د حقوقو پوهنځي اکثریت استادان هم پېژنم او د دې شپې نه وروسته د حقوقو پوهنځي یو استاد او څه نوراستادان او پخواني دولتي چارواکي زما مېلمانه و نو دا قصه مې دوی ته وکړه نو د حقوقو د پوهنځي استاد راته وویل چې د ده خپلو اسناد باندې څو میاشتې ووتلې چې دوی ارزیابي کړل. دا زمونږ د علم او فرهنگ د وزارت کره او کار دی د نورو به څه حال وي. د پوهنتون رئیس صیب راته وویل چې پخوا یو استاد ویلې که حکومت وغواړي چې یو کار و ځنډوي او معطل یې کړي نو کمیسیون ورته تعینوي لکه څنگه چې د عالي تحصیلاتو وزارت د اسناد ارزیابۍ لپاره کمیسیونونه تعین شوي دي او که حکومت وغواړي چې یو کار بیخي ونشي نو عمومي مجلس ته یې حواله کوي لکه د پارلمان مجلس.

د همدې موضوع په ارتباط دوه کاله دمخه ما غوښتل چې د خپلو کور میتر بدل کړم نو رئیس چې زما ښه پېژندگلوي او ملگری دی د میتر د بدلولو فوق العاده امر راکړ نو ما فکر وکړ چې خبره خلاصه ده. زما ډریور او یو کس باډي گارد ورپسې دوه میاشتې لالهانده وگرځېدل او میتر نه بدلېده باالاخره د ځلویښت زرو په شاوخوا کې د فیسونو د ورکولو نه وروسته او د څه زور او دباو نه مو کار واخیست او برقي راغی او میتر یې بدل کړ خو دې



نه غوښتل چې دا میتر زما د کور د لینونو سره وتړي او ویل یې چې دا د ده کار نه دی او یو بل کس راولي. خو برقي مو مجبوره کړ او برق یې د کور سره وتړه خو غلط لینونونه یې سره قصدا تړلي و نو زما د کور ټول گروپونه او بعضي برقي شیان یې وسیځل او تقریبا د یو نیم زر ډالرو تاوان یې راته راورسوه. دا قصه مې د برق رئیس ته وکړه خو هغه پرې څه سر ونه خوځاوه. بله ورځ یو دوست مې راغی او دا قصه مې ورته وکړه نو ما ته یې وویل چې ته خو ښه ساده یې ما ته به دې ویلي و په یوسل او پنځوسو یا دوه سوه ډالرو به مې درته دا ټول کار په دوه ورځو کې خلاص کړی وای. نو تاسې وواېئ چې زه ساده یم او که دا وواېو چې فساد زمونږ په ټولنه کې څومره جرړې ښخې کړي دي او د فساد د له منځه وړلو سره څومره جدي مبارزه په کار ده. مشت نمونه ی خروار.

## په نظام کې د کادرونو ځای په ځای کول د معیارونو په بنیاد

د جولای د میاشتې اومه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

مونږ ټول په نظام کې د معیارونو پر بنسټ د کادرونو د استخدام خبرې کوو او دا مو ارزو ده. په حقیقت کې دا کار اسانه او هم ډېر مشکل دی. زه غواړم چې د یو څو مشخصو معیارونو او د دې معیارونو مشخصاتو ته اشاره وکړم نور بیا تاسې قضاوت وکړئ چې اسانیتا او ستونځې چېرته دي:

1. تعلیم: د دې معیار تشخیص اسانه دی. اوس ډېر کسان په جیب کې د لسانس یا ماسترۍ په کچه یوه یا دوه شهادتنامې لري او اسناد یې مطالعه کولی شي. په دې بحث نه کوو چې څنگه او په څه شکل دا شهادتنامې اخیستل شوي دي. دا تشخیص هم اسانه دی او ضروري هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. که وغواړو چې د یو کس علمي سطحه معلومه کړو چې د شهادتنامې سره برابره ده او که نه، نو یو وړوکی تحریري امتحان ترې اخیستلی شو او هم تقریري انټرویو کې یې پته لګېږي.

2. تجربه: دا تشخیص اسانه او هم ډېر ستونځمن دی. اسانه ځکه دی چې چېرته یې کار کړی او څنګه کار یې کړی دی. مشکل دا دی چې په تېرو څوارلس کلونو کې ډېرو کسانو چې هېڅ معیار یې نه درلود په ډېرو مهمو پوستونو کار کړی او شخصیت یې په مصنوعي توګه تبارز کړی دی او زیاتره دغو کسانو د خپل تبارز لپاره مافیایي کړۍ هم جوړې کړي دي. له چا سره تنظیمي حمایت شته، له چا نه بهرني ملکونه حمایت کوي، له چا نه د مدني ټولنو مافیایي کړۍ حمایت کوي او داسې نور.... که یو سل کسه دوی په بد نامۍ پېژني نو بیا خو دوی یو دوه سوه کسیزه کړۍ لري چې د دې بدو کسانو نه حمایت کوي. دوی د خپل ځان د ګټو او شخصیت د تبارز لپاره د هر ډول تاکتیکونو نه کار اخلي، د فیسبوک او ټیوټر پاڼې ورته نور کسان په کرایه چلوي، ژورنالستان نازوي چې د دې خبرونه نشر- کړي او همدا شان ډېرې پیسې لري چې محفلونه او میلمستیاوې جوړې کړي او چا چې د دوی ډوډۍ وخوړه نو بیا خو به تعریف یې خامخا کوي. که بهر ته رسمي سفرونه نه وي نو د شخصي سفرونو توان لري او بهر ته چې لاړ شي نو بیا خلکو ته وایي چې په رسمي سفر تللی دی او خلکو ته ځان مهم ښیي. هغه کسان چې غواړي د دوی اصلي څېره خلکو ته وښیي نو باالاخره هغه هم پښېمانه شي ځکه د دې کسانو د چاپلوسانو او جیره خورو حلقه غټه ده. دا کسان او د دې جیره خواره بیا د پاکو کسانو پسې داسې بهتانونه وتړي او سور کاپر ترې جوړ کړي چې هېڅ اندازه یې نه وي. په دې اساس ولسمشر- هم ګیچ دی چې د چا خبره ومني چې د دې سړي تجربه ښه ده او که خرابه او هغه



مجبور دی چې په هغو کسانو اعتبار وکړي چې دی ورسره د یو څه وخت نه راپېدیخوا پېژني خو د دوی د تجربو په هکله کافي معلومات نه لري.

3. د پوهې او تجربې مطابق دنده سپارل. دا هم اسانه معیار دی خو تر اوسه چې زه ګورم ډېری کسان په داسې ځایونو کې مقرر شوي چې پوهه او تجربه یې د کار سره مطابقت نه کوي. دا مهمه ده ځکه هر انسان که هر څومره پوهه ولري، هر کار نه شي کولی. نجار د آهنګر او آهنګر د نجار کار نشي کولی. دا هم د ذیصلاح چارواکو دنده ده چې مشخصو دندو لپاره هغه کسان مشخص کړي چې د هماغې دندې پوهه او یا تجربه ولري.

4. وفاداري او تعهد: د پورته معیارونو تر څنګ وفاداري او تعهد ډېر مهم دی ځکه یو سړی به ښه تعلیم او تجربه لري خو نظام، سیسټم او یا د جمهور رئیس پروګرامونو ته متعهد نه دی او ځینې خو داسې دي چې هم وزیر دی او هم د حکومت مخالف.

5. پینځم مهم معیار د افغانستان د تېرو لا اقل پینځه لس کلونو د حالاتو سره اشنایي ولري او د اشخاصو تشخیص ورسره وي ځکه که د ملک نه یو څوک ډېر بهر پاتې شوی وي او د دې ځای له حالاتو څخه خبر نه وي او په مختلفو سیمو کې اکتران ونه پېژنې نو بیا هم ورته ګرانه ده چې په خپل کار کې موفقه اوسې.

6. جمهور رئیس چې انټروپولوجست هم دی نو په انټروپولوجي د قومونو او انسانانو د شناخت لپاره Genealgoy یا لکه شجره رسمول په کار دی. د افغانستان د هر تصمیم ګیري او د اشخاصو د انتخاب لپاره مونږ جینیالوژي رسمولو ته ضرورت لرو. څوک د کوم ځای دی، د چا خپل دی، سابقه یې څه ده، له چا سره ښې او خرابې اړیکې لري او داسې نور... که مونږ نږدې ټاکنو ته نظر واچوو نو ولس ډېر ښه قضاوت کولی شي چې څوک په څه شکل او له چا سره د اړیکو پر اساس مقرر شوی دی. دا ځکه مهمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوکس د یو چا په فرمایش او غیر مشروعو اړیکو پر اساس مقرر شي نو بیا خو د هغه کس وفاداري نظام او سیستم ته نه شته ده او هماغه کس ته ده چې د چا په پیسو او واسطه مقرر شوی وی.

زما په اند که دا پورته معیارونو باندې صحیح فکر ونشي نو د تغیر او تبدیل کچه به نهایت زیاته وي او څومره چې په یو نظام کې تغیر او تبدیل زیات وي هماغومره د بې ثباتۍ لامل کېږي.

## د سولې په هکله دوه متضادې خبرې او ارزوګانې

د جولای د میاشتې ۸مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

که د هر افغان نه پوښتنه وکړې چې سوله غواړې او که نه؟ نو هېڅوک به درته ونه وایي چې سوله نه غواړو.

خو بیا هر څوک غواړي چې سوله باید د ده د خوښې او شرایطو پر اساس وي. دا دواړه ضد او نقیضې خبرې دي ځکه سوله جوړجاړي ته وایي څه به ستا خوښه وي او څه د بل که دا نه وي نو بیا خو سوله هېڅکله راتلای نشي.



## د کرکټ خوشحالي او خوست غمېزه

د جولای د میاشتې ۱۲مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن ماښام افغانانو د کرکټ د شل اوریزو سیالیو درېیمه پرله پسې لوبه د سکاټلنډ نه وګټله چې په دې توګه د افغانستان ټیم د کرکټ د شل اوریزو نړیوالو سیالیو ته لار پیدا کړه نو افغانان ډېر خوشحاله و خو په همدې ماښام د وطن دښمنانو او تروریستانو د خوست په ښار کې د موټر ځانمرګي حمله کې ۲۷ بېګناه ملکي کسان ووژل او د شلو په شاوخوا کې زخمیان شول. ډېره زړه دردونکې پېښه وه چې د روژې په په پینځه ویشتم ماښام دا پېښه وشوله او ډېرې میندې او خویندې یې په ویر کېنولې او ډېری ماشومان یتیمان پاتې شول نو ما د فیسبوک او ټیوټر په صفحه دا لاندې څو ټکي د غمرازۍ په توګه ولیکل:

د خوست غمیزې او تروریستي حمله په افغانانو د کرکټ د میچ ګټلو خوشحالي د روژې په مبارکه میاشت کې غم کړه. حمله کوونکي او طراحان به یې خوشحاله وي چې ګوندې دوی به جنت ته د بې ګناه انسانانو په وژلو ورسېږي خو انشاالله د بې ګناه انسانانو په شهادت دوی به د دوزخ په لوري روان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور مه ملامتوئ ځانونه باید ملامت کړو

د جولای د میاشتې ۱۳مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

هغه کسان چې د ځانونو لپاره کار کوي هغوی مه ملامتوئ ځکه هغوی تعهد لري چې د ځانونو او خپل وطن لپاره کار وکړي که د دولت کرسۍ ورسره وي او که نه. مونږ باید ځانونه په خپله په دې ملامت کړو چې ولې د ځان او وطن لپاره کار نه کوو.

## د کوچني اختر مبارکي او يو وړانديز

د جولای د میاشتې ۱۵ نېټه، کال ۲۰۱۵م،کابل

که څه هم د روژې میاشت په افغانستان کې ډېره خونړۍ میاشت وه، د هېواد په ګوټ ګوټ کې زمونږ ډېر بېګناه وطنوال د وطن د دښمنانو او تروريستانو له خوا په شهادت ورسېدل، ډېرې مېندې او خويندې يې د غم په ټغر کېنولې، ډېر ماشومان يتيمان او د پلرونو د غېږ او صله رحمۍ نه محروم شول، زمونږ د دولت او امنيتي قواو ډېر ملکي او فوځي غړي د دې تپل شوي جنګ قرباني شول او همدا شان د دې تپل شوي جنګ په هغه خوا کې هم زمونږ ډېر بېګناه ورونه چې د بېلابېلو مجبوريتونو له امله ښکېل دي هم قرباني شوی نو دا به ډېره ګرانه وي چې مونږ د دې ټولو غميزو سره د اختر خوشحالي د پخوا په شان ولمانځو. خو دا د ژوند فرموله ده چې مړي به ښخوو، هغوی ته به دوعاګانې کوو، د غريبو او يتيمانو سره به مرسته کوو او خپل ژوند ته به دوام ورکوو ځکه د ژوندو کار د ژوند سره دی.

نو دا چې زمونږ د دفتر رخصتي د سبا نه پيل کېږي نو بيا شايد دا فرصت نه وي چې د فيسبوک دوستانو او انډيوالانو ته د اختر مبارکي ووايم نو



دمخه دې ستاسې د ټولو اختر مبارک شي او الله تعالی مو په خپل امن کې وساته. خدای دې وکړي چې د خپلو کورنيو او دوستانو سره ښه وخت ولرئ.

وړانديز دا دی که مونږ هر يو يوه يتيمه کورنۍ پيدا کړو او په دې اختر کې له هغې کورنۍ سره مرسته وکړو او يو څه د يتيمانو اوښکې پاکې کړو نو دا به ډېره په ځای مرسته وي بې له دې چې عکسونه يې واخلو او هغه په فيسبوک کې شريک کړو. په درنښت

## ميانه روی ښه شی دی

۲۳ جولای ۲۰۱۵ م کال، کابل

نن مې په فيسبوک کې موافق او مخالف بعضې نظرونه وليدل چې ډېره مبالغه پکې وه. د اسلام له نقطه نظره په هر کار کې ميانه روي ښه شی دی (امة وسطاً) او (خيرالامور اوسطها). په پښتو کې هم وايي چې نه دومره خوږ شه چې خلک دې وخوري او نه دومره تريخ شه چې خلک دې ګذار کړي.

که څوک د چا صفت کوي بايد مبالغه ونه کړي لکه چې څنګه به د دربار پخوانيو شاعرانو، ليکوالانو او مؤرخينو کول او که څوک د چا مخالفت کوي هم بايد د ادب په چوکاټ کې وي. دا ډول صفتونه او غندنې هيڅ ګټه نه لري ځکه عمل پخپله ښه معيار دی او خلک ناپوهه نه دي چې قضاوت ونشي کړای. وَقُلِ اعْمَلُواْ فَسَيَرَى اللّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږ د معيارونو تله ډېره ټيټه ده

د اګست د مياشتې دويمه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، کابل

متاسفانه نن سبا زمونږ قضاوت د خلکو په موټرو، بنګلو او کورونو دی نه په معنوي ارښتونو. که يو چا راته يوه پياله چای راکړ او يا يې يو ځو شېبې د لنډکروزر په موټر کې سپاره کړو او چکر يې راکړ نو بيا خپل عکسونه د هماغه شخص سره اخلو او هغه په انټرنيټ کې پوسټ کوو او وايو چې وياړم چې د يو داسې شخصيت سره مې کتنه وشوه چې هيڅ ساری نه لري او د وطن په غم ډېر دردمن دی. دا نه ګورو چې همدا شخصيت به تر ستوني پورې په فساد کې غرق وي.

## د ټاکنيزو اصلاحاتو د خاص کميسيون او هم د ټاکنو په هکله د ولس د تشويشونو رفع کول او سالمو وړانديزونو ته اړتيا

د اګست پينځمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

شايد ګرانو دوستانو ته معلومه وي چې زه د انتخاباتو د اصلاحاتو د خاص کميسيون د غړي په توګه ټاکل شوی يم او هم مې دوه ورځې دمخه جلال اباد ته سفر وکړ چې د مدني ټولنو، د احزابو استازو، ولايتي شورا د غړو، قومي شوراګانو، د علماو شورا، د صلح د شورا، فرهنګيانو او دولتي چارواکو سره وګورو او د ټاکنو د اصلاح په اړوند د دوی نظريات او پيشنهادونه واورم او وکولای شم چې د قوانينو او مقرراتو په چوکاټ کې په کميسيون کې سم استدلال وکړای شم. نو په دې اساس دا لاندې موضوع ګانې او خپل نظريات د فيسبوک له لارې خپلو انډيوالانو او دوستانو سره هم شريکوم او اميد دی چې لازمې مشورې راکړې.



۱. دې کې هيڅ شک نشته چې د ټاکنو په پروسه باندې د ولس اعتماد د بېلابېلو داخلي او بهرنيو عواملو له کبله کم شوی دی خو د دې ترڅنګ مونږ د ټاکنو د نه کولو نه هم، بله چاره نه لرو. ځکه په کودتاه ګانو او يا انقلابونو حکومت نه شو چپه کولای او نه ځه ګټه لري. نو ښه به دا وي چې بايد په ټاکنو کې برخه واخلو او د سيستم د اصلاح لپاره کار وکړو. زما دليل دوستانو ته دا و که پخوا د کابل- جلال اباد سړک خراب و او اته ساعته لار وه خو مونږ پرې هم تللو او چاره مو نه وه. اوس چې سړک قير شوی او درې ساعته لار ده، ښه خوند کوي چې پرې ځو او که د ترافيک او حفظ مرا قبت مديريت وشي نو د دې نه هم ښه کېدلی شي.

۲. د انتخاباتو پروسه حقوقي، تخنيکي او سياسي پروسه ده او په دې پروسه کې د ملت حمايت ضروري دی. ډېری کسان داسې فکر کوي چې ګوندې مونږ د ملي وحدت د حکومت د دواړو ټيمونو له خوا تعين شوي يوو او شايد چې د حکومت د رهبرۍ تر تاثير لاندې اوسو. د هر چا خپل نظر دی او زه تاسې ته ډاډ درکوم چې زه د هيچا تر تاثير لاندې نه يم او نه د دې کميسيون نه کوم امتياز اخلم نو د قوانينو په رڼا کې به خپل استدلال کوم او کوم پېشنهادونه چې مونږ حکومت ته ورکوو، هغه به له ټولو سره شريکېږي. کميسيون دا يوه اونۍ کېږي چې خپل کار پيل کړی او اوس يې دفتر هم نيولی دی. انشاالله د شنبه د ورځې نه وروسته به په خپل دفتر کې کار کوي خو د دې ترڅنګ چې کميسيون دفتر نه درلود نو خپلې غونډې يې په صدارت، د اجراييه شورا په دفتر او يا نورو ځايونو کې د امنيتي وجهه له امله کولې او دا د دې معنی نه لري چې ګوندې مونږ د چا تر تاثير لاندې يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳. د انتخاباتو مهم موضوعات چې اصلاحات پـه کـې راشي زه پـه لانـدې ډول ذکر کوم او دا زما نظر دی چې څه وشي. کېـدای شي لـه دوسـتانو سره نـور وړانديزونـه او نظريـات هـم وي. کـه څـوک پـه دې هکلـه نظريـات او وړانديزونه لري کولی شي چې له ماسره يې د ايميل په ذريعـه شريـک کـړي. زما ايميل smiakhel@gmail.com دی.

۴. د لنډ مهال لپاره بايد پارلماني ټاکنې ژر وشي. د دې لپاره چې ولس پـه ټاکنو کې برخه واخلي، نو بايد چې هر ولايت په انتخاباتي حوزو ووېشـل شي. د کابل يا ننګرهار غونډې لوی ولايت چې يوه حوزه ده، د کانديدانو او هـم د ولس لپاره ډېرې ستونځې لري ځکه د ډېرو سيمو ولسونه د استازيتوب نه بې برخې پاتې کېږي. نو په دې توګـه د هـرې سيمې اسـتازي بايـد معلـوم وي. ښځينه کانديدان بايد په ټولو حوزو کې نومونـه درج کـړي او چا چـې زيـاتې رايې وګټلې هغه دې وټاکل شي.

۵. د تقلبي کارتونو د مخنيوي په خـاطر بايـد د هـر مرکـز د رای دهـۍ د وټ اچوونکو ليست برابر شي. د وټ د لست جـوړول پـه پارلمـاني انتخابـاتو کې د هيڅ يو قوم او سيمې په تاوان نه دی. که څه هم بعضې محدود کسان د خپلو شخصي شهرت ګټلو لپاره د دې کار مخالفت کوي.

٦. د دې لپاره چې د ټاکنو په قوانينو کې تغيـر راشي د قـانون لـه مخـې د تقنينـي فرمـان نـه پرتـه بلـه چـاره نشـته. کلـه چـې قـانون تغيـر وکـړ نـو د کميسيونونو غړي هم تغيرکوي. نوي غړي بايد د قانون له مخې د يـو خـاص ميکانېزم له لارې چې په ټاکنو پوه او مسلکي کسـان وي او پـاکي او بېطـرفي مراعات کړي تعين شي. د يوې ډلې او سمت تر نفوذ لاندې نه وي.

۷. د اوږد مهال لپاره د جمهوري رياست ټاکنو لپـاره بايـد د اليکترونيکـي تذکرو کار همـدا اوس پيـل شي ترڅـو پـه دري څلـورو کلونـو کـې دا پروسـه تکميل شي. په ۲۰۰۳ م کال کې د اليکترونيکي تذکرو چوکـاټ جـوړ و خـو دا



پروسه ځکه په تعويق واچول شوله چې د وټونـو پـه ثبـت نـام او هـم د ټـاکنو پروسې يـو تجـارتي شـکل درلـود او د اليکترونيکـي تـذکرو د وېـش ممانعـت کېده.

۷. د شکاياتو کميسيون سمه پايله نه درلوده او ښـه بـه دا وي چـې موقت کميسيون د شکاياتو د ټـاکنو پـه وخـت کـې جـوړ شي چـې د نـړۍ پـه نـورو ملکونو کې هم شته دی.

۸. د کميسيونو کميشنران بايد د ټاکنو د کار د تناسـب پـه انـدازه وي. د ۵-۷ کمشنرانو نه زيات نه وي.

۹. مؤقتي کارکوونکو د ټاکنو په تقلب کې زيات رول درلـود نـو ښـه بـه دا وي چې د مؤقت کارکوونکو په ځای د معارف معلمين، د پوهنتونو اسـتادان، د حج او اوقافو وزارت کارکوونکي او علماء کرام او داسې نور وټاکل شي. که دوی درغلي وکړي او ونيول شي نو دا وېـره بـه ورسره وي چـې لـه دنـدې بـه ګوښه کړای شي او سزا به ووينې. ډېر کم د دولت يو مـامور د چا پـه خـاطر خپل ټول امتيازات له لاسه وکوي.

۱۰. د انتخاباتو شمېرنه بايد پـه خپـل محـل کـې د اوس غونـډې وشي او د پايلو پاڼې بايد د ټاکنو د مسوولينو او کانديدانو د ناظرينو لـه خـوا د اوسـني سيستم په شان امضأ او د هر کانديد، ناظر ته بايد کاپي ورکړل شي. د پـايلو ابتدايي اعلان بايد د يوې يا دوه ورځو نـه زيـات وخـت ونـه نيسيـ او دا څـه مشکله کار نه دی. څـومره چـې پـايلې معطلـه کېـږي هماغـومره درغلـۍ تـه زمينه مساعدېږي او هم د خلکو اعتماد د ټاکنو پر پروسه کمېږي.

۱۱. ايا د ولسواليو د شوراګانو ټاکنې د پارلماني ټاکنو سره يو ځای وشي که نه؟ زما په اند تر اوسه د ولسواليو شوراګانو ته د ټاکنو زمينه مساعده نـه ده تر څو چې د اليکترونيکي تذکرو کار بشپړ شـوي نـه وي تـر هغـې امکـان نـه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲. د ټاکنو د موادو چاپ باید په داخل کې وشي څکه مونږ ولیدل چې د قیمتي پانېو په درلودلو هم د درغلیو مخه ونه نیول شوله نو ښه به دا وي چې د ټاکنو کمیسیون د یو مشخص میکانېزم له لارې دا مواد په داخل کې چاپ کړي چې ډېر ارزانه تمامېږي.

۱۳. یوه مهمه مسئله چې ایا اوسنی اکثریتي SNTV باید په تناسبي PR (Proportional Representation) تبدیل شي که نه؟ دواړه سیستمونه ګټې او تاوانونه لري. په تناسبي سیسټم کې احزاب یو څه رشد کوي خو زه لا تر اوسه په دې قانع نه یم چې دا د افغانستان په اوسنیو حالاتو کې مونږ سمه نفوس شمیرنه او د وټ ورکونکو سم لست نه شو جوړولولای، نو څنګه به امکان ولري. یا په بل عبارت که مونږ ساده حساب د جمع او تفریق نه شو کولی نو مغلقې د ریاضې معادلې به څنګه حل کړو. تر اوسه ما ته چا کومه سمه طرحه په دې هکله نه ده راکړې چې عملي بڼه ولري.

۱۳. د کمیسیون د دارالانشاء مدیریت د کمیسیون د مشرتابه له باید منظم شي. دا چې د کمیسیون مشرتابه ونه شو کړای چې د دارالانشاء سم مدیرت وکړي په قانون کې په دې هکله څه ستونځه نشته.

۱۴. بله مهمه مسئله د ټاکنو په وخت د امنیت مسئله ده. که د دې امکان نه وي چې حکومت د ټول ملک امنیت په یوه وخت کې وساتي، زما په اند که ټاکنې په څو مرحلو کې وشي نو ښه به وي. که څه هم په اساسي قانون کې د سراسري ټکی راغلی خو په څو مرحلو کې ټاکنې د سراسري کولو ممانعت نه کوي څکه ټولو خلکو ته په یو شان په ټاکنو کې د برخې اخیستلو زمینه مساعدوي.

نورې ستونځې به هم وي چې اصلاحاتو ته ضرورت لري نو دوستان کولی شي چې له ماسره یې شریکې کړي. څکه په احساساتو یوازې کار نه کېږي او باید معقولې طرحې ومنل شي.



## احساساتي ولس او احساساتي مشران

د اګست ۱۱مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن مې د یو شمېر زیاتو منتخبو کسانو سره خبرې کولې نو زړه مې ډېر بد شو چې څومره زمونږ د ولس مشران د خپل خیر او شر تمیز نشي کولی او فکر کوي چې که دوی په قدرت کې وي نو هر څه به سم وي. ډېر پخوا مې ریسرچ کاوه او دا راته په ګوته شوله چې مونږ په خپلو کړو کې د عمل او ویلو ډېر زیات تناقض لرو. همدا علت دی چې مونږ په یو بل اعتماد نه شو کولی، ملي اهداف رانه ورک دي او سرګردانه ورپسې ګرځو، یو موټې او یا څو موثر موټي کېدای نشو چې موثریت مو اضافه شي او په اورګانېزشن هیڅ عقیده نه لرو. برخوردونه او کړه مو ډېر احساساتي دي.

## پپولست (populist) سیاست ولس د تباهۍ سره مخامخ کوي

د اګست ۱٦مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

ځینې افغانان د ځان د کاذب شهرت او شخصي منفعت په خاطر د ولس په منځ کې وېره پیداکوي او داسې انګېزه ولس ته ورکوي که دا کار ونه شو نو دا او هغه قوم تباه کېږي. دې کاذبې وېرې مونږ افغانان در په دره کړي یوو. د همدې کاذبې وېرې له امله مونږ قومي او سمتي مافیایي کړۍ لرو چې د دې کړیو مشران اول د خپل قومي او سمتي حلقو کې د هغو کسانو په مریو لاس اینبی څوک چې د دوی ناخوالې نه مني او بیا دوی د ټول ملت د ستونځو لامل ګرځېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د زمري ۲۸مه د آزادۍ د ورځې په ویاړ

دا‌گست ۱۸مه نېټه،کال ۲۰۱۵م، کابل

سبا ته د ۱۳۹۴ هجري لمریز کال د زمري د میاشتې ۲۸مه نېټه ده. په دې ورځ زمونږ پلرونو او نیکونو د غازي امان الله خان پـه مشرۍ د انګریزانـو نـه آزادي واخیستله او دا ورځ د استقلال د ورځې په نامه ونومول شول. کـه څـه هم زمونږ د ولس ډېرى کسان لا د دې ورځې پر اهمیت نه پـوهېږي او د دې ورځې په هکله معلومات نه لري او ځینې لا دا ورځ هېڅو پـه رسـمي توګـه نـه پېژني خو د دې ټولو نیمګړتیاو سره د دې ورځې یاد ډېر مهـم دی او دا ورځ باید د ملت له یاده ونه وځي. نو په دې توګه زه د استقلال د ورځـې مبـارکي د فیسبوک ټولو درنو دوستانو او خپلو افغانانو خوینـدو او وروڼـو تـه وړانـدې کوم. د مبارکۍ ترڅنګ دوه وړاندیزونه هم لرم:

اول وړانـدیز: دا زمـونږ د تحصـیل یافتـه نسـل، احزابـو، مـدني ټولنـو او حکومتونو نیمګړتیا ده چې خپل ولس یې د دې ورځې په اهمیت پوره نـه دی پوه کړی. که یو څو کسان یې پـه ظاهري بڼـه تجلیلـوي، هغـه هـم سـلیقوي شکل لري او د ولس په بیدارتیا کې کوم خاص اغېز نه لري. نـو زمـا وړانـدیز دا دی چې د استقلال ورځې په منظور د ولس په منځ کې یو لوی کمپـاین او عامه پوهاوي ته اړتیا ده که نه دا ورځ به همېشه ډېره پیکه د یو څـو کسـانو له خوا نمانځل کېږي. د پخوا په شان په مرکز او ولایتونـو کـې بایـد د جشـن کمپونه جوړ شي، ولس په مینه او ولوله په کې ګډون وکړي تر څو افغانانو ته د خوشحالۍ او افتخار احساس ورپه برخه کړي.

دویم وړاندیز: د مبارکۍ تر څنـګ، مـونږ یـوازې د خپلـې خـاورې فزیکـي آزادي پېژنو چې هغه هم اوس تر سوال لاندې ده ځکه د لوی افغانستان زیاته برخه رانه غصب شوې او په زور زمونږ ګاونډې هېواد ته ورکړل شوې ده. پـه



دې لا هم هغوی قانع نه دي او غواړي چې زمـونږ پـه موجـوده جغرافیـه هـم واک او نفوذ ولري. د دې تـر څنګـه مـونږ لا ډېـرې آزادیګـانې لکـه سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، کلتوري، فردي، اجتماعي او داسې نورې نه لرو، یا په بله معنی مونږ لا هغه آزادي ګانې چې د یو ولس او یـا د یـو انسـان حقـه حقـوق وي، نه لرو. د دې آزادي ګانو لپـاره مـونږ د خـاورې د فزیکـي آزادي نـه هـم زیات اوږدې مبارزه ته ضرورت لرو چې خپل حقه حقوق تر لاسه کړو. زه چې دې اوسني حالت ته ګورم نو ډېر وخـت تـه اړتیـا ده چې زمـونږ ولـس دې د ملي مسایلو پـه هکلـه یـوې مـلي اجـماع تـه ورسـېږي او د ځـان لپـاره آزادۍ وګټي. مونږ لا په دې طمعه یو چې نور به مونږ ته هر څه ګټي او یا راکوي او مونږ به بریتې بیا د نورو په کارونو او خیرات تاواوو چې ګونـدې مـونږ آزادي ګټلې ده. ډېره اوږده او سترې کېدونکې لار د افغانانو پـه مـخ کـې پرتـه ده. الله تعالی دې مونږ ټولو ته توفیق راکړي چې د واقعي آزادۍ لپاره کار وکړو.

## څوک د مډالونو مستحق دی؟

۱۹ د اګست، ۲۰۱۵م کال د اسد ۲۸مه د افغانستان د آزادۍ ورځ، کابل

نن مې ولیدل چې یو شمېر مشرانو خپلو باډیګاردانو او د دفـتر کـارکوونکو ته د یو بل په سینه مډالونه ټومبول. پوه نه شوم چې دوی څه توره کـړې ده، ایا دوی ډېر مستحق دي او که د افغانستان د امنیتي ځواکونو هغـه فـدایان چې په سنګرونو کې پراته دي او وطن د داخلي او خارجي دښمنانو نه ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نا انډوله انتخاباتو داصلاحي کميسيون د پريکړو سره مخالفت

۲۶ د اگست، ۲۰۱۵م کال، کابل

نن مې د انتخاباتي اصلاحاتو د کميسيون غړو ته وويل چې ستاسې طرحې غير عملي دي او فکر نه کوم چې د ملت د اکثريت د تاييد وړ وي. دوی ته مې وول چې ستاسې طرحې داسې دي لکه چې دوه ملګري و، يو يې ټوپک درلود بل يې خالي لاس و نو تصميم يې ونيوه چې د غنيمت مال ونيسي. کله چې يې غنيمت ونيوه نو خپل ملګري ته يې وويل چې دا غنيمت خو مونږ د ټوپک په زور ګټلی دی نو دا بايد درې تقسيمه شي. ملګري يې ورسره ومنله، نو د ټوپک والا خپل ملګري ته وويل چې يو برخه زما، دويمه برخه زما د ټوپک او دا درېيمه برخه هم درنه د ټوپک په زور اخلم او نه يې درکوم. نن دوی غوښتل چې همداسې نا عادلانه فيصله د افغانستان په هکله وکړي. زه او کاوون کاکړ يوازيني پښتنانه غړي و چې د کميسيون نه د احتجاج په توګه ووتلو ځکه د دې کميسيون نور ۱۲غړي ټول غير پښتانه وو او دا د پښتنو پر ضد يوه لويه دسيسه ده چې په راتلونکي پارلماني ټاکنو کې د پښتنو ونډه د يو وړوکي اقليت نه کمه کړي. کاوون او ما يوه بله طرحه وليکله چې د انتخاباتو د سيستم د اصلاحاتو لپاره معقوله او عملي طرحه ده. او قضاوت به ملت ته پرېږدو. زمونږ د طرحې حمايت د زرهاو دوستانو له خوا وشو او باالاخره د دې کميسيون نا عادلانه پريکړه چې د ملي وحدت د حکومت د مشرانو ډاکتر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله له خوا هم تاييد شوې وه شنډه شوه. زه د ډاکتر عبدالله نه هيڅ ګيله نه لرم خو زما ګيله د ډاکتر اشرف غني نه هم د يو پښتون او هم د دولت د يو مشر په



توګه چې د پښتنو د وټ په ذريعه يې ارګ ته رسولی دی، ده چې ولې يې د پښتنو پر ضد د داسې يوې طرحې حمايت وکړ.

**د اګست د مياشتې ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل**

درنو دوستانو! دا دوه ورځې زه او کاوون کاکړ صيب ډېر مصروفه وو او که مبالغه ونه کړم نو شل ساعته شپه او ورځ مو ډېرو دوستانو، ملګرو او د افغانستان په درد دردمنو کسانو سره سلا مشورې درلودې نو دا فرصت نه و چې د دوستانو په زرهاوو ټيلفونو او پيغامونو ته ځواب ورکړو. هيله ده چې زمونږ د دواړو معذرت قبول کړئ. زمونږ نه تماس او يا سکوت په دې دوه ورځو کې د دې معنی نه درلوده چې د ملي مسايلو په هکله مونږ د خپل موقف نه تېر شوي يوو او يا په مونږ کوم فشار شته دی. د ملي مسايلو په هکله مونږ دواړه د ملي وحدت د حکومت د دواړو ټيمونو سره هيڅ نوع جوړجاړی نه لرو او نه يې کولی شو. مونږ ستاسې ټولو دوستانو د ملاتړ د حمايت نه ډېره زياته مننه کوو. مونږ ته د خپل شخصي موقف او هر نوع مادي امتيازاتو نه د افغانستان د ټولو ولسونو سوکالي، امنيت او حقه حقوقو ته رسېدل ډېر مهم دي او د دې موخو دفاع به کوو. په افغانستان کې د دايمي ثبات او سوله ييز ژوند په هيله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د انتخاباتو د اصلاحاتو د خاص کميسيون د دوه غړو**

**کاوون کاکړ او شاه محمود مياخېل نظر او وړانديزونه**

---

**سريزه :**

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس د ۴۰ گڼې د ۱۳۹۴/۴/۲۵ نېټې د فرمان پر اساس، د انتخاباتو د اصلاحاتو لپاره خاص څوارلس کسيز کميسيون وټاکل شو. مونږ د دغه کميسيون د غړو په توگه تعين شو چې حکومت ته د انتخاباتو د اصلاح لپاره لنډ مهال، منځمهال او اوږد مهال وړانديزونه وړاندې کړو. مونږ د ملي وحدت د حکومت د مشرتابه نه مننه کوو چې پر مونږ يې اعتماد وکړ او مونږ هم د افغانستان د ملي منافعو په رڼا کې د دغه کميسيون غړيتوب چې يوه افتخاري او بې له کوم مادي امتيازه دنده وه قبوله کړه.

مونږ په تېرو پنځو اونيو کې چې د دې لوی مسووليت د تر سرته رسولو لپاره ډېر کم وخت دی د انتخاباتي نظام د اصلاح لپاره غونډې وکړې. د ابتدايي مشورو لپاره ولايتونو ته مو سفرونه وکړل ترڅو داسې يوه جامعه طرحه حکومت ته وړاندې شي چې د هېواد موجوده واقعيتونه په نظر کې ونيسي او د افغانستان په شرايطو کې قابل د تطبيق اوسي، عملي جنبه ولري، د افغانستان اکثريت ولس ته د منلو وړ وي او د هيڅ يوه قوم، سمت او يا ډلې په ضرر نه وي. خو متاسفانه زمونږ د کميسيون زياتره غړي چې د مشخصو احزابو پورې تړلي دي لېواله وو چې د پارلماني تعطيل نه د فرصت او د دې کميسيون د احزابو د نامتناسبه غړيتوب نه په استفاده په عاجله توگه داسې فيصلې وکړي چې د دوی په گټه وي.



➢ **د کميسون د کار پيل:**

د دې لپاره چې مونږ ته د ولس يو څه نظرونه معلوم شوي وي او د انتخاباتو په هکله زمونږ وړانديزونه د ولس د غوښتنو او ستونځو سره برابري وي نو کميسيون تصميم ونيوه چې د افغانستان د لويو ولايتونو مرکزونو ته چې د زونونو په سطحه نمايندگي کولی شي سفرونه وکړي او تر کومه حده چې ممکنه وي د قومي مشرانو، مدني ټولنو، علماوو، علمي او جهادي شخصيتونو، فرهنگيانو، د ښځو د ټولنو، د صلحې د شوراگانو او د ولايتي شوراگانو د غړو، د سياسي احزابو د نمايندگانو، د انتخاباتو او بشر د حقوقو د کميسيونو، د ولسي جرگې او مشرانو جرگې د غړو او مشرانو سره د انتخاباتو په هکله ابتدايي او عاجله سلا مشورې وکړي. مونږ د ملي او بين المللي ټولنو سره چې د انتخاباتو په هکله تجربه لري هم وکتل په اکثره زونونو کې ولس په لاندې ټکو تاکيد کاوه.

1. د ولس اعتماد په انتخاباتو او هم د انتخاباتو پر کميسيونونو باندې کم شوی او داسې اصلاحات بايد وشي چې د افغانستان د ولس اعتماد بېرته پر انتخاباتو او هم د انتخاباتو پر کميسيونونو باندې زيات شي.
2. د انتخاباتو حوزې بايد وړې شي. د افغانستان د اساسي قانون پر اساس ټول افغانستان بايد پر ۲۵۰ حوزو ووېشل شي تر څو هره حوزه خپل يو استازی په پارلمان کې ولري. دا غوښتنه د ننگرهار، پکتيا، کابل، غزني، کندهار، هرات او کندوز په ټولو زونونو کې عامه غوښتنه وه.
3. جعلي کارتونو او د تقلب مخه بايد ونيول شي. په غټو حوزو کې د تقلب زمينه زياته ده.
4. د هېواد اکثريتي موجوده سيستم چې په تخنيکي لحاظ ورته SNTV سيستم وايي بايد اصلاح شي ځکه په دغه سيستم کې د ولس او هغوی د استازو ترمنځ رابطه ضعيفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



5. ملي احزابو ته دې د رشد زمینه مساعده شي.

6. د انتخاباتو مصارف هم حکومت ته او هم کاندیدانو تـه ډېـر زیـات دي نو داسې طرحې باید وړاندې شي چې د انتخاباتو مصارف راټیټ کړي.

د پورتـه موخـو د عمـلي کېـدو لپـاره مـونږ د انتخابـاتو پـه قـانون او هـم د کمیسیونونو په تشکیلاتو او وظایفو باندې کار وکړو او په هغو مواردو کې چې د انتخاباتو د کمیسیون استقلالیت تامین شي، د انتخاباتو د تخلف، تخطـۍ او تقلب مخه ونیول شي، مونږ پوره ملاتړ وکړو. اما چې کوم انتخاباتي سیستم د افغانستان په شرایطو کې د تطبیق وړ دی چې د اساسي قـانون پـر اسـاس، سراسري، مستقیم او عادلانه ونړه د ټولو سیمو خلکـو تـه چـې واجـد د رایـه ورکولو وي تامین او د ملي احزابو لپاره د رشد زمینه مساعده شي، موافق نـه و اوجدي اختلاف مو درلوده.

په عمومي توګه په نړۍ کې تقریباً دري ډولـه انتخابـاتي سیسـتمونه شـته چې تناسبي، مختلط او اکثریتي سیستمونو په نامـه یـادېږي. چـې بیـا د هـر سیسـتم ډولونـه سره فـرق لـري. زمـونږ وړانـدیز دا و چـې مـونږ تـدریجي اصلاحاتو ته لاره باید هـواره کـړو څکـه د افراطـي وړانـدیزونو پـایلې همېشـه سمې نه وي. که ډېر ښه سیسـتم وي او پـه ډېـرو وړو هېوادونـو کـې تطبیـق شوی هم وي خوکه په افغانستان کې تطبیقـي جنبـه ونـه لـري، د افغانسـتان لپاره ګټه نه لري.

د دې خبرې یادونه ضروري ده چې هر سیستم ښه والی او بدوالی لري او هېڅ یو داسې سیستم په نړۍ کې نشـته دی چـې نیمګړیتـاوې ونـه لـري. د دغو دوستانو وړاندیز په دوه خبرو څرخېدو: یو احزابو تـه بایـد سـهم ورکـړل شي او یا په بل عبارت احزابو ته باج او امتیاز ورکړل شي او دویم دا چـې پـه اوسني اکثریتي سیستم کې ډېرې رایې ضایع کېږي.



د دوی د استدلال په مقابل کې زمونږ دلایل دا و چې ملي احزاب باید پـه تدریجي او طبیعي توګه رشد وکړي نه دا چې احزابو ته امتیاز ورکـړل شي او یا د موجوده شرایطو په رڼا کې یوازې هغـه احـزاب هـر څـه پـه انحصـار کـې ونیسي کوم چې زر او ټوپک لري، د هیڅا لپاره حساب دهي نه لري، پخپله د حزب په منځ کې هم په ډیموکراتیکو اصولو پابند نه دی او هر څه د حزب د مشر او د هغه په شاو خوا د څو کسانو په منځ کې په کنټرول کې وي او هـم د دوی د عایداتو مدرک نه وي معلوم. دا سمه ده چـې پـه اوسـني اکثریتـي سیستم کې زیاتې رایې ضایع کېږي خو په حقیت کې دا سمه نـه ده څکـه د انتخاباتو په پروسه کې ګډون پخپله د رایو حسابېدل دي.

زمونږ په اند که د دوی دا تصامیم د افغانستان د ملي وحدت حکومت لـه خوا ومنل شي د ډیموکراسۍ پروسې ته او هـم د نظـام د ثبـات لپـاره بـه پـه داسې حالت کې چې نظام د ډېـرو نـورو سـتونځو سره مخـامخ دی یـوه لویـه ضربه وارده کړي.

- <u>**د کمیسون طرحه په لاندې ډول ده.**</u>

**نو ولس دې په خپله قضاوت وکړي چې آیا د دوی طرحه عادلانه ده او که نه او هم دا طرحه څومره عملي جنبه لري:**

دوی غواړي چې د افغانستان ټاکنیز نظام دې په مـوازي تناسـبي سیسـتم باندې بدل شي چې په تخنیکي لحاظ دې سیستم ته Parallel Proportion System وايي. دې سیستم ته مختلط سیستم هم وایي.

1. دا سیستم په عین وخت کې دوه قسمه انتخابات پیشنهادوي چـې د موجوده ۲۵۰ وکیلانو نه باید سل سیټونه احزابو ته چې په سلو کې ۴۰ سلنه کېږي ورکړي. همدا شان ټول افغانستان باید د احزابـو لپـاره یـوه حـوزه وي. دې سیستم کې بیا دوه ډولـه لیسـتونه ترتیبېـدلای شي چـې یـو تـه یـې بنـد لیستونه وایي او بل ته یې خلاص لیستونه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. که لیست خلاص وي او سل سیټونه احزابو ته ورکړل شي او کم ترکمه ۵۰ احزاب وي نو د دوی د کاندیدانو شمېره ۵۰۰۰ کسانو ته رسېږي. نو په دې توګه د رایو اچونو لیست به د یو لوی کتاب په شکل وي.
3. مګر دوی بند لیست تایید کړی نو په دې توګه احزاب به مشخص کسان چې د دوی خوښه وي تعین کړي.
4. د مستقلو کاندیدانو باقي پاتې سیټونه هم باید په حوزو وویشل شي.
5. د کوچیانو د سهم لپاره باید د اوس په شان حوزوي سیستم وي.
6. یوازې هغه احزاب دا سیټونه ګټلی شي چې د افغانستان په سطحه یې په سلو کې څلور سلنه رایه ګټلې وي.
7. د دې نه برسېره دا احزاب کولی شي چې په مستقله توګه هم ځانونه کاندید کړي او په پارلمان کې مطلق اکثریت تر لاسه کړي.

➢ **د پورته وړاندیز په هکله ډېر سوالونه شته او د دې سیستم نواقص په لاندې توګه دي:**

1. په راتلونکي دوه کلونو کې هم دا سیستم عملي جنبه نه شي نیولی او دا موجوده پارلمان به په خپل ځای پاتې وي.
2. په عین وخت کې څلور ډوله انتخاباتو ته اړتیا ده. د احزابو لپاره، د مستقلو کاندیدانو لپاره، د ښځو لپاره او هم د کوچیانو لپاره. که مونږ یو رایه ورکونکي ته دوه درې قسمه د رایې اچولو لیستونه ورکړو ایا دوی به وپوهېږي چې مستقل نوماند یا حزب ته څنګه رایه ورکړي؟



3. د دې اوږدو لیستونو شمېرنه به څنګه کېږي او څومره وخت به نیسي آیا کمیسیون په تخنیکي لحاظ د داسې یو مغلق سیستم عملي کولو ته چمتو دی او که نه؟
4. په دې سیستم کې به یوازې هغه احزاب چې زیات امکانات، مسلح ګروپونه او ډلې لري ټول ۱۰۰ سیټونه وګټي. مترقي، ملي او ډیموکراټیک احزابو ته په دې ډول سیستم کې د بریا او رشد چانس ډېر کم دی ځکه دا ډول احزاب دومره پیسې او امکانات نه لري چې د ټول هېواد په کچه انتخاباتي کمپاین وکړي او څلور سلنه ارا وګټي.
5. مونږ لا تر اوسه د هېواد په کچه ملي او ډیموکراتیک احزاب نه لرو. احزاب تر اوسه قومي او سمتي بڼه لري. د احزابو نوماندان به د دې احزابو د مشرانو په خوښه په سلیقوي توګه ټاکل کېږي.
6. د افغانستان ټاکنې هغه وخت بحران ته لاړې کله چې په ولسمشریزو ټاکنو کې افغانستان یوه حوزه وه. که افغانستان یوه حوزه وي نو د تقلب چانس ډېر دی. په پارلماني ټاکنو کې هم ستونځې وې خو هغه ستونځې افغانانو پخپله حل کړې.
1. په دې سیستم کې به د مؤکلینو او وکیلانو ترمنځ هیڅ رابطه نه وي. د ډېرو سیمو اکثریت ولس به په پارلمان کې هېڅ استازي ونه لري. همدا اوس چې د ولسي جرګې د وکیلانو لپاره ولایت یوه انتخاباتي حوزه ده د موکلینو او وکیلانو لپاره ستونزمنه ده چې له وګړو ښه استازیتوب وشي کولای، اوس که دا انتخاباتي حوزه ټول هېواد شي له بده به بدتر شي.
2. په مالي لحاظ څو قسمه رایه چاپول او د څو ډوله ټاکنو سرته رسولو مصارف نه د حکومت په وسه کې پوره دي او نه فکر کوم چې بین المللي ټولنه هم دومره مصارف ورکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مونږ پورته ستونځو ته وګورو، د کومو اهدافو لپاره چې دا سیستم باید عملي شي یو هدف هم نه عملي کېږي. ملي احزاب رشد نه شي کولی، د رایو ضایع کیدلو څخه به مخه ونه نیول شي او درغلي به زیاته شي ځکه د درغلۍ لپاره به انګېزه زیاته شي، مغلق سیستم دی او د افغانستان په شرایطو کې عملي جنبه نه لري، او د افغانستان سیاسي ثبات له خطر سره مخامخ کوي. دا باید یاده شي چې د دوی دا طرحې پخوا هم د افغانستان د ملت د استازو او حکومت له خوا رد شوي دي.

مونږ غواړو چې خپل تشویشونه د افغانستان حکومت او ولس سره شریک کړو او هیله لرو چې حکومت پرې پوره غور وکړي ځکه د دوی دا طرحه د افغانستان د انتخاباتو د اصلاحاتو لپاره هیڅ ګټه نه شي رسولی او په دې عقیده یوو چې راتلونکې ټاکنې او سیاسي نظامونه به نور هم بحران وزېږوي او عواقب به یې ډېر خطرناک وي. د دوی دا طرحه عملي او تطبیقي جنبه نه لري. د دوی طرحه زمونږ په فکر د افغانستان اکثریت ولس ته چې په احزابو کې نه دي د منلو وړ به نه وي او د دوی دا طرحه د ملي او ډیموکراتیکو احزابو د رشد سره هیڅ تړاو نه لري.

قوانین همېشه د محیط، سیمې او یا هغو هیوادونو نه الهام اخلي چې د کومو هیوادونو سره د یو هیواد اړیکې زیاتې وي. د دوی طرحه په ډېرو محدودو څو کوچنیو هیوادونو کې چې جغرافیوي او قومي ستونځې پکې نه شته دي او هم د سواد کچه ډېره اوچته ده شتون لري خو د دغه هېوادونو سیستم هم په تدریجي توګه انکشاف کړی دی ځکه د ډیموکراسۍ پروسه یوه انکشافي پروسه ده. د دوی طرحه د افغانستان غوندې هېواد کې چې د سواد کچه یې ټیټه ده، امنیتي ستونځې لري، د انتخاباتو د کمیسیونونو اعتبار او ورتیا یې ډېره ټیټه ده، جغرافیوي او بودیجوي ستونځې شته، غیر عملي ده. خو زمونږ طرحه د نړۍ په اکثرو هېوادونو لکه هندوستان چې د



نړۍ لویه ډیموکراسي لري هلته د تطبیق وړ ده. همدا شان نورو مهمو هیوادونو کې چې ډیموکراسي هلته عمیقه ریښې لري لکه فرانسه، انګلستان، کاناډا، امریکا او داسې نورو هیوادونو کې رواج لري. په دغه هیوادونو کې هم احزاب شته او هم قومونه او هم ډیموکراسۍ رشد کړی دی.

➢ **<u>پورتنیو شیرو هدفونو ته د رسېدو په موخه مونږ لاندې طرحه وړاندې کوو.</u>**

زمونږ وړاندیز دا دی چې د افغانستان موجوده اکثریتي سیستم دې د وړو حوزو په سیستم باندې بدل شي چې په تخنیکي لحاظ ورته First Past The Post (FPTP) وایي. یعنې د افغانستان ۲۵۰ استازو سیټونه دې د ښځو، کوچیانو او یو سیټ د هندوانو د سهم نه په غیر په وړو حوزو باندې ووېشل شي ترڅو د هرې سیمې استازیتوب په پارلمان کې خوندي وي او هیڅوک د خپل حق نه محروم نه شي. په دې سیستم کې تقریباً پورته ټولو شیرو موخو ته چې د اکثرو کسانو غوښتنه ده رسېدلی شو.

➢ **<u>د دې سیستم ښه والی په لاندې ډول دی:</u>**

1. د هرې حوزې استازي به معلوم وي نو په دې توګه به د مؤکلینو او د دوی د استازو ترمنځ مستقیمه رابطه موجوده وي.
2. په وړو حوضو کې د تقلب مخه نیول کېدای شي ځکه هر کاندید کولی شي چې د یوې وړې حوزې لپاره ښه ناظرین وټاکي خو د یو ولایت لپاره د سلګونو ناظرینو ټاکل او د تقلب مخه نیول اسانه نه دي.
3. د هرې حوزې لپاره د رایې ورکونکو لیستونه جوړېدای شي تر څو د تقلب مخه لا ښه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. په دې سیستم کې ولس پوهېږي چې چاته یې رایه ورکړه او د دوی د توقعاتو سره سم چا انتخابات وګټل ځکه د کاندیدانو د نفوذ نه پته لګېږي.

5. که د امنیتي ستونځو پر اساس په یوه حوزه کې کمو کسانو ثبت نام وکړ، بیا هم هغه ولس د استازیتوب نه نه محرومېږي او یا که د امنیتي ستونځو پر اساس یو یا څو حوزو کې ټاکنې ونه شولې نو کله چې امنیت تامین شو، وروسته هم ټاکنې تر سره کېدای شي او د دغه حوزې ولس د استازیتوب نه نه محرومېږي.

6. د کاندیدانو لپاره د لګښتونو کچه ډېره زیاته راټیټېږي نو په دې توګه د متوسط اقتصاد لرونکي کسان هم ټاکنو کې ګډون کولی شي.

7. په دې سیستم کې احزاب هم په طبیعي او تدریجي توګه رشد کولی شي. په هره انتخاباتي حوزه کې احزاب هم ځانونه کاندیدولی شي او که احزاب فعاله شي، خپله اجنډا ولس ته تشریح کړي، په خپلو منځو کې ائتلافونه وکړي نو کولی شي احزاب کافي سیټونه وګټي او په پارلمان کې کافي بلاک جوړ کړي.

8. له دې سیستم سره ولس اشنایي لري او د عامه پوهاوي زیاته اړتیا نشته ده.

9. د دې سیستم انتخاباتي مدیریت او د رایو شمېرل اسانه دي.

➢ **دا سیستم هم ستونځې لري خو د دغو ستونځو لپاره د حل لاره پیداکېدلای شي:**

1. لومړی ستونځه دا ده چې دا طرحه هم وخت ته او زیاتو مشورو ته ضرورت لري ترڅو ټول تخنیکي اړخونه یې وڅېړل شي.



2. د ښځو او کوچیانو لپاره سیټونه څنګه تقسیم شي؟ د دې ستونځې د حل لپاره زمونږه وړاندیز دا دی چې هغه ښځې چې غواړي په یو ولایت کې ځانونه کاندید کړي نو د هغوی نومونه دې د یو ولایت په ټولو حوزو کې شامل شي او چا چې د اوسني سیستم په شان زیاتې رایې وګټلې هماغه کسان دې ګټونکي وشمېرل شي. د کوچیانو حوزې دې په خپل حال پاتې وي ځکه هغوی له اوسني حوزوي سیستم سره اشنایي لري.

3. د حوزو تقسیم باید څنګه وشي؟ زمونږ پیشنهاد دا دی چې په اوسني وخت کې مونږ د ولایتونو د وکیلانو شمېر کم یا زیاتولای نه شو ځکه مونږ لا تر اوسه پورې سر شمېرنه نه ده کړې او د هر ولایت دقیقه احصائیه نه لرو. نو په دې توګه هماغه معیار چې د ولسوالیو او ولایتونو په هکله چې کله ۲۵۰ سیټونه تعینېدل، ونیول شي. په هغه وخت کې د افغانستان نفوس ۲۵میلیونه محاسبه شوی و چې د سل زرو کسانو پر اساس یو استازی باید په پارلمان کې ګډون وکړي. نو اوس هم کولو شو چې هر څو ولسوالیو کې چې له سل زره کم او زیات شمېرنه پوره کوي هماغه دوه یا درې ولسوالۍ دې یوه ټاکنیزه حوزه وټاکل شي.

4. د ولایتي شورا او ولسوالیو شوراګانو لپاره دې هم همدا پورته معیارونه په نظر کې ونیول شي.

✓ **مونږ کمیسیون ته خپل ورتګ تر هغې پورې تحریموو تر څو د ملي وحدت حکومت زمونږ په لاندې وړاندیزونو غور ونه کړي ځکه دا لوی تاریخي مسوولیت دی او مونږ نه غواړو چې زمونږ تصامیم د افغانستان د بې ثباتۍ باعث شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. د دې کميسيون اوسنی وړانـديز چـې احزابـو تـه امتيـازي سـيټونه ورکوي بايد ونه منل شي.
2. د انتخاباتو د قانون تغيير د افغانستان د اساسي قانون نه وروسته د يو نظام تر ټولـو نـه مهـم قـانون دی چـې ډېـر لـوی سـياسي او ژور تخنيکي بحثونو، مشورو او وخت ته اړتيا لري ترڅو پـه مـلي کچـه داسـې يـوه اجـماع رامنځته شي چې ټولو خواو تـه د منلـو وړ وي. زمـونږ وړانـديز دا دی چـې د انتخاباتي نظام د تغير موضوع ته دې زيات فرصت ورکړل شي.
3. د حوزو وړول د خلکو عامه غوښتنه ده او مونږ يې ضروري بولو.
4. د اوسني کميسيون په ترکيب باندې دې تجديد نظـر وشي چـې يـو شمېر نور کسان چې بېطرفه او د مستقل فکر خاوندان وي وراضافه شي.

په درناوي

کاوون کاکړ او شاه محمود مياخېل



بسم الله الرحمن الرحيم

**د انتخاباتي اصلاحاتو د کميسيون د غړيو کاوون کاکړ او شاه محمـود مياخېل له خوا اعلاميه**

د اگست دېرشمه نېټه، کال ۲۰۱۵م

د چارشنبې په ورځ د انتخاباتو د اصلاحاتو کميسيون پريکـړه وکـړه چـې د انتخاباتو نظام به موازي تناسبي سيسټم وي، احزابو ته به د پارلمان پنځـوس سلنه چې ۱۲۵ سيټونه کېږي ورکړل شي او هم به افغانستان د احزابو لپـاره د جمهوري رياست په ډول يـوه حـوزه وي. د دوی دا طرحـه زمـونږ پـه انـد لـه وخته نه مخکـې او د افغانسـتان پـه شرايطـو کـې عمـلي جنبـه نـه لـري او د افغانستان ثبات نور هم کړکېچين او د لا زيات تقلب لپاره لاره هوارولی شي.

کله چې د کميسيون غړيو بيا هم پـه خپـل نظـر تاکيـد وکـړ نـو مـونږ هـم مجبور شولو چې د کميسيون غونډې تحريم کړو او خپل نظـر، تشويشـونه او طرحـه د افغانسـتان خلکـو سره د مطبوعـاتو لـه لارې شريـک کـړو. زمـونږ د تحريم نه وروسته د کميسيون نورو غړو بيا په خپلو پرېکړو کې يو څه تجديد نظر وکړ چې احزابو ته سل (۱۰۰) سيټونه ورکړي چې څلويښت سلنه شي او د پرون راهيسې يو څه نور هم راتيټ کړي دی چې په اخري طرحه کـې دوی د يو ثلث وړانـديز کـړی دی. دوی زمـونږ د طرحـې يـوه برخـه چـې د ولايتونـو حوزې دې وړې شي هم په خپل وړانديز کې منلي دي.

په عين حال کې دوی غوښتل چې  حکومت ته د اجراييه رياسـت لـه لارې يوازې يوه طرحه وړاندې کړي خـو نـن دوی ومنلـه چـې د کميسـيون د نـورو غړو له طرحې سره به زمونږ پرونۍ طرحه چې د مطبوعاتو لارې له ولـس سره مخکې شريکه شوې وه هم يوځای په رسمي توگه حکومت ته وړانـدې کـوي. له مونږ سره د حکومت مشرتابه دا تعهد هم وکړ چې د کميسيون په ترکيـب کې به له وخت سره سم تجديد نظر کوي. په دې توگه مونږ د کميسيون پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غونډه کې برخه واخيستله او د اجراييه رياست مشر جناب ډاکتر عبدالله او د کميسيون مشر ښاغلي عاکفي په رسمي غونډه کې له مطبوعاتو سره په خپلو خبرو کې زمونږ د طرحې يادونه وکړه چې حکومت به دواړه طرحې په غور سره مطالعه او د هغوی په رڼا کې پريکړې کوي.

مونږ د افغانستان د ملي وحدت د مشرتابه جلالتماب جمهور رئيس او هم د اجراييه رئيس د مشر نه هيله لرو چې د انتخاباتو د سيستم په تغير کې پراخه مشورو او ژور غور ته اړتيا ده چې ټول تخنيکي او سياسي اړخونه د دې طرحو بايد وڅېړل شي. همدارنګه د افغانستان خلکو نه هم زمونږ هيله دا ده چې دواړه طرحې مطالعه او خپل نظرونه له حکومت سره شريک کړي. دا د افغانستان د ولس لپاره يوه سر نوشت سازه بحث او پريکړه ده نو ټول بايد فعاله ونډه په دې بحثونو کې واخلي او مونږ به هم خپلې هلې ځلې جاري ساتو.

د افغانستان د ثبات او سوکالۍ په هيله



## د انتخاباتو په هکله د کابينې د تېرې شپې د پريکړې هرکلی

## کاوون کاکړ او شاه محمود مياخېل

د سپټمبر شپږمه نېټه، کال ۲۰۱۵م

زمونږ د معلوماتو له مخې تېره شپه کابينې غونډه درلوده چې د انتخاباتي اصلاحاتو د خاص کميسيون د پرېکړو موضوع هم د اجنډا يوه مهمه برخه وه. کابينې د انتخاباتو د خاص کميسيون د پېشنهاد شوو طرحو اساسي برخه چې د انتخاباتي نظام تغير و د اوس لپاره وځنډاوله او د کميسيون نه يې وغوښتل چې په دې هکله او هم په ورو حوزوي سيستم باندې لا نور فکر وکړي. مونږ د کابينې د دې پرېکړې هرکلی کوو او د ټولو دوستانو د هلو ځلو نه مننه کوو چې زمونږ د طرحې او تشويشونو نه يې ملاتړ وکړ. همدا شان مونږ د افغانستان د ټولو چاپي او تصويري رسنيو نه مننه کوو چې زمونږ غږ يې د افغانستان ولس او حکومتي چارواکو ته ورسوه او خپله ملي دنده يې ادا کړه.

مونږ د افغانستان د ولس، د پارلمان د غړو، حقوق دانانو، مطبوعاتو او ټولو دوستانو نه غواړو چې د انتخاباتي نظام د تغير په هکله بايد خپل نظريات او تشويشونه له حکومت سره او هم د انتخاباتو د خاص کميسيون له غړو سره وقتا فوقتا شريک کړي ځکه د انتخاباتي نظام تغير د اساسي قانون نه وروسته يو له مهمو قوانينو نه دی او په دې هکله جدي توجه او پاملرنې ته اړتيا ده ترڅو د انتخاباتو په قانون کې د انتخاباتي نظام په هکله يو مثبت تغير راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږه په خپله طرحه کې د وړو حوزوي سيستم وړانديز شوی دی. په دې طرحه کې د وکيل او موکلينو ترمنځ رابطه قوي کېږي، د احتساب کچه لوړېږي، په انتخاباتو کې د تقلب او هم د بېځايه مصارفو مخه نيول کېږي. مونږ د موازي او يا تناسبي سيستم مخالف يوو ځکه هلته يو څو محدودو احزابو ته امتياز ورکول کېږي او د ملي او مترقي احزابو د رشد مخه نيول کېږي.

د لا زياتو برياوو په هيله



## د انتخاباتو د سيستم په هکله بې تفاوتي

د سپټمبر ٧مه نېټه، کال ٢٠١٥م، کابل

درنو دوستانو! هره مسئله په خپل ځای کې مهمه ده خو د انتخاباتو مسئله نهايت ډېره مهمه ده او د ټولو درنو دوستانو نه چې د انتخاباتو په مسايلو يې سر خلاصېږي هيله کوم چې بايد پوره توجه وکړي. مونږ خپله غاړه خلاصه کړې ده. پارلمان او حکومت او هم سياسيون راته په دې هکله ډېر بې تفاوته ښکاري. خدای دې خير کړي.

## اخلاق او ميانه روي

د سپټمبر ٨مه نېټه، کال ٢٠١٥م، کابل

افراط او تفريط په ټولو چارو کې د اسلام له نقطه نظره، زمونږ د افغاني دود او کلتور له نظره، د بشري ارزښتونو او سايکالوجيکي علم له نظره، ښه کار نه دی. اسلام کې وايي بهتر د هر کار منځنی يا وسط حالت دی. تاسې د نورو خدايانو ته ښکنځل مه کوئ چې هغوی ستاسې حقيقي خدای ته ښکنځل ونه کړي. په پښتو کې متل دی چې نه دومره خوږ شه چې خلک دې وخوري او نه دومره تريخ شه چې خلک دې ګذار کړي يعنې د وسط حالت ښه دی. په دوستۍ او دښمنۍ کې، په غندلو او ستايلو کې، په محبت او کرکه کې، په فقر او پيسه دارۍ کې، افراط او تفريط ښه کار نه دی.

که څوک مو بد راځي بايد د قلم د عفت په چوکاټ کې خپل دليل ووايو چې ولې د فلاني او فلاني د نظر، سياست او يا کړنې سره موافق يوو او يا نه يو. نه دا چې په خپلو ليکلو کې ښکنځلې وکړو او بيا دومره افراط ته لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د وچو له کبله لانده ټول وسیځو او د یوې سیمې یا قوم ټول ولس محکوم کړو او یا هغوی ته ښکنځلې وکړو. زما له انده یوه سیمه، یوه ډله او یا یو قوم په کلي شکل د افغانستان د مسایلو مسوول نه دی بلکې په هر قوم، سیمې، ډلې او ټپله کې د افغانستان د مسایلو مسوول کسان، اشخاص دي او په دې توګه ښه او بد کسان په هره ډله، قوم او سمت کې شته دي.

## څوک جاسوس دی او څوک نه دی؟

د سپټمبر ۱۴مه نېټه ۲۰۱۵م کال، کابل

پخوا په کونړ کې د رپوټ چې کلمه د جاسوس لپاره استعمالېده. د رپوټ چې کلمه ډېره بده کلمه وه او دا به د کنځلو په معنی وه. نو اوس چې زه په سوشل میډیا او یا نورو تصویري، غږیزې او چاپي رسنیو کې لولم، اورم او یا ګورم، په یو بل باندې د جاسوسۍ اتهام لګول عامه خبره ده نو داسې راته ښکاري چې د افغانستان جګړه اوس له استخباراتي پوښښ نه راوتلې او علني جبهې شکل یې نیولی دی. هغه کسان چې د پردیو د استخباراتو په AF موټرو کې به په ښکاره ډول په پاکستان کې سپرېدل او د کورونو کرایې به یې ښکاره اخیستلې او شاید چې د دې نه زیاتې پټې او مسطوره پیسې یې هم اخیستلې او اوس هم د پردیو له استخباراتو سره اړیکې لري، د ټولو نه زیات په نورو د جاسوسانو اتهام لګوي. که د دې کسانو اتهامات رښتیا وي نو بیا خو د افغانستان نه کډه کول په کار دي ځکه د جاسوسانو تعداد راته د غیر جاسوسانو نه زیات ښکاري.

زما په اند، د سیمې استخبارات غواړي چې زمونږ ولس په یو بل مشکوک کړي ترڅو د دې زمینه افغانانو ته مساعده نه شي چې له یو بل سره همکاري وکړي. څومره چې په افغانستان کې ګډوډي او بې اعتمادي وي، هماغومره



د همکارۍ زمینه کمېږي او مونږ نه شو کولی چې خپلو ملي موخو ته ورسېږو. په یو هېواد کې صلح او ثبات هغه وخت رامنځته کېدای شي چې مونږ په یو بل اعتماد ولرو.

ما ته هغه کسان مشکوک ښکاري چې د دوی مصارف د دوی د ښکاره عاید په تناسب څو چنده زیات دي. خامخا دا کسان د نامشروع لارو، که هغه جاسوسي وي او یا نورې نا مشروع لارې، پیسې پیدا کوي او ولس په جنګ سره اچوي. دوی نه د ملت په قصه کې دي او نه د وطن په خیال او غم کې. څومره چې اوبه خړې وي هماغومره دوی په کې ښه ماهي نیولی شي.

## د نظام او د حکومت د تغیر تر منځ فرق

د سپټمبر د میاشتې ۱۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

دې کې هیڅ شک نشته چې د تېر یوه کال نه راپدیخوا د افغانستان ولس د تش په نامه ملي وحدت د حکومت نه د بېلابېلو دلایلو پر اساس ناراضه ښکاري او وروستۍ سروې ښیي چې یوازې په سلو کې شل سلنه خلک د حکومت نه پوره راضي دي. په دې توګه د حکومت ضد خبرو اترو په محافلو او هم په ټولو غږیزو، تصویري او چاپي رسنیو کې له خلکو نه لار ورکه ده او چارواکي هم د کمونیکیشن، عامه پوهاوي او ولس سره د همغږۍ او اړیکو کومه ستراتیژي نه لري. جمهور رئیس د نورو کارونو ترڅنګ په دې هم نه دی توانېدلی چې د جمهوري ریاست لپاره د تېر یوه کال په موده کې خپل ویندوی یا نطاق وټاکي او د حکومت د عامه اړیکو دفتر فعاله کړي. د فعاله عامه اړیکو دفتر او یا کمیونیکشن ستراتیژي د هر حکومت لپاره باید لومړیتوب ولري تر څو حکومت وکولای شي چې ولس د خپلو کارونو، پلانونو او مؤخو نه په منظمه توګه خبر او ولس په خپل اعتماد کې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوره ډيموکراټيکو ټولنو کې ولسي- هلې ځلې په حکومتونو فشار راوستولی شي چې حکومتونه خپلو هغو پاليسي ګانو ته تغير ورکړي د کومو سره چې ولس ناراضه دی. که حکومت خپلو پاليسي ګانو ته تغير ورنه کړي نو ولس هم دا حوصله لري چې تر انتخاباتو پورې انتظار وکاږي او بيا ولس منتخبو چارواکو ته د بل ځل لپاره رايه ورنه کړي او په دې توګه د ولس د رايو په وسيله حکومت تغير مومي.

د افغانستان غوندې وروسته پاتې ټولنه کې چې د ډيموکراسۍ ريښې ضعيفه، د حکومتي بنيادونو، موسساتو او ادارو پښې ډېرې باريکه دي، ولسي فشار د حکومت د تغير نه بلکې د نظام د تغير باعث ګرځي. مهمه خبره دا ده چې څومره ولسي- فشار ته ضرورت دی چې يوازې حکومت مجبوره کړای شي چې خپلو پاليسيو او کړنو ته تغير ورکړي ترڅو د نظام د سقوط سبب ونه ګرځي ځکه د نظام په سقوط کې د ولس خير نشته او مونږ بيا د ۱۹۹۰مې لسيزې غوندې په داخلي جګړو اخته کېږو. په دې توګه مونږ بايد د ولسي فشار عواقبو ته هم متوجه اوسو. حکومت هم ولس تر دې حده مجبوره نه کړي چې د دوی فشار د نظام د سقوط سبب شي.

مشکل دا دی چې د حکومت محدوده چارواکي دا فکر کوي چې هر څه سم روان دي حال دا چې حکومت د امنيت په ټينګولو، ښه حکومتدارۍ او اقتصادي پلانونو په عملي کولو کې پاتې راغلی دی. په حکومتدارۍ او امنيتي سکتور کې حکومتي چارواکي په هماغه پلانونو او پاليسيو کار کوي کومو چې په تېرو څوارلس کلونو کې نتيجه نه ده ورکړې. يوه ښه نمونه يې د مردمي يا ډالري خيزشونو پروژه ده چې ځينې چارواکي په دې توګه د ځانونو لپاره د فساد زمينه مساعدوي.

حکومت بايد دا فکر هم له خپل سر نه لرې کړي چې هر څوک کومه مشوره حکومت ته ورکوي نو د دې کسانو هدف يوازې پيسې، چوکۍ او يا



موقف نه دی بلکې ډېر داسې کسان شته چې د دې دولتي چارواکو نه يې پر افغانستان ډېر زړه خوګېږي او د درده د حکومت په پاليسيو اعتراضونه کوي. که حکومت چا ته چوکۍ هم ورکوي دا د دوی شخصي چوکۍ نه دي بلکې دا د ملت چوکۍ دي او پر چا بايد دوی احسان ونه کړي ځکه دوی له خپله کوره چا ته څه نه ورکوي.

## د لوی اختر مبارکي

د سپټمبر ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

هره ورځ مونږ د خپلو وطنوالو، خپلوانو او دوستانو په هکله لسګونه بدخبرونه د مرګ، ژوبلې او وحشت اورو نو په دې توګه د دوستانو د لوی اختر رارسېدو ته ډېر تږي دي نو ځکه يې د اختر نه دوه درې ورځې دمخه د اختر مبارکي ګانې ورکول د فيسبوک له لارې سره پيل کړي دي. حالاتو ته چې ګورم نو په ژوند هم څه باور نشته نو زما له خوا هم د لوی اختر مبارکي ومنئ. د ټولو دوستانو، ملګرو او خپلوانو دې راتلونکی لوی اختر مبارک وي که څه هم دوه ورځې وروسته دی.

هغه خواږه دوستان، ملګري او خپلوان چې سږکال له مونږه سره نشته او په تېر يو کال کې مړه شوي دي د هغوی ځای به په دې لوی اختر کې خالي وي. زمونږ او ستاسې مړي دې خدای وبښي. د ژوند راشه درشه به له ژوندو سره کوو ځکه دا د ژوند فرموله ده او حوادثو او ناخوالو ته به نه تسليمېږو. په افغانستان کې د دايمي صلحې، ثبات او سوکالۍ په هيله. ښه اختر ولرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حکمتيار صيب انرژي او دسپلين کې شک نشته خو د څه لپاره؟

د سپټمبر د مياشتې ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن مې د ميرويس ستانکزي پر وال ولوستل چې حکمتيارصيب، کرزي صيب ته يو ليک د هغه د غوښتنې په ځواب کې ليکلی و چې دی کابل ته نه راځي ځکه د ارگ پيره داري امريکايان کوي. په دغه پوسټ کې چې د حکمتيار صيب د زوی له پوسټ نه رانقل شوی و ليکلي و چې حکمتيار صيب يو سل او شل کتابونه ليکلي او ټول يې په خپله ټايپ کړي دي.

د تر کومه حده چې ما په کراتو کراتو له حکمتيار صيب سره ليدلي دي، د وروستی خبرې په هکله دا تاييدوم چې حکمتيار صيب په شخصي ژوند کې دسپلين لري او منظم انسان دی. د ليکلو توان، پوهه او انرژي لري. کله چې دی د مجاهدينو عبوري حکومت کې دوره يې مشر و په هغه وخت کې ما د امريکا غږ راډيو سره کار کاوه نو هره ورځ به يې لس شل صفحې تفصيلي مطبوعاتي بيانې پخپله ليکلې. زما دفتر په ټاون کې د مجاهدينو له حکومت سره مخامخ د وفا په دفتر کې و نو قريب الرحمن سعيد صيب به د دې بيانيو اصلي کاپی ماته لومړی رالېرله مخکې له دې چې په نورو ژبو ترجمه شي او ټولې ليکنې د حکمتيار صيب په خپل قلم وې. حکمتيار صيب د ليکلو سټايل ښايسته او ميرزايي دی.

اما د حکمتيار صيب له لومړی خبرې سره موافق نه يم. کله چې د جينوا قرارداد امضا شو نو يوه ماده په دغه قرارداد کې د Negative Symmetry وه يعنې روسان به د افغانستان حکومت ته سلاوې نه ورکوي او همدا شان امريکا او غربي هېوادونه به مجاهدينو ته سلاوې نه ورکوي. له حکمتيار صيب سره مې مرکه درلوده نو پوښتنه مې ترې وکړه که امريکا يا غربي



هېوادونه تاسې ته سلاوې درنه کړي نو څنگه به خپل جهاد ته د کابل رژيم په مقابل کې دوام ورکړئ؟ حکمتيار صيب وويل چې مونږ د غرب سلاوو ته ضرورت نه لرو ځکه دوی جهاد د غنيمت په سلاوو کوي. نو بيا ما ورته وويل چې (Stinger Anti-Craft Missiles) د الوتکو په ضد ستنگر ميزايل خو تاسې په غنيمت کې نه دي نيولي او دا خو د غنيمت سلاوې نه دي؟ حکمتيار صيب راته اشاره وکړه چې خپل ټايپ مړ يعنې بند کړه. ما خپل ټايپ بند کړ او راته يې وويل چې مونږ ستنگر ميزايل له امريکا نه په مستقيمه توگه نه دي اخيستلي بلکې مونږ له پاکستان نه اخيستلي دي.

دلته د خدای بښلي رسول امين صيب قصه راپه ياد شوله که څه هم لږه بې ادبه ده خو ليکل يې ضروري بولم او بښنه هم غواړم.

يو وخت رسول امين صيب په پېښور کې د افغانستان د آزادو ليکوالانو اتحاديه (وفا) جوړه کړه نو چا ورته وويل چې ته خو د پير صيب گيلاني سلاکار وې نو ولې دې جدا ټولنه جوړه کړه. رسول امين صيب ورته وويل چې ما د پير صيب .... نيولې وې او هغه د بل چا نيولې وې. نو کله چې ما هغه اصلي ځای پيدا کړ نو د پير صيب .... مې پرېښودلې او هغه اصلي ځای ته مې لاس واچاوه.

مقصد مې دا دی که پاکستان د امريکا نه هر څه د افغانستان په نوم اخلي او بيا مونږ پاکستانيانو ته د سوالگر په توگه ودرېږو، دا سمه خبره نه ده. اول خومونږ غواړو چې په خپلو پښو ودرېږو. پاکستان، امريکا او يا بل چا ته بايد محتاج ونه اوسو خو واقعيت دا دی چې ضرروتونه لرو او د نورو کمکونو ته محتاج يوو. دا چې پرچون فروش ته ودرېږو او زمونږ په سر د امريکا او يا د نورو هېوادونو سره معامله کوي، ولې مونږ د عمده فروش سره په خپله په مستقيمه توگه راکړه ورکړه نه کوو. د پاکستان يوه مهمه غوښتنه دا ده چې هر څوک که غواړي چې له افغانستان سره معامله وکړي بايد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان له لارې يې وکړي. د حکمتيار صيب حوصله منم خو له سياست سره يې موافق نه يم چې د پاکستان له لارې د افغانستان په سر معامله کوي.

**زما د پورته پوسټ په اړوند يو تن جليل احمد چې د حکمتيار صيب عکس يې خپل د فيسبوک په پاڼه نصب کړی و ليکلي و:**

جناب مياخيل صيب! خبره دې پر ځای ده خو په هغه وخت کې په افغانستان ښکاره د پاکستان احسان و ځکه مليونونو مهاجرينو ته يې ځای ورکړی و نو دا خبره يې له هغه وخت سره سمه او پر ځای وه او دا احسان بايد تاسې هم ومنئ ځکه ماته معلومه ده چې ستاسې اولادونو هم ډېر په ښايسته ډول پاکستان کې تعليم حاصل کړو خو اوس هر سه برعکس دي ځکه هغه وخت کې پاکستان سم اسلامي هېواد و او مونږه ورته د يو اسلامي هېواد په سترګه کتل خو اوس يې مکمل منافقت ته ملا تړلې ده نو بنأ اوس حکمتيار صيب هم د پاکستان دوه مخې پاليسۍ سره جوړ نه دی.

**د پورته پوست په ځواب کې ما وليکل:**

جليل احمد صيب! احسان د پاکستان د خلکو منو خو د حکومتونو يې نه منو ځکه زمونږ په منځ کې يې د منافقت لپاره د مور ميرې سلوک کاوه او داسې تخم د بې اتفاقی يې زمونږ په منځ کې کرلی دی چې د هرې ورځې په تېرېدو سره نوې نوې نودې کوي. که څه هم پاکستان به دا شعارونه ورکول چې د افغانانو جهاد د پاکستان د دفاع لپاره دی نو دوی بايد زمونږ احسان هم ومني.

زما په اند مونږ په هغه وخت کې هم نه پوهېدلو او فکر مو کاوه چې پاکستان زمونږ ګاونډی او اسلامي هيواد دی نو له افغانانو سره به د وروری چلند کوي خو خبره داسې نه وه. که مونږ عام کسان په هغه وخت کې نه



پوهېدلو خو زمونږ مشران چې د زعامت دعوه يې کوله بايد پر دې پوهېدلي وای. د پاکستان له جوړېدو سره سم د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړيکې سمې نه وې او پاکستان همېشه کوشش کاوه چې په افغانستان کې نفوذ ولري. افغانستان پاکستان په رسميت ونه پېژانده او د لياقت علي خان وژنه د ببرک خان د زوی سيد اکبر په لاس يې د افغانستان له خوا ګڼله. حال دا چې په پيښور کې چې کله لياقت علي خان د افغانستان پر ضد خبرې کولې نو په سيداکبر د هغه خبرې ښې ونه لګېدې او هغه يې مړ کړ. که څه هم سيد اکبر د افغانستان له حکومت نه خفه و او پاکستان ته يې پناه وړې وه خو افغاني غرور ورسره و او د وطن پرضد د خبرو تحمل يې نه شو کولای.

په هر حال د پاکستان سياست له اول نه د افغانستان د ګټو پرضد و. د افغانستان جهاد د پاکستان لپاره يوه ښه وسيله شوله چې پاکستان د افغانستان په منځ کې نفوذ پيدا کړي. که نه د داود خان په وخت کې چې کله د جوانان مسلمان غړي پاکستان ته لاړل او بيا پاکستان هغه تربيه او مسلح کړل او افغانستان ته يې راولېږل چې د داود خان رژيم رانسکور کړي چې په پکتيکا، کونړ، لغمان او پنجشير کې يې حملې وکړې چې حکمتيار صيب هم ورسره موافق و خو د دوی دا حرکت د ولس له خوا شنډ شو ځکه په هغه وخت کې ولس د داود خان له حکومت نه دفاع کوله. پر دې اساس د پاکستان په سياست کې د افغانستان د بربادۍ او تسلط لپاره د پاکستان د جوړېدو نه راپېدېخوا هيڅ تغير نه دی کړی خو صرف د رژيمونو د تبديلېدو سره يې شکلونه بدلېږي.

په کومه ورځ چې د جنرال ضياالحق الوتکې سقوط وکړ او هغه مړ شو نو ما د حکمتيارصيب سره مرکه درلوده او له هغه نه مې وپوښتل، ضياالحق چې د مجاهدينو کلک ملاتړی دی نو د هغه له مرګ نه وروسته به د پاکستان په سياست کې د افغان مجاهدينو د ملاتړ په هکله څه تغير راشي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتیار صیب راته په ځواب کې وویل چې د پاکستان هر رژیم باید د پاکستان د ګټو نه دفاع وکړي او د پاکستان ګټې په دې کې دي چې د افغانستان د جهاد نه دفاع وکړي. حکمتیار صیب په هغه وخت کې او اوس هم پوهېږي چې پاکستان د افغانستان په اړوند صادقه نه دی نو حکمتیار صیب ته دا په کار و چې د پاکستان له ملاتړ نه په غیر یې باید مبارزې ته دوام ورکړی وای او دا چې اوس هم د پاکستان له سیاست سره موافق نه دی سمه خبره ده خو په عمل کې دې یې ثابته کړي.

دا چې زما اولادونو په پاکستان کې یو څه سبق ویلی، ښه کار و او دا زمونږ حق و خو په پېښور کې زما دوه ورونه، یو د ماما زوی او یو ترورزی هم له منځه تللي دي.

## زمونږ میډیا، مدني ټولنې، حکومت او عام ولس په اګاهانه او غیر اګاهانه توګه د حکومت دښمنانو ته تبلیغ کوي

د سپټمبر۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

Lenin, long ago, had said that “the capitalists will sell us the rope with which we will hang them.” Bin Laden might have supplied the addendum that “the capitalists will also gladly broadcast the execution.” (From Manuscript of a book written by Professor David Edwards)

دا پورته لیکنه  د پروفیسر ډیوید اډوارد د کتاب د مینوسکرپټ نه رانقل شوې ده: دی وایي چې لینن ډېر پخوا ویلي و چې سرمایه داري نظامونه په مونږ رسۍ خرڅوي خو په همدغه رسیو به یې غرغره کوو. دی زیاتوي که بن لادن مونږ ته یو څه معلومات د خپلو فعالیتونو په لاس راکړي خو سرمایه داري دنیا په خوشحالۍ سره د دوی د وژنو او وحشت د لا زیات ترویجولو



لپاره تبلیغ کوي. مطلب اوږد دی خو صرف همدمروه د لوستونکو لپاره دلته رانقل کړ.

څومره تبلیغ چې د افغانستان میډیا، مدني ټولنې، حکومت او عام ولس په اګاهانه او غیراګاهانه توګه د حکومت ضد ډلو ته که هغه تروریستان، داعش او یا نور ډلې دي کوي، هغومره تبلیغ دوی په خپله ځانونو ته نه شي کولی. په میډیا کې هره ورځ یو څو عکسونه د اسونو او موټر سایکلونو چې مسلح کسان پرې سپاره دي، سپین او تور بیرغونه یې په لاس کې دي، په مکرره توګه خپروي نو عام ولس فکر کوي چې ګونډې دوی ټول افغانستان نیولی دی. د افغانستان میډیا بې پیسو هغوی ته تبلیغ کوي او په دې توګه د امنیتي قواوو او عامو خلکو مورال ضعیفه کوي چې له حکومت سره همکاري ونه کړي. اما د حکومت اعلان نه وروسته بیا وایي چې دا یو تجارتي اعلان دی او حکومت اعلان د دوه پیسو کړي. په حکومت او یا نورو منابعو دې هم الله تعالی رحم وکړي چې میډیا ته د دې اعلانونو پیسې ورکوي او هغوی نور هم د خپل ځان پر ضد چاغوي.

**د پورته لیکنې په هکله دوستانو ډېر مثبت او هم متفاوت نظریات درلودل خو صرف درې نظره دلته رانقلوم:**

**غاري رحمن ساپي لیکلي و:**

میاخیل صاحب! دا د تبلیغ خبره نه ده حقیقت باید د خلکو نه پټ نه شي. سیاست دې ته نه وایي چې خلکو ته دروغ ووایه باید خلکو ته حقیقت وویل شي او مشورې ترې واخیستل شي چې کامیاب شي. اوسني حکومتونه درواغ وایي ځکه ژر ناکامېږي. خپل اولس ته خدمت هغوی ته رشتیا ویل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حيات پياوړي ليکلي و:**

ميا خيل صاحب! يو ځوک ځنګه کولای شي چې د دولت پر عيبونو د پردې اچولو له لارې دولت سره مرسته وکړي. دا دولت سرا پا يوه ستونزه ده او مخالف خو د بحث وړ نه دی.

**عبدالرحيم نوښتګر ليکلي و:**

جناب مياخيل صيب! بيا هم مسووليت حکومت ته راجع کېږي چې ميډيا يې خپل سرته پرېښې ده زموږ په ګاونډ پاکستان او هند کې هم د مطبوعاتو آزادي شته او هم ډيموکراسي خو هغوی هېڅکله خپلې ملي ګټې د وارداتي آزادۍ او ډيمکراسۍ ځخه نه قربانوي او حکومتونه يې ميډيا ته سمت ورکوي او په يو چوکاټ کې يې سره را ټول کړي دي.

**ما د دې دوستانو په ځواب کې بيا وليکل:**

درنو دوستانو! زما مطلب دا نه دی چې واقعيتونه دې پټ شي او ځوک دې اعتراض د حکومت په کړونو ونه کړي. ژورنالېزم هم ځانته اصول او قواعد لري. خبر بايد ثقه وي، objectivity ، تعادل او بيطرفي په کې ساتل شوی وي، شخصي هوا او هوس په کې بايد ځای ونه لري، هدف يې د پېښو خپرول، نشرول او د معلوماتو شريکول وي نه دا چې د محدودو حلقو او اشخاصو لپاره تبليغ د نورو ټکول وي. د ټولو نه بده دا ده چې ژورناليست بايد هم د فساد نه پاک وي نه بايد د چا نه رشوت واخلي، نه ځوک تهديد کړي او نه د چا نه تحفې واخلي. د ګارډين ژورنالست د ۵۰ ډالرو نه زيات تحفه هم نشي اخيستلی او نه د چا په طياره کې مفت چکر وهلی شي. Code of ethics د ژورنالستانو لپاره په کار دي. زه داسې ژورناليستان پېژنم چې د خلکو نه پيسې اخلي او بيا يې راپور نشروي او داسې هم شته چې که پيسې ورنه کړي نو بيا درپسې هرڅه ليکي. اکثره دا رسنۍ دې مسايلو ته نه



ګوري او غواړي چې د تلويزيون په مخ که هر چا هر څه وويل هماغه نشر وي او يا يې په چاپي رسنيو کې ليکي. ژورنالېزم هم بايد له فساد نه پاک وي. زه هم يو وخت ژورنالست وم. دا د دې معنی نه لري چې ژورنالېزم خراب کار دی. ډېره ښه او پاکه دنده ده که ځوک يې په سمه توګه اجرا کړي.

## بې نقشې حکومتداري نه کېږي

د سپټمبر ۳۰مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

که مونږ د کور جوړلو نقشه ونه لرو او هر خوا ديوالونه جوړو او کوټې (خونې) ابادوو، ايا مونږ به داسې کور د اوسېدو جوړ کړی وي چې هم ښکلا ولري او هم زموږ د ضرورت او امکاناتو په تناسب وي، چې بيا ترې سمه ښه استفاده وکړی شو؟ زما په اند نه. استفاده خو څه کوې، ډېری پيسې به مو بېځايه مصرف کړي وي، يوه خونه به يې هم د استفادې وړ نه وي او يو ديوال به د بل ديوال په مخکې خونو ته د ورتګ لاره بنده کړې وي.

حکومتداري هم نقشې ته ضرورت لري. داسې نقشه بايد وي چې زمونږ د ملک د ضرورت او امکاناتو په تناسب وي او تطبيقي جنبه ولري. معمار، نجار، اهنګر، رنګمال، برقي او د هر چا کار د نقشې په تطبيق کې معلوم وي. د نقشې په لوستلو ټول چارواکي بايد پوه وي چې هماغه نقشه د افغانستان په ګوټ ګوټ کې تطبيق کړي. که کوم چارواکي په رنګ او روغن کې او يا د کور په دننه ښکلا او ډيزاين کې څه فرق راولي نو بيا فرق نه کوي او د نقشې عمومي بڼه کې تغير نه راځي ځکه هغه به د چارواکو د سليقې پورې اړه ولري. نه دا چې اوس د هر ولايت او وزارتونو چارواکي ځانته جدا جدا نقشې لري چې نه د ولس په ګټه خوري او نه يې دوی تطبيقولی شي.

د ۲۰۰۵م کال د جولای په مياشت کې چې کله ما د کورنيو چارو وزارت له معينيت نه استعفا وکړه نو ما په خپل خبري کنفرانس کې وويل چې که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت انجن خراب وي نو که ډریوران یې سل ځله بدل رابدل شي دا موټر چېرته نه ځي. لس کاله وروسته هماغه حالت دی. هماغه پخوانی ناکامه ټیم د پخوانیو ناکامو پالیسو سره غواړي چې د حکومت یا نظام چارې په مخ یوسي. په تېرو کلونو کې په افغانستان کې ۱۵۰ زره خارجي مجهزې قواوې وې، هوایي قواوې یې درلودې او هم په بېلیونونو ډالرې ښکته پورته کېدلې خو د تېروکلونو امنیتي، اقتصادي او د حکومتدارۍ پالیسۍ ناکامه او موثریت یې لږ و. سوال دا دی چې که په تېرو زیاتو امکاناتو سره پخوانۍ پالیسۍ د همدغه ټیم په برکت ناکامه وي نو مونږ ولې توقع وکړو چې همدا ټیم به په لږو امکاناتو کامیاب شي. زمونږ توقع د موجوده حکومت نه دا وه چې د تصمیم ګیرۍ په سر کې به یو نوي په کار پوه ټیم چې د ولس په منځ کې اعتبار ولري رامنځته کړي خو خبره سرچپه وختله.

د حکومتدارۍ د نقشې جوړولو اول کار دا دی چې محلي اداري یا ارګان های محل اداره باید لغوه شي او بېرته د کورنیو چارو وزارت سره وتړل شي.

موږ درې قسمه والیان لرو: عادي والیان چې هیڅ صلاحیت، قوت او امکانات نه لري او صرف د لاټرۍ په راوتو والیان شوي دی. نه یې د امنیې قوماندان په خوله پیاز خوري، نه امنیت ملي او نه اردو. دا ډول والیان خپلې شپې تېروي او پهلوان زنده خوش است چې د والي صیب لقب ورته استعمال شي.

دویم ګروپ والیان VIP والیان دي. VIP دوه معنی لري یو یې Very Important Person مګر په افغانستان کې د Very Illgegal Person معنی لري ځکه د افغانستان VIP کسانو لپاره قانون د نخود دانې په اندازه هم اهمیت نه لري او نه ترې څوک پوښتنه کولی شي. دا ډول والیان په کابل کې د کوم وزیر او یا نورو چارواکو او یا کوم سیاسي مشر له خوا حمایه کېږي خو بیا هم ناکامه دي ځکه دوی هم یوازې هغه کسان خوشحالوي، د



چا له خوا چې دوی مقرر شوي دي. د دوی په خوله هم امنیتي قواوې زردکې نه خوري نو دا ډول والیان هم څه نه شي کولی.

درېیمه ډول والیان:

VVIP (Very Very Illegal Person or Very Very Important Person) والیان دي چې تعداد یې ډېر محدود دی. دا ډول والیان په خپله سیمه کې هرکاره دي او د محلي ملوک الطوائف په توګه قدرت چلوي. دا سیمې د ظلم او استبداد پر اساس ارامه ښکاري خو د دې سیمو حالات هم په یوه لحظه کې خرابېدای شي. د دې قسم والیانو نه هم د نظام جوړولو توقع نشته ده.

د ښې حکومتدارۍ په نقشه کې باید دا هم اضافه شي چې والي او ولسوال د منطقې اوله درجه امر دی او د ټولو امنیتي او ملکي ادارو مسوولیت د دوی پر غاړه وي. کله به چې پخوانیو رژیمونو کې په کومه سیمه کې امنیت خرابېده نو داسې والیان به یې ټاکل چې ملکي او نظامي ارګانونه به د هغه تر قوماندې لاندې وو، د تغیر او تبدیل صلاحیت به یې درلود او د حکومت ټولو ارګانونو به یې خبرې ته خبره ویله. اوس مونږ هم داسې والیانو ته ضرورت لرو چې په ولایتونو کې واقعاً د اولې درجې چارواکي په توګه کار وکړي او صلاحیت ولري. داسې والیان چې د پیاده د بدلولو صلاحیت ونه لري، هیڅ نشي کولی. جمهور رئیس باید د صلاحیتونو تفویض وکړي او هسې په وړو شیانو خپل ځان مصروف ونه ساتي. جمهور رئیس باید یوازې پوښتنه له وزیر نه وکړي، حتی د والیانو نه هم باید پوښتنه ونه کړي او هغه دې پرېږدي مربوطه وزارت ته ځواب ووایي. مونږ د جنګ په حالت کې یوو او داسې والیانو ته ضرورت لرو چې امنیتي او ملکي ادارو باندې قانوني کنټرول ولري، د ولایت په کچه د حکومت د ټولو کارکوونکو د ټاکلو او لرې کولو صلاحیت باید ورته ورکړل شي. البته دا د مرکزي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفه ده چې د والي تصامیم ارزیابي کړي، که کوم والي یوازې خپل خپلوان او یا د یو قوم او ډلې کسان مقرروي نو هغه والي باید د دندې نه لرې کړای شي.

د ښې حکومتدارۍ په نقشه کې د عایداتو او مصارفاتو حساب ورکول ډېر مهم دي. شفافیت یا روڼتیا په بودیجه او هم مصارفو کې بایـد موجـوده وي. ډېرې پیسې د اوپراتیفي مصارفو په نامه امنیتي ارګانونو او یا محلي ادارو ته ورکول کېږي خو د دې پیسو د مصرف درک نـه لګېـږي او دولتـي چـارواکي اوپراتیفـي پیسـې پـه خپلـو جیبونـو کـې اچـوي او د هغـو موخـو لپـاره چـې اوپراتیفي پیسې ورکړل کېږي یو سلمه یې هـم د اوپرایتفـي کـارونو لپـاره نـه استعمالېږي او همـدا علـت دی چـې حکومـت د مخالفـانو د لیکـو نـه هـیڅ معلومات نه لري.

د ښې حکومت دارۍ په نقشه کـې د امنیـت، اداري او اقتصـادي مسـایلو تـرمنځ اړیکـې ضروري دي. اقتصـادي رشـد بـې لـه امنیتـه نـه شي راتللـی. امنیت او اقتصاد د ښې حکومتدارۍ په پایله کې ښه کیدلی شي.

په پـای کـې د ښـې حکومتـدارۍ پـه نفشـه کـې دوه صـفحې متحـدالمال عملیاتي پلان د هرې ادارې لپاره ضروري دی چې د حکومـت ټـول چـارواکي پرې پوه وي. داسې نه چې د موجوده سلهاو ستراتیژي ګانو پر تعبیر، تفصیر او عملي کولو باندې نـه د دولـت ټیـټ پـوړي چـارواکي او نـه هـم لوړپـوړي چارواکي پوهېږي.

پورته مقاله تاند او روهـي ویـب پـاڼو کـې هـم د ۲۰۱۵م کـال د اکتـوبر پـه لومړۍ نېټه خپره شوې وه، په لاندې لینک کې یې موندلای شئ.

http://www.taand.com/archives/55457

http://rohi.af/fullstory.php?id=40861



# د معلم د ورځې یاد

د اکتوبر د میاشتې پینځمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

په نهم صنف کې وم، د خپل ټولګي اول نمره هم وم او جنجالي شـاګرد نـه وم صرف کله کله به مې د کوم استاد نه چې نه پوهېـده، یـوه نیمـه پوښـتنه کوله. یوه ورځ زمونږ د صنف هلکان یو څو دقیقې د رخصتېدو لـه وخـت نـه دمخه له صنف نه ووتل نو استادان او مدیر د لیسې په قهر شـول خـو اکـثره شاګردان بېرته صنف ته راغلـل. زمـا د عمـه زوی خـدای بښـلی عبدالصـبور عزیزي چې په مونږ یې د پښتو ژبې ساعت درلود صنف ته راننوت او په قهر یې وویل چې زه به له تاسې سره ګورم. زه په اول قطار کې ولاړ وم، په قهر یې وویل چې ګوره ګوره ګوره دا زما د ماما زوی دی، نو ما فکر وکړ چې ګونـدې تقدیروي مې ځکه زه د صنف نه وتلی نه وم، چې ښـه رانـږدې شـو، یـوه ښـه کلکه څپېړه یې په مخ راکړه نو ما هم ورته څه ونه ویل ځکه بېګناه یـې وهلـې وم او د هغه احترام مې وکړ.

وروسته د هغه کورته ورغلم او د غرمې ډوډۍ مې هم ترې وخوړله او ورته ومې ویل چې زه دې ولې ووهلم ځکه زما خو څه ګناه نه وه. ده راته وویل چې ته خو اول نمره او د صنف کفتان یې نو ولې دې دا شـاګردان منعـه نـه کـړل چې له صنف نه ونه وځي. ما ورته وویل چې له مـاسره خـو پـولیس نـه و چـې دوی مې منعه کړې وای. اوس همدا حالت دی د مکتـب او دولـت کفتانـان زما په شان خپل مادونـان نـه شي اداره کـولی. الله تعـالی دې عزیـزی صـیب وبښي.

د هغه او نورو استادانو په یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طمعه بد شی دی

د اکتوبر ۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

کله د بعضې مشرانو په طمعه، کله د ازمایل شو کسانو په طمعه، کله د گاونډیانو په طمعه، کله د بهرنیانو په طمعه او په دې ورځو کې لا د روسانو په طمعه یوو چې گواکې پخواني شوروي اتحاد به بیا راژوندی شي، افغانستان ته به پوځونه راولېږي او افغانستان ته به نجات ورکړي. که شوروي اتحاد راژوندی هم شي د هغوی توجه د امو له سیند نه هغه خوا ده او هغه پولې به لا نورې د افغانستان د ټولو قومونو پر وړاندې داسې بندې کړي چې هېڅوک هغه خوا تگ او راتگ ونه کړای شي. په سیاسي اصطلاح د منځنۍ آسیا ملکونه اوس د Protectionist یا د ځان د ساتلو په فکر کې دي چې څنگه د تروریزم، مخدره موادو، بشري قاچاق او نورو سازمان یافته جرایمو نه ځانونه وساتي. هغوی د افغانستان په قصه کې نه دي.

نو داسې راته ښکاري چې مونږ اوبو راخیستي یوو، هر خسک او خاشاک ته لاس اچوو او فکرکوو چې څوک به راپیدا شي چې مونږ ته نجات راکړي. زما په اند، که مو دا حال وي، دا مو په حکومت کې دننه او هم له حکومت نه بهر مشران وي نو طمعه ترې مه کوئ. اوبه وړې ته یوازینۍ لار دا ده چې په خپل همت لامبو ووهي او ځان له غرقېدو نه وژغوري.

**د پورته لیکنې په اړوند ډېرو دوستانو خپلې تبصرې لیکلې وې خو دلته د ایمل شمس تبصره رانقلوم:**

میاخېل صیب! خلک نور د امریکې، روس، ایران، پاکستان، او نورو ټولو نه بې زاره شوي. خلک نور د ټول افغان سیاسي مشرانو نه په تنگ شوي، ټولو ورته تاوانونه رسولي دي. ځکه ټول خبرې ښې کوي خو په عمل کې ټول غله، داړه ماران او مردار خلک دي. که پخواني افغان حکومتونه وو، که په



پاکستان کې جوړ شوي مشران چې ملک یې تباه او برباد کړو، که په ایران کې جوړ شوي تنظیمونه او بیا د کرزي د حکومت ۲۰۰۱ کال نه راپېدېخوا چې هر څوک وه ټولو جیبونه یې ډک کړل، خو د ملت دوا نه شول. خلک نور ډېر مایوسه شوي دي. ولس نور په پوچو وعدو او نصیحتونو نه غولېږي. تر اوسه په افغانستان کې ټول یوازې خبرې کوي، خو په عمل کې هیڅ څه ونه کړل...... بس بدبختي یې راوستله. که هغه نیشنلیست، کمونست، که ملي شخص دی، که مذهبي. که خلقي، پرچمي، اخواني او نیشنلیست دی، ټول ناکامه او د بل غلامان وختل...... که پښتون سیاستمدار دی، که دری ژبان او که نور، شیعه دي او که سني...... بس یو خدای دې په دې افغانانو ورحمېږي.

## یوه دلچسپه معلومات

د اکتوبر لسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن مې د CNN په ویب سایټ کې ولوستل چې انسان په عین وخت کې له درې څلورو مسایلو نه زیات فکر نه شي کولی او دا معلومات د هغه پخوانیو معلوماتو په پرتله چې انسان د شاوخوا مسایلو باندې همزمانه فکر کولې شي تفاوت لري. د انسان د ماغزو ظرفیت هم حد او اندازه لري او انسان باید د خپلو کارونو په لومړیتوبونو باندې فکر وکړي او خپل وخت د هغو شیانو په فکر کولو تېر نه کړي چې پایلې ترې مرتبې نه دي. دوی یو مثال د امریکې د سوپر مارکېټونو یا خوراکي شیانو د لویومغازو ورکړی و چې پینځه ویشت کاله دمخه په دغه مغازو کې ۹ زره اقلام یا مواد و خو اوس دا رقم ۴۰ زرو ته رسېدلی خو د انسان د ضروري شیانو تعداد په اوسط ډول ۱۵۰ موادو ته رسېږي نو په دې توگه یو پلورنکي ته پکار دي چې د څلویښت زرو اقلامو نه یوازې ۱۵۰ قلمه مواد خوښ کړي. که یو څوک خپل وخت د ټولو موادو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیدو او پوهېدو مصرفوي نو دغه انسان به هسې خپل وخت ضایع کړی وي ځکه د دغه سوپرمارکیټونو اکثریت مواد د ده په درد نه خوري.

## د جنگونو انواع

د اکتوبر ۱۲مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د جنگونو اقسام او انواع ډېر زیات دي:

1. گرم جنگ
2. سوړ جنگ
3. رواني یا سایکالوجیکي جنگ
4. عقلي او عصبي جنگ
5. روحاني (د پیرانو او مریدانو) جنگ
6. مذهبي (سني او شیعه) جنگ
7. ایډیالوژیکي (کمونېزم، لیبرالېزم، سیکولرېزم) جنگ
8. مذهبي ایډیالوژیکي (وهابیان، حنفي مذهبه، بریلوي، دیوبندي، پنجپیر) جنگ
9. اقتصادي جنگ
10. مطبوعاتي جنگ
11. تاکتیکي جنگ
12. ستراتیژیکي جنگ
13. جغرافیوي یا سرحدي جنگ
14. داخلي جنگ
15. قومي جنگ
16. منطقوي جنگ



17. نړیوال جنگ
18. عقیدوي جنگ
19. ناعقیدوي جنگ
20. اختیاري جنگ
21. د مجبوریت جنگ
22. فلمي جنگ
23. غیر فلمي یا بې هېرو جنگ
24. مغلوبه جنگ
25. کوڅه ډب جنگ
26. د مخدره مواد د ترویج لپاره جنگ
27. د مخدره موادو مخنیوي لپاره جنگ
28. د اوبو خټولو او د خپلو ماهیانو د نیولو لپاره جنگ
29. د سازمان یافته جنایي جرایمو پرضد جنگ
30. د نړیوالو مافیایي کړیو پر ضد جنگ
31. د فساد د خپریدو لپاره جنگ
32. د فساد د له منځه وړلو لپاره جنگ
33. رقابتي جنگ
34. علمي جنگ
35. د ناپوهۍ جنگ
36. د علم د خپرېدو لپاره جنگ
37. د علم او تمدن پر ضد جنگ
38. تصادفي یا بې پلانه جنگ
39. پلان شوی جنگ
40. خپلمنځي (ورور له ورور سره) جنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



41. د پردو لپاره جنګ
42. استخباراتي جنګ
43. کلتوري جنګ
44. مودکي یا نمایشي جنګ
45. د برېتو تاوولو لپاره جنګ
46. د زړو اهدافو لپاره جنګ
47. د نویو اهدافو لپاره جنګ
48. سایبر (Cyber) جنګ
49. کنوینشنل (Conventional) جبهې جنګ
50. Unconventional War یا غیر جبهیي جنګ
51. زرګري جنګ او داسې نور

که مونږ وګورو نو افغانان په دې ټولو جګړو کې اخته دي. افغانـان ښـه نـر قوم دی چې په دومره جبهو کې د دومره زیاتو موخو لپاره جنګېږي. افغانـانو ته باید د جنګ د نوبل جایزه ورکړل شي. تر اوسه چې لا دا قـوم شـتون لـري غټه خبره ده. که څه هم بعضې دوسـتانو دا ذکـر کـړی چـې افغانـان د دې جنګونو یوازې لوبغاړي دي خو ډایریکټران یې نور دي. زه دا مـنم ورسره خـو د دې زیاتو جنګونو د ډولونو اکټران او هـم ډایریکټـران مـونږ پخپلـه یـوو. د جنګونو تعداد ډېر زیات دی نو ځکـه ټـول تحلیـل ګرانـو نـه لاره ورکـه ده او اوتې بوتې وایي.

**یو کس د نظیر خان په نامه راته لیکلي و چې جنـاب تاسـې پکـې څـه وایئ:**



**ما ورته په ځواب کې ولیکل چې:**

زما په خیال چې پاچا خان ویلي و چې یو سپي له پښې نه نیـولی یـې او بـل سپی درته غاپي نو له کوم یو نه به اول ځان خلاصوې تر څو سـالم پـاتې شي. دا د افغانانو او د مشرانو په عقل پورې اړه لـري چـې څنګـه هـم ځـان او هـم وطن وساتي. د ځان او وطن دواړو ساتل په کار دي. که وطن نـه وي نـو ځـان نشته او که ځان نه وي نو تش د وطن په غرونو او دشتو به څه وکړي.

## د چاپلوسانو پر ضد مبارزه

د اکتوبر د میاشتې ۱۷مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن مې په فیسبوک کې د یو حکومتي چارواکي عکس ولیـد چـې تقریباً زر کسانو یوازې د ده عکس لپاره د لایک او تبصرو وخت ضایع کـړی و. د دغـه جناب د عکس سره هېڅ کومه تبصره نه وه او دا راته هم معلومه ده چې دغه جناب په خپلو چارو کې ناکامه او بې تجربې دی. نو د ده د عکس، تبصرو او لایک سره مې یوه قصه راپه یاد شوله. وایي یو وخت د هېواد د یو مهـم کـس سپی مردار شوی و نو ډېر کسان ورته د عذر لپاره ورتلل خو کله چې دا مهـم کس پخپله وفات شو نو هېڅوک ورته ورنغلل. په لایکونو او تبصرو راتـه رخـه نه راځي خو هسې د دې کسانو چاپلوسي خفه کړم.

زمـا پـه انـد د فیسـبوک اکاونـټ لرونکـي راتـه تعلیمیافتـه، باسـواده او روشنفکره کسان ښکاري. د دوی د لایک نـه دا جـوتېږي چـې د بـې سـواده طبقې په پرتله د افغانستان باسواده طبقه زیاته اپرچونیسـته او چاپلوسـه ده. همدا علت دی چې د باسواده چاپلوسانو د لاسه زمونږ وطن پـه نـاخوالو کـې غرق دی او د افغانستان ولـس د دې نـاخوالو د لاسـه پـه فزیکـي او یـا رواني لحاظ ځورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چاپلوسانو پر ضد یوې جدي مبارزې ته اړتیا ده. چاپلوسان که د حکومت یا ارگ کې دننه او یا بهر وي باید په گوته او په مقابل کې کلکه مبارزه وکړو. ما تقریباً اته نهه میاشتې دمخه جمهور رئیس ته لیکلي و چې د چاپلوسانو نه ځان وساته خو داسې راته ښکاري چې دی هم له چاپلوسانو سره خوښ دی.

**ابراهیم خان مومند لیکلي و:**

میاخیل صیب! دا حقیقت دی چې بې سواده افغانان د باسواده په پرتله ډېر پاک، صادق او هېواد ته وفاداره دي. خو له بده مرغه، همدا باسواده دي چې هېواد یې له ناخوالو سره مخ کړی دی.

**اسد دانش لیکلي و:**

اوس نو زه په تا گرانېږم ستا په شاو خوا کې هم چاپلوسان شته.

**احرار رامزپور لیکلي و:**

میا خیل صاحب! خیلی بجا فرمودید. من مدتها است که این نقیصه را در این دستگاه دو سره (حکومت دا کتر اشرف غنی و دا کتر عبدالله) ملاحظه کرده ام، فقط معیار رشد و ترقي افراد در این حکومت چا پلو سي و تملق براي ارباب قدرت است .

**هادي هادي لیکلي و:**

میاخېل صاحب! بې سواده طبقه خو لکه د طالبانو راکټ هسې هم سترگې نه لري په پټو سترگو او افواه د یوې خبرې طرفداري داسې کوي لکه دی چې یې عیني شاهد وي خو اصل چاپلوسان با سواده وي. زما یو د تره زوی بې سواده دی نو یو ورځ یو مېلمه زموږ کور ته راغی نو ده ته چا وویل چې



رئیس د تعلیم او تربیې دی ورشه په ښه شکل ورسره روغ بړ وکه. هغه ورته په ځواب کې وویل چې مېلمه ته زما سلام کفایت کوي په دې وجهه چې زما کار د بېلچې سره دی ته لږ خوږ خوږ او چټي چټي ورته خانده چې زوی دې معلم مقرر کي. نو ما ویل چې دی هم ریشتیا وایي که څنگه.

**افتخار سادات لیکلي و:**

که نه خفه کېږئ، ستاسې د تېرې ورځې پوسټ په کوم کې چې مو د اوباما تصمیم چې عین اندازه فوځونه په افغانستان کې ساتي یوه نوع سیاسي چاپلوسي ده.

**په هر حال په سلهاو دوستانو د چاپلوسۍ پر ضد لیکنې کړې وې خو ما دا یو څو کامنټونه رانقل کړل ځکه یو څه کنایې ماته هم شوې وې. ما د دې دوستانو په ځواب کې دا لاندې دوه تبصرې ولیکلې:**

په فطري لحاظ چې د چا صفت وکړې سړی خوشحالېږي خو که څوک د چا دوست وي او یا د ټیم غړی باید حقیقت مشرانو ته ووایي او دا وېره باید له سړي سره نه وي که زه خپل مشر ته څه ووایم نو هغه به خفه یا په قهر شي او یا به ما له دندې لرې کړي. که په یوه اداره کې د وېرې روحیه وي نو هغه اداره همېشه ناکامه وي یعنې په اداره کې وېره ایجادول د سم مدیریت نښه نه ده.

افتخار سادات صیب! کاشکې اوباما زه پېژندلی چې زما لیکنې یې لیدلې وای خو دا هم درته وایم چې امریکایان چاپلوسي نه مني څه یې چې خوښه وي او د هغوی لپاره گټه لري هغه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پوليسو د زونونو جوړول

د اکتوبر ۱۷مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

پرون ما د پورته موضوع په هکله په ټويټر کې په انګليسي ژبه تبصره ليکلې وه چې زما دوست او ملګري عبدالله خان راته ليکلي و چې کـه دا پـه منظمـه توګه وليکې نو ښه به وي ځکه په ټـويټر کـې د ۱۴۰ حروفـو نـه زيـات نـه شي ليکل کېدای.

د افغانستان اداري جوړښتونه د ظاهرشاه او داود خان په وختونو کې د يـو شمېر زياتو افغاني کارپوهانو له خوا د وطن د عيني او ذهني شرايطو په نظر کې نيولو سره جوړ شوي و. که دوی د حکومتدارۍ کوم ماډل د بل هېواد نه رانقل کاوه، لومړی يې هغه ماډل د خپل وطن له شرايطوسره سموه او پکې يې لازم تغيرات راوستل او بيا يې تطبيق کاوه. په تېرو څـوارلس کلونـو کـې چـې زمونږ د حکومت اکثره لوړ پوړو چـارواکيو د افغانسـتان لـه پخـواني سيسـتم سره بلدتيا نه درلوده، مختلـف ماډلونـه يـې د نـورو ځـايونو نـه کـټ مـټ را انتقال کړل بې له دې چې د وطن له شرايطو سره سم پکې تغيـر راولي. مـونږ ګورو چې د دومره زياتو امکاناتو په درلودلو سره چـې د افغانسـتان پـه تـاريخ کې يې ساری نه درلود، نه زمونږ حکومتداري ښـه شـوه او نـه زمـونږ امنيتـي ارګانونه په خپلو پښو ودرېدل. د دې ستونځو يـو عمـده او مهـم لامـل همـدا دی چې له هر ځای نه يې ماډلونه راوړل او د وطن لـه شرايطـو سره يـې پکـې لازم تغيرات رانه وستل او هغه يې کټ مټ تطبيق کړل. اوس مونږ او تاسـې ګورو چې يوه اداره له بلې اداری سره هـيڅ هـم اهنګـي نـه لـري او د دولـت ټولې اداري په موازي پټليو روانې دي چې مرکـزي نقطعـه د تقـاطع نـه لـري چې سره په يو شټيشن کې د واحد هدف لپاره ودرېږي.



د پولسو زونونه مخکې هم جوړ شوي و خو څه نتيجه يې ورنه کړلـه او دا د بيروکراسۍ يو بل پاټک يـا چيـک پوسـت و چـې د کـارونو د ځنـډ وسـيله بـه ګرځېدله. اوس زمونږ د امنيـت شـورا دا تشکيل بيـا راژونـدی کـړ او د دې تشکيل اړيکې د بيروکراسۍ له نورو قدمو سره زيات وخت ته اړتيا لـري چـې عملي بڼه غوره کړي که څه هم پايله به يې ناکامه وي خو په دې شرايطو کې چې جنګي حالت دی او وخت د حکومت پـه خـوا نـه دی نـو بايـد د اوسـني جنګ له شرايطو سره سم تشکيلات رامنځته کړي. په اداري لحـاظ حکومـت پخوا د اجراييه رياستونو دفترونه په ولسواليو او ولايتونو کې هـم جـوړ کـړي وو چې په ميليونو ډالره پرې مصرف شول او بيا يې هغه لـه منځـه يـوړل. پـه دې بحث نه کوو چې دغو زونونو ته څوک معرفي شوي دي. که تشکيلات نا سم وي او هم يـې اشـخاص د دغـو پوسـتونو وړتيـا ونـه لـري نـو د ريـاضي د فرمولې پر اساس منفي تغيـر ضرب مثبـت د دوی پـه اسـتدلال، حاصـل يـې پخپله منفي دی.

په اوسنيو شرايطو کې حکومت بايد له دفاعي حالت نه راووځي او تهاجمي حالت غوره کړي. د پوسـتو او تشـکيلاتو د زيـاتولو پـه عـوض بايـد تهـاجمي ګروپونه په هره ولسوالۍ کې جوړ کړي چـې د مخـالفينو پـر ضـد کميونونـه ونيسي او د هغوی په صفونو کې لار پيداکړي او هغوی په دفاعي حالت کې واقع کړي. په هره ولسوالۍ کې يوازې يو مرکز په کار دی چې حکومت هغـه مستحکم کړي. اوس به د هر زون مشران او کشران په زرګونو عسکر د خپـل ځان او د خپلو مرکزونو د حفاظت لپاره استخداموي چې په دې توګـه زمـونږ د امنيتي قواو زياته برخه د اشخاصـو او مرکزونـو د حفاظـت لپـاره مصرـوفه ده. ښـه بېلګـه يـې د مـلي شـورا د رئـيس ده، د ده د کـورنۍ او جايـدادونو حفاظت لپاره په کابل او کندوز کې د زرو په شـاوخوا کـې امنيتـي او محـلي پوليس استخدام دي. باور وکړئ چې د پنجشنبې په ورځ کله له خپـل دفـتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه راووتم نو د وزیر اکبر خان په سیمه کې د ملي اردو یو عسکر مې ولید چې دریشي یې پر غاړه وه یو ښه لوی سپی یې روان کړی و او چکر یې ورته ورکاوه. دا سپی هم شاید د کوم جنرال یا لوړپوړي چارواکي و. نو په دې توګه زما په اند د زونو جوړول ناسم کار دی او څه ښه پایله نه لري. د امنیت شورا غواړي چې د پولیسو تشکیل د اردو په شکل عیار کړي چې دا سم کار نه دی. وَمَا عَلَيْنَا إِلاَّ الْبَلاَغُ الْمُبِينُ

## د امریکایي قواو د شتون په هکله د تحلیلګرانو تحلیل

د اکتوبر د میاشتې ۱۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

یو شمېر زیات تحلیلګران او د پارلمان غړي وایي چې ولې د افغانستان حکومت له امریکا سره امنیتي تړون امضا کړی او دا باید لغوه شي. د دوی استدلال دا دی چې امریکا باید د دوی لپاره جنګ وکړي او هم دوی ته بېحسابه پیسې ورکړي چې دوی پرې مزې چړچې وکړي. دوی باید پر دې پوه شي چې امنیتي تړون د افغانستان ټولې ستونځې نشي حل کولای خو د امنیتي تړون نه شتون ډېرې ستونځې او بدبختۍ افغانستان ته پیدا کولی شي. دا نو د افغانانو د مشرانو او په نامه نخبه ګانو پورې اړه لري چې څنګه د وطن لپاره سمه تګلاره وټاکي چې له بهرنیو مرستو نه سمه او موثره استفاده وکړي.

د امریکا د جمهور رئیس اوباما پرېکړه چې د ۲۰۱۶م کال نه وروسته به په افغانستان کې د امریکایي قواو شمېر د ۵۵۰۰ عسکرو په شاوخوا کې پرېږدي په دغه موقع او زمان کې یوه سمه پرېکړه ده چې د افغانستان د حکومت لپاره د ساه اخستلو موقع برابره کړي. زما په اند که حکومتداري ښه نشي د



دغو قواو شتون بیا هم څه ګټه نه شي رسولی. اما دا چې حکومتداري څنګه ښه شي، دا په افغانانو پورې اړه لري. همدا شان د دې قواو شتون دایمي بڼه نه لري که څه هم بعضې کړۍ د کرزي صیب د خبرې تایید کوي چې که تړون امضا شوی وای او که نه امریکایان له افغانستانه نه وځي.

د پورته پوست په اړوند دوستانو ډېر کامنټونه لیکلي و او د زیات نظرونه دا و چې امریکا یا دنیا د افغانان په اړوند صادقه نه ده نو ما ورته په ځواب کې ولیکل:

۳۷ کاله مو دا وویل چې روس، عرب، امریکا، چین، پاکستان، هند، ایران او داسې نور د افغانستان په هکله صادقه نه دي. دې خبرو څه نتیجه ورنکړه. سوال دا دی چې ایا افغانان د خپل ولس او وطن په هکله څومره صادقه دي؟ که مونږ د خپل ولس او وطن په هکله صادقه اوسو نو بیا نور هم له مونږ سره صادقانه برخورد کولی شي. دا دیني، سیاسي، علمي، نیشنالستي، ولسي او افغاني فرموله ده.

## افسوس د افغانستان د خارجه دیپلوماسۍ او د حکومت په حال

د اکتوبر د میاشتې ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، مادرید، هسپانیه

کوم پوستونه چې نن او پرون ما د نړۍ د مهمو مشرانو، د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي او د هسپانیې د پادشاه په شمول پوسټ کړي و هدف مې دا نه و چې یوازې ځان خپلو دوستانو او وطنوالو ته وښایم چې زه هم دومره مهم سړی یم چې په داسې کنفرانسونو کې ګډون کوم . په دغه کنفرانس کې چې د مادرید د کلب په نامه یادېږي د نړۍ له دېرشو نه زیاتو هېوادونو اوسني او پخواني مشرانو او همداشان د نړۍ د نورو مهمو ادارو نه لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاتو سکرتر جنرال، اروپا اتحادیه، پروفیسران او سیاسي مشران چې تعداد یې تقریباً څلور سوه کسانو تـه رسېده برخـه اخیسـتې وه. لـه افغانسـتان نـه زه یوازینی کس وم چې په دغه کنفرانس کې مې برخه درلوده او زمـا د دعـوت سبب هم زما د یو څو مقالو نتیجه وه چې په حکومتدارۍ او امنیتي مسـایلو باندې مې لیکلې وې نو د کنفرانس تنظیم کوونکي چې د لندن د کنگز کـالج یعنې پوهنتون پروفیسر و له هغو مقالو نه خبر و او زه یې هم دعوت کړی وم چې د افغانستان په موجوده حالاتو او په خاصه توگه ولې ځوانان له داعش یـا نورو تروریستي ډلو سره یو ځای کېږي، وغږېږم.

په هسپانیه کې د افغانستان سفارت هم شـته امـا د افغانسـتان د سـفارت هېڅ کارکوونکي د دغه کنفرانس پـه شـاوخوا کـې نـه ښـکارېده او نـه یـې دا پوښتنه کړې ده چې آیا دغه کنفرانس ته له افغانستان نـه هـم څـوک راغـلي دي او که نه. دا د افغانستان ډیپلوماسۍ او زمونږ د سفارتونو د فعالیت یـوه وړه بېلگه ده چې د دوی له لاسه افغانستان په خروار لېتې کې هم مطرح نـه دی. دوی د افغانستان داعیه نه د ملک نه بېرون مطرح کولی شي او نـه پـه ملک کې دننه.

د مادرید کلب لس کاله پخوا جوړ شوی او د دې کلب عضـویت اختیـاري دی. په هر حال داسې یو مهم کنفرانس چې د نړۍ په ډېرو مسایلو باندې او په خاصه توگه د نړۍ په اوسنیو امنیتي مسایلو باندې چې افغانسـتان هـم د بحران ځپلو هیوادونو په لړ کې دی چې د نړۍ په امنیت تاثیر لـري، خـبرې کېدلې، د افغانستان نوم به ښکته پورته یادېده خـو د افغانسـتان د حکومـت په نمایندگۍ هېڅوک نه و. دا د دې معنی لري چې د افغانستان اوسـني او پخواني حکومت مشران ټول د فیل په غوږ کې ویـده و او دي او نشيـ کـولی چې د افغانستان مسایل د نړۍ په کچه مطـرح کـړي. کـرزي صیـب تـه هـم بهرنیو چارو وزارت او په هسپانیه کې د افغانستان سفیر په تېرو لسـو کلونـو



کې نه دي ویلي چې ته هم د دغه کلب غـړی شـه او یـا بـل څـوک ورمعـرفي کړه.

اوس تاسې قضاوت وکـړئ چـې ایـا د افغانسـتان د سـفارت موجودیـت پـه هسپانیه کې ضروري دی او که نه؟ زما په انـد د افغانسـتان حکومـت هسـې خوشې چتې پټې خپلو ډیپلوماتانو ته او یا د دوی کورنیو ته د چکر او د ژونـد زمینه مساعده کړې او بېځایه د دولت پیسې پر دوی مصرفوي. فکر نه کوم چې په هسپانیه کې دې دومره افغانان موجود وي چې د سفارت درلودلـو تـه اړتیا وي.

28 October 2015 ملگرو ملتونو سکرتر جـنرال بـان کیمـون همـدا شـېبه مادرید کلب کنفرانس ته بیانیه ورکـوي. وعـده یـې وکـړه چـې پـه راتلـونکې جنورۍ یا فرورۍ کې به د ملگرو ملتونو هېوادونو تـه یـو نـوی پـلان وړانـدې کړي چې د نړیوالو مسایلو په هکله څه پکـار دي. د نـړۍ زیـاتره سـتونځې د خرابې حکومتدارۍ او اجتماعي نابرابریو زېږنده ده.

## انتقاد هم اسانه او هم سخت کار دی

د اکتوبر ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، مادرید ښار، هسپانیه

که انتقاد پر دې معنی وي چې اصلاح رامنځته شي نو ښه کار دی او هـم اسانه کار دی. که انتقاد د شخصي گټې په خاطر وي چې د یو چا شخصـیت د خپلې گټې په خاطر جریحه دار کړي نو ښه کار نه دی. تـر اوسـه چـې مـا کومې لیکنې کړې دي هغه مې په خپل نامـه کـړې دي د فیسـبوک او ټیـوټر اکنټونه په مستعار نومونو نه لرم. هر څـوک دا حق لـري چـې خپـل نظر پـه آزاده توگه څرگند کړي او غیر د الله تعالی نه انسان باید د بل هیچا نه ویـره و نه لري. ویره د انسان سره هغه وخت مل کېږي چې خیانت یې کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د لیکنو لومړی هدف دا دی چې په افغانستان کې سوله رامنځته شي، حکومتداري ښه شي، په ارامه په خپل وطن کې وګرځو، یوه مړۍ ډوډۍ په ارامه وخورو، تر خپله وسه خپل ولس او وطن ته خدمت وکړو او لـه دوسـتانو سره خوشحاله ژوند تېر کړو. زه چې څه لیکم هغه زما د زده کـړو، تجربـې او د خپل فکر محصول دي نو په دې توګه د قلم او ادب په چوکاټ کـې غـواړم چې د خپلې ټولنې او حکومت نیمګړتیاوې په ګوته کـړم. زمـا د لیکنـو دویـم هدف دا دی چې خپله تجربه او څه چې مې یاد دي هغه له نـورو سره او پـه خاصه توګه له ځوانانو سره شریکه کړم. کېدای شي زما لیکنې تر یـو حـده د دوی لپاره موثرې وي. که یو کس هم زما له لیکنـو نـه ګټـه واخلـي هغـه زمـا لپاره ډېره مهمه خبره ده چې لا اقل د یو کس لپـاره بـه مـې یـو څـه خـدمت کړی وي. که څوک زما په لیکنو او کړونو انتقاد وکړي خوشحاله کېـږم ځکـه په خپل نقص څوک نه پـوهېږي او همـدا د انسـان جـوړونې ښـه لاره ده او د هغه کس نه به مننه هم وکړم چې ماته زما نیمګړتیاوې را په ګوته کړي.

## دولت د کوره چاته څه نه ورکوي

د نومبر څلورمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د دولت ټولې چوکۍ او مقامونه د ملت ملکیت دی او هر څوک حـق لـري چې د دولت پـه چـارو کـې برخـه واخلـي. کـه حکومـت چاتـه کومـه دنـده ورسپاري نو باید پر چا احسان ونه کړي چې ګوندې تا ته مې کومه چوکۍ یـا مقام درکړی دی ځکه حکومتي چارواکي او مشران له خپله کوره چاته څه نه ورکوي او هر څه د ملت له کوره دي. حکومت باید له هغو کسـانو نـه مننـه وکړي څوک چې له حکومت سره کار کوي. په منتخبو نظامونو کې د دولـت مشران باید له ولس نه منندوی وي چې دوی یې دغو مقامونو ته رسولي دي.



## د چین د جمهور رئیس د مرستیال د سفر په هکله خوشبیني او سوالونه؟!

د نومبر د میاشتې پینځمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

لـه افغانسـتان سره د چـین د ډیپلومـاتیکي اړیکـو د شـپېتمې کلیـزې پـه مناسبت د چین د جمهوري ریاست مرستیال، Li Yuanchao د ۲۰۱۵م کال د نومبر په درېیمه نېټه افغانستان ته سفر وکړ او له افغانستان سره یې وعده وکړه چې د ۷۹ میلونو ډالرو په ارزښت به لس زره اپارتمانونه جـوړوي، یـو زر او پینځه سوه سکالرشیپونه به افغانانو ته ورکوي او هـم بـه د کابـل د دروازو لپـاره سـکنر ماشـینونه تهیـه کـوي. تېـر کـال د اکتـوبر پـه میاشـت کـې د افغانستان جمهور رئیس محمد اشرف غني چین ته درې ورځنۍ سـفر درلـود نو هغه وخت د چین حکومـت وعـده وکـړه چـې لـه افغانسـتان سره بـه ۳۲۷ میلونه ډالره کمک په راتلونکي څلورو کلونو کې کـوي. د دې خـبرې یادونـه ضروري ده چې د چین دا اوسنۍ د مرستې وعده د تېر کال د څلـور کلونـو کمکونو د وعدو یوه برخه ده یعنې دا نوې وعده نه ده.

[1] http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D8%AF-%DA%86%DB%8C%D9%86-%D8%AF-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1-%D8%B1%DB%8C%D9%8A%D8%B3-%D8%AF-%D9%85%D8%B1%D8%B3%D8%AA%DB%8C%D8%A7%D9%84-%D8%AF-%D8%B3%D9%81%D8%B1-%D9%BE%D9%87-%D9%87%DA%A9%D9%84%D9%87-%D8%AE%D9%88%D8%B4%D8%A8%DB%8C%D9%86%D9%8A-%D8%A7%D9%88-%D8%B3%D9%88%D8%A7%D9%84%D9%88%D9%86%D9%87%D8%9F

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چين د جمهور رئيس د مرستيال ډېر ښه هرکلی وشو او زياتره حکومتي او غير دولتي کړيو د چين د دې وعدو ډېره ستاينه وکړه او د دې تر څنگ په افغانستان کې داسې فکرونه راپيدا شول چې گوندې چين به په پاکستان فشار راولي چې د طالبانو له حمايت نه لاس واخلي او د افغانستان د سولې په پروسه کې به فعاله نقش ولوبوي.

په هر حال څرنگه چې د افغانستان اقتصادي او امنيتي وضعيت په اوسني حالت کې ښه نه دی نو د هر چا لږ او زيات کمک ته اړتيا لري. زه هم د چين د دې مرستې ملاتړ کوم خو غواړم چې لاندې يو څو ټکو ته اشاره وکړم هغه دا چې مونږ هم بايد په خپله گټه او تاوان د چينايانو غوندې پوه اوسو.

زه لاندې څلورو مسئلو ته اشاره کوم:

1. له دې دمخه د چين دولتي کمپنۍ ChinaNational Petroleum Corporation (CNP) د افغانستان په شمال کې د ۷۰۰ ميلونو ډالرو په ارزښت د تېلو د استخراج لپاره اکتشافي قرارداد د افغانستان له حکومت سره امضا کړی دی.

2. د چين China Metallurgical Group Corporation (MCC) دولتي کمپنۍ د لوگر ولايت د عينک په سيمه کې د مسو د استخراج لپاره د درې بيلونو ډالرو په ارزښت قرار داد امضا کړی دی. د پورته دوه قراردادونو په اړوند ډېر سوالونه شته چې دا قراردادونه د افغانستان په گټه نه دي او چينايي کمپنيو د افغانستان پخوانيو چارواکو ته بډې ورکړي او دا قراردادونه يې امضا کړي دي نو دا قراردونه بايد لغوه شي.

3. يوازې په ۲۰۱۴ م کال کې افغانستان د چين نه د ۱۰۳۸ميلنونو ډالرو په ارزښت واردات درلودل.[1]

[1] http://wits.worldbank.org/countrysnapshot/AFG/textview



4. له دې نه برسيره چينايي کمپنيو د افغانستان د سړکونو ټيکې ختيځ او لويديځ سيمو کې په تېرو څوارلس کلونو کې نيولې وې چې په هغو قراردادونو کې هم چينايانو ډېره گټه کړې ده چې ښه بېلگې يې د کابل-جلال اباد بې کيفيته سړک دی چې مالي مرسته يې د اروپا اتحاديې له خوا شوې وه.

که مونږ يوازې پورته څلورو مسئلو ته په دقت سره وگورو نو چين هر کال له افغانستان نه د ۷۹ ميلونو ډالرو نه زياته گټه کړې ده او دا کمک د دوی په زکات کې هم نه راځي. مونږ فکر کوو چې لکه چين مونږ ته خيرات راکړی دی. دا ښه خبره ده چې د افغان حکومت بايد د ميلمنو قدر او ښه پالنه وکړي خو نه دا چې مونږ ځانونه دومره کم راولو چې مونږ هيڅ نه لرو او چينايانو د افغانستان نه هيڅ نه دي تر لاسه کړي.

په هر حال د سولې د خبرو په هکله ما په فيسبوک کې دا لاندې دوه سوالونه مطرح کړل:

1. ايا چين به له پاکستان نه تېر شي او که نه؟

2. که چين له پاکستان نه تېرېږي نو ايا چين به پاکستان پر دې قانع کړي چې د افغانستان په اړوند د خپل ستراتيژيک عمق د پاليسۍ نه تېر شي او که نه؟

د پورته دوه سوالونو په هکله دوستانو ډېرې تبصرې ليکلې وې چې د هر يوه تبصره د قدر وړ ده. د پورته دوه سوالونو په هکله زه غواړم چې په لاندې ډول وضاحت ورکړم.

د سوړ جنگ په دوران کې د چين او پاکستان تر منځ اړيکې اقتصادي او ستراتيژيکي اهميت درلود ځکه چين په سيمه کې له هندوستان سره رقابت درلود او د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې ښې نه وې. پاکستان له هندوستان سره دښمني درلوده نو ځکه په سيمه کې ورته د چين ملگرتيا مهمه وه يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوارو هېوادونو اړیکې په هغه فرموله چې د دښمن دښمن زما دوست دی ولاړې وې. دا چې نن سبا د چین اقتصاد د هندوستان په پرتله ډېر ښه شوی دی نو اوس چین هندوستان خپل سیال په سیمه کې نه بولي نو د هندوستان او چین تر منځ اړیکې یو څه ښې شوي دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ تجارت په ۲۰۱۵م کال کې ۸۰ میلیاردو ډالرو[1] ته رسېدلی دی. اوس د چین سیال امریکا ده. همدا شان د هندوستان اقتصاد د پاکستان په پرتله ډېر ښه دی نو اوس هندوستان هم ځان د پاکستان سیال نه بولي خو دومره غواړي چې د پاکستان له اړخه په امن کې وي او تروریستان هلته ونه لېږي. چین هم غواړي چې له پاکستان سره ښې اړیکې ولري او د پاکستان له اړخه باید چین ته د شرقي ترکستان د اسلامي حرکت یا ( ETIM-Easter Turkistan Islamic Movement) له شره محفوظ وي.

د پورته دوه سوالونو په هکله چې ایا چین به له پاکستان نه تېر شي او که نه؟ د دې خبرې هېڅ سوال نشته دی چې چین دې افغانستان ته پر پاکستان ترجیح ورکړي ځکه د شرقي ترکستان اسلامي حرکت د پاکستان له خوا حمایت کېږي او پاکستان چین ته دا ګرنټي ورکولی شي چې دوی هغه په کنټرول کې وساتي او د چین په خاوره کې به تخریب نه کوي. که ضرورت و نو پاکستان به د دې حرکت یو څو غړي هم چین ته په لاس ورکړي. په همدې توګه پاکستان له چین نه غواړي چې دوی باید له طالبانو سره د صلحې د پروسې حمایت په دې شرط وکړي چې د پاکستان ګټې خوندي وي. نو په دې توګه چین هیڅکله په پاکستان دا فشار نشي راوستلای او نه غواړي چې فشار راولي چې پاکستان په زوره طالبان د خبرو میز ته کېنوي او یا د طالبانو په ضد په پاکستان کې اقدام وکړي. څو ورځې

[1] http://www.ndtv.com/india-news/india-china-trade-has-potential-worth-us-80-billion-in-2015-industry-lobby-1225157



دمخه د پاکستان صدراعظم نواز شریف په ډېرو ښکاره الفاظو کې په واشنګټن کې وویل چې دوی دا نه شي کولی چې هم طالبان د خبرو مېز ته راولي او هم د هغوی پر ضد جنګ وکړي[1]. تېر کال په لندن کې د یو کنفرانس په ترڅ کې چې ما هم هلته ګډون درلود، د افغانستان لپاره د چین خاص استازی Sun Yuxi د خبرو په ترڅ کې وویل چې دوی په پاکستان فشار نشي راوستلای چې پاکستان دې د طالبانو حمایت ونه کړي. همدا شان ده وویل چې دوی د عینکو د مسود استخراج لپاره هم کومه عجله نه لري او چین په سیمو کې د خپلو اوږدمهالو ګټو لپاره حوصله لري. د افغانستان یو مشهوره سیاستوال چې درې اونۍ دمخه یې په چین کې په یوه کنفرانس کې برخه درلوده راته پرون وویل چې چینایانو موقف د څو میاشتو دمخه پورې ډېر فرق کړی ځکه چینایان اوس وایي چې د افغانستان حکومت او امریکا باید له حقاني ډلې سره خبرې وکړي ځکه بې له حقاني ډلې له طالبانو سره خبرې اترې هیڅ معنی نه لري.

نو په دې توګه زما په اند افغانستان عاجلو مرستو ته اړتیا لري خو د چین رول په اقتصادي ساحه کې زمونږ عاجلې ستونځې نشي حل کولای. په سیاسي ساحه کې به چین هیڅکله په پاکستان فشار رانولي چې د طالبانو له حمایت نه لاس واخلي. د افغانستان حکومت باید په خپلو داخلي ستونځو او حکومتدارۍ فکر وکړي ترڅو دلته د ثبات نښې او نښانې ولیدل شي نو بیا به سیمه ییز هېوادونه او هم نړیوال افغانستان ته د اهمیت په سترګه وګوري. افغانستان ته د پاکستان په څېر سیاست ته اړتیا ده چې په هر حالت کې له هر ملک سره معامله کوي او د خپل هېواد ګټو نه هېڅ نه تېرېږي. له امریکا سره یوه معامله لري، چین سره بله معامله او عربي

[1] http://www.usip.org/publications/2015/10/23/pakistan-s-sharif-urges-renewed-peace-talks-in-afghanistan

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو او حتی له هندوستان سره هم د افغانستان په اړوند متفاوتې اړیکې لري. پاکستان له هند سره تجارتي او هم د خبرو اړیکي لري خو د افغانستان اړیکي له هندوستان سره نه شي زغملی.

## د رژیمونو د چارواکو سمبولونه

د نومبر شپږمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

که متوجه شوي یاست په تېرو څلور لسیزو کې هر رژیم او ډلو ځانته جلا جلا سمبولونه درلودل او چې څنګه به دې یو څوک ولیده نو پوهېدلې چې دی د کوم ډلې او تیپلې غړی یا هوادار دی. د حزب دیموکراتیک په وخت کې غټ غټ بریتونه، اوږدې څنې او د پطلانه پراخه پنځو رواج درلوده. افغان ملتیان به دې زیاتره له خامتا کالیو او څادرچېه په اوږو اچولو او یا خولی، څادر، واسکټ او جامې همرنګه کولو باندې پېژندل. په پېښور کې دې حزبیان لومړی په جالیو خولو، د باټا جګې څپلی او سوچه اوږدو ږیرو او یا هم د قرقل په سر کولو پېژندل. جمعیتان دې د پکول په سرکولو او چارخانه وړوکي دستمال له غاړې نه په راتاولو او سپورتي خاکي واسکټ په اغوستلو پېژندل. د جبهه کسان به دې د حضرت صاحبانو په شان په قاتکیو منظم لونګیو په سر کولو او د بالاپوشونو په اغوستلو پېژندل. محاذیان به دې په لوکسو دریشیو او یا فیشن پېژندل. د حرکت انقلاب اسلامي غړي به دې په تورو وسمه شوو ږیرو او د مولوي خالص د ډلې اکثره کسان به دې د نکریزو په رنګ په سرو ږیرو پېژندل. د اتحاد اسلامي غړي به دې په خامتا لونګیو په سرکولو او طالبان به دې د سپینو ګاجي لنګیو په سرکولو پېژندل. داعش په تور پټکیو او تور کالیو پیژندل کېږي، د ډیموکراسۍ دورې چارواکي په لوکسو نکټایي ګانو او دریشو په اغوستلو او یا د چینو په اچولو پېژندل کېږي. تازه احوال دا دی چې په کابل کې د فیشني عصاګانو او شاه



مقصودو تېرو د تسبحو قیمتونه ډېر لوړ شوي دي. د دې دورې (محمد اشرف غني) عالي رتبه مامورین په قیمتي عصاګانو او یا د شاه مقصودو تسبحو په اړولو پېژندلی شي. که څوک د لوکسو عصاګانو او د شاه مقصودو د تسبحو تجارت ته مخه کړي نو په دې وران اقتصاد کې د یو څو ورځو لپاره ښه ګټه کولی شي. دا هم د خصوصي سکټور د رشد لپاره یوه ښه زمینه ده.

## ښار جوړولو وزارت د خلیل الله فیروزي د بند یوکلنه کلیزه په شاندارو مراسمو ونمانځله[1]

د نومبر ۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، کابل

د نومبر په څلورمه نېټه د ښار جوړولو وزارت وزیر سادات نادري په ډېرو شاندارو مراسمو د کابل بانک د قضیې له اصلي اختلاس کوونکي سره چې باید په زندان کې وای د هوشمند ښارګوټي (Smart City Township)قرارداد امضا کړ. تیر کال په همدې میاشت کې یعنې د نومبر په یولسمه نېټه، محکمې د کابل بانک رئیس شیرخان فرنود او د دغه بانک

[1] http://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D8%AF-%DA%9A%D8%A7%D8%B1-%D8%AC%D9%88%DA%93%D9%88%D9%84%D9%88-%D9%88%D8%B2%D8%A7%D8%B1%D8%AA-%D8%AF-%D8%AE%D9%84%DB%8C%D9%84-%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87-%D9%81%DB%8C%D8%B1%D9%88%D8%B2%D9%8A-%D8%AF-%D8%A8%D9%86%D8%AF-%DB%8C%D9%88%DA%A9%D9%84%D9%86%D9%87-%DA%A9%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%B2%D9%87-%D9%BE%D9%87-%D8%B4%D8%A7%D9%86%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D9%88-%D9%85%D8%B1%D8%A7%D8%B3%D9%85%D9%88-%D9%88%D9%86%D9%85%D8%A7%D9%86%DA%81%D9%84%D9%87

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجرایوي مشر خلیل فیروزي په لس لس کاله تنفیذي بند او ۲۳۷ میلونو ډالرو پور په ورکولو محکوم[۱] او د دوی ټول منقول او غیر منقول جایدادونو د ضبط امر وکړ. د کابل بانک قضیه پخواني ولسمشر حامد کرزي حکومت ته هم د سر درد جوړ کړی و ځکه د هغه ورور هم د دغه بانک په مسئله کې ښکېل و او اوسني حکومت ته یې هم د سر درد جوړ کړی دی. مهمه لا دا وه چې د دغه قرارداد د امضا کولو په موقع د حکومتدارۍ په برخه کې د جمهور رئیس ستر سلاکار چې د جمهور رئیس د مرستیال معادل امتیازات ورته منل شوي او هم د جمهور رئیس حقوقي مشاور ډاکتر عبدالعلی محمدی موجود وو. پر دې سربېره د ښار جوړولو وزارت د دغه ښارګوټي د قرارداد د امضاء لپاره ډېر نور دولتي او غیر دولتي چارواکي، د خصوصي سکتور متشبثین او رسنیو ته هم بلنه ورکړې وه چې د دې قرارداد د امضا مراسم سره په ګډه تجلیل کړي.

د دې قرارداد پلوي حکومتي چارواکي د رسنیو له لارې دا استدلال کوي چې که خلیل فیروزی په زندان کې وي نو د حکومت پور یې نه شو ورکولی نو ښه به دا وي چې له ده سره دا قرارداد امضا شوی وای تر څو په خپله ځمکه دا ښارګوټی جوړ کړي چې په اوه کلونو کې به حکومت ته د دغه ښارګوټي له ګټې نه ۱۳۷ میلونه ډالره چې یوازې پر خلیل فیروزي پور دی ورکړي. په دې توګه به خلیل فیروزی د ورځې په خپل شرکت کې کار کوي او د شپې له خوا به په زندان کې وي. ویل کېږي چې خلیل فیروزی په تېر یوه کال کې هم چندان وخت په زندان کې نه دی تېر کړی.

د دې قرارداد په امضا کولو سره ملي او نړیوالو ادارو او هم رسنیو ډېر سخت غبرګون وښود او باالاخر جمهوررئیس د نومبر په اومه نېټه یعنې درې

[۱] http://www.tolonews.com/en/afghanistan/17082-former-kabul-bank-chairman-ceo-jailed-for-10-years



ورځې وروسته مجبوره شو چې دا قرارداد لغوه کړي. د جمهور رئیس دا اقدام ښه کار دی خو کافي نه دی او نورو اقداماتو ته حکومت جدي اړتیا لري تر څو د حکومت حیثیت اعاده شي ځکه دې قراداد د حکومت حیثیت ته په ملي او بین المللي کچه ډېر سخت تاوان ورسوه.

د کابل بانک د ۹۰۰ میلونو ډالرو د اختلاس دوسیه د موجوده حکومت د کارونو لومړی کار و چې له فساد سره د مبارزې پر ضد یې راوسپړله خو د دغې دوسیې پایلې لا له ستونځو سره مخامخ دي او د دې علت دا دی چې د مافیایي کړیو لاسونه ډېر قوي دي چې حتی په رڼا ورځ یې هم له چا نه سترګې نه سوځي او خپل کار ته دوام ورکوي. مجازات همېشه د کمیت په لحاظ اهمیت نه لري خو د کیفیت په لحاظ مجازات ډېر اهمیت لري چې په ټولنه کې د راتلونکو نورو ډېرو جرمونو مخه نیسي. که د خلیل فیروزي قرارداد عملي هم شي حکومت ته به یوازې ۱۳۷ میلونه ډالره په اوه کلونو کې ورکوي یعنې تقریباً شل میلونه ډالره به په کال کې حکومت ته ورکوي خو د دې قرارداد کیفي اهمیت د حکومت اعتبار له صفر سره ضرب کړ چې د فساد پر ضد مبارزه د حکومت د لومړیتونو نه نه ده. د حامد کرزي پر حکومت باندې لوی انتقاد همدا و چې له اداري فساد سره یې چندان مبارزه نه کوله او فساد یې د حکومت په کړیو کې تحمل کاوه خو په هغه وخت کې هم داسې صریحه بد سترګي نه وه شوې چې مجرم دې په رڼا ورځ له زندان نه وایستل شي او د حکومت یو وزیر دې ورسره د درې سوه میلیونو ډالرو غیر قانوني قرارداد امضا کړي.

سوال دا دی چې دا ډرامه څنګه جوړه شوله او جمهور رئیس باید څه نور اجراات وکړي تر څو د حکومت دې عمل ته د اوږو پوزه کېښودل شي.

د محکمې د حکم پر اساس د خلیل فیروزي ټول جایداد باید ضبط شوی وای نو په دې توګه خلیل فیروزی هیڅ جایداد نه لري او د ښارجوړونې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید د حکومت په ځمکه کې بل چاته د تصرف اجازه نه وای ورکړې. په حقوقي لحاظ دا معامله بیع فاسده ده او د ښارجوړونې وزیر باید په دې محاکمه شي چې ولې یې فاسده معامله کړې ده. د افغانستان اساسي قانون د ټولو اتباعو ترمنځ هر نوع تبعض منع کوي نو پر دې اساس حکومت باید یو بندي ته په یو امتیاز او بل بندي ته په بل امتیاز قایل نه شي.

زه چې حقوق پوه هم نه یم په دې پوهېږم چې د یو زندان نه د بندي وتل غیر قانوني کار دی. جمهور رئیس اوله پوښتنه د خپل حقوقي سلاکار، ښارجوړونې د وزیر او هم د حکومتدارۍ په برخه کې د ستر سلاکار نه وکړي چې تاسې د چا په اجازه دا بندي له زندان نه وایسته او دلته مو ورته ولې دومره شانداره مراسم جوړ کړل. له دې نه علاوه د ځمکو د دې مافیایي کړیو جرړې وڅېړل شي چې څنګه یې د دغه ډول قرارداد امضا کولو ته زمینه مساعده کړه او امنیتي ارګانونو ولې یو بندي ته اجازه ورکړه چې له زندان نه بهرون ووځي.

## ما تنها ملتی هستیم که ملا نصرالدنی تصمیم میگریم

۹ نومبر ۲۰۱۵م، کابل

یک کسی د فیسبوک نوشته کرده بود:

ما تنها ملتی هستیم که به دری و پشتو صحبت میکنیم.

به عربی دعا میکنیم

به انگلیسی نسخه مینویسیم

و به هندی و اردو فلم میبینیم

ملا نصرالدینی تصمیم میگیریم



این نوشته خیلي خوم امد و خواستم که این شامل کتاب جلد دویم فیسبوک خودم بسازم تا دوستان که این کتاب را میخوانند باید بالای این نکات خیلی ساده ولی پر محتوا فکر کنند.

## بدبختي او وحشت هم انتها ته رسېدلي

د نومبر لسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

ډېر پخوا چې د لېسې او پوهنتون په دوره کې وم له ښکار سره مې شوق درلود او چې په ژمي کې به کونړ ته تلو نو د مرغیو، زرکو، تورکو (شامتورو)، جغندانو او هیلیو ښکار به مو د کونړ د سیند په غاړه، غرونو او ورشوګانو کې کاوه. د پوهنتون په دوره کې یوکال زمونږ لیلیه د حبیبې لېسې سره مخامخ وه چې اوس هلته د محسني مدرسه جوړه شوې ده. یوه ورځ د لیلیه په برنډه کې ولاړ وم او د دارالامان د سړک په لور مې کتلې چې یو موټر په ډېر سرعت سره راغي او یو ماشوم یې وواهه. دغه ماشوم داسې رغړېدلو لکه چې مرغۍ د ونې په سر کې وولې او په رغړېدلو ځمکه ته را وغورځېږي. کله مې چې د دې ماشوم رغړېدل او په وینو کې لیت پیت کېدل ولیدل نو تاسې باور وکړي چې د هماغه ورځې نه مې ښکار پرېښود ځکه د مرغه ویشتلو راته د هغه ماشوم صحنه راپه یادوله.

زه داسې بې ضمیره انسانانو ته حیران یم چې د انسانانو په حلالولو یې څنګه زړه کېږي. مونږ او تاسې په غزني او هم په شینوارو کې ولیدل چې دې بې ضمیره وحشي انسانانو څنګه انسانان په بې رحمه توګه حلال کړل. په شینوارو کې لا په بمونو انسانان کېنول شول او بیا یې بمونو ته انفجار ورکړ او د دوی غوښې په هوا کې د پاغوندو په شان والوتلې. دا کوم زړه دی، دا کوم دین او مذهب دی؟ او دا کوم انسانیت؟ انسانان د الله تعالی مخلوق دی او د الله تعالی مخلوق خو پرېږده د حیوانانو وژل هم په ځورېدونکې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



روا نه دي. زما په اند د داسې کسانو له نومونو سره د اسلام مقدس نوم تړل لویه گناه او جفا ده. وحشت وحشت دی که هر څوک یې په هر نامه، له هر چا سره په هر ځای کې کوي باید مخه یې ونیول شي او وغندل شي. زه دې ته حیران یم چې یو څو کسه د اسلام نه ناخبره ولې په یو تعلیمي مرکز کې د داسې وحشیانو په حمایت تور بیرغونه اوچتوي. کـه دوی د حکومت فساد خپلو حرکاتو ته دلیل نیسي نو فساد په فساد له منځه نه ځي لکه څنگه چې وینه په وینه نه مینځل کېږي.

## د راتلونکې اوونۍ لپاره سوچ

۱۲ د نومبر کال ۲۰۱۵م، کابل

د ستونځې نه منل پخپله د ستونځو زېږول دي

قبول نه کردن مشکل باعث مشکلات دیگر میشود

Denial of problem create more problem

## د شطرنج لوبه په کوم حالت کې ده؟

۱۴د نومبر کال ۲۰۱۵م، کابل

وایي چې د شطرنج لوبه پادشاهي لوبه ده او پخوانیو پادشاهانو به د خپلو وزیرانو او نږدې ملگرو او دوستانو سره کوله. په شطرنج لوبه کې څلور حالته دي: ۱) یو خوا لوبه وگټي ۲) مقابل لوری په کېش کېدو سره ماتې ومني ۳) پادشاه لوڅ شي یعنې وزیر او نور سپاره او عسکر یې له منځه ټول لاړ شي او بېچاره په میدان پاتې شي چې دا یو قسم د تسلیمي حالت دی. د شطرنج په شرقي لوبه کې د پادشاه لوڅ کېدل د مات حالت دی اما په غربي لوبه کې د پادشاه لوڅ کېدل د مات حالت نه دی خو په مات حسابېږي. گټونکی لوری



کوشش کوي چې د مقابل لوري پادشاه لوڅ نـه شي او ماتې ورکړي خـو ضعیفه خوا کوشش کوي چې لوڅ شي اما مات نه شي. ۴) څلورم حالت کې پادشاه نه مات وي او نه لوڅ خو زیچ شوي وي یعنې په دې معنی چې هیڅ یو طرف ته حرکت کولی نه شي. دا هم سخت او ضعیفه حالت دی.

سوال دا دی چې زمونږ ملک پـه کـوم حالت کې دی؟ معلومات زما او تبصرې ستاسې.

د پورته لیکنې په هکله ډېرو دوستانو ډېرې زیاتې تبصرې لیکلې وې خـو زه دلته یو څو تبصرې رانقلوم:

**انجینر متصل کومکي صیب لیکلي و:**

جناب میاخیل صاحب! په حقیقي سطرنج کې دغه ذکر شوي حالتونه حتمي وي خو زما په فکر دا اوسنۍ داسې لوبه ده چې ۱- لوبه کوونکي د خپلو دانو د حرکت صلاحیت نه لري. ۲- دانې د خپل ذاتي صفاتو له مخې حرکت نه کوي بلکې فیل د أس منډې وهي او روخ د وزیر او داسې نور پیاده گان خو بالکل پخپل سر دي. ۳- هره لوبه باید په یو معین وخت کې تر سره شي خو د دې لوبې دومره وخت ونیو چې خلك یې د لیدو نوره حوصله نه لري خلك ډېر خسته شوي دي یو تعداد خو یې بیخي لیدل نه غواړي. ٤- که دغه خبرو که نظر وکړو نو رواني لوبې ته د سطرنج لوبه نشو ویلای زه خو چې ورته گورم کومه بله لوبه روانه ده خدای دې زمونږ عاقبت ته خیر کړي.

**نظیر احمد مومند صیب لیکلي و:**

فکر کوم چې ولسمشر صاحب دور فیل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شکرالله مياخيل ليکلي و:**

کاکاجانه! زمونږ د دولتي شطرنج تخته زمونږ خو لوبه د جان کيري او پوتين ده چې په عين وخت کې غربي او شرقي شطرنج مخ ته ځي تر څو چې لوبغاړو بس نه وي ويلی لوبه به روانه وي که پاچا لوڅ شي اوکه زيچ شي لوبې ته ادامه ورکوي تر څو دا آسونه او پياده مکمل ختم نشي.

**طارق ارسلايي صيب ليکلي و:**

مياخيل صيب! شطرنج خو شاهانه لوبه ده او مهارت ته ضرورت لري خو زمونږ په افغانستان کې دا اوس د شطرنج پر تخته باندې د "چَکر" يا "دوازده بزه" لوبه روانه ده چې نه قاعده يې معلومه ده او نه اصول يې او نه هم دومره مهارت ته ضرورت لري.

**بشير ساپي صيب ليکلي و:**

تر څو چې بهرنۍ ستراتېژي ونلرو، عامه افکار بايد په يوه قالب کې واچول شي، فکر سازي بايد ځيرک اژانسونه وکړي، قبله مو يوه شي بيا هر څه سمېږي، خو تشه لاسه ته مې دښمن يې.

## د افلاطون نظر د شاعرانو په هکله

د نومبر ۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

يو ملګري مې راته د شاعرانو په هکله د افلاطون نظر رالېږلی چې له تاسې سره يې شريکوم. قضاوت ستاسې او د افلاطون نظرونو ته پرېږدم:

شاعري او مصوري د افلاطون له نظره د شيانو او د فطرت نقل کول دي. دی وايي د نړۍ هر شی اصل نه دی بلکې د يو اصل نامکمل نقل دی. هر هغه شخص چې د دغه شي نقل جوړوي يا يې انځور جوړوي هغه په حقيقت



کې د نقل نقل کوي. له دې امله دغه پنځونه د دريېمې درجې نقل دی او له حقيقت څخه ډېر لرې دی. له دې امله نوموړي دغه نقل له حقيقت څخه لرې ګڼلی او ويلي يې دي چې بايد رد شي. نوموړی پر دې اند دی چې نقل د عقل او فکر لپاره کومه قابل د فخر کارنامه نه ده او نه د علم په لاسته راوړنو کې مرسته کوي بلکې د علم نقض دی.

د نوموړي بل اعتراض په شاعرانو دا و چې نقل يو حقير او ذليل او سپک کار دی له دې امله په دغه کار کې د بوختېدلو صفت هم يو سپک کار دی. له دې امله لدغه نقل څخه خط پورته کوونکی د خط پورته کولو پر مهال د خپل ذهن سپک صفت به په کار اچوي. له دې امله ذهن جوړول او د فن خوښول دواړه مردود کارونه دي.

د افلاطون دريېم اعتراض دا و چې شاعري جذبات بيداروي او جذبات د عقل او فکر لپاره زيانمن دي. جذبات راپورته کوونکی شی ځکه مردود دی چې دغه کار د ذهن يو ډېر پياوړی صفت چې استدلال او عقل دی هغه ته زيان اړوي. انسان بايد عقل او فکر په کار واچوي او خپل جذبات کنټرول کړي، نو ځکه د افلاطون د فلسفې په مثالي جمهوريه کې د شاعر لپاره ځای نشته. افلاطون وايي چې زما په مدينه فاضله کې د دغه ډول بدکاريو د سرته رسولو لپاره ځای نشته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مایوسۍ نښه

د نومبر ۲۴مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

په افغانستان کې حرکتونو او نوښتونو همېشه لږ پرمختګ درلود او ډېر زيات په شاتګ. د دې لامل دا دی چې د حرکتونو یا نوښتونو په جوړولو کې زمونږ جذبات په واقعیتونو او فکر باندې غلبه درلوده او لري یې نو ځکه د تېرو دورو د راتګ په ارمان یوو او یا خوش بینه ورته یوو. د مایوسۍ نښه همدا ده چې په راتلونکې باور نه لرو.

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ ډيپلوماسي

**افغانستان اپشن B تعقیب او په اپشن A باید فوکس وکړي**

د نومبر ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

د حکومتونو ترمنځ که اړیکې هر څومره خرابې وي، خو بیا هم د ډیپلوماسۍ یا د دوه هېوادونو ترمنځ خبرو اترو او پیغامونو د لېږلو او تبادلې لپاره چینلونه په رسمي او غیر رسمي توګه پرانیستي ساتل کېږي. په دې وروستیو کې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د رسمي ډیپلوماتیکو چینلونو ترمنځ خبرې اترې له رکود سره مخامخ شوې نو؛ د پاکستان حکومت د خیبر پښتونخوا او بلوچستان د مشرانو یوه ډله چې د پښتونخوا ملي پارټۍ مشر محمود خان اڅکزي، د قومي وطن پارټۍ مشر افتاب احمد خان شېرپاو، د عوامي نېشنل پارټۍ مشر ـ اسفندیار ولي، سناتور افراسیاب خټک، سناتور عثمان کاکړ، پخوانی ډیپلومات ایاز وزیر، د خیبر پښتونخوا پخوانی والي شوکت الله خان او د خیبر پښتونخوا د نامتو پخواني مشر افضل خان لالا زوی سلیم خان شامل دي، افغانستان ته درې ورځنی سفر وکړ. که څه هم په ښکاره افغانستان ته د دې ډلې راتګ د افضل خان لالا په مړینه



د افغانستان د خلکو او حکومت له خوا د غم شریکۍ په اړوند راتګ و خو ویل کېږي چې دوی د افغانستان حکومت ته د پاکستان د حکومت له خوا پیغام هم راوړی او د دواړو هېوادونو د حکومتونو ترمنځ د ډیپلوماسۍ پیغامونه هم تبادله شول. د دې ډلې په ترکیب کې د پاکستان د سیاسي مشرانو ترڅنګ د پاکستان د حکومت پخواني لوړپوړي چارواکي هم شامل دي.

د دې هیئت مشرانو له جمهور رئیس محمد اشرف غني، له اجرائیه رئیس ډاکټر عبدالله عبدالله، پخواني جمهور رئیس حامد کرزي او یو شمېر نورو دولتي، قومي او سیاسي مشرانو سره وکتل او د افغانستان د حکومت له خوا د دوی ډېر ښه هرکلی او مېلمه پالنه وشوه. په دې درېوو ورځو کې دوی ته بې شمېره میلمستیاوې، غونډې او مشاعرې جوړې شوې.

د معلوماتو له مخې، د پاکستان د حکومت په پیغام کې درې ټکو ته اشاره شوې چې د پاکستان حکومت غواړي چې له افغانستان سره خبرې اترې او د صلحې پروسه بیا له سره پیل او پوره همکاري وکړي، همدا شان یې له افغانستان نه غوښتي چې په پاریس کې د فرانسې د جمهور رئیس په منځګړتیا د پاکستان د صدراعظم نواز شریف سره وګوري او هم افغانستان باید په راتلونکې میاشت کې په اسلام اباد کې د اسیا د زړه هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په غونډه کې برخه واخلي. تېر ماښام د مشاعرې په ناسته کې محمود خان اڅکزي وویل دا چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اعتماد نشته نو د خبرو اترو لپاره بین المللي ضمانت ته اړتیا ده. ده یادونه وکړه چې امریکا، چین او د ملګرو ملتونو اداره کولی شي چې د دې خبرو اترو ضمانت وکړي.

د ډیپلوماسۍ له نظره دا ډول تماسونه او د پیغامونو تبادله ښه کار دی خو د افغانستان حکومت باید نه ډېر خوش بینه او نه ډېر بد بینه اوسي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالیسیو د تعین لپاره دا اړینه ده چې حکومتونه دوه درې اپشنونه ولري. زما په اند، د خبرو اترو حالت بايد دوام وکړي او دا بايد دويم اپشن وي خو لومړی اپشن د افغانستان حکومت لپاره دا دی چې ځنګه حکومتداري شه کړي، د ژمي د فرصت نه په ګټه خپل د پسرلي او اوړي جنګونو ته خپل امنيتي تدابير ونيسي او يوازې د خبرو اترو په طمعه کيني.

که موږ د تېرې اونۍ حادثاتو ته وګورو نو د حکومت مخالفين غواړي چې د ژمي په موسم کې په کابل او د هېواد په نورو سيمو کې خپلو چيريکي حملو ته دوام ورکړي ترڅو د جنګ ميدان په ژمي کې هم تود وساتي. همدا شان د حکومت مخالفين او د دوی حاميان دا هم غواړي چې د خبرو اترو له لارې دوی بايد په ملي او بين المللي رسنيو کې مطرح او د افغانستان حکومت مصروفه وساتي. که د سولې خبرې اترې د صداقت پر بنياد هم وي، ډېر وخت ته اړتيا ده ترڅو دواړه خواوې توافق ته ورسېږي او بيا هغه پرېکړې او توافقات عملي جنبه ونيسي. نو پر دې اساس د افغانستان حکومت ته دا اړينه او بنيادي ده چې ځنګه د راتلونکي پسرلي او اوړي موسمونو ته د جنګ تدابير په سمه توګه ونيسي. ترڅو د حکومت مخالفين ونه کړای شي چې د پسرلي او اوړي په موسمونو کې برلاسي شي.

(د پژواک خبري آژانس) http://goo.gl/xhBY0j



## د اسيا د زړه کنفرانس په اسلام اباد کې

د ډسمبر اتمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، دوبۍ

د ډسمبر د مياشتې په اتمه نېټه په اسلام اباد کې له افغانستان سره د همکارۍ په اړه د آسيا د زړه Heart of Asia Conference پينځم نړۍ کنفرانس د دوه ورځو لپاره داير شو چې د افغانستان جمهور رئيس محمد اشرف غني پکې هم برخه واخيستله. دا شه خبره ده چې په غونډو، کنفرانسونو او مطبوعاتو کې افغانسان په منطقوي او بين المللي سطحه مطرح وي خو سوال دا دی چې ايا داسې کنفرانسونه موږ ته صلحه راوستلی شي او که نه؟

د دنيا د اکثره پوهنتونونو د سياسي او انتروپولوژۍ ډيپارټمنتونو کې افغانستان کله له منځني ختيځ سره، کله يې د جنوبي آسيا له هېوادونو سره او کله يې هم د مرکزي آسيا له هېوادونو سره تړي. که موږ دغو درېو سيمو ته لږ نظر وکړو نو اکثره د دغو سيمو ملکونه په خپلو منځو کې ډير زيات جنجالونه لري. پاکستان له هند سره، ايران د منځني ختيځ عربي هېوادونو سره او هم له امريکا سره او مرکزي اسيا هېوادونه له يو بل سره ډېرې ستونځې لري نو دا به د افغانستان غونډې هېواد ته ستونځمنه وي چې دا ټول هېوادونه پر دې قانع کړي چې له افغانستان سره هم زمان ټول سالمه مرسته وکړي، د افغانستان په مسايلو کې سره يوه ستراتېژي ولري او ځينې لا په دې قانع کړي چې د افغانستان په چارو کې مداخله ونه کړي.

زما په اند د افغانستان لپاره به دا مهمه وي چې له هر هېواد سره دوه اړخيز مناسبات وساتي او د همکارۍ لارې چارې دې ولټوي او د سياسي علومو په اصطلاح بايد مشترکې دوه اړخيزې ګټې يا common mutual interestپيدا کړي. په بين المللي غونډو کې دې افغانستان برخه اخلي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا امید دې خلکو ته نه ورکوي چې د دې کنفرانسونو په پایله کې به هر څه سم شي.

## ایا استخباراتي جګړه مونږ ګټلی شو؟

د ډسمبر لسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن د ملي امنیت مشر رحمت الله نبیل له جمهور رئیس محمد اشرف غني سره د اختلاف په وجهه استعفا ورکړه نو ما دا لاندې لیکنه په فیسبوک کې وکړه:

کله چې د کورنیو چارو په وزارت کې وم نو زما په دفتر کې د افغانستان نقشه په دېوال نصب شوې وه او ورباندې سپینه پرده چې ډېره خیرنه وه ځوړنده وه نو ما خپلو همکارانو ته وویل چې دا پرده ډېره خیرنه ده او ویې وینځئ. کله چې یې پرده له نقشه نه لرې کړه نو نقشه د افغانستان ښایسته ښکاره کېدله نو ورته ومې ویل چې دا پرده مه ځوړندوئ ځکه نقشه پخپله ښایسته ښکاري.

د کورنیو چار وزارت د مطبوعاتو مشر راغی او راته یې وویل چې صیب! دا نقشه محرم ده نو باید پرده پرې ځړېدلې وي. ما ورته وویل چې د دې نقشې محرمیت په څه کې دی؟ ځکه دا نقشه خو له هېواد نه بهر په بل ملک کې چاپ شوې ده، نړۍ ټول استخبارات په افغانستان کې فعالیت لري او د ګوګل ارت Google Earth په وسیله هر ځای کتلی شي او دې نه خبر نه یې چې اوسنۍ ټیکنالوژي دومره مخکې ده چې زمونږ د بېچاره ګانو هرڅه ترې ښکاري حتی زمونږ د غرونو لاندې زېرمې هم نورو ته له مونږ نه ښه معلومې دي. اوس ته راته ووایه چې زمونږ څه له نورو هېوادونو نه پټ دي.

زما په اند افغانستان د افغانانو نه پټ او محرم دی ځکه چې مونږ د خپل ملک په حالاتو خبر نه یوو. استخباراتي لوبې همداسې دي چې خپله خبره



درته ستا په خوله درکوي او بیا مونږ په هغو خبرو شخوند وهو او داسې فکر کوو چې ګوندې مونږ خپلې خبرې پخپله کوو. د استخباراتو یوه مسئله دا ده چې د افغانستان متعهد او زړه سواندي خلک څنګه بدنامه کړي، په ولس او هم حکومت کې داسې بې اعتمادي په یو بل پیدا کړي چې سړی حتی په خپل ځان هم مشکوک شي او د همکارۍ، اعتماد او تفاهم فضاء له منځه یوسي تر څو د استخباراتي شبکو لپاره د فعالیت زمینه همېشه مساعده وي. زما سوال دا دی چې ایا هغه کسان چې مونږ یې له نومونو سره اشنا یوو، په دوی کې داسې کس پیدا کولی شئ چې په دې نظام کې پرې په تېرو پینځلس کلونو کې د جاسوس ټاپې نه وي لګېدلې.

همدا علت دی چې د حکومت په دننه او هم له حکومت نه بهر داسې محور نه شي جوړېدای چې افغانان پرې راټول شي او یا په حکومت کې دننه یو قوي ټیم رامنځته شي. زما په اند مونږ استخباراتي جګړه نه شو ګټلی خو که مونږ خپله تګلاره سمه ونیوله او ولس مو په خپل اعتماد کې واخیست نو بیا د استخباراتي لوبو مخه نیولی شو. د استخباراتي لوبو مخه یوازې ولس نیولی شي نه زمونږ موجوده استخباراتي او امنیتي ادارې.

## دومره بار یوسه چې خومره ځای ته رسول شي

د ډسمبر یولسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نن په یو خیرات کې راسره نږدې یو سپین ږیری ناست و. د غورې ملګرې یې ورته وویل چې تا خو ډېر کم خوراک وکړ نو سپین ږیري ورته وویل چې سړي باید دومره بار یوسي چې څومره ځای ته رسولی شي نه دومره زیات وخوري چې بیا یې ځای ته رسولی نه شي. دا فرمولـه د ژوند په ټولو کارونو کې د تطبیق وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څنګه ولس او حکومت یوه سندره زمزمه کړي؟

د ډسمبر یولسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

په ټولو نظامونو کې دا د ولس حقه حقوق دي چې لـه مشرانو نـه پوښـتنه وکړي، خپل حقوق وغواړي، د حکومتي چارواکو ښه کارونه وستايي او خراب کارونــه وغنــدي. امــا دیکتــاتوري (Dictatorship) او یــا اتاریتــارین (Authoritarian) رژیمونـه ولـس تـه دا حـق نـه ورکـوي چـې خپـل حقـوق وغـواړي. پـه ولسـواکه نظـامونو کـې حکـومتي چـارواکي د قـانون پـر اسـاس مجبوره او مکلفه دي چې ولس ته حساب ورکړي. په ولسواکۍ نظـامونو کـې مدني حرکتونه همېشه موثره وي ځکه حکومتونه د ولس غوښتنو او یا د ولس عامه افکارو ته د درنښت په سترګه ګـوري او حکومتونـه کوشـش کـوي چـې خپلې پالیسۍ او پروګرامونه د ولس د تقاضا او غوښتنو په چوکاټ کې عیـار کړي. په داسې ټولنو کې له فساد سره مبارزه هم نتیجه ورکوي ځکـه د هغـو کسانو په ګوته کول چې په فساد کې اخته وي د ولس نه شرمېږي او یا هم د قانون له وېرې ځانونه اصلاح کوي یعنې د Name (پـه بـدو د نـوم یادونـه) او Shame (د خجالت ایستلو) مبارزه کار کوي. په هغـو ټولنـو کـې چـې فاسـد چارواکي نه په شرم پوهېږي او نه د قانون نه وېره لري ځکه څوک تر پوښتنه نه شي کولی مدني مبارزه چندان نتیجه نه ورکوي.

پـه دې ورځـو کـې پـه عامـه تصـویري او صـوتي رسـنیو، محـافلو او هـم د فیسبوک په صفحو کې لیکنې او تبصرو د ولس ذهنیت ډېر زیـات مغشـوش کړی او لـه خلکـو نـه یـې لار ورکـه کـړې ده. قضـاوتونه اکثریـت افراطـي او سلیقوي شکل لري. که یو څه مسایل د واقعیتونو پر اساس د افغانانو له خـوا مطرح کېږي خو افراطي او سلیقوي احساسات په لیکنو، خبرو او تبصرو کـې دومره زیات وي یا په اصطلاح مالګه، مرچ او مساله یې دومره زیاته کړې وي چې اصلي مطلب او مفهوم د خبرو او انتقادونو پکې ورک وي.



سوال دا دی چې کوم ډول مبارزه بهتره ده؟ چې دولت یـا حکومـت خپلـو ستونځو او نیمګړتیاوو ته متوجه شي او هم ولس خپل حقوق تـر لاسـه کـړي. یا په اصطلاح نه سیخ وسوځي او نه کباب.

مدني حرکتونه، عدم تشدد یا مصلحت امېزه مبارزه همېشه بهتره لاره ده ځکـه دا ډول حرکتونـه د جنـګ او تشـدد د زیـاتوالي مخـه نیسيـ. مګـر پـه افغانستان کې مهمه ستونځه په موجوده شرایطو کـې دا ده چـې حکومـت د مدني حرکتونو د زیات فشار طاقت او تـوان نـه لـري ځکـه هېـواد د مسلحو مخـالفینو لـه خـوا لـه شـدید تهدیـد سره مخـامخ دی. کـه زیـات فشـار پـه حکومت راشي نو حکومت د چپه کېـدو خـوا تـه ځـي او د حکومـت پـه چپـه کېدو کې بیا د افغانستان د اکثریت ولس خیر نشـته دی. یـوازینۍ معقولـه لار د همدې حکومت اصلاح کـول دي. نـورې ټـولې لارې د لا زیـاتو سـتونځو لامل ګرځي.

زما په اند ولس باید پر حکومت باندې خپل معقول فشـار تـه دوام ورکـړي او هم حکومـت بایـد د ولـس غوښـتنو تـه معقولـه لار پیـدا کـړي چـې عامـه ذهنیت مثبت خواته بـدلون وکـړي. حکومـت بایـد د سـتونځو د نـه منلـو د موډ (Denial Mood) یا طرز تفکر د چوکاټ نه راووځي او په تدریجي شکل د ولس عامه غوښتنو ته د حل لار پیدا کړي.

یو ملي ډیالوګ ته اړتیا ده ځکه اوس د دولت او حکومت چارواکي د یو بل په قانع کولو سره اخته دی او ولس ترې هېـر دی. جمهـور رئـیس او اجرائیـه رئیس باید سره کېني او صادقانه بحث د هېواد په امنیتي او سیاسي حـالاتو سره وکړي او بیا دواړه یو مشترک ټیم رامنځته کړي تر څـو دواړه مشـران او هم د دوی واحد ټیم د انګلیسي ژبې په اصطلاح یوه سندره خلکـو تـه زمزمـه کړي. نو ولس به بیا هم بېلې بېلې سندرې نه زمزمـه کـوي او د حکومـت لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راګ سره به سم سر خوځوي. که دوی دا کار ونه کړي نو راتلونکی راتـه تـت ښکاري. http://goo.gl/zA0Sb5

## انفرادي تصاميم همېشه اجتماعي اغېز لري

د ډسمبر دولسمه نېټه، کال ۲۰۱۵م کابل

بعضې کسان وايي چې زما په انفرادي تصاميمو کې د نـورو څـه کـار دی خو خبره داسې نه ده. هر تصميم که انفرادي هم وي مثبت او يا منفي اغېز په کورنۍ او ټولنه باندې لري. په دې توګه هېڅ تصـميم انفـرادي نـه دی او هر څوک بايد د خپلو تصاميمو او پرېکړو په نيولو کې ډېـر فکـر وکـړي. پـه خاصه توګه هغه کسان چې د دولت په لوړو پوستونو کې کـار کـوي او يـا پـه ټولنه او کورنۍ کې مشران دي. لوستي مې نه دي خو اورېدلي مـې دي چـې يوه ورځ امام اعظم صيب په کوڅه کې روان و او ختې وې نـو دوه ملايکـې د ماشومانو په شکل هلته ظاهري شوي نو امام اعظم ورته وويل چـې ماشـومانو احتياط کوئ چـې پښـه مـو خطا نشي- چـې پـه ختـو کـې بـه راوغـورځېږي. ماشومانو ورته وويل چې که مونږ خطا شولو څه فـرق نـه کـوي جـامې بـه مـو چټلې شي خو که ستا پښه وښوېدله نو ټول پيروان به درسره وښوېږي.



## کاشکې چې په دې بعضې مسايلو نه پوهېدای؟؟؟؟؟ نو به نه ځورېدای؟؟؟؟؟

## د شېخ چلي پروژه

د ډسمبر ۱٦مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

شېخ چلي په خوب کې تجارت پيل کړی و چې يوه چرګـه بـه واخلـم، هغـه به هګۍ اچوي، هګۍ به جمع کړم بيا به چرګه په هګو کېنوم او شل بچي به راړوي، بيا به هغه چرګوړي غټ کړم او چرګـې بـه شي. بيـا بـه هغـه چرګـې هګۍ اچوي او هغه چرګې به بيا په هګيو کېنـوم او هـره چرګـه بـه شـل نـور بچي راوړي. کله چې دا ټول د چرګو بچي غـټ شـول نـو دا ټـولې چرګـې بـه بازار ته يوسم او هغه به خرڅې کړم او پر هغو پيسو به يو وړوکی دوکان جـوړ کړم او بيا همداسې نورې پروژې پر مخ بيا يـم او د دنيـا لـوی پيسـه دار بـه شم.

په دې وخت کې په شېخ چلي چا غـږ کـړی و چـې شـېخه د سـهار لمـونځ قضاء کېږي پاڅېږه! شېخ چې له خوبه راپاڅېدلی و نو نه چرګه وه او نـه يـې تجارت و. هغه نفر ته يې ويلي و چې خدای دې غرق کړه زما ټول تجارت دې پر سيند لاهو کړ.

د ډسمبر ۱٦مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

نه مې غوښتل چې د فيسبوک د آوازو په هکله چې ګونډې ننګرهار ولايت ته د والي په توګه زما د ټاکل کېدو خبرې په ارګ کې رواني دي څـه ولـيکم. اما دا چې د ننګرهـار د ملګـرو او نـورو دوسـتانو حسـن نيـت مـې وليـده نـو مجبوره شوم چې د ټولو دوستانو د حسن نيت نه يو ځل بيا مننه وکړم او هم غواړم چې لږ غونډې وضاحت ورکړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه هېڅ يوه دولتي چارواکي چې په ارگ کې د تصميم نيولو صلاحيت لري له ما سره په دې اړه تماس نه دی نيولی. داسې آوازې د کندوزي صيب د تقرر نه مخکې هم وې خو بيا رښتيا نه شولې. په دلايلو يې بحث نه کوم چې دا کار ولې ونه شو.

که مونږ د دوستانو حسن نيت ته وگورو نو د افغانستان ټول ولس او د ننگرهار با علمه او با فرهنگه ولس په خاصه توگه د ښې حکومتدارۍ او امنيت راوستلو تږی او په هيله دی. د ننگرهار ولس له هر هغه چا نه مننه او ملاتړ کوي چې دوی ته په صداقت کار وکړي. د ننگرهار ولس د ښو او بدو تميز په ډېره ښه توگه کولی شي او دوی له نظام نه د ملاتړ چمتوالی لري.

ما پرون هم يوه ليکنه په فيسبوک کې کړې وه چې دا شرط نه دی چې يوازې د چوکۍ او مقام درلودلو په صورت کې څوک خدمت کولی شي بلکې له چوکۍ نه په غېر هم مونږ هر يو د خپل وس او توان په اندازه خدمت کولی شو او د خپل ولس او هم د خپل خدای پر وړاندې مسووليت لرو چې څه مو له وسې وي هماغومره خدمت وکړو.

زه ډېره ښه او ارامه دنده لرم او مادي امتيازات يې د ننگرهار د ولايت له مقام نه ډېر زيات دي او تر يوه حده د خپل کار او وظيفې نه راضي هم يم. اما دا چې د دوستانو حسن نيت ته گورم نو که چا له ما سره د ننگرهار د ولايت په هکله اړيکه ونيوله نو نه به ونه وايم خو درې شرطه لرم. يو شرط ولس ته دی او دوه شرطونه د دولت له مشرتابه نه لرم.

د ولس همکاري او ملاتړ ضروري دی ځکه حکومتداري بې د ولس له ملاتړه نه کېږي او دا چې په خپل ځان دا باور لرم چې په فساد کې نه له چا سره شريک يم او نه په ننگرهار کې او هم په افغانستان کې دننه او بهر له هيچا سره څه معامله نه لرم او د چا سره په پټو او ښکاره معاملو کې شريک



نه يم او نه د دې ارزو لرم چې له چا سره په فساد کې شريک شم نو د ولس له ملاتړ نه وېره نه لرم ځکه د ننگرهار اکثريت ولس لکه څنگه چې مې مخکې وويلې د ښه او بدو ډېر ښه تميز کولی شي او خامخا به ملاتړ کوي.

له دولت نه زما شرط ډېر واضحه دی. که څه هم صلاحيت اخيستل کېږي خو د افغانستان په اداري چوکاټ کې د والي صلاحيتونه د تغير او تبديل محدوده دي نو جمهور رئيس بايد دا صلاحيتونه يوازې د ننگرهار والي نه بلکې ټولو واليانو ته وسپاري. دويم د امنيتي ارگانو هم اهنگ کول، د هغوی نه پوښتنه او امنيتي مسايلو په هکله له والي سره همغږي مهمه مسئله ده او والي بايد له امنيتي ارگانونو نه د پوښتنې او د دوی د تغير او تبديل صلاحيت ولري. د دې صلاحيتونو نه زما موخه د سيستم اصلاح ده نه دا چې دا صلاحيتونه په خپله شخصي گټه استعمال کړم او يا خپل ورور او خور خوری راولم.

په پورته صورت کې د ولايت کول اسانه کار دی او څه ستونزې به نه وي خو دا اوس د دولت په مشرتابه پورې اړه لري چې څه تصميم نيسي. د پورته شرطونو يادونه مې د فيسبوک له لارې ځکه وکړه چې دولت داري او يا ښه حکومتداري يوه پروسه ده او د تصميم گيرۍ پروسه کې بايد ولس هم شريک وي او هم ولس ته معلومات وي چې تصاميم څنگه نيول کېږي.

د مزارشريف په ښار کې د روضه مبارک زيارت:

## زما د ژوند د سياست د لومړنيو زده کړو ځای

۱۸ ډسمبر ۲۰۱۵م کال، مزار شريف

په ۱۳۴۹ کال کې زه د مزار شريف د قاضي حميدالدين په ابتدائيه ښوونځي کې د شپږم ټولگي زده کوونکی وم او هغه وخت زما خدای بښلي پلار سيد محمود حسرت د بلخ په ولايت کې د احصائيې مدير و. په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال یعنې د ۱۹۷۰ م کال د اپرېل په ۲۲مه نېټه بارق شفیعي د پرچم په اخبار کې د لینن په هکله یو شعر چاپ کړی و. بارق شفیعي د پرچم د گوند د رهبرۍ شورا غړی و. ده په خپل شعر کې په لینن درود ویلی و نو علماوو د کابل د حکومت پر ضد او هم د پرچم حزب پرضد د پل خشتي په جومات کې او هم د هېواد په نورو سیمو کې مظاهرې پیل کړې وې او حکومت نه یې غوښتل چې د پرچم اخبار مصادره شي او دوی ته سزا ورکړل شي. دغه مظاهرو له یوې میاشت نه زیات وخت دوام وکړ چې باالاخره حکومت د پل خشتي په جومات کې ډېر گڼ شمېر مظاهره چیان ونیول او خپلو ولایتونو ته یې ولېږل. په دغه وخت کې د مزارشریف د روضه مبارکې په زیارت کې هم مظاهرې روانې وې. د مازدیگر او ماښام لمونځونو لپاره اکثره وخت له پلار سره یو ځای د روضې مبارکې جومات ته تللو. علماو به تحلیلي بحثونه د مختلفو اېډیالوژیگانو په هکله کول او چې د ماښام لمانځه نه وروسته به کورته راغلو نو پلار مې راته یوه وړه چپن اخیستلې وه، هغه به مې واغوستله او د کوټې په منځ کې یو وړوکی مېز و نو پلار به مې راته وویلې چې د دغه مېز سر ته وخېژه او څه چې دې په یاد دي او نن دې اورېدلي دي هغه خپلې مورجانې ته تکرار کړه. ما به هم مات گوډ چې څه په یاد و هغه خبرې تکرار کړې. نو په دې اساس ما د خطابې او د سیاست لومړي درسونه دلته په وړکتوب کې زده کړي دي. همېشه چې روضې مبارکې زیارت ته ځم نو زما هغه خاطرې راپه یادېږي.



# دې ملت سره به څوک مقابله وکړای شي؟

**دوه مهمې قصې**

د ډسمبر ۲٦مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

تېره شپه له دوستانو سره ډېر ښه بنډار و. دوه دوستانو دوه مهمې قصې وکړې خو ځایونه یې نه یادوم.

**اوله قصه:** پخوا چې موټرې ډېرې کمې وې په یو کلي کې دوه زاړه بسونه وو نو یو وخت دواړه بسونه سره په لاره یو ځای برابر شوي وو نو غوښتل یې چې له یو بل نه یې مخکې کړي. څرنگه چې پخوا به سړکونه خراب وو نو باالاخره دواړه بسونه داسې یو ځای ته رسېدلي وو چې له یو بل نه مخکې کېدای نه شول نو ډریورانو یو بل ته ویلي وو که په رښتیا غواړې چې مقابله وکړو نو راځه چې دا بسونه سره ښکر په ښکر کړو او وبه یې جنگوو چې وگورو د چا بس قوي دی. دواړو ډرېورانو چې موافقه کړې وه چې بسونه سره وجنگوي نو سورلیو ته یې ویلي وو چې تاسې ښکته شئ چې مونږ بسونه سره په جنگ اچوو چې تاسې ژوبل نه شئ. سورلیو ورته ویلي وو چې مونږ درته دومره بېغیرته ښکاره شولو چې له بسونو نه ښکته شو او تاسې ځانته پرېږدو نو مونږ هم په بسونو کې کېنو او تاسې ځانته نه پرېږدو. **دې ته وایي غیرت.**

**دویمه قصه:** د یو چا کورته مېلمه راغلی و نو د کور خاوند ډېرې منډې ترړلې کړې وې چې مېلمه ته کوم پسه حلال کړي خو پسه یې نه و پیدا کړی او یوازې کوم چرگ چې په کور کې یې درلود هماغه یې ورته پوخ کړی و. شپه چې تېره شوې وه او سبا ته مېلمه رخصتېده نو کوربه دباندې خپل خر چې ولاړ و هغه یې په چره ایز ټوپک ویشتلی و. کوربه مېلمه ته مخ را اړولی او ویلي یې و چې اشنا بېگاه مې ډېر کوشش وکړ چې پسه درته حلال کړم خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسه مې پيدا نه کړ نو دا خر مې ځکه ستا په مخکې وويشته چې تا ته وښيم چې زه له تاوان نه نه وېرېږم که نه پسه مې درته حلالولو. دې ته وايي ميلمه پالنه او غيرت.

نوټ: نو تاسې اوس قضاوت وکړئ چې له داسې ملت سره څوک ډغرې وهلی شي چې دا يې ذهنيت د مېلمه پالنې او غيرت وي.

## د پارلمان له خوا د ټاکنو د تقنيني فرمان د ردولو په هکله انديښنه

د ډسمبر۲۶مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ويرجينيا، امريکا

ټاکنې په هر ملک کې سياسي، حقوقي او تخنيکي اړخونه لري. کله چې د ټاکنو د اصلاحاتو خاص کميسيون د يو سلسله سياسي بحثونو او ستونځو نه وروسته سږ کال د جولای په مياشت کې د افغانستان د حکومت له خوا جوړ شو، کاوون کاکړ او زه هم د دغه څوارلس کسيز کميسيون غړي وو. مونږ د کميسيون محترمو غړو ته په وار وار وړانديزونه وکړل چې د فرمان له مخې مونږ بايد لنډ مهال، منځمهال او اوږدمهال وړانديزونه حکومت ته وړاندې کړو ترڅو ټاکنې په خپل وخت تر سره شي او له بحران سره مخامخ نه شي مګر د ټاکنو د اصلاحاتو خاص کميسيون اکثرو غړو زمونږ د دواړو غړو وړانديزونو ته غوږ ونه نيوه او ټول وړانديزونه يې په يوه کڅوړه کې حکومت ته وړاندې کړل او د دې تفکيک يې نه وکړ چې کوم يو د دې وړانديزونو لنډ مهال، منځمهال او اوږدمهال (د کميسيونونو تغيرول، د رايو باطلول، د انتخاباتي نظام تغير...) دي. نو پر دې اساس مونږ دواړه مجبوره شولو چې د کميسيون له غونډو نه خپل تحريم په علني توګه اعلان او د ټاکنو د اصلاحاتو د کميسيون له وړانديزونو سره خپل مخالفت وښيوو.



زمونږ د بايکاټ يواځينی هدف دا و چې د کميسيون وړانديزونه تخنيکي، سياسي او حقوقي ستونځې لري او هم د افغانستان په موجوده شرايطو کې عملي جنبه نه لري او پر دې سربېره که دا فرمان عملي شي، د افغانستان راتلونکې ټاکنې نورې هم له کړکېچ او بحران سره مخامخ کوي او پايلې به يې ولس ته د منلو وړ نه وي. مونږ خپل وړانديزونه په ليکلې توګه حکومت ته ورکړل خو حکومت هم په ډېره عجله بې له دې چې د دې فرمان حقوقي، تخنيکي او سياسي اړخونه وڅېړي په عاجله توګه تقنيني فرمان صادر کړ.

دا چې نن پارلمان د حکومت تقنيني فرمان رد کړ، د دې فرمان ردول راتلونکې ټاکنې نورې هم له کړکېچ سره مخامخ کړې او مونږ همدا غم ژاړه چې د ټاکنو د بحران مخه بايد له وړاندې نه ونيول شي. که څه هم د دې فرمان ردول حکومت او هم د ټاکنو د اصلاحاتو کميسيون لپاره يوه ضربه ده خو د دې ترڅنګ د دې فرمان ردول حکومت ته فرصت په لاس ورکوي چې پارلماني ټاکنې په راتلونکې کال کې د ټاکنو د موجوده قانون په چوکاټ کې ترسره کړي په دې شرط چې حکومت له اوس نه لازم تصاميم ونيسي او هېواد په راتلونکي کال کې له سياسي بحران نه وژغوري.

لومړی او تر ټولو مهم سوال دا دی چې د افغانستان په اوسنيو حالاتو کې پارلماني ټاکنې بايد څه وخت وشي نو بايد د هماغې مودې په دننه کې د داسې اصلاحاتو وړانديزونه وشي چې د تطبيق وړ وي. زمونږ په اند چې څومره مونږ د سياسي ډلو، مدني ټولنو او عام خلکو غوښتنو ته غوږ نيولی او مشورې مو کړې دي، د دوی غوښتنه همدا ده چې ټاکنې بايد خامخا په راتلونکي کال کې تر سره شي او د هېواد د سياسي ثبات لپاره حتمي ګڼل کېږي. نو پر دې اساس په ټاکنيز نظام کې هر ډول تغير په يوه کال کې نا شونی دی. خو اما په لنډ وخت کې د موجوده سيستم په چوکاټ کې داسې اصلاحات راتللی شي تر څو په راتلونکې ټاکنو کې تر ډېره حده د تقلب مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونیول شي. مونږ پر دې باور یوو چې یوازې د ټاکنو د نظام په تغیر سره د تقلب مخه نه نیول کېږي او حتي د دې امکان زیات دی چې هر تغیر که په عجله کې رامنځته کېږي د تقلب کچه به لا نوره هم زیاته کړي. په ټاکنو کې څو مسایل ډېر مهم دي. د رایپاڼو د چاپ، انتقال او رایه اچونې او رایو شمېرنې د بهیر لپاره، قوي او واضحه تدابیرو د نیولو او دقیقې څارنې اړتیا ده تر څو ولس او د نوماندانو او د هغوی د استازو د ټاکنو پر پروسه باندې اعتماد لوړ شي. په دې مورد کې د کمیسیون د کارکوونکو د ګمارولو د پروسې شفافیت، د مدني ټولنو او مطبوعاتو د پارټنرشیپ او مثبت رول، د دولتي چارواکو او هم محلي زورواکو عدم مداخله په ټاکنو کې مهم رول لوبوي.

## د جدي شپږمه نېټه په افغانستان کې د روسانو د یرغل ورځ

د ډسمبر ۲۷مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، ویرجینیا، امریکا

پرمختللي هېوادونه خپل تاریخ په سمه توګه ثبتوي او تحریف یې نه کوي. د ښو تاریخي پېښو نه ګټه اخلي او له بدو تاریخي پېښو نه عبرت. متاسفانه په افغانستان کې زمونږ تاریخ سم نه دی لیکل شوی او تحریف او مبالغه پکې ډېره زیاته شوې ده. د جدي شپږمه چې په ۱۹۷۹م کال کې پر افغانستان باندې د روسانو د یرغل له ورځې سره مصادفه ده دا هم یوه له هغه ورځو نه ده چې مونږ باید ترې عبرت اخیستي وای، په خپل ځان متکي شوي وای او د پردو هوراګانو ته باید چکچکې مو نه وای وهلې او د دنیا جنګونه مو کورته نه وای راوړي. د ګاونډیانو او نړیوالو سره مو رابطه ساتلې وای خو د هغوی د دایمي مرستو په طمعه نه وای ځکه په سیاست کې نه



دایمي دوست شته او نه دایمي دښمن. چینایان هر بحران ته فرصت وایي او له بحران نه ګټه اخلي. اما افغانانو له بحران نه خو ګټه هېڅکله نه ده اخیستې بلکې له فرصتونو نه یې هم ګټه نه ده پورته کړې. دا پورته لیکنه پژواک خبري آژانس هم خپره کړې ده: http://goo.gl/gxQ1P9

## خبرتیا

د ډسمبر ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ویرجینیا، امریکا

پرون یو چا کوشش وکړ چې زما د فیسبوک اکونټ له لارې زما د ای فون ادرس بوک او ایمیلونو ته داخل شي. ما ورته ځړ ځړ کتل خو دې ماهره غل په داسې چالاکۍ سره ادرسونه لټول چې زه هم ورته حیران وم. یو زوی مې خوا کې ناست و نو راته یې وویل چې ای فون مړ کړه او بیا د کمپیوټر له لارې د فیسبوک اکونټ پاسپورډ بدل کړه او هم فیسبوک اکونټ موقتي بند کړه. هماغسې مې وکړ د اوس مهال لپاره د دې غل له شره خلاص شوم. ګورئ ای فون هم د کمپیوټري غلو (هیکرانو) نه مصوونه نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکا د ویرجینیا ایالت کې دالس هوایي ډګر سره نږدې د هوانوردۍ له موزیم نه کتنه

د ډسمبر د میاشتې ۲۹مه نېټه، کال ۲۰۱۵م

پرون د خپل دفتر د ملګرو (استاد حمیدالله ناطق، پوپل حبیبي، نقیب خپلواک) او زوی مې ضیا، سره د امریکا د ویرجینیا ایالت د Dulles هوایي ډګر سره نږدې د هوانوردۍ موزیم نه مو کتنه وکړه. د موزیم ټولې الوتکې او د هوانوردۍ افزار دلچسپه و خو د ټولو نه مهم د Discovery Shuttle هوایي بېړۍ چې د ځمکې په مدار یې تقریبا ۲۴۰ میلونه کیلومتره پرواز د ۱۹۸۱ م کال نه تر ۲۰۱۱م کاله پورې کړی و ولیدله. له دې نه مهمه مو د هغې الوتکې لیدنه وه چې د جاپان په هېروشیما سیمه باندې د اتوم بم استعمال کړی و. دوی د خپل تاریخ خواږه او ترخه ټول ساتي.







## یوه خاطره د شهید سردار احمد په یاد

د حمل دویمه نېټه کال ۱۳۹۳ هجری، شمسي



هره وژونکې پېښه دردوونکې او تراژیدي ده. نن مې د شهید سردار احمد د دوه ماشومانو ښایسته عکسونه په فیسبوک کې ولیدل چې له خپل پلار سره خوشاله ناست دي. دا دواړه ماشومان له خپل مور او پلار سره یو ځای د حمل د میاشتې له لومړۍ ورځې نه مخکې ماښام په بې رحمانه توګه د کابل په سرینا هوټل کې د برید کوونکو له خوا ووژل شول. په دې پېښه کې زموږ یو تن ګاونډی د عبدالله په نامه چې پخوا د کابل د سرې میاشتې رئیس و هم شهید شو. د سردار احمد بل زوی په کوما حالت کې دی. ما ته د ۱۹۹۰ م کال د ډاکټر سعادت شګیوال مړینه راپه یاد شوه چې د پېښور په شاهین ټاون کې چا شهید کړ او د هغه زامنو زما له زامنو سره په مکتب کې یو ځای سبق وایه؛ نو مازیګر چې کورته راغلم، زامنو مې د کور دروازه زما موټر ته خلاصه کړه او سمدستي یې راته وویل چې زموږ د همصنفیانو پلار خو چا مړ کړ. له سترګو نه مې اوښکې لاړې او ځان مې شهید حساب کړ، له ځان سره مې وویل که زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړشم او زما زامن همداسې بې سرپرسته پاتې شي نو د دوی به څه حال وي او څوک به یې اوښکې پاکې کړي. که موږ د شهید سردار احمد په قالب کې ځان وګورو نو د دې دردوونکې پېښې ژوندی انځور به وګورو. دا دردوونکې پیښه له هر لحاظه نه د غندلو وړ ده.

## د پکتیکا د ارګون د پېښې غندنه




عکس: له رویټرز آژانس نه

د جولای د میاشتې ۱٦مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

د پکتیکا د ارګون په سیمه کې د پرون ورځې حمله باید په کلکه وغندل شي. دغه پېښه د ارګون ښار په منځ کې د عامو وګړو په منځ کې د موټر د انتحاري حملې په ترڅ کې رامنځته شوله چې د سلو په شاوخوا کې کسان پکې شهیدان او په لس ګونو نور ټپیان شول. دا وحشیانه حمله د روژې میاشتې په دې مبارکو ورځو کې د عامو خلکو په منځ کې د اسلامي او انساني اصولو په ضد عمل دی په هیڅ ډول توجیه کیدای نه شي. پرونۍ خونړۍ حمله د احمدشاه بابا په مېنه کې هم د غندلو ده او همداسې د هیواد په نورو سیمو کې چې هره ورځ بېګناه افغانان په بېلا بېلو ډولونو په شهادت رسي ټولې دا پېښې زړه دردونکي دي. زمونږ ټش په نامه چارواکي او مشران لا هم د خپلو ګټو او قدرت ته رسېدو په خاطر ګډوډې غواړي او نه شرمېږي چې دا وطن په سرو لمبو کې سوځي.



## د تلیفونو د کمپنیو غلا په ښکاره ورځ




د جولای د میاشتې ۱۸مه نېټه، کال ۲۰۱۴، کابل

د مخابراتو محترم وزیر سنګین صیب او د مخابراتو وزارت معین محترم ایمل مرجان صیب او د دغه وزارت نورو چارواکو ته خلاص لیک!

ګرانو دوستانو! دې وختونو کې د تلیفوني شبکو په هېواد کې د نورو زیاتو لانجو او د موقع نه په ګټه اخستنې سره د خلکو د تلیفونو نه په داسې ښکاره ډول غلاوې او دوکې شروع کړې دي چې هېڅ اندازه نه لري. ایا تاسې د دې مسوولیت نه لرئ چې د دې شبکو د غلاو مخه ونیسئ؟ دا د دې معنی نه لري چې یو څوک دې تاسې ته عارض شي او بیا تاسې پوښتنه وکړئ ځکه یو کس د ورځې د پنځو یا لس افغانیو په خاطر نه شي کولی چې خپل شکایت ستاسې د پروسیجرونو له لارې تعقیب کړي ځکه د مور نه یې لور ګټېږي.

روشن کمپنۍ له مانه دوه زره افغانۍ په رڼو سترګو ووهلې. اوس مې ام ټې ان واخیست. دا هم د هغه نه بدتر دی. ماته چې تلیفون راځي له هغه نه هم پیسې وهي او زه چې چا ته زنګ وهم هم یې کټ کوي. څو ځلې مې د دوی د خدمتونو څانګې ته شکایت وکړ هیڅ نتیجه یې ورنه کړه. بیګاه یې لس دقیقې منتظر وساتلم او بیا یې ځواب رانه کړ. په اخره کې له دوی سره د اړیکې پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې هم له مانه کټ کړې. دا عکس وګورئ چې له بهر نه ماته تلیفون راغی دوه دقیقې غږېدلی یم چې باید پیسې په هغه نفر چارج شوې وي خو له مانه یې ۴۶۴ افغانۍ کټ کړې دي. سبا ته یې دفتر ته ورځم او ګورم چې زمونږ لانجه څه نتیجه ورکوي او که نه؟

د خدمتونو سروس اول تا باندې څو دقیقې خپل اعلانات اوري او پیسې هم په تا چارجوي. دا دی انصاف او دا دی په ښکاره ورځ چور. که دا د تلیفونو کمپنۍ هره ورځ لس افغانۍ په دې ډول له افغانانو نه په ښکاره سترګو ووهي نو که لس میلونه کسان تلیفون ولري نو دوی د ورځې سل میلیونه افغانۍ غلا کوي. زما د ثبوت لپاره دا عکس وګورئ. څوک شته چې له دوی نه پوښتنه وکړي او که نه افغانان د تلیفونو د کمپنیو پر ضد باید بل موازي حکومت جوړ کړي تر څو جان کیري[1] راشي او د دوی پوښتنه وکړي او دا مسئله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته محول کړي ځکه د افغانستان د امنیت شورا خو د دا ډول ورو شیانو پوښتنه نه کوي.

[1] د جمهوری ریاست د دویم پړاو د انتخاباتو په خاطر د امریکې د بهرنیو چارو وزیرجان کیری افغانستان ته راغلی و چې د دواړو نوماندانو داکتر اشرف غنی او داکتر عبدالله تر منځ د رایو د شمیرنی په سر منځګړیتوب وکړي.



## مدیریت او رهبري په انسان کې له وړوکوالي نه ښکاري



د جولای ۲۷مه نېټه، کال ۲۰۱۴ م، کابل

نن راته زما د دفتر یو همکار دا پورته عکس راولېږه او رانه یې پوښتنه کړې وه چې دا عکس د چا دی؟ عکس ډېر جالبه و او ښه مدبر ماشوم راته معلومېده خو ومې نه پېژاند ځکه دا عکس ما د اول ځل لپاره ولید. بیا یې راته ولیکل چې دا د غازي امان الله خان د وړوکوالي عکس دی. رښتیا چې په ډېر جالبه انداز کې ولاړ دی چې د دې د سن او سال نه یې اکټ ډېر لوړ دی.

یوه قصه راپه یاد شوه چې زما یو ملګری خدای دې یې وبښي اوس نشته، ویلې چې په ماشومتوب کې که کوم ماشوم نورو ملګرو ته ویلې چې زه له چا سره په لوبو کې ملګری شم؟ نو دا ماشوم د مشرتابه لیاقت نه لري او که کوم ماشوم وویلې چې له ما سره څوک ملګري کیږي؟ نو دا ماشوم د مشرتوب او مدیریت لیاقت لري. خبره راته دقیقه ښکاري. مدیریت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبري فطري د انسان په خټه کې اغړل شوې ده. که یو سړی هرڅومره په مدیریت او سیاست پوه وي خو که د ده په خټه کې د مدیریت او سیاسي مشرتوب دروني انګېزه نه وي نو نه ښه مدیر کېدای شي او نه ښه سیاسي مشر.

له دې عکس نه داسې معلومېږي چې د امان الله خان په خټه کې سیاسي مشرتوب او مدیریت اغړل شوي وو خو دا چې د وطن عیني او ذهني شرایط یې سم نه و ارزیابي کړي نو خپل اهداف یې عملي نه شول کړای. د هر سیاسي حرکت د کامیابۍ لپاره، ښه مدبر مدیر، پوه مشر، مخلص ټیم، د ښو او عملي اهدافو ټاکل مهمې ځانګړتیاوې دي چې د بریالیتوب سبب ګرځي.

د فیس بک د هرې لیکنې په اړوند همېشه مثبتې او منفي تبصرې دوستانو کولې او همېشه د بحثونو لړۍ نور اړخونه پیدا کول. نو د امان الله د وروکوالي د دې عکس په اړوند هم تبصرې ډېرې زیاتې وشوې چې د بېلګې په توګه یو څو تبصرې دلته رانقلوم.

**عبدالوکیل اټک صیب لیکلي و:**

ستاسې د لیک نه یوه پوښتنه پیدا کېږي چې مدیریت او مشرتوب یو دی که جلا؟ تاسې وایئ کېدای شي ښه مدیر و خو شرایط یې ښه نه و ارزیابي کړي؛ نو څنګه ښه مدیر شو؟

**ما ورته په ځواب کې ولیکل:**

اټک صیب! تاسې پوښتنې ژورې دي او ژور بحث غواړي. د مدیریت او مشرتابه اوصاف پخوا جدا و خو اوس دا ثابته شوې چې دا دواړه لازم او ملزوم دي. دا سمه نه ده چې د مدیر هر کار به کامیاب وي. ځکه هغه په شرایطو پورې اړه لري. که امان الله خان ښه مدیر نه وای نو قدرت یې نه شو



نیولی او که ښه سیاسي مشر نه وای نو د استقلال اعلان یې نه شو کولی. خو دا چې وروسته له ناکامۍ سره مخامخ شو، څه د ده محاسبه سمه نه وه او څه بېروني فشارونه و. خدای دې وکړي چې تر یوه حده مې ستاسې ځواب ویلی وي.

**اټک صیب بیا ولیکل:**

زه وایم چې د دې تصویر نه د غازي امان الله خان مدیریت او مشرتوب دومره نه ښکاري لکه څومره چې ترې پردی کلتور ښکاري دومره پخوا او دا جامه؟ غازي لالا ته همدا جامه بده بلا شوه چې انګریزي استعمار پرې تور پورې کړ او مونږ یې د یوه غله د ژې لاندې راوستو.

**امین مدقق صیب لیکلي و:**

زه فکر کوم اوس هم هماغه تعریف صدق کوي او هغه دا چې مدیر یو جوړ شوی سیستم اداره کوي خو مشر پخپله سیستم جوړوي او بیا یې مخته وړي. کامیابي او ناکامي هم په دې پورې اړه لري چې یو مشر- څومره جامع او پوخ سیستم جوړوي نو د کامیابۍ چانس یې زیات دی. زما په اند هغه ولسمشران یا شهزاده ګان چې ورته پاتې سیستم رهبري کړي تر ډېره مدیران دي نه مشران. مثلاً زما په اند احمدشاه بابا مشر و خو تیمور شاه چې د پلار سیستم یې صرف مخته بوته یوازې یو پاچا او مدیر و.

**د مدقق صیب په ځواب کې ما ولیکل:**

مدفق صیب سلام! د منجمنت پر اساس د مدیریت او لیډرشیپ اوصاف پخوا جدا و خو اوس یو لیډر باید ښه مدیر هم وي. مدیریت بیا نو د وړې کچې نه نیولې تر غټې هر کچې پورې رسي. که سړی د دې عکس تصویر ته ګوري نو د ده د لباس منظم توب د مدیریت نښه ده. که یو سړی خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم نشي سمبالولی نو څنګه به نور مدیریت سم کړي. په هر وخت کې د ملک او وطن د چارو سمبالولو ته مونږ ښه مدیریت او لیډرشیپ ته اړتیا لرو. دا طبیعي ده چې په هر انسان د هغه د چاپېریال حالات، کورني ژوند، اقتصاد او داسې نور اجتماعي او سیاسي حالات تاثیر لري. امان الله خان باندې هم دغه پورته حالاتو خامخا تاثیر درلود. یوه قصه مې د انګلستان د شهزاده چارلس راپه یاد شوه بل وخت کې به یې ولیکم روژه ماتې نږدې ده.

**حیات پیاوړي صیب لیکلي و:**

مونږ په کوچنیو خبرو پورې سولېږو او اصلي کار را څخه پاتې وي.

**فریدون بارکزي صیب لیکلي و:**

په ډېر تاسف سره باید ووایم چې موږ تر اوسه لا د غازي کار نامو ته د شک په سترګه ګورو او هغه ته خارجي نوم ور کوو. موږ ډېرو بهرنیو شیانو ته په خپل ورځني ژوند کې ځای ورکړی دی، د مثال په ډول په خارجي اسعارو معامله کوو، د بهرنیانو مرستې غواړو، په بهرني موټرو کې سپرېږو، د خارجي ټیکنالوژي نه ګټه اخلو...خو دې ټولو ته هیڅ څوک هېڅ هم نه وایي، اما که چا خارجي جامې واغوستلې بیا یې د افغاني دود سره سم نه بولو او ان تر دې چې د بهرني ټاپه پرې وهو. موږ ټول د هغو کسانو د کارونو عیني شاهدان یو چې پوره افغاني جامې یې پر تن وې خو کردار یې د ځناورو نه هم بدتره وو. او اوس هم دغه کسان په افغاني جامو کې پټ د افغانانو وینې څښي. متاسفانه موږ افغانیت په جامو او نورو ظاهري شیانو پورې تړلی دی، خو که په اصل کې ورته وګورو، د یوه افغان لوی ویاړ میلمه پالنه ده، د ظلم په مقابل کې درېدل دي، د پردو غلامي نه منل دي، د نورو د مال او عزت خوندي کول دي، د نورو د مرستې نه پرته پر خپلو متو تکیه کول دي او بلاخره د یوه ودان او پیاوړي افغانستان غوښتل او د هغه لپاره هڅې کول



دي. افغاني جامې اغوستل او داسې نور بې ارزښته دودونه پر ځای کول د هېواد په ودانولو کې هیڅ رول نه شي لوبولای، د دې لپاره یوه افغانه روحیه او عمل په کار دی.

که مو هېر وي نو در په یاد به یې کړم چې غازي د پورتنیو ټولو افغاني خصوصیاتو څښتن و. د افغانستان د خاورې اصلي ساتونکی او ستر رهبر و. د ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا لوی مدافع او په نړۍ کې د افغانستان د لوړ مقام غوښتونکی و. د اوسني افغانستان د سیاسي، نظامي، عدلي او قضایي، اجتماعي، او اقتصادي نظام بنسټ ایښودونکی و. الله پاک دې یې وبښي او روح دې یې ښاد وي.

**رفیع الله نوابي صیب لیکلي و:**

میاخیل صیب! زه هم ستاسو سره په دې خبره کې هم نظر یم. ستاسو په خبرې پورې را په یاد شو چې زمونږ یو کلیوال دی چې نه یې ښونځی او نه یې لېسه لیدلې، خط لیکل او لوستل یې څه کوې (چې یعنې نه یې شي لیکلی) خو الله تعالی داسې مدبره پیدا کړی چې د کلي هغه ستونځې چې حکومت یې په کلونو کې فیصله کولی نه شي، دی یې په ډېر لنډ وخت کې او په ډېره معقولانه توګه حل و فصل کوي او دا مدیریت یا امریت د هر چا د وسې دنده نه شي کېدای او ریښتیا هم هر څه په تعلیم نه دي. استعداد او لیاقت خدایي دي ځینې شخصیتونه مونږ لرو چې دوکتورا او یا به ماسټري لري خو دا جرات او استعداد نه لري چې ښه مدیریت او یا هم امریت وکړي.

تبصرې ډېرې وې خو بعضې لږ د چوکاټه خارجي او یا هم نورو قومونو او اشخاصو ته په کې ښکنځلې لیکل شوي وې. نو ما ورته په اخره کې ولیکل چې د ټولو دوستانو د تبصرو نه مننه. دا تبصرې به زما د مخکتاب د دویم ټوک یوه برخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یاره! دا جان کیري راته ډېر ډېر مه ځلوئ

د اګست ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل





یاره! دا جان کیری راته ډېر ډېر مه ځلوئ زه یې هم پېژنم، مشوره یې منو، مرسته یې منو خو مونږ باید هم ورته سمه مشوره ورکړو چې زمونږ په کـارونو کې ګوتې ونه وهي او د وطن د خیر خبره ورته وکـړو ځکـه زمـونږ د وطـن پـه خیر کې د دوی خیر هم شته دی.



مونږ ورته مشوره ورکړې وه چې مداخله په انتخاباتو کې نـه ده پـه کـار، د یو ځانګړي نوماند نه باید ملاتړ ونه شي، د سیاسې پروسې، د یـو بـا اعتبـاره ټولټاکنو او سیاسي انتقال د قدرت حمایت بایـد وشي، بـې لـه انتخابـاتو او د هغه د پایلو د منلو نه بله لاره چاره نشته.

دا دوه کاله پخوا خبره وه چې اوس هـم زه پـه همـدې عقیـده یـم چـې د افغانستان د ثبات لپاره د پایلو د ژر تر ژره نهایي کولو نه بله چاره نشته. که دا پایلې ژر نهایي نشي او ونه منل شي دا د افغانستان د راتلونکې په خیر نـه ده. ټاکنې د افغانستان راتلونکی ټاکي او که دا کار ونشيـ نـو افغانسـتان لـه لویو ستونځو سره مخامخ کېږي او دا به په راتلونکي کې انتخاباتو ته او هم د ډیموکراسۍ پروسې ته یوه لویه ضربه وي. دا عکسونه کابل ته د جان کیـري د وروستیو سفرونو نـه دي بلکـې د ۲۰۱۲ کـال داپریـل د میاشـتې د ۲۸ مـې نېټېې د سفر دي چې مونږ ورسره کتنه درلوده.

**په پورته لیکنه بعضې دوستانو منفي او مثبتـې نیـوکې کـړې وې چـا امریکایانو ته ښه نه ویل او چـا مجاهـدینو تـه بـد رد لـیکلي و او ځینـې دوستانو داسې تبصرې هم کړې وې چې ګوندې ما هم ځان مهم ښـکاره کړی دی چې د امریکا د خارجه چارو وزیر جان کیري سره پېژنم نو مـا بیا د دوی د تبصرو په اړوند دا لاندې عمومي تبصره ولیکله:**

د فیسبوک یو شمېر دوستان زه له نږدې نه پېژنم او هم مـا پېـژني خـو یـو شمېر زیات نور د فیسـبوک دوسـتان دي چـې سره فیسبوکي اړیکـې لـرو او تعداد یې زرګونو ته رسېږي، د دنیا په بېلابېلو هېوادونو او یا د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې اوسېږي، هر یو د ځانګړو نظریاتو خاوندان دي او د هر چـا لر لید سره فرق لري. مونږ چې کله کله خپل نظریات سره شریکوو، په لیکنو سره تبصرې کوو او لایک کوو یې نـو هـدف دا دی چـې د یـو بـل د لیکنـو او تجربو نه زده کړه وکړو. که ښه تجربه وي باید ترې ګټه واخلو او که ناکامـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تجربه وي بايد تکرار يې نه کړو. په بعضې مواردو کې مونږ سره هم نظره يوو او په بعضې مواردو کې هم نظره نه يو. زما ليکنې هم پـه همـدې منظـور دي چې څنګه د هر چا د منفي تبصرو او انتقادونو تحمل وکړای شـو، د يـو بـل د ليکنو نه زده کړه وکړو، مونږ بايد تحمل پذيره اوسو او بعضې وخـت بايـد پـه خپلو خيالي احساساتو يو څه کنټرول راولو. زما په دې ليکنه او يا د عکسـونو په ليدو د دوستانو تبصرې مې سر په سترګو قبولي دي او مطلب مې همدا و چې بحث پرې وشي. که بـېلا بېـل کسـان يـوه عکس تـه لـه څـو اړخونـو نـه همزمان جلاجلا وګوري نو د هر چا برداشت خامخا جدا وي ځکه لـه هـر اړخ سره جلاجلا نور شيان سړی ګوري او دا د دې معنی نـه لـري چـې ګونـدې د هر چا خبره سمه نه ده ځکه د هر يو کس ليدنه او برداشت سره فـرق لـري. بله خبره چې مهمه ده هغه دا ده چې ښـه ليکـوال او مقـرر هغـه دی چـې د يوې خاصې موضوع په چوکاټ کې بحث وکړي نه دا چې موضوع يوه وي او تبصرې د نورو شيانو پرې کـوي. زمـا د دې عکـس او تبصـرې موضـوع ډېـره واضحه ده، کنايه او نظر مې هم ډېر واضح دی.

خبره دا نه ده چې څوک له چا سره عکس وکاږي ځکه په عکسـونو ايسـتلو له يو چا سره څوک نه غټېږي او نه وړوکی کېږي. مونږ عکسونه هره ورځ لـه هر چا سره وکاږو او دا د دې معنی نه لري چې ګوندې مـونږ سره هـم نظره يوو. که په دې يو عکس کې وګورئ نو ډاکتر صيب عبدالله، اتمر صيب او زه سره ښکارو خو په دغه وخت کې زمونږ د درېواړو نظريات، تګ لاره او ټيمونه سره جلاجلا و خو بيـا هـم سره ناست و او د افغانسـتان پـه مسـايلو مـو سره بحث کاوه. دا چې امريکا نفوذ لري او که نه هغه جلا مسئله ده، تاسـې پـوه شه او تبصرې مو. نيت مې د افغانستان ابادي او د افغانانو سوکالي ده او په دې لاره کې مې تر خپله وسه هلې ځلې کړي او کوم يم. نه د چا شاباسي تـه ضرورت لرم او نه د چا تشويق ته. د امتيازاتو د اخستلو په خاطر مې د هيچا



چاپلوسي نه ده کړې که هغه خارجی دی او که داخلی او بلکې همېشـه مـې ډېر امتيـازات لـه لاسـه ورکـړي دي. د ځـان سـپيناوي تـه ضرورت نـه لـرم. ستاسې سر مې ځکه په درد کړ چې هدف مې د دې اوږدې تبصرې نه همدا دی چې مونږ بايد ټولو موضوعاتو ته له هر اړخه وګورو تر څو د ټولـو خـواو د پوره تصوير په لرلو سره قضاوت وکړو. ستاسې د سوکالۍ په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د والدينو مسووليت د اولادونو پر وړاندې

د سپتمبر۲۳مه نېټه، کال ۲۰۱۴م کال، کابل




زه په په خپله پر دې عقيده يم چې د والدينو اول مسووليت دا دی چې خپل اولادونو ته د تعليم او تربيې سمه زمينه مساعده کړي او دويم مسووليت يې دا دی چې خپلې کورنۍ او اولادونو ته دښمني گاني پرېنږدي. د والدينو مسووليت دا نه دی چې د حلالو او حرامو له لارې خپلو اولادونو ته سرمايه وگټي، لوړپوړي ودانۍ، مارکيټونه،کورونه او باغونه ورته جوړ کړي. که څوک د خپلو اولادونو پر وړاندې مسووليت نه شي ادا کولی نو زما په اند هغه کس ولس او خلکو ته هم خدمت نه شي کولی. که هره دنده د هر چا په هر ځای کې وي نو بايد د خپلې کورنۍ او اولادونو پر وړاندې بې تفاوته او نه اوسي. د ټولو مسووليتونو او ستونځو سره



په تېرو څلور لسيزو کې ما تر يوه حده د اولادونو پر وړاندې خپل مسووليت ادا کړی او د تعليم زمينه مې دوی ته برابره کړې وه او دوی هم خپلو زده کړو ته په سختو شرايطو کې دوام ورکړی دی. هدف مې د ځان او يا کورنۍ په هکله تبليغ نه دی خو پرون زما دويم زوی ضيا محمود مياخيل، زما د مشر زوی ډاکټر نايل محمود مياخيل يو پوستر راوليږه نو زيات د خوشې احساس مې وکړ نو ځکه مې دا څو کلمې وليکلې او هغه دا پوستر مې د تاسې سره شريک کړ. خدای دې ټولو افغانانو ته صالح اولادونه ورکړي چې هم ځانته، هم خپلې کورنۍ ته او هم وطن ته خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څنګه په امريکا کې د افغانستان د نوي حکومت په هکله مثبت تصور تقويه شي؟

د اکتوبر ۱۵مه نېټه کال ۲۰۱۴م، واشنګټن



د تېرو دوه ورځو نه راپه دېخوا د افغانستان په امنيتي، اقتصادي او سياسي حالاتو باندې د متحده ايالتو د صلحې انستيتيوت، درې لويې غونډې او هم د کانګرس د يو شمېر زياتو غړو سره مجلسونه برابر کړي وو چې ما هم په کې برخه درلوده. په دې شپو ورځو کې د افغانستان د نوي منتخب حکومت په کله تصور مثبت خواته شوی او هغه کسان چې د افغانستان په چارو کې پوهېږي نو د امريکا له حکومت نه غواړي چې د افغانستان د منتخب جمهور ډاکټر اشرف غني د ريفورم اجنډا بايد تقويه او حمايت ترې وکړي.

په دې لړ کې د امريکا د سنا د فوځي چارو د کمېټې مشر- سناتور کرل ليون Senator Carl Levine ته يوه لويه غونډه برابره کړې وه چې د غونډې تفصيل په لاندې لينک کې کتلی شئ.

http://www.usip.org/publications/senator-levin-says-us-afghan-ties-require-better-informed-american-public



دا غونډه چې د متحده ايالتو د صلحې د انستيتيوت د بورډ مشر- او د امريکا د ملي امنيت پخواني مشر Steve Hadley له خوا په مخ بېول کېدله، ما سناتور ليون ته وويل چې انتخابات په هر ملک کې ولس تقسيموي خو د افغانستان ولس هغه چاته رايه ورکړې چې د ريفورم او د ښې حکومتدارۍ اجنډا او پلانونه يې درلودل. نو اوس د انتخاباتو جنجالونه بايد شاته واچول شي او د جمهور رئيس ډاکټر اشرف غني د ريفورم اجنډا بايد تقويه او حمايت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پکتیکا د یحیی خیلو دردونکې پېښه



د نومبر ۲۳ مه نېټه، کال ۲۰۱۴م

د لندن په هوايي ډګر کې وم چې الوتکې ته ختم چې د پکتیکا ولایت د یحیی خېلو د ولسوالۍ بلې دردونکې پېښې خبر مې واورېد چې سل کسه ماشومان او ځوانان د يو خودکشه کس د حملې په پايله کې چې د واليبال د لوبې ننداره يې کوله شهيدان او زخميان شول. دا ماشومان او ځوانان چې د لوبو کولو او ليدو لپاره راټول شوي وو په ناځوانمردانه توګه شهيدان او زخميان شول.

ناځوانانو دا خو نه عسکري قشله وه او نه کومه سیاسي غونډه. دې ته به هم تاسې جهاد وایئ خدای مو په خپل قهر اخته کړه چې د دې زخمیانو میندې او پلرونه، خویندې او ورونه، او د افغانستان ټول ولس مو په وير غمجن کړ.



# د نږدې ملګري محمد حسن حسام مړينه





د مارچ ۱۵ مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کونړ

په ډېرې خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې د هېواد تکړه شاعر، لیکوال، قومي مشر او ملي تجار، د فکر او عمل د جرګې د رهبرۍ شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړي، محمد حسن حسام صیب د ورپېښې ناروغۍ له امله نن غرمـه لـه دې فاني دنیا نه لاړ او وفات شو. انا لله و انا الیه راجعون .

له حسام صیب سره د تر څو کلونو راپدې خوا مې ډېر وخت لـه نـږدې نـه تېر کړی و. د حسام صیب مړینه یوه لویه ضایعه ده، د خپـل وطـن او خلکـو سره یې خاصه مینه درلوده، د غریبو یې همېشه خیال ساته او همېشـه یـې د خیر لپاره کار کاوه. د حسام په شعرونو او لیکنـو کـې همېشـه د وطن مینـه ځلېده او د ده نوم به د وطن د مینه والو د نومړ په لومړي سر کې ثبت وي.

د جمعې په ورځ د حسام صیب په شمول په خاص کونړ کې زمونږ په ځای کې سره یو ځای غرمه تېره کړه او پرون غرمه مو د ګڼو دوستانو سره د ده په کور کې، د کونړ ولایت د نورګل په ولسوالۍ کې تیره کړه او وعده مو سره وه چې د کونړ د یو بل مخور مشر، وکیل صیب غلام محمد خان ساپي جنازه به د نرنګ په ولسوالۍ کې په شریکه سره کوو او ماښام به په چغه سرای (اسعد اباد) کې د حاجي صیب فضل اکبر (معاون حاجي) میلمانه اوسو. د الله تعالی او بنده وعده سره یوه نه وي نو مونږ نن شپه له ډېر نږدې دوست او ملګری د خندا او صحبت نه محروم یو او ټول د غم په ټغر ناست یوو. غیـر د دوعـا نه بل څه نه شو کـولی. الله تعـالی دې جنـت فـردوس حسـام تـه پـه نصیب کړي. د حسام صیب کورنۍ او نورو ټولو دوستانو ته، د کونړ او افغانسـتان ولس ته مونږ دوستان چې نن شـپه سره پـه غـم کـې شریـک یـوو، د تسـلیت مراتب وړاندې کوو .

جنازه به انشاالله سبا ته د ده په پلرني کلي، د نورګل په ولسوالۍ کـې وي. وخت به وروسته تعین شي. دا دوه عکسونه د جمعې د ورځې په خاص کـونړ کـې او د پـرون ورځـې د ده پـه کـور کـې، د حسام صیب د دوسـتانو لپـاره شریکوم چې له مونږ سره د یادګار په توګه پاتې وي.



# د خوست تراژیدونکې پېښه او برمنګهم کې د نیالګیو ایښودل



د اپرېل د میاشتې درېیمه نېټه، کال ۲۰۱۵ م، برمنګهم، انګلستان

نن مو په برمنګهم (Birmingham) انګلسـتان کـې د ګرانـو دوسـتانو سره چکر وواهه او د انجینر صیب حسیب لطفي، عبدالله خان، ذبـیح الله عنایـت، امان خان، انجینر صیب عبدالروف او اجمـل جـان سره مـو نیـالګي وکـرل. د دې نیالګو نه به مونږ ګټه وانخلو خو د محیط زیست سره به مرسته وکړي او یو څه د ګټې باد به یې زمونږ وطن ته هم کېدای شي چـې راورسـېږي. مـونږ چې څه ښه کارونه په وطن کې او یا په نورو هیوادونو کې کوو نو باید په دې طمعه ونه اوسو چې ثمره به یې همدا مونږ خورو او کـه نـه نـو مـونږ یـې څـه کوو. که مونږ همدا روحیه په خپل وطن کې پیدا کړه چې د وطـن لپـاره کـار وکړو نه د ځان لپاره نو بیا مونږ کولو شو چې د جنګونو مخـه ونیسـو او خپـل وطن اباد کـړو. د وطـن د ابـادۍ او سـوکالۍ پـه صـورت کـې نـو بیـا زمـونږ شخصي، د کورنۍ او هم زمونږ د راتلونکو نسلونو ګټې خامخـا خونـدي پـاتې کېږي. خو د افسوس ځـای دا و چـې مـونږ د خوسـت د نـاوړې او بوګـنونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې راپور تر لاسه کړ چې  پـه لـس ګونـه زمـونږ هېـوادوال د مظـاهرې پـه وخت چې خپل آواز د والي پر ضد اوچت کړي د یوې ناځوانه ځان وژونکې له خوا شهیدان او زخمیان شول.

سوال دا دی چې ولې زمونږ په وطن کې وینه دومره ارزانه ده چې زمونږ په لسـګونو هېـوادوال پـه هغـه او دغـه وژل کېـږي او زمـونږ هېـوادوال د څـو محدودو کسانو د ناوړه ګټو قربـاني کېـږي، هـره ورځ د دوی مینـدې بـوري کېږي، سرتورې یې کونډې کېږي او په لس ګونه ماشومان یتمان کېـږي؟ ایـا ولې وجداني مسوولیت نشته دی؟

والي که هر څومره ښه سړی هـم وي خـو چـې کلـه د ولـس او د ده تـرمنځ واټن دې مرحلې ته ورسېږي او دومره ولـس یـې مخالفـت وکـړي نـو دی پـه خپله باید دنده پرېږدي. جناب وکیل صیب چې ځان د ولس استازی بولي او په دې پوهېږي چې امنیت سم نه دی نو ولې خپل ولس له خطر سره مخامخ کوي کېدای شوای چې خپـل اواز یـې د مطبوعـاتو او رسـنیو او یـا نـورو لارو اوچت کړای وای ځکه دې هم په پارلمان کې، هم مطبوعـاتو تـه او هـم جـګ پـوړو چـارواکو تـه لاس رسی درلـود. والیـان خـو هسـې هـم سرپرسـته و او بدلیدونکي دي نو دا چې د داسې غونډو جوړول څومره ارزښت درلود او کـه نه جدا خبره ده. هغه چا چې د دې حملې طرحه جوړه کړې او یـا یـې عملـي کړې ده ایا دوی به هم د انسانیت او اسلامیت طمعه لري؟ الله تعالی دې په دې ملت ورحمېږي.



# عجیبه دنیا ده

د اپرېل د میاشتې ۲۲مه نېټه، کال ۲۰۱۴م، کابل





عجیبه دنیـا ده چـې پـرون درسره وي خـو نـن د دې فـاني دنیـا نـه درسره خدای په اماني کـوي. خـدای بښـلی حسـام صیب راسره تـر یـوې میاشـتې دمخه و او هم څارنوال صیب محمد حیدر تر نن سهاره ژوندی و. یـو یـې الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی په خپل مرگ رانه واخیست او څارنوال صیب نـن د وطـن د دوښـمنانو له خوا په جلال اباد کې په شهادت ورسېد.

منزل د ټولو یو دی    خو سفر جدا جدا

الله تعالی دې په داوړو ورحمېږي.


## واېي افغانان په سر مزل کوي ځکه سر زوري دي لاندې انځو ته په ښه دقت سره وگورئ

د جولای د میاشتې ۱۲مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

پرون یو ملگری زما دفتر ته راغی او راته ویې ویـل چې افغانـان د پښـو پـه ځای په سر مزل کوي او نـوره دنیـا پـه پښـو مـزل کـوي نـو پـه دې اساس د افغانانو او دنیا ترمنځ د تفـاهم ژبـه نشـته. د دغـه ملگـري خبـره راتـه ډېـره عجیبه غوندې ښکاره شوله او رښتیا هم ده ځکه افغانـان سرزوري خلـک دي نو ځکه په سر مزل کوي.

که څه هم زه په انځورگرۍ کې ښه نه یم خو د دې ملگري د خبرو مفهوم مې په دې لاندې انځور کې ترسیم کړ. که انځور ته وگورئ هغـه ځـوک چې په سر ځي نو هغه د نورو خلکو پښو ته خبرې کوي نو ځـای نـه نیسيـ او کـه ځوک په پښو ځي نو هغه یوازې د هغو کسانو پښو ته خبرې کوي ځـوک چې په سر ځي نو بیا هم د دوی خبرې ځای نـه نیسيـ. ښـه بـه دا وي چې هغـه کسان چې په پښو ځي، د یو بل د سرونو سره خبرې کولی شي نـو بایـد د یـو بل سره د تفاهم او هم غږې ژبه پیدا کړي که نه مونږ بـه یـوه سـتونځه هـم خپله حل نه کړای شو.





د سپټمبر د میاشتې ۲۱مه نېټه، کال ۲۱۰۵م:

د سولې د نړیوالې ورځې په نمانځونده کې پـه افغانسـتان کې د سـولې لپاره د مدني ټولنـو د شبکې له خوا دا ایـوارډ ماتـه راکـړل شـو او پـه افغانسـتان کـې د سولې د راوستو په هکله زما د کارونو ستاینه یې وکړه. زه په افغانستان کې د سولې د مدني ټولنو د عمومي شبکې له مشرتابه نه مننه کوم چې دا ایوارډ یې ما ته راکړ او پـه افغانسـتان کـې د ایمـي سولې په اړه یې زما د کارونو او لیکنو ستاینه وکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اختر د ورځې د لمسو رالېږل شوې تحفه

د سپتمبر ۲۴مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل



ډېر مې ياد شوي خو دا ژوند همېشه نيمګړی دی. دوی خو لا خاندي او خوشحاله دي يوازې د نيکه له مينې نه محرومه دي.

افسوس د هغو ماشومانو په حال چې د ناولي جنګ له امله نه په سر سيوری لري او نه يوه مړی ډوډی، نه ښوونځي ته د زده کړې فرصت لري او نه کالي پر تن، نه په کور کې مصئون دي او نه بهر، يتيمان دي نه د مور غږ اوري نه د پلار او نيکه آواز، د حال نه په کرکه کې دي او راتلونکی يې نا معلومه دی.



الله تعالی دې زما د ماشومانو او لمسيانو په ګډون او خاصتاً د پاکو او معصومو ماشومانو په خاطر د افغانستان په ټولو وګړو رحم وکړي چې د امن او د سولې په فضاء کې ژوند وکړي. امين يا رب العالمين




27 October 2015

د هسپانيې له پادشاه شپږم فليپ سره تر کتنې وروسته همدا شېبه د مادريد کلب په کنفرانس کې او ژمنه يې وکړه چې له افغانستان سره به خپله مرسته جاري ساتي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصمیم ګیرۍ په اړوند او هم د ساختار په هکله جدي تغیرات راشي ترڅو د نړۍ اوسنۍ ستونځې حل شي.

**خواجه صدیقي صیب د پورته پوسټ په اړوند لیکلي و:**

رښتیا هم همداسې ده ګرانه میاخیل صاحب او ډېره دقیقه تحلیل او نواقص د موجوده قرن په ګوته کړي. زما په اند مخکینی قرن د استعمار او نوی استعمار قرن و او اوسنی قرن د صادراتي حکومتونو قرن دی هسې د پسرلي او بهار نوم پرې باندې ږدي نه مرسل ګلونه پکې غوړېږي او نه بوی د شبنم ترېنه راځي فقط د وینو او بې ګناه انسانانو وژنه پکې وینو. او د ملل متحد مصنوعي رول او موجودیت هېڅ هم نشي کولای څه چې دغه پینځه دایمي غړي وغواړي همغسې کوي او د دوی پر سترګو هېڅ نه شنه کېږي او نه سور کېږي او اسماني تندرونه پر هر چا باندې دوی غورځولی شي. دا یو واقعي خبره یې کړې چې هر څه باید بدلون ومومي او یو قدرت او حیثیت ملل متحد ته حد اقل دوی باید قایل شي.





د اکتوبر ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، مادرید، هسپانیه

د سوډان مشهور سیاسي مشر صادق المهدي چې دوه دورې صدراعظم و او هم د اومه پارټۍ مشر دی چې ۱۶ کاله بند یې هم د نظامي دیکتاتورانو له لاسه لیدلی دی ښه او دلچسپه مجلس یې درلود. دی نهایت پوه او با تدبیره سیاستوال او اقتصاد پوه دی او په ټول کنفرانس کې ډېر په واضحه توګه غړېده. د افغانستان په مشکلاتو مو هم خبرې سره وکړې او د افغانستان په ټولو ستونځو پوره اګاه و. صدراعظم المهدي په دې عقیده دی چې موجوده حکمتونو په زیاتره هېوادونو کې خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی او همدا شان د ملګرو ملتونو موجوده اداره په همدې شکل نه شي کولی چې د نړۍ ستونځې حل کړي باید په دواړو ساحو کې چې هم په بحران ځپلیو هیوادونو کې با اعتباره حکمتونه رامنځته شي او هم د ملګرو ملتونو په اداره کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اکتوبر ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، مادريد، هسپانيه

د چلي پخواني جمهور رئيس Ricardo Lagos راسره نن د خبرو په پينل کې يو ځای و. دی پر دې عقيده دی چې د دې لپاره جوابګو يا Accountable حکمتونه رامنځته شي بايد داسې ميکانېزم وي چې د ولس اواز په محلي سطحه واورېدل شي، له ولس سره بايد خبرې وشي او ولس بايد په تصميم کې برخه واخلي. ده زياته کړه چې يو عمده ستونځه د پخوانيو بيروکراتانو دا ده چې دوی په ټيمي کار کولو باندې عقيده نه لري. که ولس په تصميم ګيرۍ کې برخه ونه لري که هر څومره ښه کار ولس ته هم وکړې بيا هم ولس حکومتونو ته د شک په سترګه ګوري.





د اکتوبر ۲۸مه نېټه، ۲۰۱۵م کال، مادريد، هسپانيه

د مکسيکو پخواني صدراعظم Felipe Calderon سره مې د کنفرانس په حاشيه کې خبرې وکړې. مکسيکو هم د افغانستان په شان د مخدره موادو د قاچاق او په مخدره موادو د روږدو کسانو له زياتوالي سره مخامخ دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په وطن به دې ولې زړه درد نه کوي

د اکتوبر ۲۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، د هسپانيې د مادريد ښار

چې په وطن کې یې په وطن دې يو شان زړه درد کوي او چې لـه وطن نـه بهر يې نو په وطن دې بل شان زړه درد کوي. د شـپې نهـه بجـې وې چـې لـه خپل هوتل نه ووتم چې گورم د مادريد ښار په يوه سړک بانـدې پـه سل هـاو کسان په بايسکلونو سپاره دي د خوشحالۍ او د امن په فضاء کې چې موسم هم ډېر ښه دی، تيرېږي. کاشکې داسې امن زمونږ وطن کې هـم وای، ارامـي وای او خوشحالي وای، نه طبيعي افتونه وای او نه په لاس جوړ شوي افتونه.





# په مادريد کې د لانديې د غوښو د رواج په هکله

د اکتوبر ۳۱مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، د مادريد ښار، هسپانيه

د مادريد ښار په زياتره رستورانتونو او قصابيو کـې ډېـر زيـات د حيوانـاتو ورنونه چې په ښايسته کڅوړو کې پوښل شوي وي، ځوړول شوي دي. ما له يو چا نه پوښتنه وکړه چې د دې مالونو (څارويو) ورنونه ولې داسې ځوړول شـوي دي او د دې فلسفه څه ده ځکه د داسې غوښو خرڅلا د اروپا او يا امريکا پـه نورو هېوادونو کې نـه ليـدل کېـږي. دا غوښـې لانـدی شـوي دي او اکـثره د خـوگ ورنونـه دي. ده راتـه وويـل چـې د دې غوښـو ځـوړول هغـه وخـت پـه دوکانونو کې رواج ومونده چې جرمني غوښتل چې دا سيمه ونيسي نـو خلکـو د خوگانو د لانديې ورنونه د خپلو دوکانونو په مخکې ځوړول چې وښـايي دوی يهودان نه دي ځکه يهودان د خوگ غوښه نه خوري.

دا لاندی دوی د کلونو کلونو لپاره هم ساتي او حتـی يـوه کـس راتـه وويـل چې د هسپانيې په سهيل کې چې کله د چا په کـور کـې ماشـوم وشي نـو بيـا دوی لاندی کوي او د دې لانديې ورون تر هغه پورې ساتي چې کله دا ماشوم واده وکړي او بيا يې د ده د واده پـه ورځ پـه شريکـه خـوري. دا لانـدی ډېـر قيمته هم دی ځکه د ښه لانديې يو کيلو تقريبا ۶۰ يورو قيمت لـري يعنـې يـو کيلو تقريبا په ۳۵۰۰ افغانۍ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د کابل په لور د مادرید له ښار نه خدای په اماني

د اکتوبر ۳۱مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، د مادرید ښار، هسپانیه

زما د سفر دویمه موخه دا وه چې خپله د ماسټرۍ شهادتنامه تر لاسه کړم، دا موخه مې هم حاصله شوه. د مادرید ښار ډېر ښکلی دی او ښه خلک یې هم د نورو اروپایي ښارونو د اوسېدونکو سره فرق لري او شاید علت یې دا وي چې د شرقي ټولنې نښې پکې شته دي ځکه دا سیمه یو وخت د مسلمانانو د امپراطورۍ جز و خو د پینځم ستون له لاسه خرابه شوله. نه پوهېږم چې دوی به یې اوس په خرابېدو خوشحاله وي او که خفه؟ د مسلمانانو اوسني حالت ته چې ګوري نو شاید خوشحاله اوسي.

دوستانو! ما د خپلې ماسټرۍ د شهادتنامې عکس ځکه خپور کړ چې تر څو زمونږ ځوان نسل ته یو څه تشویق شي چې زه په دې عمر کې سبق وایم نو له دوی نه هم وخت تېر نه دی او باید زیات کوشش وکړي. پخوا به په



لږه انګلیسي ژبه پوهېدلو او په دولسم شهادتنامه او یا حتی د دی نه په کم تحصیل یو څه ګذاره کېدله خو اوس یوه ماسټرۍ باندې هم سم کار په خپل همت او ضوابطو نه شي پیدا کولی. زمونږ ځوان نسل له نورو ستونځو سره سره، اوس او هم په راتلونکي کې له زیاتو علمي رقابتونو سره مخامخ دی نو زیات کوشش ته اړتیا لري تر څو دوی په راتلونکي کې د ځان لپاره، د خپلې کورنۍ لپاره او هم خپل ولس ته د خدمت مصدر وګرځېږي. ځوان نسل باید بهانې ونه کړي چې سبق نه شي ویلی. همدا زما نصیحت خپلو اولادونو او کورنۍ ته هم دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الحاج محمد حسن حسام صیب په یاد

د نومبر نهمه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل



الله تعالې هر انسان ته جلاجلا عادتونه، پوهه او اجتماعي خصلتونه ورکړي دي. زیاتره اجتماعي کړه او وړه د انسان په خټه کې په فطرتي توګه اغږل شوي دي. ډېرى شیان سړى له یو بل نه په طبیعي توګه او یا د زده کړې له لارې حاصلولى شي خو اجتماعي سلوک د هر سړي له بل سره فرق لري او یو انسان د بل انسان ځاى په ټولنه او اجتماع کې نه شي نیولى. خداى بښلى محمد حسن حسام هم یو له هغو انسانانو نه و چې د هغه تشه ډکول ممکنه نه ده.

الحاج محمد حسن حسام چې زما نږدې ملګرى و، په اخري څلورو کلونو کې دواړه زیاتره وخت ډېر سره یو ځاى و او د ده د ژوند دوه اخري ورځې مو په کونړ کې سره یو ځاى تېرې کړې. حسام صیب لیکوال او شاعر و، دى ملي تجار، قومي، سیاسي او هر اړخیزه شخصیت و. د خاص طبیعت او مزاج



خاوند و چې د ده کمیني، تواضع، مېړانه، میلمه پالنه، علمیت او د علم او فرهنګ په لاره کې مرستې د یادولو او د قدر وړ دي. حسام صیب به همېشه د غریبانو لاسونه نیول او له هغوی سره به یې مرستې کولې او کوشش به یې کاوه چې بې ریا مرسته وکړي.

د حسام صیب له مرګ نه یوه ورځ دمخه، د شنبه په ورځ چې د ۲۰۱۵م کال د مارچ د میاشتې ۱۴مه نېټه وه، د کونړ ولایت د کوز نورګل په کلي کې د حسام صیب په کور کې میلمانه و چې یو وړوکی ماشوم چې د لسو کلونو و راغی او د حسام صیب نه یې غاړه چاپېره کړه. دا هلک چې پاچا یې ورته ویلې په ظاهري توګه خیرن او لېونی و خو حسام صیب وویل چې دا ماشوم عجیبه عادتونه لري او ټول یې په دغه سیمه کې پېژني، د هیچا پروا نه لري او د نورګل د ټولو خلکو د ټلیفون شمېرې یې په یادو یادې دي. دغه هلک د حسام صیب نه د هغه ټلیفون واخیست او په ټلیفون کولو یې پیل وکړ او هم د ټولو عکسونه یې اخیستل. حسام صیب وویل چې دده ته څه ویل نه دي په کار او پرېږده چې خوشحاله وي. حسام صیب دې ماشوم ته دومره مینه ورکړه چې زه فکر نه کوم چې که خپلو اولادونو ته هم څوک داسې مینه ورکړای شي. د حسام صیب زړه سوی او کمینتوب په همدغه قصه کې ښه خلاصه کېدای شي.

حسام صیب به همېشه خوش رویه و او که چېرې به په قهر هم شو نو بیا به یې وروسته خندلې چې کله کله همداسې هم په کار ده ځکه د ده غصه او قهر د کینې او عقدې نه نه وه او هر څه به یې له یاده ایستل چې د ښه او مسلمان انسان صفت همدا دی چې کینه او عقده د درې ورځو نه زیاته ونه ساتي البته دا په دې معنی نه ده چې څوک د خپلو پرنسپونونه تېر شي.

حسام صیب له افغانستان سره او خپلو خلکو سره خاصه مینه درلوده او همېشه به حاضر و چې د ملي وحدت او وطن د سوکالۍ لپاره قرباني ورکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمایت د هېواد د ابادۍ، ارامۍ او په سوله ییزه توګه د قدرت د انتقال په خاطر کړی و. د فکر او عمل د جرګې غړو حمایت د ډاکټر صیب اشرف غني د ټیم نه د شخصي ګټو او کرسیو د نیولو په سر معامله نه وه نو په همدې منظور به حسام صیب او د فکر او عمل د جرګې نور غړي ډاکټر صیب ته همېشه سپینې خبرې کولې.

یو ماښام د کونړ یو شمېر مشران ډاکټر صیب اشرف غني خپل کور ته وغوښتل نو په اخره کې ما ورته وویل چې زمونږ مشکلات اسانه دي او خپل منځو کې حل کولای شو او څه خبره نشته. ډاکټر صیب اشرف غني وویل چې یوه خبره پاتې ده ځکه تا او حسام صیب به ما ته ویلې چې زه حوصله نه لرم خو اوس چې ګورم چې زه حوصله لرم اما تاسې بې حوصله کېږئ او هر څه وایئ او ما غوږ نیولی دی. د ډاکټر صیب په دویم دور کې مونږ همدا اوسني خوبونه لیدل که د کمپاین دا بعضې غړي چې په دویم دور کې یې هر څه په لاس کې نیولي وو که په حکومت کې دوی همداسې خپلو شومو اهدافو ته دوام ورکړي نو د ډاکټر صیب اشرف حکومت به له سختو ستونځو سره مخامخ کړي. زمونږ اټکل سم و.

په هر حال د الله تعالی او بنده وعده برابره نه وي. کله چې مونږ د شنبې په ورځ رخصتېدو نو وعده مو کېښودله چې سبا ته به په نرنګ ولسوالۍ کې سره یو ځای کېږو او د مرحوم وکیل صیب غلام محمد خان د جنازې نه وروسته به شپه چغه سرای ته ورو او هلته به د معاون حاجي (حاجي صیب فضل اکبر) په ځای کې شپه په شریکه تېرو او ښه ګپ او شپ به سره ولګو. د یکشنبې په ورځ د سهار له خوا ما حسام صیب ته د خاص کونړ ته ډېر ټلیفونونه وکړل خو ټلیفون یې رخ نه شو او زما مطلب دا و چې د غرمې لپاره که خاص کونړ ته زمونږ ځای ته راشي نو ښه به وي بیا به له هماغه ځایه د نرنګ ولسوالۍ ته لاړ شو تر څو په دوه بجو د وکیل صیب غلام محمد خان



او د حق ویلو په ځای کې به یې له چا نه ډار او وېره نه درلوده. د ۲۰۱۴م کال د انتخاباتو نه مخکې مونږ یوه ډله دوستان سره راټول شولو، د فکر او عمل جرګه مو جوړه کړه او دا مو وپتېیله چې راځئ له هغو مشرانو سره اړیکې ونیسو څوک چې غواړي او یا اراده لري چې د جمهوری ریاست کرسۍ ته ځانونه کاندید کړي ترڅو د دوی ترمنځ اتحاد راولو نو حسام صیب مو د دې جرګې د منشي په توګه وټاکه. د زیاتو بحثونو او تماسونو نه وروسته یوه ورځ مو علی احمد جلالي صیب، ډاکټر صیب اشرف غني احمدزی، ډاکټر صیب زلمی خلیل زاد، قیوم کرزی، ډاکټر صیب انورالحق احدي، محمد حنیف اتمر او د فکر او عمل جرګې د رهبرۍ یو شمېر غړي د هلمند د پخواني والي محمد ګلاب منګل په کور کې سره راټول کړل او د دوی نه مو وغوښتل چې تاسې باید سره یو ځای شئ او که نه مونږ ستاسې له یوه نه هم هیڅ حمایت نه کوو.

د فکر او عمل د جرګې په استازیتوب حسام صیب خبرې وکړې او دې مشرانو ته یې داسې سختې وویلې او ورته یې وویلې که تاسې یو ځای نه شئ نو تاسې مونږ ته هیڅ ارزښت نه لرئ. تاسې یقین وکړئ چې د دې ټولو مشرانو نه یې لار ورکه کړه. د همدې جرګې د غړیو هلې ځلې وې چې د تحول او تداوم ټیم جوړ شو او د ډاکټر صیب اشرف غني په مشرۍ د هغه د کاندیداتورۍ نه ملاتړ وکړ. د دې نه برسېره مونږ مختلفو ولایتونو ته سفرونه وکړل او ولس مو دې ته وهڅوه چې په ټاکنو کې ګډون وکړي. د انتخاباتو د داستان قصې ډېرې اوږدې دي او که وخت مساعد شو نو د کتاب په شکل به یې ولیکم چې چا څه او څه وکړل.

حسام صیب د کونړ اکثره ولسوالیو ته سفرونه وکړل له خلکو سره یې وکتل او له خپله ځانه یې مصارف وکړل تر څو د تحول او تداوم ټیم د ډاکټر صیب اشرف غني په مشرۍ بریالی شي. مونږ د ډاکټر صیب اشرف غني

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنازه کې چې د امریکې نه یې جنازه راوړې وه برخه واخلو. وکیل صیب غلام محمد خان دې الله وبښي هغه هم د کونړ ولایت دروند، عالم او فاضل مشر و چې د ډیموکراسۍ په لسیزه کې د افغانستان د ولسي جرګې غړی و. په هر حال زه نرنګ ته لاړوم او له ده سره مې هیڅ تماس ونه شو نیولی ځکه د هغه د ډریور نمبر هم کار نه کاوه. په جنازه کې مې معاون حاجي صیب ولیده او راته یې وویل چې د حسام صیب د ډریور ناصر سره یې تماس ونیولی شو او حسام صیب باندې په همدغه ورځ سهار د یولس بجو په شاوخواکې د زړه حمله راغلې او جلال اباد ته یې په عاجله توګه وړی دی.

په جلال کې یې حسام صیب یو شخصي- روغتون ته وړی و او ډاکترانو ورته د معدې دوا ورکړې وه او ورته یې ویلي و چې باید استراحت وکړي. ناصر حسام صیب د هډې فارم ته چې هلته یې د چرګانو لوی فارم درلوده، انتقال کړی و. کله چې مونږ له ناصر سره خبرې وکړې هغه راته د ده د تکلیف علایم وویل نو زما زوی ډاکتر نایل محمود چې د امریکې نه راغلی و نو سمدستي یې ورته وویلې چې دا ببرته روغتون ته یوسئ او هلته دې یې ډاکټران تر نظارت لاندې ونیسي- ځکه دا علایم د زړه د حملې دي. له همدې نه وروسته چې ناصر غوښته دی روغتون ته انتقال کړي پر ده باندې بیا د زړه حمله راغلې وه او روغتون ته یې په لاره کې ساه ورکړه. انا لله و انا الله راجعون.

دی لاړو خو د ده قصې او ارمانونه له مونږ سره باقي دي. د ده مرګ د ده د کورنۍ، دوستانو او د افغانستان لپاره یوه لویه ضایعه ده. د حسام صیب تشه نه ډکېدونکې تشه ده او داسې کسان په هره سیمه او کورنۍ کې په پېړیو کې یو کس پیدا کېږي چې د حسام صیب په شان هر اړخیزه صفتونه ولري. د الله تعالی له دربار نه ورته جنت فردوس غواړم او روح دې یې ښاد وي.



## د اوښتون ټولنې له خوا ستاینلیک

د ډسمبر دویمه نېټه، ۲۰۱۵م کال، کابل

د لویې پکتیا په سیمه کې له اوښتون ټولنې نه مننه کوم چې ما ته یې دا ستاینلیک پرون د ډسمبر پر لومړۍ نېټه په دې منظور راکړ چې تېر کال مو په ټاکنو کې په دغه سیمه کې د ځوانانو او اوښتون ټولنې سره په شریکه کار کړی و. زه د اوښتنون ټولنې د مشرتابه او ټولو ځوانانو د دې قدردانۍ نه مننه کوم. له ښي خوا نه: ډاکتر محمد نعیم احمدزی، زه، نوښتګر صیب او محمد موسی مصطفی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## له چانه به پوښتنه وکړو؟

د ډسمبر ۴مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، کابل

پرون د وردگ د سيداباد په سيمه کې د ملي اردو په ډزو کې ۹ ماشومان ووژل شول:



لهچانه به پوښتنه وکړو چې ولې زمونږ وينه دومره ارزانه ده؟ هره قطره وينه چې د افغانانو توېږي د افسوس او ژړا خبره ده. تر څو چې په خپلو ځانونو پخپله رحم ونه کړو د نورو نه طمعه په کار نه ده. الله تعالی هم د



هېڅ يوه قوم په حالت کې تغير نه راولي تر څو دوی پخپله په خپلو ځانونو کې تغير رانه ولي. د وردگو د دې گلاليو ماشومانو په غم کې ټول افغانان شريک دي او د ټولو افغانانو شريک غم دی.

## په شگو کې ژوند

د ډسمبر ۸مه نېټه، کال ۲۰۱۵م، ابوظبۍ

که څه هم د خليج د اکثره هېوادونو نظامونه مطلقه شاهي نظامونه دي خو د دې هېوادونو مشرانو خپل ولس ته هم کار کړی دی. د شېخانو له ژوند سره زما کار نشته ځکه مطلقه شاهي نظامونه ځانته خپلې ستونځې لري.

د متحده اماراتو اوه ايالتونه يوه شگلنه سيمه ده خو دوی پکې د دين او دنيا هر نوع سهولتونه خپل ولس ته برابر کړي دي. د ابوظبۍ ترقي او پرمختگ ته سړي حيرانېږي چې د دې هېواد مشرانو بلا تشبه د دنيا پر سر جنت خپلو ځانونو او هم خپلو خلکو ته جوړ کړی دی. د مکاتيبو او پوهنتونو او جوماتونو څه کمی پکې نشته او مسلمانان هم دي خو نه خپل وطن ورانوي او نه يو بل زمونږ په شان وژني. دوی زمونږ په شان نه دي ځکه مونږه په شعوري او غير شعوري توگه خپل وطن ورانوو، يو بل وژنو او له هيچا سره مو کور او کلی نه کېږي.

د ابوظبۍ د شيخ زاهد جومات په سيمه کې يو نمونه يي جومات دی چې ويل کېږي پينځه ميلیارده درهمه پرې لگېدلي دي چې تقريباً يو نيم ميليارد ډالره کېږي. همدا شان د ابوظبۍ پخوانۍ شاهي ماڼۍ باندې تقريباً څلور ميليارده درهمه چې يو ميليارد ډالره کېږي لگول شوي دي. افسوس زمونږ په حال چې د تېرو څو لسيزو جگړو نه اوس هم عبرت نه اخلو او د خسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



الدنیا والاخره په لوري روان یوو. عاقبت به خیر. د ابوظبۍ یو څو عکسونه له تاسې سره شریکوم:



د پورته لیکنې په هکله دوستانو خپل ډېر زیات نظرونه شریک کړي وو.

**محمد فرید عاطف لیکلي و:**

میاخېل صیب الله دې تـرې پوښـتنه وکـړي چې د دوی دا حـال دی او د نړۍ مسلمانان یوه ګوله ډوډۍ ته حیران دي، دوی خپـل مسـوولیت د ځـان په اړه ادا کړی خو کوم مسوولیت چې مونږ ورته ورکړی هغه یې بالکـل هېـر کړی دی، نورې نړۍ ته خو خپل تندرو کسـان لېـږي او هغـو تـه پیسـې هـم ورکوي، زمونږ په قرآن باور دی او د هغې له مخې دوی مکمل مجرمان دي.

**شینکۍ کروخېل لیکلي و:**

هو کنه لېوني یې مونږ ته رالېږلی شي چې جهاد وکړي او خپل ځانونـه یـې ترې ببغمه کړي دي.



**هجرت الله اختیار لیکلي و:**

جناب میاخېل صیب هغوی فکراً روغ دي، د خلکو فکرونه یې جوړ دي، نو ځکه له دین نه یوازې د انسـانوژنې او ورنـواني تاویلونـه نـه راباسي. متحـده عربي امارات په اصطلاح د نړۍ څلـور لارې ده، د سـوداګرۍ او کاروبـار پـه برخه کې، بس همدې حیثیت یې اقتصاد هم ور جوړ کړی. ګنـه د دې ځـای جغرافیه له دوزخه بدتره ده، شګې او سوځنده ګرمـي پـه اوړي کـې انسـان خوري، خو دوی په کې ځان ته جنتي ژوند جوړ کړی دی.

**سید محمد مومند لیکلي و:**

هغوی په دین پوهه دي ځکه یې دنیا هم ورسره ده مګر مـونږ پـه دیـن نـه پوهېږو او د دین او اسلام له نوم څخه د خپل ځان لپاره ګټـه اخلـو مـونږ لـه اسلام څخه چاړه جوړه کړې ده.

همداسې نورو دوستانو زیاتې تبصرې لیکلې وې خو ما یوازې یو څو تبصرې د نمونې په توګه رانقل کړې. د دوی په ځواب کې ما دا لانـدې دوه تبصـرې هم ولیکلې.

**عاطف صیب!** دا ډېر مغلـق او پیچیـده بحـث دی د دوی مـانۍ تـه چـې ننوځې چکر په کې وهې او زمونږ د ارګ په شاوخوا قدم نه شې وهلی نـو دې کې هم دوی ملامته دي؟ ته چې په خپل ځان رحم نه کوې نو ولې د بل نـه د رحم توقع لرې. دوی خو د الله تعالی نه مهربانه نه دي الله تعالی هم وایـي زه ستاسې په ژوند کې تغیر نه راولم تر څو تاسې په خپـل ژونـد کـې تغیـر رانـه ولې.

**شینکۍ خورې!** دا هم کمال دی چې د خپلو لېونو سرېو ځان خلاص کړي مونږ خو خپل لېوني پخپله نازو او چاقوو یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ننگرهار ولایت د بهسودو د ولسوالۍ د معصومو ماشومانو ظالمانه وژنه د انسانیت نه لرې عمل دی



د ډسمبر ۱۴مه نېټه، کابل

تېر ماښام د ننگرهار ولایت د بهسودو په سیمه کې د یوې کورنۍ اته کسه چې ښځه او خاوند، مور یې او پینځه گلالي واړه ماشومان یې چې د درېوو میاشتو ماشوم پکې هم و، خپلو مېلمنو یې په ډېرې بې رحمۍ سره وژلي دي. دوه ماشومان په ورني کې یې مور تړلي و او دې بېرحمه ځناورو



مېلمنو هغه هم د ټوپک په مرمۍ په سر وېشتلي و. ډېره دردونکې پېښه وه. ما په فیسبوک پاڼه ولیکل:

حدیث شریف دی چې الملک یبقی مع الکفر و لایبقی مع الظلم. د کفر لاندې یو ملک پاتې کېدای شي خو د ظلم له لاسه نه شي پاتې کېدای. د بهسودو د ماشومانو تصویرونو مې زړه خراب کړی دی. د داسې ظلم لپاره هېڅ نوع توجیهات په اسلامي، انساني، افغاني او پښتونولۍ په چوکاټ کې نشته چې څوک دې داسې ظلم وکړي. که څه هم زه ډېر نرم زړی انسان یم که زما شخصي مسئله وي نو قاتلینو ته به عفوه وکړم خو د دې ماشومانو قاتلین که حکومت پیداکړل نو علني محاکمه او اعدام غواړي چې بیا داسې ظلم څوک ونه کړي.

**قاضي لودین صیب لیکلي و:**

معین صاحب محترم زیاد ظلم شوی او دا ظلم روان دی زه چې د هېواد ټولو ولایتونو ته هر وخت سفر لرم زیات ظلم زموږ پر هېوادوالو روان دی الله جل جلاله دې موږ ته هدایت وکړي تر څو د حقیقي دین نه خبر شو او دې قاتلانو ته دې الله جل جلاله جزا ورکړي.

**عبدالعلي جمال صیب لیکلي و:**

میاخېل صیب! مونږ پر دې ایات ایمان لرو:

**وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ما یو ځل بیا ولیکل:**

جمال صیب! ستاسې خبره کې شک نشته چې الله تعالی هر چا ته د هغه د اعمالو په تناسب جزا او اجر ورکوي خو د اسلام او شریعت روح همدا دی چې مسلمانان باید په ټولنه کې ارام ژوند بې له هر ډول وېرې او ترهې وکړي نو ځکه په دې دنیا کې جزا باید مجرمینو ته ورکړل شي. نور ډېر ژور پر دې بحث نه کوم. داسې بېګناه قتلونه په ننګرهار او نورو سیمو کې د وېرې او وحشت اوازه خپروي او هم بدګماني په ولس کې او یو بل باندې پیدا کوي چې هېڅوک به پر هیچا باندې اعتبار نه کوي نو ځکه په دې دنیا داسې کسانو ته سخته سزا ورکول په کار ده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**